د کانکور جغرافیه

د لسم، یوولسم او دولسم تولګي خلاصه شوي
او د کانکور طلایي ټکي



Ketabton.com

Habib wardak

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

لړليک

د لسم ټولګي جغرافيه ۱-۳۳

د يوولسم ټولګي جغرافيه ۳۳ - ۵۶

د دوولسم ټولګي جغرافيه ۵۶ - ۸۱

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د لسم ټولګي جغرافيه

لومړی څپرکی

لومړی لوست (نقشه)

د ځمکې د کرې د ټول مخ یا د هغې د یوې برخې انځورولو ته نقشه وایي. چې د ځمکې یوه برخه له دري بعدي (اوږدوالی،سور او لوړوالی) حالت څخه دوه بعدي (اوږدوالی او سور) حالت ته په یو معین مقیاس او ځانګړو نښو سره ښکاره کوي.

د نقشې محتويات عبارت دي له

۱.د نقشې چوکاټ ۲.د طول البلد او عرض البلد دایرې ۳.د کانتور کرښې ۴. د نقشې مقیاس ۵. ځانګړې نښې ٦. د رنګونو استعمال ۷. په نقشه کې د لوري ښودنه ۸. د نقشې د انځورولو بیلا بیلې لارې

د نقشې چوکاټ

د ځمکې یوه ټاکلې برخه چې په نقشه کې ښودل کېږي د یو چوکاټ په واسطه احاطه کېږي.

د نقشې چوکاټ د یوې پیړۍ کرښې او ورسره د یوې نړۍ کرښې په واسطه انځور کېږي.

هر څومره چې چوکاټ شفاف او ښکلی انځور شي په همغه اندازه نقشه په زړه پورې وي.

جغرافیايي ټاکلي کمیتونه چې د طول البلدونو او عرض البلدونو دایرو ته ویل کېږي د نقشې د یوې سېمې موقیعت ښکاره کوي. دغه د طول البلد او عرض البلد دایرې په شمال ، جنوب ، ختیځ او لوېدیځ کې په نړۍ او ټت رنګ سره انځور کېږي تر څو موقیعت یې نسبت ټولې کرۍ ته روښانه وي.

د کانتور کرښې

دغه کرښې په نقشه کې د یوې سېمې لوړوالی ښکاره کوي.

د کانتور کرښې له ورته لوړو سېمو څخه تېریږي او همدغه کرښې دي چې د ځمکې جوړښت د لوړوالي له پلوه څرګندوي.

د نقشې مقیاس

د نقشې فاصله د ځمکې پر فاصلې تناسب ته د نقشې مقیاس ویل کېږي.

طبيعي نقشه

طبیعي نقشې ته توپوګرافیک او فزیکي نقشه هم ویل کېږي.

په دغه نقشه کې د ځمکې جوړښتونه په وضاحت سره ښودل کېږي.

دلوړو څوکو لوړوالی په څرګندو اعدادو سره لیکل کېږي، ولاړې اوبه، خلیجونه، سمندرګي او سمندرونه په ابي کنتور کرښو سره د هغه ژوروالی څرګندېږي.

سیندونه اوغرونه په خپلو نمونو، درې، لوړې سطحې، وادي ګانې، غاښې، تونلونه، شګلنې سېمې او دښتې په ځانګړو نښو سره ښودل کېږي.

خو د لوړو سطحو، د نقشې لوری او مقیاس د نقشې په لاندې برخه کې لیکل کېږي.

د کنتور کرښو، د سمندرګیو ،سمندرونو او جهلونو ژوروالی د شتون له مخې دغه ډول نقشې ته هیپسومیتریک نقشې هم ویل کېږي.

طبیعي نقشې بیلا بیل ډولونه لري لکه د خاورې نقشې، د سیندونو او د اقلیم د مایع عنصرونو نقشې، د یخچالونو نقشې، د نباتاتو نقشې، د ځنګلونو او داسې نور...

سياسي نقشې

سیاسي نقشې هغې نقشې ته ویل کېږي چه په هغه کې د یو هیواد سیاسي وېش د هغه له سرحدي پولو او پلازمېنو سره یو ځای ښودل کېږي.

اداري وېش، ښار او ښاروالي، سیمه ایز حکومتونه او ټول ولایتونه په دغه نقشه کې ځای پر ځای شوي دي.

همدارنګه پراخوالی، نفوس او مساحت هم په دغه نقشې کې په دقیق ډول ښودل کیږي.

دوهم لوست (اقتصادي نقشې)

اقتصادي نقشې هغه نقشو ته ویل کیږي چې د نړۍ یا یو هیواد ټول اقتصادي مسایل یا د اقتصادي موضوعاتو یوه برخه ښکاره کوي.

دغه موضوعات عبارت دي د یو هیواد یا ټولې نړۍ تر ځمکې لاندې طبیعي زیرمې لکه فلزونه، قیمتي ډبرې، نفت او ګازو کانونه او د ځمکې د مخ سرچینې لکه کرهنیز پیداوار، صنعتي فابریکې، سوداګرۍ، واردات او صادرات او نور...

او همدارنګه د سیندونو څخه د بریښنا انرژي تولید، د حیواناتو روزنه، لاسي او ماشیني صنایع ټول په دغه نقشو کې ځای پر ځای شوي دي.

مواصلاتي نقشې

ټولې د تګ راتګ لارې، پاخه سړکونه، په وچه کې د اوسپنې پټلۍ او مترو په دغه نقشه کې ښودل کېږي.

سمندري وړل راوړل، د بېړیو چلوني کرښې، مهم بندرونه د بېړیو درولو ځایونه او سمندري مواصلاتي کرښې ځای پرځای شوي دي.

هوایي کرښې او د الوتکې کرښې په ملي او نړیواله سطحه په هوایي مواصلاتو کې شامل کېږي.

هوایي میدانونه، د هرې الوتکې د درېدلو کرښې او فضایي حمل او نقل هم په دغه نقشو کې ښودل شوی دی.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په ټولو دغه ډول نقشو کې ځانګړې نښې، مقیاس، جغرافیایي وضعیه کمیات، لوری او سمت له اساسي چوکاټ سره په نظر کې نیول کېږي.

دریم لوست (مقیاس)

د نقشې فاصله د ځمکې پر فاصلې تناسب ته مقیاس ویل کېږي.

مقیاس په دریو شکلونو سره ښودل کېږي، خو ټول یو ډول مفهوم وړاندې کوي.

په هر مقیاس کې د نقشې یو واحد فاصله (Map distance) چې د کسر په صورت کې لیکل کېږي دهغه ټولو عددونو سره معادل دی چې د کسر په مخرج کې شتون لري چې هغه هم د ځمکې په فاصله (Earth distance) دلالت کوي.

مثال: $\frac{1}{1000}$ څه مفهوم لري؟

حل: د نقشې یو سانتي متر د ځمکې پر مخ له سل سانتي مترو سره مساوي دی.

ګرافي مقیاس

په دغه ډول مقیاس کې د یوې یا دوو کرښو یو ګراف په موازي توګه رسم، او د ګراف هر واحد د ځمکې پر مخ یوه معینه فاصله ښکاره کوي.

په دغه مقیاس کې هر واحد چې یو سانتي متر دي د ځمکې پر مخ لس کیلو متره ښکاره کوي. د ګراف شکل په شخص پورې اړه لري هر څومره چې وغواړي ښکلی یې رسم کولای شي.

لفظي مقیاس

دغه مقیاس په کلمواتو او الفاظو وړاندې کېږي.

مثال: $\frac{1}{50000}$ لفظي مقیاس چې یو سانتي متر له 500 مترو سره معادل دي.

په ګرافي مقیاس کې په نقشه کې یو سانتي متر د ځمکې پر مخ له 10 کیلو مترو سره برابر دي.

څلورم لوست (په نقشه کې د رنګ کارول)

تور رنګ: په نقشه کې د چوکاټ او د سهمو او ښارونو د نمونو لپاره کارول کېږي.

شین رنګ: د کروندو، ځنګلونو او شنو جلګو لپاره.

ژیړ رنګ: د دښتو او شګلنو سیمو د ښودلو لپاره.

آبي رنګ: د سیندونو، جیهلونو، خلیجونو، سمندرګیو او سمندرونو لپاره.

سور رنګ: د مواصلاتي کرښو، لویو لارو او د سیاسي او اداري مرکزونو لپاره.

جګړي رنګ: د غرنو د سلسلو لپاره.

سپین رنګ: د یخچالونو د ښودلو لپاره.

د 10 څخه تر 1000 متره ژوروالی په آبي تت رنګ او له 7000 څخه تر 10000 مترو ژوروالی په تیز آبی رنګ سره ښودل کېږي.

د غرونو لمنې په تت جګړي رنګ، منځنی لوړوالی په ملایم جګړي رنګ او له 5000-8000 پورې لوړوالی په تیز جګړي رنګ سره ښودل کېږي.

په جغرافیایي نقشو کې لوری په دریو ډولونو ښودل کېږي:

۱. د نقشې په لاندنۍ برخه کې یو وکتور رسم کېږي چې د هغه په راس کې د شمال کلمه د N په توري سره ښودل کېږي او د وکتور لاندې S توری چې جنوب ښکاره کوي لیکل کېږي.

۲. که چیرې نقشې ته وکتل شي په نقشه کې د طول البلد او عرض البلد دایرې رسم کېږي. د طول البلد کرښو پورتنی لوری شمال او لاندینی لوری جنوب ښکاره کوي.

۳. نن ورځ په نقشو کې اصلي موخه داده چې د نقشې عنوان په پورتنۍ برخه کې لیکل کېږي. او د نقشې لاندنۍ برخه د جنوب لوری ښکاره کوي.

نو که چیرې د نقشې پورتنی برخه د شمال لوری ښیي، ښې خوا ختیځ، کینه خوا لوديځ او لاندنۍ برخه جنوب ښکاره کوي.

په توپوګرافي نقشو کې د شمال لوری د مختلیفو وکتورونو په واسطه سره ښودل کېږي:

په عمومي دریو شمال په دوه ډوله دي.

۱. مقناطیسي شمال له جغرافیایي شمال څخه یو څه لرې دی چې د کاناډا، د هدسن په شمالي خلیج کې واقع دی. او د MgN په حرف سره ښودل کېږي.

۲. رښتیاني شمال چې همدا د ځمکې شمالي قطب دی د قطب د ستوری په استقامت دی او د TN په حرف سره ښودل کېږي او د جغرافیایي شمال په نوم هم یادېږي.

۳. (UTM) یا د نقشو د خطونو د شبکې شمال یونیورسل ترانسورس مرکاتور دی او د GN په تورو ښودل کېږي.

پنځم لوست (د نقشې انخورول)

جغرافیایي نقشې د هندسي معیارونو له مخې په لاندې ډولونو ویشل شوي دي:

۱. استوانه یي ارتسام ۲. مخروطي ارتسام ۳. مستوي ارتسام ۴. مولواید ارتسام ۵. سینوسایدل ارتسام ۶. ګودز ارتسام ۷. ایکرات ارتسام.

۱. استوانه یي ارتسام: په دغه ارتسام کې د ځمکې یوه شفافه کره یوې شفافې کرې ته دننه کېږي رښا د ځمکې او د استوانې له مرکز څخه، د استوانه یې کاغذ پرمخ غورځیږي، د لګیدو له امله د طول البلدونو او عرض البلدونو دایرې د ځمکې د وچې او سمندرونو برخې استوانه یې کاغذ ته انتقال کېږي، په دې اساس د قطبونو د عرض البلدونو اوږدوالی د استوا له کرښې څخه چې له صفر سره مساوي دي رسم کېږي.

۲. مخروطي ارتسام: په مخروطي ارتسام کې د مخروط کاغذ په یو یا دوو عرض البلدونو باندې له پاسه په مماس ډول ایښودل کېږي چې په نتیجه کې لاس ته راغلی ارتسام او جوړه شوې

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

نقشې ته مخروطي ارتسام ویل کېږي. دغه ارتسام د شکل او ساحې له نظره د ځمکې له سطحې سره متناسب وي.

۳ . مستوي ارتسام : د ځمکې د کرې په یوه برخه باندې مستوی کاغذ په مماس بڼه ایښودل کېږي او بیا په رڼا سره عرض البلدونه او طوالبلدونه او د لویو وچو او یا د یو هیواد شکل په کاغذ باندې اېستل کېږي.

۴ . مولواید ارتسام: د طول البلدونو او عرض البلدونو د انځورولو او منظم کولو له مهارت څخه عبارت دی چې د وچې او سمندرونو د موقیعت له مخې چې د ځمکې پر مخ یې لري په نقشه کې راوړل کېږي.

شپږم لوست(مصنوعي سپوږمکۍ)

امریکایې فضا ګرځیدونکی آرام سترانګ د لومړي ځل لپاره د اپولو (۱۱) په واسط د سپوږمي په مخ کوز شو.

نومورې د سپوږمۍ د جاذبې په هکله وویل چې د سپوږمۍ جاذبه د ځمکې په پرتله شپږ ځله کمه ده.

د سپوږمۍ د سطحې د تودوخې درجه د ورځې له خوا ډیره زیاته (210) سانتي ګراد او د شپې له خوا (110-) درجې د سانتي ګراد وي.

د سپوږمي باندېنی قشر د خاورو له کوچنیو زراتو څخه جوړ شوی دی چې اوبه، واښه او نباتي فرش نه لري.

د مصنوعي سپوږمکیو څخه د ځمکې په اخیستل شویو انځورنو کې ځمکه کروي شکل ښودل شوې ده چې په فضا کې په معلق ډول ده او د لمر په شاوخوا ګرځي.

ټولې مصنوعي سپوږمکۍ چې د ځمکې په شاوخوا ګرځي بیضوي مدار لري او له 700-3000 پورې په مختلیف لوړوالی سره تنظیم شوي دي.

د مصنوعي سپوږمکیو د انځورونو له مخې د ځمکو د قطعاتو شکل او د وچې غاړې په ډیر ښه ډول څرګندیږی.

د ځنګلونو ساحه، شګلنې سیمې، کرنیزې سیمې او مواصلاتي کرښې په وچه او سمندر کې په ښه ډول تثبیت کیږي.

د نړۍ د ښارونو ساختمانونه، پراخوالی، ښاري پلانونه او د اوسېدلو په اړه نور موضوعات، بندرونه او سیندونه د مصنوعي سپوږمکیو د شکلونو په واسطه په ښه ډول څرګندیږي.

د غرنیو یخچالونو او قطبي یخچالونو مطالعه ټول د مصنوعي سپوږمکیو د انځورونو په واسطه ښودل کېږي، خلاصه دا چې هیڅ موضوع د مصنوعي سپوږمکیو د کمرې له سترګې څخه پټ نه پاتې کېږي.

دوهم څپرکی

اووم لوست(اقلیم)

د اقلیم مهم لاملونه په لاندې ډول دي:

۱ . د لمر د وړانګو زاویه
۲ . د عرض البلدونو دایرې
۳ . لوړ او ټیټ فشار
۴ . هوایې کتلې
۵ . لوړوالی
٦ . هوایې طوفانونه

په افغانستان کې د لمر د وړانګو زاویه د عرض البلد په 34 درجو او 33 دقیقو د چنګاښ په لومړۍ د لمر د وړانګو زاویه 78 درجو او 57 دقیقو وي.

په دغه میاشت کې هوا ګرمه ده، خو د وري او تلې په لومړۍ نیټه د لمر د وړانګو زاویه55 درجې او 57 دقیقې وي نو ځکه په دغه میاشتو کې هوا معتدله او د سلواغې په لومړۍ نیټه چې زاویه یې 32.5 ته رسېږي هوا سړه وي.

افغانستان د 29 درجو او 30 دقیقو او 38 درجو او 31 دقیقو شمالي عرض البلدونو ترمنځ موقیعت لري.

کله چې د لمر وړانګې د استوا په کرښه عمودي ولګېږي د افغانستان په تر ډولو لرې جنوبي نقطه د لمر وړانګې په 60 درجو او 30 دقیقو او د افغانستان ترټولو لرې شمالي نقطه په 51 درجو او 29 دقیقو لګېږي.

کله چې د ټیټ فشار مرکز د آیسلنډ جزیرې شاوخوا موجود وي، لنده بل لرونکې ځانګړې کتلې د لویدځ او شمال لویدځ له لورې افغانستان ته داخلیږي چې د واورې او اورښتونو لامل کېږي.

د سایبریا لوړ فشار په ژمي کې د واورې اوربدو لامل ګرځي او د هندوکش د غرونو لرې په واورو ډکېږي.

اتم لوست(تودوخه)

تودوخه د یوې سیمې د اقلیم د اساسي او فوق العاده عناصرو له جملې څخه ده، د ځمکې یوه طبیعي ځانګړتیا ده چې د لمر د وړانګو د پریوتلو له امله رامنځته شوې ده او د تودوخې معنا لري.

افغانستان د 29 درجو او 30 دقیقو او38 درجو او 31 دقیقو شمالي عرض البلدونو ترمنځ موقیعت لري.

د هیواد په جنوب کې د لمر د وړانګو میلان په 60 درجو او 30 دقیقو د هیواد په شمال کې اصغري میلان 51 درجو او 29 دقیقو وي.

په غرنیو سیمو کې تودوخه له لوړوالي سره سرچپه رابطه لري په دې معنا هر ځومره چې مور لوړ ځو د تودوخې درجه کمېږي او اورښت زیاتېږي.

په هرو سلو مترو لوړوالي سره د تودوخې یوه درجه کمېږي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ځای(سیمه)	د سمندر له سطحي څخه لوړوالی	ډیره تودوخه	لږه تودوخه
شمالي سالنګ	۳۳۵۰ متره	۱۸.۴ سانتي ګراد	۱.۱ سانتي ګراد
میدان هوایي کابل	۱۸۰۳ متره	۳۵.۱ سانتي ګراد	۸ سانتي ګراد
شبرغان	۳۶۰ متره	۴۲.۸ سانتي ګراد	۱۷.۸ ګراد

نهم لوست(لنده بل)

په لوړو سیمو کې د تودوخې کچه ښکته کیږي، او لنده بل لرونکې هوا ژر اشباع کیږي او د اوربشت لامل کیږي.

د سړو او تودو څپو مخامخ کېدل له یو بل سره ځینې وخت په افغانستان کې د غربي اوربشتونو لامل کیږي.

له بلې خوا د هند سمندر موسمي اوربشتونه د هیواد په ختیځو سیمو کې د اوړي په موسم کې د اوربشت لامل کیږي.

په افغانستان کې لاندنۍ هوایي کتلې واکمنې دي:

- په ژمي کې د شمال له خوا د سایبریا څپې.
- په پسرلي کې د ایسلنډ او کسپین سندرګي معتدلې څپې.
- په اوړي کې د فارس خلیج لنده بل لرونکې څپې او د هند سمندر موسمي بادونه د جنوب او جنوب لویدیځ له لوري.

د سمندر په سطحه د هوا تر ټولو لوړ فشار 760 ملي متر یا 1031 ملي بار (دري ژبه: 1013) دی.

د اتموسفیر فشار له لوړوالي سره سرچپه رابطه لري.

څو مهم او کانکوري اصطلاحات:

ټیټ فشار Cyclone-LP Low Pressure یا DEPRESSION

لوړ فشار Anticyclone یا H. PHIGH PRESSURE

- د فشار مرکزونه په لاندې ډول دي:

۱ . د استوا کربنه د ټیټ فشار مرکز ۲ . د سرطان او جدي کربنې د لوړ فشار مرکز ۳ . د ارکتیک او انتارکتیک دایرې د لوړ فشار مرکز ۴ . او د قطبونو سیمه د ټیټ فشار مرکزونه دي.

افغانستان د شمالي نیمه کرې په لوړ فشار لرونکي سیمه کې موقعیت لري نو له د امله اسمان یې روښانه او اوربشت یې کم دي.

لسم لوست (د افغانستان اقلیمي سیمې)

د افغانستان اقلیمي سیمې په لاندې ډول ویشلای شو:

۱ . صحرایي اقلیم ۲ . مونسوني اقلیم ۳ . مدیترانه یې اقلیم ۴ . ستپ سیمې اقلیم ۵ . الپاین تندرا سیمې اقلیم ۶ . غرنی اقلیم

۱ . صحرایي اقلیم

هغه سیمې چې د دغه ډول اقلیم تر اغیزې لاندې دي عبارت دي له: صدیقي ریګستان، مارکو دښته، جهندم دښته، بکوا دښته او د آمو سیند تر غاړې د یوې پټۍ په شکل دوام لري.

د صحرایي اقلیم ځانګړتیاوي دا دي چه د باران د اورښت اندازه د کال په اوږدو کې فوق العاده کمه او د یوې میاشتې په اوږدو کې په منځنۍ ډول له 5-10 پورې رسیږي.

همدارنګه د شپې او ورځې د تودوخې درجې توپیر په اوړي او ژمي که ډیر زیات وي او واوره نه اوربږي.

د همدغو ځانګړتیاوو له امله او د جوي عوارضو د اغیزې له کبله ډبرې ماتیږي د شګو لوی او کوچني ډیرې. د ډون په بڼه لیدل کیږي.

اغزي لرونکي نباتات او زقوم چې د تودوخې او لږ لنده بل په وړاندې مقامت لري وده کوي.

۲ . مونسوني اقلیم

سپین غر، د نورستان غرنی سیمې او لغمان په دغه اقلیم کې شامل دي پکتیا ولایت او په ځانګړې ډول خوست د هند سمندر له مونسوني بادونو څخه اغیزمن کیږي.

په اوړي کې د هند سمندر لنده بل لرونکي جریانونه او په ژمي کې د سایبریا سړې څپې دغه سیمه لنده بل لرونکي ساتي.

د دغه سیمې لنده هوا د یو شمیر نباتاتو لکه ارچه، بلوط، نشتر او جلغوزي د ودې لپاره بڼه زمینه برابروي.

دغه سیمه یواځې د لړم او لندې په میاشتو کې نسبتا وچه هوا لري او د کال په نورو میاشتو کې یې هوا مرطوبه وي.

د اورښت کلنی اندازه 680-460 ملي مترو ته رسیږي چې له همدې امله دغه سیمه لنده بل لرونکی ښیي.

۳ . مدیترانه یې اقلیم

مدیترانه یې اقلیم د هیواد په ختیځو سیمو کې شتون لري چې ځانګړتیاوي یې په لاندې ډول دي:

۱ . اوړی ډیر ګرم او وچ

۲ . اورښت زیاتره وخت د ژمي په موسم کې

۳ . په اوړي کې د تودوخې درجه په منځنۍ ډول تر 22 سانتي ګراد پورې رسیږي.

۴ . د کال په اوږدو کې او په ځانګړي ډول په ژمي کې د اورښت اندازه له 20 څخه تر 40 پورې رسیږي.

جلال اباد د مدیترانه یې اقلیم یوه بڼه بېلګه ده چې د اتو کالو د تودوخې منځنۍ اندازه یې 21 سانتي ګراد او د اورښت اندازه یې له 147 څخه تر 390 ملي مترو پورې بدلون کوي.

له 900 مترو څخه په لوړو سیمو کې د سپین غر په لمن کې واوري لیدل کیږي.

د غزه وني د جلال اباد په یو شمیر نسبتا اوارو سیمو د دغې سیمې وچ اقلیم ښکاره کوي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په دغه اقلیم کې د وریجو کرنه، د ستروس کورنی نباتات، ګنی، خرما او سروې ونې د مدیترانه والي نښه بلل کیږي.

یوولسم لوست(ستپ اقلیم)

په افغانستان کې د ستپ اقلیم سیمه نسبت مدیترانه یې او مونسوني اقلیم ته زیاته ده. او د ستپ اقلیم ښکاره ځانګړتیاووي د هغه وچه هوا او اوبه دي.

په دغه سیمه کې د شپې او ورځې د تودوخې درجې توپیر 20 درجې د سانتي ګراد وي چې دغه توپیر د کال په اوږدو کې 30 څخه تر 35 پورې زیاتیږي.

اورښت یې په عمومي ډول په ژمي کې وي چې اندازه یې له 300 پورې -250 رسیږي.

له نیکه مرغه په افغانستان کې د هندوکش او سپین غرونو په شتوالي سره د دغه سیمې پراخه سارا له منځه وړي ده.

د افغانستان د ستپ سیمه د هندوکش د غرونو د سلسلې په واسطه په دوو برخو وېشل شوې ده:

۱. شمالي ستپ سیمه 2. جنوبي ستپ سیمه

شمالی ستپ سیمه چې په هغه کې متیورولوژیکي ستیشنونه شتون لري عبارت ده له بغلان، میمنه، مزارشریف، کندز او هرات. دغه ستسشنون د ستپ په اوارو سیمو کې موقیعت لري او د شمالی هندوکش ټول څوړي د شمالي ستپ په سیمه کې موقیعت لري.

د جنوبي ستپ سیمې اقلیم

د جنوبي ستپ په سیمه کې یوازې د حیواناتو روزنه او د حبوباتو کرنه امکان لري. سره له دې چې پراخه ساحه لري، خو د اوبو د نشتوالي له امله او د توپوګرافیک جوړښت او د خاورې د خوار ترکیب له امله د شمالي ستپ په اندازه حاصلات نه لري.

۵. الپاین تندرا اقلیم

دغه ډول اقلیم په غرنیو لوړو سیمو کې (له 2500 څخه تر 3000 لوړوالی) لیدل کیږي. تر ټولو ټیټه تودوخه په ژمي کې له منفی 5 سانتي ګراد څخه کم او په اوړي کې 15 سانتي ګراد پورې رسیږي.

۶. غرنی اقلیم

د هیواد په لوړو او غرنیو سیمو کې د تودوخې درجه فوق العاده کمیږي، اما برعکس د اورښت اندازه او لنده بل زیاتیږي په لوړو سیمو کې د شپې او ورځې د تودوخې درجه په ژمي او اوړي کې د توجو وړ ده.

دریم څپرکی

دولسم لوست(جیولوجیکي وضع)

د افغانستان ننني توپوګرافي کې لوړ غرونه، ژوړي درې، څپاند سیندونه، لوړې سطحې، غونډۍ، دښتې او ساراګانې شامل دي.

چې ټول د ځمکې د طبقاتو د فعالیت په سبب رامنځته شوي دي او د پریکامبرین له دورې څخه تر نن پورې دوام لري.

د میزوزوییک په دوره کې د مرکزي اسیا پراخه سیمه د تیتس په نوم لوي سمندر نیولې وه. همدارنګه د راکي غرونو لړی، آلپ، همالیا، او د هندوکش د غرونو لړی په ترشیري دوره کې منځته راغلي دي.

د میزوزوییک په دوره کې چې زیاتره د ډبرو ډولونه یې آهکي، ریګي ډبرې، شیلونه او کانګلومیراتونه جوړوي د جنوبی هندوکش په سیمه کې لیدل کیږي.

په مزارشریف کې تخت رستم او په سمنګان کې هزار سمچ ټول آهکي رسوبات د تیتس سمندر پاتې شونې دي.

د سینوزوییک معرفت الارضي دریم عهد کې رسوبي تیږې جوړې شوې دي. چې مهم پاتې شونې یې شیلونه، کانګلومیراتونه، ریګي او اورغورځونکي ډبرې جوړوي.

په کواترنري عصر کې دوه ډوله رسوبات چې سبب یې باد و لیدل کیږي، چې زیاتره د هیواد په نیمه صحرایې او اوارو سیمو کې لیدل کیږي دغه ډول جوړښتونه په عمومي ډول د افغانستان په جنوب لویدیځ د نیمروز دښتې،مارجه، نوزاد، ګودزره او نورو سیمو کې لکه فراه، نیمروز، هلمند، کندهار او زابل په برکې نیسي.

دیارلسم لوست(د ځمکې بڼه او جوړښت)

د افغانستان تر ټولو کم لوړوالی د خماب په سویل لویدیځ کې چې د سمندر له سطحې څخه 259 متره لوړوالی لري او تر ټولو لوړه نقطه د ختیځ هندوکش لوړه څوکه ده چې د سمندر له سطحې څخه 7485 متره لوړوالی لري.

په شمال لویدیځ کې د تراجمیر لوړه څوکه چې په چترال کې موقیعت لري او لوړوالی یې 7750 متره دي.

د افغانستان ځمکنی جوړښت د ارتفاع له مخې کولای شو په لاندې ډول سره تشرح کړو:

الف: هغه ځمکې چې له 300 څخه تر 500 متره د سمندر له سطحې لوړوالی لري په عمومي ډول د افغانستان ټیټې او کم ارتفاع لرونکي سیمې بلل کیږي.

ب: هغه سیمې چې له 500 څخه تر 2000 متره لوړوالی لري د افغانستان کرنیزې حاصل خیزې ځمکې شمېرل کیږي.

ج: هغه ځمکې چې له 2000 څخه تر 6000 متره لوړوالی لري د افغانستان د غرنو لړۍ پورې اړه لري.

د افغانستان کم ارتفاع لرونکې سیمې په لاندې دریو حوزو ویشل شوې دي: (آهن)

الف: آمو حوزه ب: هلمند حوزه ج: ننګرهار حوزه

الف: د آمو کم ارتفاع لرونکې حوزه د افغانستان په شمال کې د قیصار سیند له لویدیځ څخه چې 259 متره لوړوالی لري شروع او د درقد او ینګي کلا تر سیمو چې 425 متره لوړوالی لري

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

پراخوالی لري. دغه حوزه د آمو سیند له ساحلي څنډو څخه د کوکچې سیند تر وروستې برخې، د کندز سیند له سواحلو څخه تر اشکاشم، تاشقرغان حوزه، د بلخ اب حوزي وروستې برخې څخه د مزارشریف تر جنوب، شبرغان حوزه، دولت اباد او اندخوي پورې ادامه لري.

ب: د هلمند د کم لوړوالی حوزه د افغانستان په لویدیځ کې موقعیت لري چې د هلمند سیند کوزه برخه، خاشرود، فراه رود، ادرسکن او گودزیره په هغه کې شامل دي. او په عمومي ډول گودزیره دښته، جهندم دښته، امیران دښته، د چخانسور ټولې سیمې، زرنج، کنگ، صابري هامون او د پزک هامون او د هغه شاوخوا په کې شامل دي.

ج: د ننگرهار لږ ارتفاع لرونکې سیمه د کابل سیند په اوږدو له جلال اباد څخه تر لعل پور ډیره کمه سیمه په بر کې نیسي، د کواترنري دورې له ریگي ډبرو او د نورو دورو له بېلا بېلو ډبرو څخه تشکیل شوې دي، نو ځکه د کرښزو ځمکو لپاره یې ښه لنده بل رامنځته کړی دی، او تر استوا لاندې اقلیم په درلودلو سره په دغه سیمه کې مدیترانه یې نباتات هم ښه وده کوي.

خوارلسم لوست(غرونه)

د غرونو لړی او لوړې ارتفاع لرونکې سیمې د افغانستان د ځمکې $\frac{1}{3}$ برخه نیولې ده، او دغه هیواد یې د غرني هیواد په نښه معرفي کړی دی.

د غرونو دغه لړی او لوړ ارتفاعات د همالیا له لویدیځې څنډې دهونزا له شمال یعني د قراقرم سیمې او کوچني پامیر له شمال ختیځ څخه شروع شوي ده چې د شمال ختیځ څخه د جنوب لویدیځ په لور امتداد لري، او د افغانستان ټولې مرکزي برخې یې نیولي دي چې تر بادغیس، فراه او هرات پورې رسیږي.

که چیرې د هندوکش غرونه په افغانستان کې نه واي نو دغه سیمه چې د لوړ فشار په ساحه کې موقعیت لري د لوط صحرا په ایران او د عربستان صحرا په شان به یو صحرايي او ریگی محیط واي.

پنځلسم لوست(د هندوکش غر)

هندوکش د افغانستان له لویو او مشهورو غرونو څخه دی چې د پامیر د لوړو سطحو په ادامه له شمال لویدیځ څخه د جنوب لویدیځ په لور د بابا تر غره پورې دوام لري چې د افغانستان مرکزي سیمې یې نیولي دي.

د هندوکش دغرونو لړی د افغانستان د اوبو حوزې په دوو برخو یعني شمال او جنوب ویشې چې د کابل حوزه د آمو له حوزې څخه جلا کوي.

بعضي جغرافیه پوهان دغه غرونه د هند قفقاز د غرونو په نوم نومولي دي، هندوکش نوم د کوشانیانو له وخته دغه غرونو ته ورکړ شوي دي، د هندوکش غرونو موجودیت د دې سبب شوی دی چې د هیواد د جاري اوبو جریان په بېلا بېلو لورو د حرکت په حال کې دي.

ختیځ هندوکش

ختیځ هندوکش د زیباک له درې څخه د خاواک تر کوتل ادامه لري چې د هیواد د غرونو له لویو سلسلو څخه شمیرل کېږي. د دغې سلسلې پراخوالی په شمال کې د کوکچې سیند او په جنوب کې د کابل سیند دي.

اوږدوالی یې 360 کیلو متره دی او سور یې په منځنی برخه کې د فیض آباد او مهترلام ښارونو ترمنځ پراخه سیمه چاپیره کړې ده.

دغه سلسله له 5000 مترو څخه زیات لوړوالی لري.

په بعضې لږ ارتفاع لرونکو سیمو کې کوتلونه هم لري چې ننگرهار او لغمان ولایتونه د کرام او مچان له درې،ورسج، تالقان او بدخشان سره په پیاده لارو وصل کوي.

د دغې سلسلې لوړې څوکې په واورو پوښلې دي چې د سمندر له سطحې څخه 7000 متره لوړوالی لري.

مشهوره او لوړه څوکه یې د تراجمیر په نوم په چترال کې د افغانستان له خاورې د باندې قرار لري چې د سمندر له سطحې څخه 7750 متره لوړوالی لري د نوشاخ لوړه څوکه چې په افغانستان کې موقعیت لري او د سمندر له سطحې څخه 7485 متره لوړوالی لري.

د دغه غرونو په جنوبي خوږیو کې زیات ځنگلونه شتون لري چې بېلا بېلې ونې لکه بلوط، ارچه، سرو، جلغوزه ، وحشي بادام، او زیتون او نور لري له 4000 څخه لوړې سیمې یې په دایمي واورو او کنگلونو پوښلې دي چې په شمال او جنوبي خوږیو کې یې دایمي اوبه جریان لري.

مالداره خلک د 3600 مترو څخه په لوړو سیمو کې خپل څاروي هلته څروي.

لویدیځ هندوکش

لویدیځ هندوکش د خاواک له کوتل څخه شروع د لویدیځ په لور تر بندامیر پورې ادامه لري او لوړوالی یې په تدریجی ډول کمیږي.

د دغه سلسلې اوږدوالی 240 کیلومترو ته رسیږي چې تاله برفک او اندراب یې شمال لور ته او غوربند او پنجشیر یې جنوبي لوري ته بهیږي.

همدارنگه په شمال لوري کې د اندراب، منجان، سیغان او کهمرد سیندونه سره یو ځای کېږي او د پلخمري سیند جوړوي او بلاخره د کندز سیند جوړوي او آمو سیند ته تویږي.

د لویدیځ هندوکش لوړوالی له 4500متره څخه نه زیاتیږي لوړه څوکه یې د چترال په نوم 5429 متره لوړوالي لري.

د کوتل نوم	لوړوالی	د کوتل نوم	لوړوالی

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

خاواک	۳۶۰۰ متر	کوشان	۴۳۷۰ متر
چاردر	۴۲۳۶ متر	دندان شکن	۲۷۰۰ متر
شیبر	۳۲۰۰ متر		

لویدیځ هندوکش نسبت ختیځ هندوکش ته د کم او لوړوالي په درلودلو سره صعب العبور نه دی له همدې امله د شمال او جنوب لویه لار د دغه غره له زړه څخه د سالنګ او شکاري درې له لارې تیریږي.

یوازې بعضې وني لکه خنجک، وحشي بادام، ارچه او شمشاد په لږه اندازه پیداکیږي .

لویدیځ هندوکش د جولوجیکي جوړښت له مخې فعاله تکتونیکي سیمه ده، او لوی جولوجیکي درزونه په دغه سیمه کې لیدل کیږي، د ګرانیټ ډبرې او پالیوزویک رسوباتو پاتې شوني په ډیره پیمانه لیدل کیږي.

طبیعي زیرمې لکه چونه، ډبروسکاره، قیمتي ډبرې په پنجشیر، جبل سراج او اشپشته کې د دغه سیمې د طبیعي بډایني شکارندوی کوي.

شپاړسم لوست(بابا غر)

د بابا غر د لویدیځ هندوکش په امتداد د لویو او مشهورو غرونو څخه شمېرل کېږي چې د هیواد په مرکزي سیمه کې موقعیت لري.

د بابا غر د حاجیګک له ختیځ او د غوربند د سیاه ګرد له لویدیځې سیمې څخه شروع د لویدیځ هندوکش په امتداد له ختیځ څخه د لویدیځ په لور غزېدلي دي.

د بابا غر 200 کیلومتره اوږوالی او 4000 متره منځنی لوړوالی لري مشهوره څوکه یې د شاه پولاد په نوم چې 5140 متره لوړوالی لري او همیشه په واورو پوښلې وي.

د بابا غر د بامیان سیند لپاره د اوبو مهمه سرچینه جوړوي په شمالي څوړونو کې د بند امیر او بلخ اب او په جنوبي څوړونو کې د هلمند سیند او په لویدیځ لوري کې د هریرود سیند بهیږي.

د بابا غره مشهور کوتلونه په ختیځه سیمه کې عبارت دي له: عراق کوتل، شاتو کوتل، ګردن دیوار کوتل، ملا یعقوب کوتل، حاجیګک کوتل او د اونی کوتل چې د کابل سیند له هغه څخه سرچینه اخلي. د دغه کوتلونو لوړوالی له 3000 څخه تر 3700 متره پورې رسیږي.

کانکوري ټکي په ټولګي کې واضح کېږي!

برای کوتل های کوه بابا

(عاشق ملا اگر شوی حاجی گردی)

سپین غر

د غرونو دغه مشهوره سلسله د افغانستان د ننګرهار ولایت په جنوب کې موقعیت لري ځکه په دغه نوم سره شهرت لري چې لوړې څوکې یې همیشه په واورو پوښلي وي او سپینې ښکاري.

د دغه سیمې اوسیدونکي دغه سلسله په سپین غر(سفید کوه) یادوي او پخوا په ختیځ سپین غر هم یادېده.

سپین غر د پیښور له سل کیلومتری لویدیځ څخه شروع او په لوګر کې د خروار تر سیمې پورې ادامه لري.

لوړه څوکه یې د سیکارام په نوم چې د سمندر له سطحې 4755 متره لوړوالی لري چې له لوړوالی څخه یې کمیږي او د لوګر ولایت تر جنوبي غرونو پورې رسیږي.

سرخرود د سپین غر لویدیځ سرحد له تور غر څخه جلا کوي، د کرم سیند او د هغه مرستیالان د سپین غره په جنوبی او جنوب لویدیځ کې موقعیت لري، چې د پکتیا او ننګرهار حوزې سره جلا کوي.

د دغه سلسلې اقتصادي ارزښت ډیر د توجو وړ دی. او د اقتصادي ارزښت له پلوه د ستن ته ورته پانو د ځنګلونو لکه ارچه، بلوط، نشتر، چلغوزه، بیجور او پاین د ودې لپاره بهترینه سیمه ده.

د سپین غر لړۍ شتون د یو دیوال په حیث د هند د مونسوني هوا د داخلیدو مخنیوی کوي، خو بیا هم د تورخم په سیمه کې د کابل سیند په اوږدو کې د هند مونسوني هوا نفوذ تر الیشنګ او الینګار درو پورې مستقیم تاثیرلري.

اوولسم لوست(سلیمان غر)

د سلیمان غر د افغانستان د ختیځو پولو په ادامه له شمال څخه د جنوب په لور د بلوچستان مرکز څمکنیو او کویټې تر منځ غزیدلی دی.

600 کیلومتره اوږدوالی لري او په دوو برخو وېشل شوی دی یعني ختیځ او لویدیځ سلیمان غر.

ختیځه برخه یې د وزیرستان په خاوره کې موقعیت لري او دهغه سیمې د غرونو سلسله جوړوي، دوهم شاخ یې په پکتیا، پکتیکا او بلوچستان کې غزېدلی دی چې د سند حوزه د افغانستان له جنوبي ولایتونو څخه جدا کوي.

د دغه سلسلې د ځنګلونو پراخوالی د افغانستان په داخل کې زر یا یو زر او پنځه سوه کیلومتره مربع ته رسیږي.

لوړه څوکه یې د سلیمان تخت په نوم چې د سمندر له سطحې څخه 3200 متره لوړوالی لري.

د ترکستان تیربند غر

ترکستان تیربند د افغانستان په شمال لویدیځ کې لوړې سطحې او غرونه جوړوي د غرونو دغه سلسله د حصار غره له شمال لویدیځ او د بلخاب له لویدیځ څخه شروع شوې د ختیځ څخه د لویدیځ په لور تر بالا مرغاب پورې رسیږي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

اوږدوالی یې 300 کیلومترو ته رسیږي او منځنی لوړوالی یې د حصار غره په شمال لویدیځ کې د شال کاشان په سیمه کې چې جوزجان ولایت پورې اړه لري 2300 مترو ته رسیږي.

تر ټولو لوړه څوکه یې جنګ نومیږي 3895 متره او دوهمه لوړه څوکه د سره جنګل په نوم 2985 متره لوړوالی لري.

دغه غر د هیواد د دوو لویدیځو ولایتونو بادغیس او فاریاب ترمنځ موقعیت لري، له جنوبی لوري څخه یې د مرغاب سیند مرستیالان او له شمالي خوږونو څخه یې د قیصار سیند او دهغه مرستیالان سرچینه اخلي.

دغه غر زیاته پسته لري خو د ونو هغه ډولونه چې د هیواد د ختیځو او لویدیځو غرونو په سلسله کې موجود دي لکه سرو، صنوبر،ارچه، زیتون، بلوط او نور نه لیدل کیږي.

د غرونو دغه سلسله د روسي ترکستان د صحرایي بادونو په وړاندې د یو لوی دیوال حیثیت لري، د دغه غره په شمالي او شمال لویدیځ خوږونو کې د نیمه صحرایي اقلیم ځانګړنې تر سترګو کیږي .

اتلسم لوست(اوارې سیمې)

د افغانستان ځمکه په دریو برخو وېشل شوې ده:

1.د غرونو سلسله 2. د لږ لوړوالي لرونکي سیمې 3. اوارې سیمې

د افغانستان په شمال کې د شیر ماهي دښته او ریګستان دښتې د بلخ او آمو سیند ترمنځ له لویدیځ څخه د ختیځ په لور غزېدلې دي او د نیمه صحرایي اقلیم ځانګړتیاوي یې ور بخښلي دي د ریګستان سیمه له شیرخان بندر څخه تر خماب پورې رسیږي.

د هلمند په حوزه کې اوارې سیمې د ګودزیره جهیل شاوخوا، جهندم دښته، صدیقي ریګستان،امیران دښته او د چخانسور ټولې سیمې د ریګستان پراخه ساحه یې په برکې نیولې ده او صحرایي ځانګړتیا یې منځته راوړې ده د کواترنري رسوبات په دغه سیمه کې لیدل کیږي.

په ننګرهار کې دغه ځمکې پراخه ساحه نیولي ده په ختیځ کې، ثمرخیلو او غازی اباد سیمې او په لغمان کې د ګمبیری او د سرخکان دښتې د توجو وړ دي. دغه سیمې د استوا لاندې اقلیم لري او لوړوالی یې له 500 مترو څخه کم دي.

همدارنګه په لوګر کې د سقاو او په کاپیسا کې د ریګروان دښتې د یادولو وړ دي.

نولسم لوست(ژوي)

په افغانستان کې د مدیترانه یې او نیمه استوائي بېلا بېلا سیمو څاروي شته دي.

دغه هیواد د کم پیدا حیواناتو لپاره لکه مارخورغرځه، مارکوپولو غرځه ،ختن غرځه، واورین پرانګ، سپین پرانګ او د بېلا بېلو تي لرونکو مناسب پتنځایونه برابر کړي دي.

همدارنګه پخوا یږه د نورستان په ځنګلونو کې، ببر د آمو سیند تر غاړو ژوند کولو، پرانګ د هندوکش په لوړو سطحو او لیوان په غرنیو سیمو کې اوسیدل.

سرې ګیدړي چې ځانګړی طبي ارزښت لري د مرکزي سیمو په غرونو کې پیدا کیږي، وحشي پسونه، غرنۍ وزې په غرنیو سیمو او د افغانستان په شمالي ستپ سیمو کې شتون لري.

د شمالي ستپ په سیمو کې شیشګی ژوند کوي چې په جلدي مسایلو له هغه څخه استفاده کیږي، سورلنډیان په ټولو سیمو کې په زیات شمیر سره پیدا کیږي.

له 441 څخه زیات الوتونکي چې زیاتره یې د اوبو الوتونکي او مهاجر دي په دغه هیواد کې شتون لري،چې د خپلې تغذیې او بچي اچولو لپاره د هلمند ، پوزک، جهیلونو او د غزني او ناور له ولاړو اوبو څخه استفاده کوي.

د غزني په ولاړو اوبو کې له 75 څخه زیات الوتونکي موجود دي.

هغه الوتونکي چې په لوړو سیمو کې ځالې لري له هغه الوتونکو څخه چې د هلمند، پوزک جهیل او غزني ولاړو اوبو کې اوسېږي توپیر لري مثلاً: ټپوسان، پکه بانبه،ګربت او کونګ چې په لوړو سیمو کې اوسېږي او غوښه خوړونکي دي.

د پکتیا او نورستان مونسوني سیمه

د دغه سیمې حیواناتو عبارت دي له: بیزوګانې، شادي، لیوه، شین ټاغی، نولی، کارغان، مږې او داسې نور.

ستپ سیمه: د دغه سیمې حیوانات عبارت دي له: شیشګی، مورک، لاش خوړونکي مرغان، یو شمېر حشرات، سوی، ګیدړ، کارغان او څرمښکي.

الپاین سیمه: په دغه سیمه کې عموماً تي لرونکي حیوانات مثلً په پامیر، بدخشان او نورستان کې غرنۍ وزې، مار خوړونکي او غرني پسونه په واخان او مرکزي لوړو سیمو کې، په بدخشان کې یو شمیر الوتونکي مثلً تور غرني کارغان، کارغه او غرني چرګان په ګل کوه کې هم پیدا کیږي همدارنګه زری زرکان، غرني زرکان، زاغي او مرزان هم په دغه سیمو کې ژوند کوي.

صحرایی سیمه: د حیواناتو بېلابېل ډولونه د صدیقي ریګستان په ګرمو سیمو، د فراه او افغاني سیستان په بېلا بېلو برخو او مارکو په دښتو کې لیدل کیږي مثلً بېلابېل ډولونه د مورکان، ګیدړي، سورلنډیان،حشرات او خزنده ګان.

شلم لوست(ځنګلونه)

د هیواد جنوبي سیمو غرني سیمې په ستن ته ورته پانو او پلن پانو ځنګلونو پوښلي دي.

د هیواد جنوب ختیځ غرونه لکه سلیمان غر او سپین غر د چترال یوه برخه، هندوکش او پامیر غرونه د نورستان په ګډون له لوړو سیمو څخه د غره تر لمنې په صنعتي او ستن ته ورته ارزښتمنو ځنګلونو پوښلي دي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د هیواد شمال لویدیځ سیمې د پستې او نورو ځنګلونو په ونو پټ دي.

د نړۍ د خوراکي او زراعتي سازمان (WFO) او ملګرو ملتونو د پراختیایي ادارې د اټکل له مخې په 1980 کال کې د افغانستان ځنګلونو 2.2 میلیونه هکټاره ځمکه نیولې ده.

په 1991 م کال کې د هیواد د ځنګلونو فیصدي 1.9 میلیونو هکټاره ته ښکته شوه.

وروستي احصایې ښیې چې ځنګلونه یوازې 2 فیصده د افغانستان خاوره نیولې ده.

په عمومي ډول د افغانستان ځنګلونه په دریو برخو وېشل شوي دي:

1.صنعتي ځنګلونه 2. پسته یې ځنګلونه 2. بته یې ځنګلونه

1. صنعتي ځنګلونه

صنعتي ځنګلونه ستن ته ورته پاڼې لري چې همیشه شنه وي او د هیواد د 2000 څخه تر 3000 مترو په لوړوالي وده کوي او د هیواد په ختیځو او جنوبي سیمو کې شتون لري.

د یو میلیون هکتار په اندازه ځمکه یې نیولې ده او د پکتیا په مرکزي سیمو ځدران، منګل، ځاځیو او همدارنګه په کنړ او لغمان کې هم شتون لري.

په افغانستان کې په میلیونونو د زیتون ونې شتون لري چې په وحشي- ډول وده کوي. دغه ونې په ننګرهار او پکتیا ولایتونو کې 16000 هکټاره ځمکه نیولې ده.

د زیتون اصلاح شوې میوه د 14 څخه تر 22 فیصده غوړي لري او له هر تن څخه د 160 څخه تر 220 کیلو ګرامه غوړي لاسته راځي.

2. د پستې ځنګلونه

د پستې ځنګلونه د هېواد په شمالي (دری ژبه:شمال لویدیځو) سیمو کې د بادغیس او سمنګان په ولایتونو کې تقریباً 3 زره هکټاره ځمکه نیولې ده.

د پستې د ځنګلونو حاصلات هر کال2 څخه تر 3 ټنو پورې رسیږي.

3. بته یې ځنګلونه

دغه ځنګلونه په خواره واره ډول د هیواد په شمالي ، مرکزي او جنوب لویدیځو سیمو کې شتون لري د دغه ځنګلونو شتون ډیر اړین او د اهمیت وړ دي چې د خاورې له تخریب څخه د باران او باد پر وړاندې مخنیوي کوي.

د دغه ځنګلونو مثالونه سکساول، جرګس، پسته، غرني بادام، ارچه او نور تشکیل کړي دي.

دغه ځنګلونه زیاتره د هیواد په شمال ختیځ او جنوب لویدیځ کې پیدا کېږي. د 2000 څخه تر 3000 مترو په لوړوالي سره د ځنګلونو ببلا ببل ډولونه او د صنوبر ونې شتون لري.

همدارنګه د چارمغز ونې، شفتالو، بادام، زرشک، انګور، ښنک، ښوله، مرخني، اومسی او نور په غرنیو ځنګلونو کې لیدل کېږي. په ختیځو ځنګلونو کې د سرو، صنوبر او سدر ونې شتون لري.

په نورستان کې سربېره پر صنوبراو جلغوزه، انار، غوزان، بلوط او چهارمغز شتون لري په لویدیځو ځنګلونوکې سربیره پر پسته، خنج، ارچه او شیر خشت هم په بادغیس او هرات ولایتونو کې لیدل کیږي.

په دوران او ادرسکن کې کتیرا او ترخو بادامو ونې هم لیدل کېږي.

د هیواد شمال ځنګلونه په پسته پوښلي دي. په نهرین، اندراب او خنجانو کې د پستې ونې او د دوشي په غرونو کې د بلوط ونې شتون لري.

یوویشتم لوست (د نباتاتو فرش)

طبیعي ځانګړتیاوې د اوبو شتون او توپوګرافیکي جوړښت د یو سیمې د نباتاتو پر وده اغیزمن لاملونه دي.

زیره د وحشي- نباتاتو له جملې څخه ده چې بهر ته هم صادریږي. د بدخشان درې د نړۍ تر ټولو لوړه درجه زیره تولیدوي، د دغه نبات تخم زرګونه کال وړاندی د وریښمو لارې ختیځ او لویدیځو هېوادونو ته لیږدول شوي دي.

1. د مونسوني سیمې نباتات

ونې او نباتات چې په دغه سیمه کې پیدا کېږي مثلاً زیتون، سرو، پاندروسا(د ستن پاڼو نباتاتو له جملې څخه دي) ناجو، چهارمغز، پسته، پنبه، توت، پنجه چنار، بید یا وله، د عکاسي ونې، تور مرچ او نور، هغه ونې او نباتات چې د 1000 څخه تر 2000 مترو لوړوالي کې پیدا کېږي مثلآ بلوط، ارچه، نشتر، جلغوزه، پایین او ناجو ، هغه ونې چې د 2000 څخه تر 2500 مترو لوړو سیمو کې پیدا کېږي مثلاً نشتر، جلغوزه او سرو، له 3000 څخه په لوړو سیمو کې په سپین غر کې د نباتاتو وده له منځه ځي.

2. د مدیترانه یې سیمې د ننګرهار حوزې نباتات

هغه نباتات چې په دغه اقلیم کې پیدا کېږي مثلاً نیشکر، وریجې، د ستروس کورنۍ نباتات نارنج، مالټه، سنتره عموما د 500 څخه تر550 متره په لوړوالي د ننګرهار په حوزه کې شامل دي. ابټلیس ګل وله، غز، زیتون ، تور مرچ، توت، اکاسي ونه، ناجو د دغه سیمې له مشهورو نباتاتو څخه شمېرل کېږي. خو په لوړو سیمو کې د موسمي هوا له املې زیات شمیر ستن پاڼې ونې د سپین غر په لمنه کې لیدل کیږي.

3. ستپ سیمې نباتات

د دغه سیمې نباتات واښه ډوله دي چې زیاتره د حبوباتو په شکل کرل کېږي. اما په اوارو سیمو او د غرونو په لمنو کې سربیره په واښه لرونکي نباتاتو خشبي(ساقه لرونکي) او نیمه خشبي نباتاتو هم شتون لري. رسوبي خاوري د دغه سیمې د

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

بید، چنار، خوړه ولي، غز او سکساول نباتاتو لپاره زمینه برابره کړي ده.

وحشي زیتون په صحرایي او ستپ سیموکي وده کوي.

4. د نیمه وچ او صحرایي سیمو نباتاتو

د هېواد په جنوب لویدیځ اوارو سیمو کې صحرایي نباتاتو لکه ارته میز چې خلک ورته ترخه وایي لیدل کیږي، د جارو بوټی خوخان، تیټ قد او اغزي لرونکي نباتاتو د دغه سیمې نباتی فرش جوړوي، په بعضو سیموکې چې اوبه شتون لري لکه فراه، زرنج او بست د ولي، چنار او غز ونې هم لیدل کیږي.

5. د منځني لوړوالي لرونکو سیمو نباتات

د 900 څخه تر 1800 متره په لوړو سیمو کې او بعضې له 2000 متره څخه په لوړو سیمو کې کاسني، رواش، زنبق، لاله، پسته او بادام نباتاتو د استالف په شاوخوا او پغمان غره په ختیځ خوړونو کې او خواجه سیاران کې د ارغوان ونې هم وده کوي.

6. د الپاین تندرا سیمې نباتاتو

د بدخشان، واخان او راغ زیاتره غرنی لمنې چې د همالیا د مرکزي سلسلي په شان لږ اورښت لري، دغه سیمې په ډېر ګلي پوښلي دي چې لوړ قد نباتاتو هلته شتون لري او د خاورې د خوار ترکیب ، یخې هوا،غرنیو بادونو لګیدل له امله د راغ، شیوا، فیض آباد او کوکچې حوزې په لوړو سیمې د الپاین تندرا سیمه بلل کیږي.

7. د لوړو او غرنیو سیمو نباتاتو

په لوړو سیمو کې چې له 3800 څخه تر 4000 متره لوړوالی لري د واورې او یخ په شتون سره د نباتاتو د ودې ساحه محدوده کړي ده او د ډبرګلي څخه پرته بل نبات هلته شتون نه لري.

څلورم څېرکی

دوه ویشتم لوست(د اوبو دوران)

اوبه په طبیعت کې په درېو بېلا بېلو بڼو سره د تغیر په حال کې دي.

1. ګاز 2. مایع 3. جامد

سایکل یا د اوبو دوران د څمکې د کرې په څلورو برخوکې رامنځته کیږي:

1. هوا یا atmosphere
2. څمکه یا lithosphere
3. اوبه یا hydrosphere
4. بایوسفیر یا biosphere

د هایدرولوجي سایکل د څمکې پر مخ د اورښت او فضا یا سمندر ته د برته ګرځولو هایدرولوجي یو بشه بڼه ده نو څکه وېلای شو چې د هایدرولوجي سایکل له یو بل سره پیوسته او یو د بل مکمله دي.

په طبیعت کې د اوبو سیکل په مسلسل او پیوسته ډول همشه دوام لري.

درویشتم لوست(د اوبو ارزښت)

د څمکې د مخ $\frac{3}{4}$ برخه اوبو نیولي ده، که چیرې څمکې ته له پورته خوا څخه وکتل شي نو د یوې آبي رنګه کرې په بڼه لیدل کېږي.

یوازې 2.8 فیصده اوبه د سیندونو، کنګلونو، جهیل، د اتموسفیر اوبه، په خاورو کې موجودي اوبه او تر څمکې لاندې اوبه دي.

په نړۍ کې خوږې اوبه ډېرې کمې دي چې د نړۍ د ټولو اوبو 2.8 فیصده جوړوي.

اوبه راګرځونکي بندونه په هلمند، ننګرهار، لوګر، هرات، کابل او شمالي سیمو کې د زراعت لپاره کافی اوبه برابروي.

څلورویشتم لوست(د اوبو لګونې حوزې)

د آمو سیند د پامیر او خماب تر منځ د 2700 متره لوړوالي څخه د زیات توپیر له امله هر کال زیاته خاوره او رسوبي مواد له ځانه سره لیږدوي.

په افغانستان کې د روانو اوبو د شبکو ګنوالی د معتدلو او استوائي سیمو په پرتله کم دي، ځکه د افغانستان څمکه په عمومي ډول تر استوا لاندې او صحرایي سیمو کې موقیعت لري.

په افغانستان کې د روانو اوبو له جملې څخه 11 فیصده د سند حوزې او 79 فیصده د هیواد په داخل کې جهیلونو، دښتو او ولاړو اوبو ته تویږي او پاتې 20 فیصده ګاونډیو هېوادونو ترکمنستان او ازبکستان جمهوریتونو کې جریان لري.

د افغانستان سیندونه په پنځو د ابو لګولو حوزو ویشل شوي دي:

1. آمو حوزه (اکسوس)
2. هریرود حوزه
3. کابل حوزه(سند)
4. د هلمند او سیستان حوزه
5. نور کوچني سیندونه په ترلې حوزو کې مثلً د غزنې او بلخاب سیندونه او نور.

پنځه ویشتم لوست(آمو حوزه)

د آمو په حوزه کې هغه سیندونه شامل دي چې د هندوکش له شمال او شمال ختیځ خوړونو څخه سرچینه اخلي، یو شمیر دغه سیندونه د آمو له سیند سره یوځای کېږي او نور یې د شمالي هندوکش په دښتو او ریګونو کې جذب کیږي.

آمو سیند

د آمو سیند د افغانستان په شمال کې له لویو سیندو څخه شمیرل کېږي. تاریخي شهرت لري، او د بلخ یا بخدي د پخوانیو مدنیتونو بشکارندویی کوي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

پخواني یونانیانو آمو د اکسوس او عربو د جیحون په نوم نومولي دي.

د آمو سیند د پامیر او واخان له کنګلي اوبو څخه سرچینه اخلي د زرکول اوبه چې کنګلي سرچینه لري د 4125 متره په لوړوالي سره د افغانستان په خاوره کې د آمو سیند سرچینه جوړوي.

بل مرستیال یې د واخان سیند دی چې د واخجیر او چقمقتین له جهیل څخه سرچینه اخلي د پنج قلعې په ختیځ کې د پامیر سیند سره یوځای کېږي یو واحد سیند جوړوي چې د پنج سیند په نوم یادیږي او د ای خانم تر سیمې چې د کوکچې سیند ورسره یوځای کېږي په همدې نوم یادیږي.

د آمو سیند له زرکول څخه تر خماب پورې د افغانستان او تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان ترمنځ سیاسي پوله جوړوي چې تقریباً 1200 کیلو متره اوږدوالي لري.

وروسته له دې چې خماب سیمه پریږدي د شمال لویدیځ پر لور حرکت کوي او د اورال جهیل ته تویږي، عمومي اوږدوالی یې 2500 کیلو متره دی چې له دې جملې څخه 1300 متره د ترکمنستان او ازبکستان په خاوره کې غزېدلی دی.

د آمو سیند سور له سرچینې څخه تر اخر پورې زیات تغیر کوي چې د پنج په سیمه کې یې سور زیاتیږي او د درقد په سیمه کې 2000 مترو ته رسېږي، او د کلفت په سیمه کې له 1700 څخه تر 2000 مترو تغیر کوي، خو د تاش ګزر په سیمه کې 2500 مترو ته رسېږي او په بعضو سیمو کې5000 مترو ته رسېږي خو برعکس ژوروالی یې کمیږي، او له یو نیم تر دو مترو پورې رسیږي.

د افغانستان په خاوره کې د آمو سیند مرستیالان عبارت دي له کوکچې او کندز سیندونه چې د واخان او پامیر له اوبو سره څلویښت فیصده یې مرستیالان تشکیلوي، او د حجم له پلوه د آمو اوبو له 20 څخه تر 30 فیصده احتوا کوي.

د دغه سیند مرستیالان چې له شمالي لوري له هغه سره یوځای کېږي د تاجکستان او ازبکستان په جمهوریتونو کې جریان لري چې مهم یې عبارت دي له کونټ، وانچ، قزل سو، وخش، کافرنهان او سرخان سیندونه.

د آمو سیند د تاشګزر، کلفت، قزل قلعه(شیرخان بندر) بندرونه د تجارتي مالونو د صادراتو او وارداتو لپاره مهم مرکزونه دي څکه د شمالي ګاونډیو هیوادونو له لارې د اروپایي لارو سره ترانزیټ د دغه بندرونو له لارې وصل کیږي.

دغه بندرونه تجارتي مرکزونه، صنعتي او د کابل او مزارشریف لویه لار ټنګلوي، نو له د پلوه تجارتي او اقتصادي ارزښت یې د پام وړ دي.

د کوکچې سیند

د کوکچې سیند د بدخشان له مشهورو سیندونو څخه شمیرل کیږي، چې د 3800 څخه تر 4000 مترو لوړو او لړ سور لرونکو درو څخه سرچینه اخلي او د ډیرو کښلیچو په وهلو سره د خواجه غار په سیمه کې د آمو سیند ته تویږي. خټیځه سرچینه یې د دوفرین جهیل دی او د لویدیځ په لور جریان لري.

د آمو سیند دري نور کوچني مرستیالان لري چې د وردج، یامګان او سرغیلان سیندونه دي، او تر ټولو لري جنوبي د اوبو لګولو سیمه د کران او منجان خوړونه تشکیل کړي دي. او د جرم دري په واسطه له کوکچې سره وصل کیږي.

د کوکچې سیند ژوروالي زیات خو سور یې لړ دی چې په ځینو سیمو کې له یو کیلو متر څخه نه زیاتیږي نو ځکه په نهرونو او ویالو کې د اوبو لیږدول امکان نه لري او له همدې امله د بدخشان زراعت زیاته پراختیا نه ده موندلې.

د ای خانم تاریخی بنار د کوکچې او پنج سیندونو د یوځای کیدو په سیمه کې چې د یونانیانو پر مهال د دبدبې بنار و او وروسته د بیګانه یرغلونو په ترڅ کې خپل عظمت له لاسه ورکړ او نن ورځ په یو ډېران بدل شوی دی. کرنیز محصولات او د حیواناتو روزنه په دغه سیمه کې ښه وده کړې ده.

د کندز سیند

دغه سیند د هیواد په شمالي سیمو کې ځانګړی اقتصادي ارزښت لري، ځکه د اوبو جریان یې د کوکچې سیند په شان تیز او ګرځندی نه دی او اوارو او پراخو سیمو کې حرکت کوي.

د بغلان او کندز زراعتي ځمکې د دغه سیند په غاړه پراخه سیمه چاپیره کړې ده. او د اوبو لګونې او زراعت لپاره مساعده ده. د کندز سیند ډیر مرستیالان لري چې تر ټولو مهم یې عبارت دي له د اندراب سیند، تالقان سیند او د نهرین سیند.

شپږ ویشتم لوست (د سند حوزه)

د کابل حوزه له خپلو مرستیالانو سره چې په دې حوزه کې جریان لري د شمال له خوا د هندوکش د غرونو په واسطه چاپیره شوی دی او له 3900 څخه تر 4500 متره لوړوالي څخه سرچینه اخلي.

د پنجشیر سیند، غوربند سیند، الیشنګ سیند، الینګار سیند او کنړ سیند د دغه سیند له مرستیالانو څخه دي.د لویدیځ له لوري تر ټولو لوړه سیمه د اوني ده چې د پغمان د غرونو د سلسلې په جنوب لویدیځ کې موقعیت لري او د کابل سیند له هغه څخه سرچینه اخلي.

د کابل حوزې جنوبي سیمې د لوګر سیند، د خوګیانۍ سیمه او سپین غر چاپیره کوي. په داسې حال کې چې د تورخم سیمه د کابل د حوزې د ختیځې سیمې په ډول معرفي کیږي.

د کابل حوزې عمومي مساحت 75390 کیلو متر مربع ته رسیږي.

او په عمومي ډول د افغانستان د اوبو لګونې حوزې 12.5 فیصده تشکیلوي. د کابل د سیند اوږدوالی د افغانستان په داخل کې 360 کیلو متره دی او تورخم ته نږدې د ګوشتې په سیمه کې د

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

هیواد له پولې اوړې او 140 کیلو متره په واټن سره په پېښور کې ادامه لري چې د اټک په سیمه کې د سند سیند ته تویږي.

د کابل سیند

د کابل سیند د 3500 متره په لوړوالی سره د پغمان غره لویدیځ کې د اونې له کوتل څخه سرچینه اخلي.

د قروغ غره له جنوب لویدیځ څخه د للندر تنګي په لوری جریان لري، او د چهاردهي حاصلخیزه سیمې ته رسیږي او د چهاردهي سیمه شیرازه کوي د ګزرګاه په سیمه کې له خپل لومړني مرستیال سره چې د چمچه مست سیند دی یوځای کېږي او دګزرګاه له سیمې تیریږي.

د کابل سیند بګرامیو ته نیږي د لوګر له سیند سره یوځای کېږي او په اوبو کې یې زیاتوالی راځي، د کابل سیند له سرچینې څخه د لوګر سیند تر یوځای کیدو پورې دایمي او زیاتې اوبو نه لري.

وروسته د ماهپر تنګي ته داخلیږي او تر نغلو وادي پورې رسیږي. د نغلو په سیمه کې د پنجشیر له سیند سره چې هغه مخکې د غوربند له سیند سره یوځای شوی دی یوځای کیږي. د نغلو بند د کابل دریاب په سر جوړ شوی او په هر ساعت کې ٦٦ زره کیلو واته بریښنا تولیدويږ

د کابل سیند وروسته د سروبي حوزې ته داخلیږي او د سروبي په سیمه کې بریښنا هم تولیدوي چې 22 زره کیلو واټ ته رسیږي.

د کابل سیند وروسته د سروبي له سیمې د وریښم تنګي ته داخلیږي او وروسته د سرکندو بابا، سرخکان او عزیز خان کځ ته داخلیږي او هلته د لغمان له سیند (الیشنګ او الینګار) سره یوځای کیږي.

بهسودو ته نیږدې د کامې په سیمه کې د خپل لوی مرستیال کنړ سیند سره یوځای کېږي او د پېښور له سیمې څخه تیریږي او سند سیند ته تویږي.

د کابل سیند ټول اوږدوالی له سرچینې تر اخره پورې 500 کیلومتره دی چې 360 کیلومتره یې د افغانستان په خاوره کې بهیږي.

د کنړ سیند

د کنړ سیند بروغیل غاښې ته نژدې (د ختیځ هندوکش جنوبی برخه) د 4000 متره لوړوالي څخه سرچینه اخلي او د واخان او یارقند سیمې سره وصل کوي.

دغه سیند په اول کې د څو درو د اوبو له یوځاي کېدو څخه چې د لوړو غرونو د بڼې او کینې خوا څخه راوځی او د اوبو اندازه یې په تدریجي ډول سره زیاتیږي، او وروسته په ګړندي ډول خپل جریان ته ادامه ورکوي.

کله چې د چترال له سیمې څخه تیریږي د چترال سیند په نوم یادیږي، وروسته کله چې د لنډي سیند سره یوځای شي د کنړ سیند په نوم یادیږي.

کله چې د کنړ سیند د چغه سرای سیمې ته رسېږي د پیچ سیند سره یوځای کیږي، وروسته د شیوه او شیګی له سیمې تیریږي او کامې ته نیږدې د کابل له سیند سره یوځای کېږي چې د اوبو څخه یې د کرنې او شیرازی لپاره استفاده کیږي.

اوه ویشتم لوست(د هلمند او سیستان حوزه)

د هلمند او سیستان حوزه د هیواد په جنوب لویدیځ کې نسبتاً لویه سیمه نیولې ده چې د هیواد د اوبو جنوب لویدیځه شبکه جوړوي.

د سیند نوم	د اوبو لګونې حوزې مساحت	فیصدي
هلمند سیند	154300 کیلو متر مربع	32.6%
فراه رود	33000 کیلو متر مربع	4.4%
ادرسکن سیند	22000 کیلو متر مربع	3.5%
نور سیندونه او ولاړې اوبه	117320 کیلو متر مربع	17.4%

هغه سیندونه چې د هلمند او سیستان حوزې پورې اړه لري د اوبو لګولو حوزې پراخوالی یې 340000 کیلومتره مربع ته رسیږي چې د هیواد د ټولې ځمکې له نیمایې څخه زیاته برخه یې نیولې ده او 51.8 فیصده ته رسیږي.

د هلمند سیند

د هلمند سیند د هیواد له لویو او ترټولو اوږدو سیندونو له جملې څخه دی. چې له سرچینې څخه تر پای پورې په افغانستان کې بهیږي او له هغه څخه په اعظمي ډول زراعتي استفاده کیږي.او د بریښنا د تولید تر ټولو لویه منبع هم شمیرل کیږي.

د هلمند سیند د پغمان غره له لویدیځ خوږونو او د اونی کوتل له لویدیځ یو نیم کیلومتري څخه سرچینه اخلي، له هغه وروسته د ګردن دیوال له جنوب څخه تیریږي، او د ملا یعقوب کوتل په سیمه کې د میدان لویدیځه پوله پریږدي او د بامیان جنوبي سیمو ته داخلیږي.

د بامیان له طی کولو وروسته اورزګان ولایت ته داخلیږي، او د خپل بل مرستیال سره یوځای د هرارود په لور حرکت کوي، د کجکي بند په سیمه کې یې سور زیاتیږي او د بریښنا دتولید لپاره زیاتې اوبه ذخیره کوي.

وروسته له هغې د لشکرګاه له منځه څخه تیریږي او په نیمه صحرایي سیمه کې یو لوی قوس د درویشانو او چهاربولک په سیمه کې رامنځته کوي، وروسته د نیمروز د کمال خان په سیمه کې د شمال لوری اختیاروي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د حوابگاه او کنگ په سیمو کې د هیواد په پولو د یو لړ کښلیچو په وهلو سره خپل جریان ته ادامه ورکوي او په خپله دلتا کې په بیلابیلو برخو وېشل کیږي.

د دغه سیند اوږدوالی د حاجیگک او د زرنج په جنوب کې تر کهک بند پورې 1400 کیلو متره دي.

د هلمند سیند پورتنۍ برخې زیاتره په غرنیو سیمو کې موقعیت لري نو له همدې املې د اونۍ له کوتل او کجکي ترمنځ ډیر ګرندی دی او سور یی هم کم دي، له هغی وروسته یې اوږدوالی له 39000 څخه تر 500 مترو پورې کمیږي یعنې د اونۍ کوتل او بند کهک ترمنځ د لوړوالي توپیر 3320 مترو ته رسېږي.

د دغه سیند د اوبو اندازه په کال کې د 60 څخه تر 2000 متر مکعب پر ثانیه تغیر کوي. د هلمند سیند له 60 څخه تر 70 فیصده اوبه د پسرلي په موسم کې جریان لري، هغه سیمه چې د کجکي بند څخه وروسته د هلمند سیند په واسطه خړوبیږي پراخوالی یې 700000 جریب ته رسېږي او نښه حاصلات هم لري.

د سیستان په هامون کې د هلمند سیند رسوبات د دې سبب شوی دی چې هر کال دغه سیند لویدیځ په لور پرمخ غزوي.

نور سیندونه چې د هلمند او سیستان په حوزه کې یا د جنوب لویدیځ په لور جریان لري عبارت دي له ارغنداب سیند، ترنک او ارغسان سیندونه چې د هلمند د سیند مرستیالان دي. فراه رود، ادرسکن، خاشرود سیندونه او ناور ولاړې اوبه هم د هلمند په حوزه کې شامل دي.

اته ویشتم لوست(د هریرود حوزه)

د هریرود حوزه د افغانستان په شمال لویدیځ کې موقعیت لري چې دغه حوزه د زراعتي فعالیتونو او د زیات نفوس د اوسېدلو سبب شوې ده. د اوبو لګولو حوزه یې 39300 کیلومتر مربع او اوږدوالی یې 850 کیلو متره دي.

د هریرود سیند

د هریرود سیند د هیواد شمال لویدیځ له لویو او مهمو سیندونو څخه شمیرل کېږي چې د ختیځ څخه د لویدیځ په لور اوږد غزېدلی دي.

لومړني مرستیالان یې د لعل، سرچنګل او سنګل اب سیندونه دي چې د بابا غره له لویدیځ څخه سرچینه اخلي او د چغچران په لوری جریان لري.

د دولت یار په سیمه کې نور کوچنۍ سیندونه هم ورسره یوځای کېږي، مهم مرستیال یې د تګاب او اوشلان سیندونه دي، چې د سیاکوه له شمال څخه سرچینه اخلي او د هریرود سره موازي د لویدیځ په لور جریان لري او د مروه په سیمه کې د هریرود له سیند سره یوځای کیږي.

هریرود د هرات ښار له جنوب څخه تېریږي. او وروسته د کرخ سیند د هرات په ختیځ کې د هغه د ښی خوا له مرستیالانو څخه چې د سفید کوه له خوږونو څخه په ځانګړي ډول د بند سبزک له جنوبي خوږونو څخه سرچینه اخلي، او له هریرود سیند سره یوځای کیږي.

د دغه سیند اوږدوالی 95 کیلو متره دي، او د اوبو لګولو حوزه یې 7820 کیلومتره مربع ده.

د هریرود سیند سفید کوه او سیاه کوه سره په موازي ډول د لویدیځ په لور روان دی، چې له سرچینې څخه د کوهستان تر سیمې تقریباً 560 کیلومتره فاصله په موازي ډول د سفید کوه او سیاه کوه سره په موازي ډول طی کوي.

د کوهستان له سیمې وروسته د شمال په لور پرمخ ځي او تر ذوالفقار پورې 95 کیلو متره واټن وهي او له ذوالفقار څخه وروسته د افغانستان خاوره پریږدي او تر سرخس پورې د ایران او ترکمنستان ترمنځ سیاسي پوله جوړوي.

وروسته د شمال لویدیځ په لور تاویږي او په ترکمنستان کې د ریګستان سیمه کې جذبیږي.

هریرود سربېره پر دې چې اقتصادي او زراعتي ارزښت لري سیاسي ارزښت هم لري. ځکه د اسلام قلعه له شمال څخه تر ذوالفقار پورې د ایران او افغانستان ترمنځ سیاسي پوله جوړوي.

وروسته د مروې له سیمې هغه ځای چې د تګاب اوشلان اوبه ورسره یوځای کیږي، د هریرود سیند سور زیاتیږي او د اوبو لګولو لپاره تري زیاته استفاده کېږي چې له همدې املې د غرونو زراعتي وضعیت د قناعت وړ دی. ځکه د ابګردانونو، بندونو او سلما بند هرات او شاوخوا سیمې ته شیرازی وربخښي.

د مرغاب سند

مرغاب سیند د حصار غره له 2500متري څخه سرچینه اخلي او 450 کیلومتره په واټن د افغانستان په داخل کې جریان لري. د اوبو لګولو حوزه یې 34500 کیلومتره مربع ته رسېږي چې د هیواد د اوبو لګولو حوزو 5.6 فیصده جوړوي. د دغه سیند اوږدوالی 800 کیلو متره دي.

د مرغاب سیند ډیر مرستیالان لري چې مشهور یې د قودیان او خربید سیندونه دي، چې د جوند په سیمه له یو بل سره یوځای کېږي او د مرغاب سیند ته تویږي.

مرغاب سیند بالا مرغاب له سیمې تېریږي او او دشمال لویدیځ په لور میلان پیدا کوي اود 30 کیلومتره په واټن د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ سرحد تشکیل کوي، وروسته د مرو په خوا مخکې ځي او له خپل لوي مرستیال کوشان (کاشان) او کشک سره یوځای کیږي.

د کشک سیند د سفید کوه د سلسلې له شمالي خوږونو څخه سرچینه اخلي او د شمال په لور جریان لري چې د کشک له سیمې پورته د کشک له سیند سره یوځای کېږي چې په دغه سیمه کې د کشک سیند په نوم یادیږي. او د ترکمنستان په سیمه د مرغاب په نوم یادیږي، د پنجدي له ښهرازه کولو وروسته

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د قره قرم په سیمه کې یو لویه دلتا جوړوي او د دغې سیمې په ریګونو کې جذبیږي.

نه ویشتم لوست (ترلې حوزه)

ترلې حوزه د مثال په ډول د غزني سیند، بلخاب سیند، قیصار سیند، سمنګان سیند او د اندخوی سیند چې بعضې یې په لنډ ډول بیانوو.

د غزني سیند

د غزني سیند د غزني ښار د 55 کیلومتري شمال څخه سرچینه اخلي، چې د سرچینې لوړوالی یې د سمندر له سطحې څخه 4000 متره ده او د سوسنګ، جغتو، شش ګاو او خواجه عمري څخه تیریږي، وروسته د غزني ښار ته داخلیږي، او د دغه ښار له ختیځ څخه تیریږي او د جنوب په لور، خپل جریان ته ادامه ورکوي ، د دیلي له شمال څخه تېریږي او د غزنی ولاړو اوبو ته داخلیږي.

اوږدوالی یې له سرچینې تر پای پورې 195 کیلومتره دی او د حوزې مساحت یې 12370 کیلومتره مربع دي، د غزني ښار شمال ته په 18 کیلومتري کې د اوبو یو بند جوړشوي دی چې 18 متره لوړوالی لري او دسلطان بند په نوم یادیږي.

په لومړیو کې دغه بند د سلطان محمود غزنوي په وخت کې جوړ شوي دي، دغه بند 20 څخه تر 25 میلیونه متر مکعبه ظرفیت لري چې په عمومي ډول د سیلاب اوبه په هغه کې ذخیره کیږي.

د جلګې سیند د دغه سیند له مهمو مرستیالان څخه دي کله چې د غزني له سیند سره یوځای کېږي دهغه اوبه دوه چنده کوي. دغه سیند د بهسودو له لوړو سطحو څخه سرچینه اخلي. په 1331 ه ش کال (دری ژبه: 1321 کال) کې یو ابګردان په هغه جوړشوی دی چې ظرفیت یې 125 میلیونه متر مکعب دي، او د شاوخوا ځمکو د خړوبولو لپاره یې ښه زمینه برابره کړي ده.

د بلخاب سیند

بلخاب هم له دغه ډلې سیندونو څخه دی چې اوبه یې آمو سیند ته نه رسېږي، د دغه سیند مرستیالان عبارت دي له دایمیرداد سیند، بندامیر سیند او امرخ سیند. دغه سیندونه د بلخ په لور جریان لري او د دهدادي درې په سیمه کې د چهاربولک او آقچه مسیر غوره کوي او د آقچه په جنوب کې د خانقا په دښتو کې جذبیږي.

دغه سیند د اریایانو په تاریخ کې ځانګړي ارزښت لري او د دغه سیند شاوخوا د مدنیت له نفوس څخه ډکې سیمې وي چې د 25200 کیلومتر مربع څخه زیاته سیمه یې چاپیره کړې ده.

آریایانو د خپلو ځمکو د خړوبولو لپاره 18 لوی نهرونه جوړ کړي و چې زیات زراعتي حاصلات یې ترلاسه کول، مهم نهرونه عبارت دي له نهر شاهي، نهر بلخ، نهر ارغنداب، نهر سیدآباد او نور.

دغه نهرونه د مزارشریف او شاوخوا سیمو د شیرازی سبب شوی دی.

د قیصار سیند

دغه سیند د څو درو د اوبو له یوځای کیدو څخه چې د ترکیستان تیر بند له شمالي خورونو څخه سرچینه اخلي له میمنې څخه تیریږي او دولت اباد ته نېږدې د قیصار له اوبو سره یوځای کیږي، چې تر دغه سیمې د اندخوی سیند په نوم یادیږي.

د قیصار سیند اوبه معمولاً سیلابي بڼه لري، چې د پسرلي په موسم کې زیاتې او سرکشه وي، د قیصار سیند له خپلو مرستیالانو سره یوځای په اورو سیمو او تپو کې تیریږي، ترڅو چې د اندخوي ښار ته رسیږي او هلته په ریګونو کې جذبیږي.

دېرشم لوست (جهیلونه)

ولاړې اوبه چې د جغرافیې په علم کې (غدیر) سره هم یادیږي، او زیات طبیعي او حیاتي اهمیت لري. پوهیږو چې جهیل ولاړې اوبه دي چې خوږ،مالګین او تریخ خوند لري او دځمکې ژورې یې ډکې کړې دي.

جهیل په بېلابېلو نمونو سره یادیږي لکه: هامون، کول او ولاړې اوبه.

د سیستان هامون

د سیستان په هامون کې لاندې هامونونه شامل دي: د هلمند هامون، د پوزک هامون صابري هامون چې د افغانستان په جنوب لوېدیځه څنډه کې موقعیت لري. او د افغانستان په جنوب لویدیځ کې سیمه ایز سیندونه په هغه کې جمعه کیږي.

پوزک هامون: دغه جهیل 24 کیلومتره سور لري، چې د خاشرود او خسپاس سیندونه همدې هامون ته ورځي.

صابري هامون: 583 کیلومتره مساحت لري او د سیستان هامون تر ټولو لرې پرته سیمه ده. د فراه رود او هاروت سیندونه هلته ورځي او د دغه سیند اوبه د پوزک هامون په څیر دایمي شتون لري.

دغه نمدي او نمکسار

د هیواد په لویدیځه پوله د افغانستان او ایران ترمنځ موقعیت لري، اوبه یې زیاته مالګه لري او په دغه صحرایي سیمو کې د اوبو د تبخیر له امله زیاته مالګه هلته رسوب کوي.

دغ نمدي د فراه په لویدیځ او نمکسار د هرات په لویدیځ کې موقعیت لري او په بشپړ ډول صحرایي ځانګړتیاوي لري، دغ نمدي 440 کیلومتره مربع او نمکسار د مالګې د تولید له پلوه د تالقان د مالګې له کان سره سیالي کولای شي.

گودزیره

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ګودزیره د هلمند هامون په جنوب د افغاني سیستان په حوزه کې موقعیت لري. د دغه جهیل اوبه تروې دي. او د سمندر له سطحې څخه 456 متره لوړوالی لري.

د ناور دښتو ولاړې اوبه

د غزني په شمال لویدیځ کې د ناور ولاړې اوبه 600 کیلومتره مساحت لري. او د غزنی له ښار څخه 55 کیلومتره د شمال لویدیځ لور ته واقع دي. لوړوالی یې د سمندر له سطحې څخه 3115 متره دي.

د غزني ولاړې اوبه

نسبتاً یو کوچنی جهیل دی چې د 128 کیلومتره په واټن سره د غزني ښار جنوب لوري ته واقع دی او د غزني سیند اوبه هلته توپیږي.

بند امیر

یو شمیر کوچني جهیلونه دي چې د یو بل په امتداد سره د 2916 متره په لوړوالی د بابا د غره په شمال کې په یوه اهکي ځمکه کې منځته راغلي دي. د غرنیو سیمو اوبه هلته یوځای کیږي او دغه اوبه په زیاته اندازه اهکي محلول او کلسیم کاربونیټ لري.

بعضې د دغه طبیعي بندونو څخه چې کوچنیو سیمه ایزو جهیلونو په نوم پېژندل شوي دي. د دغه بندونو نومونه عبارت دي له: بند پنیر، بند هیبت، بند غلامان، بند پودینه، بند قمبر، بند جداسل او بند ذوالفقار چې بند ذوالفقار اوس مهال وچ دی او د ټولو مجموعه د بند امیر په نوم یادیږي.

دغه سیمه د له تروریستي پلوه ځانګړی اهمیت لري. چې په ملي پارک سره یادیږي. او د ګرځندویانو لپاره ډیره ښکلي او د لیدلو وړ سیمه رامنځته کړي ده.

د زرکول جهیل

دغه جهیل چې د زرقول په نوم هم یادیږي، د پامیر په لوړو سطحو کې د افغانستان او تاجکستان ترمنځ موقعیت لري، چې د سیاسي پلوه سرحدي کرښه او د فزیکي پلوه ځانګړی اهمیت لري.

دغه جهیل د پامیر او آمو اوبو لومړنی سرچینه جوړوي شمالي سیمه یې 6 کیلومتره او جنوبی سیمه 10 کیلومتره اوږدوالی لري او سور یې 4 کیلو متره دي.

د زرکول جهیل د غرنیو کنګلونو د ویلی کیدو څخه د اوبو لپاره مساعده حوزه تشکیل کړي ده. د زرکول شاوخوا غرنیو سیمو لوړوالی تر 6000 مترو پورې رسیږي.

د چقمقتین جهیل

دغه جهیل هم په پامیر کې موجود دي، او د واخان سیند له هغه څخه سرچینه اخلي. شپانه او تجارتي کاروانونو د دغه جهیل په غاړه د واخجیر کوتل په لور څې چې د تګ راتګ لاره یې برابره کړي ده.

اعظمي اوږدوالی یې د ختیځ څخه د لویدیځ په لور 17 کیلومتره دي. او سور یې 2.5 کیلومتره دي. د هغه شاوخوا سیمې د قرغز خلکو د حیواناتو لپاره ښه څړځایونه برابر کړي دي.

د شیوا جهیل

دغه جهیل د بدخشان په شغنان سیمه کې موقعیت لري، د دغه جهیل اوبه د شاوخوا سیندونو د اوبو له یوځای کیدو څخه منځته راځي. یوه کوچني ژوره حوزه ده چې له اوبو څخه ډکه او اوبه یې صافې او شفاف دي.

د هغ اوبه د اوړي له دریو میاشتو څخه پرته نور د کال په دریو فصلونو کې ژمی ،پسرلی او منی کنګل وي. د شیوا جهیل د کنګلی جهیلونو څخه شمېرل کېږي.

د سمندر له سطحې څخه یې لوړوالی 3050 متره اوږدوالی یې 11 کیلومتره او سور یې 8 متره دي.

یو دېرشم لوست(وچکالي)

د وچکالي بعضې ځانګړنې په لاندې ډول دي:

خلک د مینځلو لپاره د اوبو د کمښت له امله له مشکل سره مخامخ وي.

د خاوري زیاتره تخریب رامنځته کېږي.

د زراعتي محصولاتو تولید په زیاته پیمانه سره کمیږي.

د اوبو ذخیرې کمیږي او امکان لري د اوبو جریان بند شي.

زیاتې وچکالي له امله امکان لري چې په ځنګلونو کې اور لګیدنه رامنځته شي.

وچکالي په څو پراوونوکي د لاندې ځانګړنو له مخې ارزولای شو:

1.د هوا وچوالی، د کافی اندازه اوبو او غذا نشتوالی، د ځښاک د اوبو کموالی او د ټولنې صحي مشکلات

2.د اولیه غذایي مواد د موجودیت په اړه د اطمینان نه شتون.

3.د اوبو د ترلاسه کولو لپاره لرې سیمو ته تلل چې د ماشومانو او کوچنیانو د صحت د خراب والي لامل کېږي.

4.د غذایي موادو او میوو نه شتون په باغونو او کروندو کې، د اوبو کموالی او د اوبو ککړتیا.

5.د ناروغیو زیاتوالی، د ماشومانو او لویانو مړینه.

6.شدید اضطراري حالت، په عام ډول د اوبو او غذا کموالی.

7.د ناروغیو خپریدل او د ماشومانو او زړو حتمي مړینه.

له دې څخه علاوه یو شمېر نور ضمني عوامل په وچکالی کې د پام وړ دي:

په ښارونو کې زیات د غذا کموالي احساس نه پیدا کېږي، اما په کلیو کې خلک د غذا او اوبو کموالي سره لاس او ګریوان

- د تودوخې زیاتوالی
- فعال اورغورځوونکي
- ګرم جسمونه او بخارونه
- د اوبو ګرمې چینې
- د لمر عمود لګېدل په استوا او تر استوا لاندې

پنځم څېرکی

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

دوه دېرشم لوست (طبيعي چاپيريال)

د ژوند چاپيريال د بيولوژيکي، فزيکي،اجتماعي ښـکارندو او د هغه د خپل منځي او يو له بل سره د متقابلو اړيکو مجموعه ده.

په طبيعي سرچينو کې د ايکوسيستم برخې د ځمکې قشر، اوبه او اتموسـفير ټول نفوس لرونکي، حيواني برخې، نباتي، ژوندي موجودات، طبيعي شرايط او په هغه کې شـامل نور غير ژوندي اجسام، طبيعي چاپيريال تشکيل کوي.

دري دېرشم لوست (د ځنګلونو ساتنه)

د يادولو وړ ده چې طبيعي ځنګلونه په ضمني او اصلاح شـويو ځنګلونو چې په دوه يا دري ډوله دي محدود شـوي دي لکه کالپيتوس، کاج، سرو اونور .

د اپولو په واسطه د اخيستل شوو عکسونو کې ځنګلونه په ځلورو ډلو وېشل شوي دي:

1. ستن پاڼي ځنګلونه(مخروطي)
2. پلن پاڼي ځنګلونه او پاڼه غورځونکي
3. له دوارو ډولونو ځنګلونه Mixed Forest Stands
4. چتر ډوله استوائي ځنګلونه

د ځنګلونو اهميت او رول

د نباتاتو ريشه او ميوه د ټولو انسانانو غذا برابروي.

نباتاتو د هوا کاربن دای اکسـايډ اخلي او آکسـيجن هوا ته دوباره ازادوي.

د ونو لرګي د ودانيو په جوړولو، د کور د وسـايلو په برابرولو او کاغذ جوړولو کې کارول کېږي.

د ونو سيوری انسان له سختې ګرمې ځنګه ساتي.

ځنګلونه د سـيلاب مخه نيسي.ځکه د ونو په پاڼو او ښـاخونو د باران اوربدل د هغه سرعت کموي او په ځمکه يې جذب زياتوي.

له ځنګلي محصولات ځنګه د درملو په جوړولو کې استفاده کېږي.

د بعضې ځنګلي پيداوار له محصولات ځنګه لکه د کايوچو(د ربړ ونه) په صنعت کې استفاده کېږي.

بعضې- وخت ځنګلونه د تفريح او وخت تېرولو لپاره مناسـب ځی بلل کېږي.

وني د موټرو، کارخانو او الوتکو غړ کموي.

د ځنګلونو تر ټولو مهم رول

1. د خاورې له تخريب ځنګه مخنيوی.
2. د حيواناتو لپاره د ضرورت وانبه .
3. په صنعت او درملو کې استفاده کېږي.
4. د ځناورو لپاره د اوسېدو ځای.
5. د ربړ او کاک وني په صنعت استفاده کېږي.

ځلور دېرشم لوست(د وحشي ژوو ساتنه)

څو کاله وړاندې يره Bear د نورسـتان په ځنګلونو کې شـتون درلود.

د آمو سيند په غاړه ببر اوسيده.

پرانګ Leopard د هندوکش په لرې پرتو سيموکې اوسېده.

وحشـی خر Wild Assد هيواد په جنوب لوېديځ کې په تيت ډول اوسيدل.

ګرګ Wolfپه وچکاليوکې له غرونو ځخه راکوزيدل او په نورو وختونوکې په غرونوکې اوسېدل.

سري ګيدړی Red foxچي خانګړی طبي ارزښـت لري د هيواد شمال په مرکزي غرونو کې موندل کېږي.

وحشی پسونه او غرنی وزې د واخان په درو او هغه ته نېږدی او لری سـيمو کې او غرني وزې په غرنيو سـيمو او د افغانسـتان شمال ستړ دښتو کې پيدا کېږي.

د هندوکش غرونو لری د تحت استوائي او تحت قطبي سيمېو د جلاوالی سرحد بلل کېږي، نو له همدې پلوه د هندوکش په جنوب ختيځ کې شادي Monkey چې د تحت استوائي سيمو له حيواناتو ځخه ده زيات لېدل کېږي .

سورلنډيان په ټولو سيمو کې په زيات شمېر سره پېدا کېږي.

د ژوبو او الوتونکو د له منځه تللو د مخنيوي لارې چارې

د ښکار د قانون وضع (د دولتي جواز خط ترلاسه کول، د ښکار وخت ټاکل، د هغه جنس او عمر)

د وحشي- حيواناتو د اوسـېدو د ځايونو له تخريب ځنګه مخنيوی او د حيواناتو او الوتونکو له قاچاق ځنګه مخنيوي.

د هغوي په پناه ځايونو کې له انسـاني او حيواني مداخلو او لاسـوهنو ځنګه مخنيوي.

پوهاوی او د ټولنې ذهنيت لوړول او د خلکو د عادت تغير.

د ملي پارکونو ساتنه

ملي پارک له طبيعي ارزښت لرونکي ساحې ځنګه عبارت ده چې حداقل زر هکټاره وي او د هغه ساتنه د دولت پر غاړه وي.

د ملی پارک بيلګې عبارت دي له: بندامير، دره آجر، مملې باغ، د کابل، کندهار او هرات پارکونه او نور.

پنځه دېرشم لوست (د اوبو، خاورې او هوا ساتنه)

د 17 سلنې په شاوخوا د ځمکې کره اوبو نيولي ده.

Soilخاوره

د ځمکې باندينی قشر- د خاورو له زرو، اوبو، هوا او د کوچنيو او زره بيني موجوداتو ځنګه جوړ شـوی دی. خاوره د فزيکي او کيمياوي تعاملات په نتيجه کې منځته راغلې ده.

فزيکي او کيمياوي شرايط د اقليم په ځرنګوالي پورې اړه لري. خاوره ښلا ښل ډولونه او ښلا بيلې طبقې لري.

خاوره د کوچني ژوندي موجوداتو، هوموس لرونکي ده چې له زراعت، ځنګلونو او حيواناتو له تجزيې ځنګه شميرل کېږي.

خاوره د يوې ارزښـتناکې مادي ځنګه عبارت ده چې انسـانان له هغې ځنګه په اسـتفادې د غذايي او صنعتي محصولات په کرنه بوخت دي.

هوا

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د هوا په ترکیب کې 78 فیصده نایتروجن 21 فیصده اکسیجن او اوزون شتون لري.

په نباتاتو کې د فوتوسنتیز عملیه اکسیجن ته ضرورت لري.

شپږ دېرشم لوست (د هوا ککړتیا)

د کابل ښـــار د هوا او د ژوند چاپیریال د ککړتیا لاملونه عبارت دي له

د ترافیک او عراده جاتو ستونزه .

په نقلیه وسایلو کې د زړو او دیزلي انجنونو نصب کول .

د هیواد داخل ته د زړو او مســتعملو وســایطو واردولو د تجارانو په واسطه.

په واسایطو کې د بې کیفیته نفتي موادو استفاده.

په ښار کې د زیاتو نقلیه وسایطو تګ راتګ د حلقوی سرکونو کموالی.

د زړو او پخوانیو ماډل لرونکو وسایطو ګرځیدل د ښار په داخل کې.

د ښار په داخل کې کم سور لرونکي سرکونه.

د منظم ښاري ترانسپورتیشن نه شتون د خلکو د ضرورت د پوره کولو لپاره مثلاً ملی بس.

د ښار په داخل او دخولي دروازو کې د وسایلو د پارکینګ نه شتون.

د ښار په داخل کې د خامه سرکونو له امله ګرد و خاک او ختو شتون د بارانونو د اوبو له امله.

د ماستر پلان خلاف د ودانیو مشکلات د خلاصې فضا نه شتون .

نو په دې اساس د کابل ښار د افغانستان په ښارونو کې تر ټولو زیات ککړه هوا لري.

د کابل په ښـــار کې د نفوس زیاتوالی چې له ځلور نیم څخه تر پنځو میلیونو پورې رسېږي.

د ښار په مختلیفو سیمو کې شنې سیمې او څنګلونو نه شتون چې یو جدي ستونزه ده.

د یوې نتجه ګرې په اســاس د کابل په هوا کې د ککړونکو کوچنیو زرات خپریدل ککړي هوا له امله په کال کې 17363 تنه ښودل شوی دي.

مرکبونه	په هوا کې د ککړتیا اندازه
نایتروجن دای اکساید	۱۶۱۸۳تنه
د سلفر اکساید	۲۴۴۸ تنه
کاربن مونو اکساید	۹۷۰۶۰۸ تنه
کاربن دای اکساید	۶۵۰۸۴۶ تنه

په داسې حال کې چې 100 مایکروګرامه استندرد، له 50 څخه تر 100 مایکروګران نورمال حالت ښیي.

له 100مایکروګرامو څخه لوړ غیر نورمال حالت دی چې د فضایې ځیړنو په اساس موجوده زرات د 24.361 او 37 مایکروګرام فی متر مکعب دی چې دغه اندازه د ښـاریانو صـحت ته له حد څخه زیات زیان رسوي.

اوه دېرشم لوست (زاړه عراده جات)

زاړه عراده جات زیاتره په غریب او د ودې پر مهال هیوادونو کې استفاده کېږي څکه د هغه قیمت آرزانه دی.

د کابل د ترافیکو د اداري د 1388ه.ق کال د شمیرنې په اساس 365469 عراده د کابل ترافیکو سره رسـمي راجسـتر دي چې 40 فیصده یې زاړه او تیټ ماډل دي.

زاړه عراده جات په هوا کې لاندې مضر مواد تولیدوي:

1. کاربن مونو اکسایډCO
2. نایتروجن دای اکسایډ NO2
3. سلفر دای اکسایډ SO2
4. سرب زرات
5. بنزین او سوخته موبلایل مخصوصه مادهPM2O
6. مخصوص ماده PM10 (کوچنی مایکروسکوپي اجزاوې)

اته دېرشم لوست (د سړکونو ککړتیا)

د کلیو او اطرافو زیاتره خلک ښـــار ته مهاجرت کوي او پرته د ښـــاري فرهنګ له پیژندلو هلته ژوند کوي. نو له همدې امله د سړکونو او کوڅو د زیاتې ککړتیا سبب کیږي.

په ټولو کوڅو او سړکونو کې پلان شوې کانالیزاسیون شتون نه لري، تر څو د سړکونو او کوڅو له ککړتیا څخه مخنیوی وکړي.

فرهنګي نیمګړتیاوې هم د کوڅو او ســړکونو د خرابوالي لامل ګرځي څکه تر اوســه د ټولنې ټول وګړي د کوڅو او ســړکونو نظافت نه مراعات کوي او هر څه چې په هرځای کې وغواړي اچوي یې.

د کابل ښار چې د افغانستان له ګڼ نفوسو ښارونو څخه دی په کوڅو او ســړکونو کې زیاتې ســتونزې لري. څکه زیات نفوس د کوڅو او سړکونو د خرابی لامل کېږي.

شین کمربند د ښار په شاوخوا کې یو عاجل ضرورت دی، د ښار په ټولو سـیمو کې د ماسـتر پلان تطبیق حتمي دی . او ښـاری فرهنګي رسنۍ باید ښاریانو ته همېشه خپاره کړي.

شپږم څېرکی

نه دېرشم لوست (زلزله)

زلزله د ځمکې د مخ خفیف یا شـــدید لړزیدلو څخه عبارت ده چې په ســـبمه اېز ډول منځته راځي او څپې یې شـــاوخوا ته خپرېږي.

زلزله په دریو ېبلاېبلو علتونو رامنځته کېږي:

1. تکتونیکي علت
2. اورغورځونکی علت
3. پلوتونیکي علت

تکتونیکي علت د ځمکې د قشـــر د ېبلا ېبلو پلیټونو سره اړیکه لري.

د ځمکې لوی پلیټونه عبارت دي له ایروشـــیا پلیټ، هند پلیټ، اســـترالیا ، د افریقا پلیټ، شـــمالي امریکا پلیټ، جنوبي امریکا پلیټ، انتارکتیک پلیټ او څو نور کوچني پلیټونه.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په افغانستان کې د هند او ایروشیا پلیټ د حرکت په پایله کې ډیلا ډیلې زلزلې د بدخشان، چترال او تاجکستان په سیمو کې منځته راځي.

اور غورځوونکی لامل: په مدیترانې کې د وزو او سلسلې اورغورځوونکي، د آسیا د ختیځو سواحلو اورغورځوونکي او د امریکا لویدیځ اورغورځوونکي د سیمې د اورغورځوونکي زلزلې په تولید کې مهم مثالونه دي چې په جاپان، لرې ختیځ، کلفورنیا او د امریکا په لویدیځ سواحلو کې شدیدې او خفیفې زلزلې رامنځته کوي.

پلوتونیکي زلزلې: په اصل کې د مګما طبقې د حرکاتو صعودی فشار دي چې د تودوخې د جریان په اثر بعضې سیمې له زلزلې سره مخ کوي.خو دوه اولې لاملونه زیاتره د ځمکې پر مخ د زلزلې د رامنځته کېدو سبب کیږي.

څلویښتم لوست(د زلزلې خطرونه)

د زلزلې د خطرونو کمښت باید له دوه پلوه په پام کې ونیسو:

1. د کورونو د فزیکي او انجنیري جوړښت له پلوه.
2. خلکو ته د زلزلې او د هغه د خطرونو په اړه د مخکینې اماده ګۍ او ګټورو معلوماتو له پلوه.

د ودانیو د جوړښت له پلوه باید لاندې نقطې په نظر کې ونیول

د ودانیو په اسکلیټ کې باید له اوسپنې، سمنټ او ګاډرو کانکریټ څخه کار واخیستل شي، تر څو ودانی ته مقاومت او د ارتجاعیت خواک ورکړي.

زړې ودانی، د لرګیو، خښتو او پسخو څخه جوړې شوې زیاتره متضرر کیږي چې باید استنادي او مقاوم ستونونه هغې ته ورکړل شي(د ودانیو د مقاومت سطحه باید لوړه شي)

په زلزله لرونکو سیمو کې ودانی باید په نرمه ځمکه، د غره په لمنه او رسوبي ځمکه کې جوړې نه شي.

درسي ټولګي او تعلیمي اجتماعات باید په غیر مقاوم او ماتو ودانیو کې ځای پر ځای نه شي.

یو څلویښتم لوست(د زلزلې د اندازې اټکل کول)

د زلزلې د شدت قوه په مرکال او ریختر سره اندازه کیږي .

د زلزلې څپې په دري ډوله ده:

1. لومړنۍ څپې primary waves
2. دوهمې څپې ضربه او ټکان secondary waves
3. سطحې څپې surface Waves

جیولوژي پوهانو له نظره زلزله په خفیف،متوسط،کلکه ، شدیده او ډیره شدیده ډولونو وېشل شوي ده.

خو د زلزلې شدت او تراکم د جرمني عالم په واسطه له یو څخه تر 9 پورې وېشل شوي ده:

ډیره خفیفه زلزله

1.د زلزلې تاثیرات په زلزله سنجونکي آله کې نه ثبت کیږي .

2.زلزله د انسان په واسطه حس کیږي، او خوړند شیان خوځیږي.

خفیفه زلزله

3.لړزه په ودانیو کې احساس کیږي او خوړند شیان ډیر خوځیږي.

4.خوړند شیان په سرعت سره خوځیږي،دراوزې او کړکۍ په لړزه راځي د دروازې په چوکاټ او دیوالونو کې درزونه پیدا کیږي.

منځنۍ زلزله

5.خلک له ودانیو څخه دباندې هم زلزله حس کوي، کوچني شیان بې خایه کیږي، پر دیوالونو باندې منظرې خپل موقعیت ته تغیر ورکوي.

نسبتاً کلکه زلزله

6.لړزه زیاتره احساس کیږي، خلک خپل کورونه پریږدي او لوښي له ماریو څخه لویږي.

کلکه زلزله

7.په دغه مرحله کې انسان خپل موازینه له لاسه ورکوي، د ودانیو ستون بې ځایه کیږي ، موټر چلونکی په موټرکې په زلزله پوهیږي، کانکریټي ویالي ماتیږي.

8.د موټر ټګ اغیزمن کیږي،په ودانیو کې زیات تخریب رامنځته کیږي.

ډیره کلکه زلزله

9.ودانی تخریبږي، د اوبو ذخیرې ماتیږي، درزونه او شکستګي د ځمکې پر مخ ظاهریږي، لرګین پلونه له منځه ځي، د اوسپنې پټلي خپله موازینه له لاسه ورکوي، لویې ډبرې بې ځایه کیږي ، کله هم بعضې شیان هوا ته الوځي، او پایپ لاینونو هم له منځه ځي.

خو په رسوبې سیمو کې زلزله زیاته احساس کیږي خو په غرنیو سیمو کې ، ودانۍ د غرونو سره یو ځای خوځښت کوي، چې نظر رسوبي سیمو ته کم لرزش لري.

دوه څلویښتم لوست(زلزله لرونکې سیمې)

د افغانستان زلزله لرونکې سیمې په شمال ختیځ کې زیات تراکم لري چې د جنوب لویدیځ په لور یې شدت کمیږي. د پامیر، واخان، فیض اباد، تخار، خان اباد، د کونړونو شمال او نورستان سیمې د شدیدو ټکانونو سیمې دي.هر کال څو ځله رامنځته کیږي.

په افغانستان کې زلزله لرونکې حوزې په څلورو حوزو وېشل شوي دي:

د کلکو زلزلو حوزه: له پامیر څخه شروع کیږي د بدخشان ولایت زیاته برخه، نورستان او کنړ چاپیره کوي ، وروسته د بلخ ولایت جنوب او جوزجان کې ادامه لري. د جنوب ختیځ په لور د یو نوار په شکل د پکتیا، پکتیکا او غزني ولایتونه او د کندهار ولایت په ختیځ کې یو کوچنی سیمه په بر کې نیسي او له خانه سره زیات خطرونه هم لري.

د منځنیو زلزلو حوزه: د افغانستان په شمال او مرکزي ولایتونو او د هریرود سیند په اوږدو کې رامنځته کیږي چې د زلزلې خطرونه په دغو سیمو کې کم دي.

د خفیفو زلزلو حوزه: د پکتیا په جنوب، کندهار شمال، د هلمند په شمال ختیځ او همدارنګه د بادغیس او هرات ولایتونو په شمال کې

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

زلزله په کم شدت سره منځته راځي او خطرونه يې هم په دغه سيمه کې کمتر دي.

هغه حوزې چې زلزله نه لري يا ضررونه يې نه ليدل کېږي: دغه سيمې د افغانستان په جنوب لويديځ کې د کندهار يوه برخه، د هلمند او نيمروز ټولې مرکزي او جنوبي سيمې، د هرات د جنوب يوه برخه او ټوله فراه په برکې نيسي.

دری څلويښتم لوست (سيلاو)

لږ پرمختللي هېوادونه د سيلاو په وړاندې زيات متضرر کېږي، له سيلاو او زلزلې څخه زيات اغيزمن کېږي. ځنګلونه، باغونه او زراعتي سيمې له منځه وړي.

د سيلاو زيانونه د سرکښه اوبو په حجم او د ځمکې ميلان، انتقال کيدونکي مواد، لوبې او کوچنۍ ډبرې چې د لوبو تخريباتي او ضربه يې وسيلې په حيث عمل کوي.

په 1320 ه.ش کال کې د کوهدامن په ګلدره کې د شديد سيلاو له امله دغه دره په سپيره ډاک بدله کړه، په لسګونو کلاګانې په سلګونو نفر ،په زرګونو ځوانان او زيات شمير باغونه له منځه لاړل.

د هوانګهو،برهماپرتو،او ګنګا سيندونو سيلاوونه زيات مالي او ځاني زيانونه لري.

په 2005 م کال کې د آسيا جنوبي سواحلو سونامي سيلاو له سلو زرو څخه زيات کسان له منځه يوړل.

د سيلاو ډولونه: څلور ډوله سيلاوونه د پام وړ دي:

اوار سيلاوونه Flash Flood :د استوائي او موسمي اورښتونو له امله په ځمکو کې د اوبو سطحه لوړيږي او د سيمې د زيانونو سبب کېږي.

د سيندونو سيلاوونه River Flood: د اورښت له امله د سيندونو اوبه طوفاني او ځپاند کېږي او د بېلا بېلو زيانونو سبب ګرځي.

سونامي سيلاوونه Tsunami:د سايکلوني توپانونه او شديدې توپاني زلزلو په سمندر کې لوبې څپې رامنځته کوي چې زياتې تخريبونکې او وژونکي دي.

هغه سيلاوونه چې د کنګلو له ويلې کيدو څخه رامنځته کيږي لکه د هماليا او تيانشان په غرونو کې.

څلور څلويښتم لوست(د سيلاو زيانونه)

د سيلاو زيانونه په څلورو ډلو وېشل شوي دي:

1.مستقيم زيانونه 2. غيرمستقيم زيانونه

مستقيم زيانونه: په مستقيمو زيانونو کې زراعتي ځمکې، کورونه، باغونه د، ځنکلونه، ترانسپورتي لارې او هغه وسايل او سامانونه چې د سيلاو په ساحه کې موجود وي مثلً پارکونه، موټر او هغه وسايل چې د پارکونو په چاپېريال کې شتون لري، حيواناتو او د حيواناتو سيمې چې د غرونو په لمنو او د سيندونو په غاړو موجود وي، انسانان په ځانګړې ډول کوچيان چې د سيلاو په مسير کې قرار ولري کله ناکله يې ژوند ته زيان رسيږي او له منځه ځي.

غير مستقيم زيانونه: په تګ راتګ کې ځنډ راولي، خلکو ته روحي او رواني ستونزې پيدا کوي، د لاس پېروډونکو کار ګډوډوي، ورځنۍ چاري ځنډوي او د سيلاو په حوزه کې د کارګرانو عايد سکوت کوي.

د بريښنا شبکې لينونه، اوبه، مخابرات، ترافيکي تاسيسات، د ريل پټلۍ، ترمينلونه او تجارتي مالونه په مستقيم او غير مستقيم ډول زيان ويني چې په ښاري او کليوالي سيموکې حس کېږي.

هغه مؤسسات چې د سيلاو د خطر په کموالي کې مسوولیت لري عبارت دي له د عملياتي کنترول او کنترولي ګروپ .

د سيلاو د خطر په رسولو کې اجتماعي رسنۍ زيات مسوولیت لري.

پنځه څلويښتم لوست (اورغورځوونکي)

اورغورځوونکي د ځمکې د داخلي طبقې (مګما) د اورينو مدارونو د پورته راتلو څخه عبارت دي چې د فشار، تودوخې، کيمياوي تعاملونو او فزيکي تغيراتو په اثر پورته راځي او د ځمکې پر مخ د بدلون سبب کېږي.

د اورغورځوونکي يا آتشفشان کليمه يوه لاتيني اصطلاح volcanoيا ولکان ده.

اتشفشاني مواد د ځمکې له داخلي طبقو څخه په ډير لوړ فشار سره پورته راځي چې بعضې وخت د ځمکې پر مخ مخروطي تپې رامنځته کوي.

د ولکان د تودوخې درجه 700 تر 1200 سانتي ګراد (دری ژبه: 3000 سانتي ګراد) درجې ده.

دغه اورين يا ويلي متحرک مواد چې سيال يا مايع ډوله دي د لاوا په نوم يادېږي. د لاوا مواد سور، سپين او نارنجي رنګ لري او غلظت يې د څپې د کتلې په شان خو د اوبو په شان رقيق نه دي او دا چې غليظ دي نو د حرکت سرعت يې نظر اوبو ته کم دي.

د بحرالکاهل په ختيځ او لويديځ ساحل کې داسې سيمې شته چې د جيولوجيکي زمانې په اوږدو کې د فعال او ګرم اتشفشان نښيي نو له همدې امله د بحرالکاهل سواحل د Fire Ringپه نوم يادېږي.چې بعضې لرې ختيځ سواحل، کمچتکا سيمه، هاوايي او د امريکا لويديځ سواحلو هم په دې کې شامل دي.

د 2010 م کال اپريل مياشت کې د ايسلينډ اتشفشان بيا ځل فعال شو چې د هوا د ککړتيا او د سيمې د خلکو د بې ځايه کيدو او د اورپايي الوتکو د پرواز د درېدو سبب وګرځېده.

د اطلس سمندر، د هند سمندر سواحل، تيمور جزيرې، جاوا، بالی جزيره، د مديترانې سمندر شاوخوا د وزو او سياسي سيمې، په ايران کې د دماوند او د ازري او کپرې جزيرې د تاريخ په اوږدو کې د اتشفشان شاهد وي.

شپږځلويښتم لوست (د اورغورځوونکي حوزه)

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د هندوکش سلسلې د جوړښت په لومړیو کې د تکتونیکي فعالیتونو سره موازی، په افغانستان کې محدود اتشفشاني فعالیتونه رامنځته شوې دي.

د اورغورځوونکي نښې عبارت دي له مخروطي شکل جوړښتونه، د بزالت ډبرې، سکوریا، کوچني ګردې ډبرې سوري او منفذونه لرونکې وي لکه د پښو ډبره، د پوماپس کم وزن او شفاف ډبرې او سربیره په دي د ګرمو اوبو چینې د اتشفشان په څنګ کې موجود وي.

د کلکو بزالتي ډبرو شتون د اورغورځوونکي موادو یوه مهم نمونه ده چې له لاوا څخه منځته راځي.

په افغانستان کې د ګرمو اوبو چینې چې د کلسیم کاربونیټ لرونکي وي قسماً د اتشفشان په موجودیت دلالت کوي. مثل د هرات ولایت چینه یا په مزارشریف کې د شفا چینه چې اوبه یې ژیړ رنګ لري او د سلفر شتون ښیي.

د مزارشریف په جنوب کې د البرز غره یو سیمه چې په مکمل ډول له سلفر لرونکو موادو څخه جوړه شوې ده چې د دریمې جولوجیکي دورې د لومړیو اتشفشاني فعالیتونو ښکارندویي کوي.

د بامیان په لویدیځ کې د ګل کوه چې یو منظم مخروطي ډوله ده د جیولوژي د دریمې دورې اتشفشاني د واقعي جوړښتونو له جملې څخه دي.

د ګودزیره جهیل په جنوب کې د چګایي غرونه چې د جیولوژي په لومړۍ (پری کامبرن) دورې کې رامنځته شوې دي اتشفشاني پاتې شوني ښکاره کوي.

کانکوري تکي په ټولګي کې واضح کړي!

اوم څپرکی

اوه څلویښتم لوست (د نړۍ پیدایښت)

د نړۍ د پیدایښت په اړه دوه ډوله نظریې شتون لري:

1. اسلامي نظریې 2. د اوسنیو پوهانو نظریې

1. د اسلام نظر:

د Geo Centric نظریه: شمسي نظام او د ځمکې موجودیت د پخوانیو یونان او روم د پوهانو له نظره په دې ډول وه چې ځمکه الله ج پیداکړي ده او نورې سیارې د هغه په شاوخوا ګرځي چې دغه نظریه د Geo Centricپه نوم یادیږي.

د Haleo Centricنظریه: اما په اسلامي نړۍ کې 1000 کاله وړاندې البیروني دا نظریه رد کړه او ویې ویل چې لمر په مرکز کې موجود دی او نورې سیارې او ځمکه دهغه په شاوخوا را څرخي چې دا نظریه د Haleo Centricپه نوم یادیږي.

الله ج په فصلت سورت کې فرمایي کائنات په فضا کې د لوګي او ګاز په شان په پراخه حجم سره خپاره و چې اوسنې پوهان هم قبول کړي ده له هغه یې د سحابه (نیبولا) یاد کړي ده.

2.د اوسنیو پوهانو نظریه:

1. د کانت نظریه(سحابي نظریه)

کانت جرمني فیلسوف او عالم په 1755م کال کې د کائناتو د پیدایښت په اړه خپل نظر داسې څرګند کړ: کائنات په فضا کې له تورو وریځو څخه جوړ شوي دي دغه زرات د وخت په تېرېدو سره د ځمکې د جاذبې په اثر له یو بل سره یوځای شول او یوه لویه کتله یې رامنځته کړه.

2. د لاپلاس نظریه:

لاپلاس فرانسوي ریاضي پوه او عالم په 1796م کال کې د شمسي- نظام د پیدایښت په اړه خپل نظر داسې څرګند کړ: شمسي نظام په لومړیو کې له (سحابي وریځو) عبارت و چې زیاته تودوخه یې لرله، د دغه وریځو جسامت ډیر زیات و، خو د دغو وریځو تودوخه د وخت په تیریدو سره کمه شوه چې په نتیجه کې په دغه وریځو کې درزونه او ژورې ښکاره شوې چې دغه عملیه د محوري حرکت انقباض او انبساط په یاده کتله کې منځته راوړې تر څو چې په اسټوائي برخه کې دغه لوړوالی منځته راغلی او سیارې رامنځته شوې.

3. د هاربیکر نظریه:

هاربیکر په دې باور درلود چې نیبولا (وریځو کتلې) په شان یا د هغه کتلې په شان چې جسامت یې د ځمکې د کتلې په اندازه یا له هغه څخه لوی شتون درلود دغه کتله په فضا کې متحرکه وه او په ناڅاپي ډول د لمر په مخ ولوېده او یو لویه چاودنه رامنځته شوه، توتې تري جوړې شوې ، چې د شمسي- نظام سیارې یې رامنځته کړې.

4. تایدل نظریه:

یو لمبه لرونکی جسم (سره لمبه) په کائناتو کې شتون درلود؛ خو یوه بله اسماني کتله چې جسامت یې لوی و د لمر له مخې په لرې واټن تیریدله، د دغه کتلې کشش او جاذبې په لمر تاثیر وکړ او په سطحه یې مد او جزر رامنځته کړل. د دغه مد او جزر په اثر د لمر مخ انساط وکړ او خارجي قشر- یې توتې توتې شو او شمسي نظام سیارې رامنځته شوې.

5. د لاکیر نظریه:

لاکیر امریکایي پوه په دې باور و چې په فضا کې آسماني ډیرې Meteorites شتون لري او د لمریز نظام سیارې د دغه ډبرو له یوځای کیدو څخه منځته راغلي دي.

6. د چامبرلین-مالتون نظریه:

امریکایي پوه و چې په 1900م کال کې یې نظریه ورکړه د ستورو نظریې په نوم.

د بیګ بنګ لویه چاودنه چې په کهکشان کې رامنځته شوه کاینات او د شیدو لار کهکشان یې منځته راوړل.

اته څلویښتم لوست(کهکشان)

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

یاد شوي زرات د جاذبې په اثر کله ناکله سره یو ځای کېږي چې کوچنی او لوېې کتلې جوړوي چې په عمومي ډول د ګلکسي یا کهکشان په نوم یادېږي.

لمر د کهکشان په منځ کې چې میلیونونه کاله وړاندې منځته راغلی دي چې د زراتو له ټکر څخه یوه لویه کتله په یو ځلانده اور لرونکي غونډاري بدل شوې دی.

د لمر د مخ تودوخه له 6000 سانتي ګراد څخه لوړه ده.

د نیبولا کهکشان محور څرخیدل د فنر په شان بیضوي شکل دی او دغه په منځ کې د شمسي ـ نظام کتله د زیات شمیر سیارو او سپوږمیو د جوړښت سبب شوې دی.

په کهکشان کې میلیونونه سیارې او ستوري شتون لري چې بېلا بېلې ځانګړنې او جسامتونه لري.

په کائناتو کې لاندې کهکشانونه پیژندل شوي دي:

1. شیدو لار کهکشان Milky Way
2. اندرومیدا کهکشان Andromeda
3. دري ګونی کهکشان Trianglum
4. قنطورس کهکشان Qanturis

د شیدو لار کهکشان:

دغه کهکشان زیات پراخوالی او په روښانه شیدو رنګ په لایتناهی فضا کې د صاف اسمان په شپو کې لیدل کیږي چې د میلیاردونو ستورو، ثوابتو، زرو وریځو څخه جوړ شوی دی.

د دغه کهکشان یرخوالی سل زره نوري کاله او ضخامت یې لس زره نوري کاله ته رسیږي.

شمسي نظام د دغه کهکشان په یو بازو کې موقعیت لري چې د جبار بازو په نوم یادېږي.

د لمر رڼا څمکې ته په اتو دقیقو کې رسیږي.

له بلی خوا د کهکشان تور رنګ وریځي، توري لړې او سپینې رنګ وریځي بعضي وختونه د ستورو د نور تیریدو مخنیوی کوي.

په شیدو لار کهکشان کې له دوه سوه میلیون څخه زیات ستوری او ثوابت شتون لري چې بعضې یې له لمر څخه څو چنده لوي دي.

د ویګا ستوری د لمر څو برابره دی.

بیټل ګوس د لمر 600 برابره دی.

دبران د لمر 20 برابره دی.

درخشان د لمر 120 برابره دی.

لمریز نظام په 200میلیون کالو کې یو ځل د شیدو لار کهکشان پر محور څرخیږي.

اندرومیدا کهکشان: اندرومیدا کهکشان شیدو لار کهکشان ته نږدې دي او له ځمکې څخه 200 میلیونه نوري کاله واټن لري. اندرونیدا کهکشان حلقوي دي چې په هغه کې په سلګونو میلیارده ستوري شتون لري.

دري ګونی کهکشان: دغه کهکشان نظر شیدو لار کهکشان ته ځلور ځله کوچنی دی، چې هم په خپل مدار کې او هم د اندرومیدا په کهکشان کې څرخي، او تول کهکشانونه د یو بل څخه د لرې کیدو په حال کې دي.

قنطورس کهکشان (د اس لکی): دغه کهکشان له سړو وریځو څخه دی، چې د څرخیدلو په حال کې دی، او په هغه کې د سیارو تشکیل امکان لري. هایدروجني وریځې د جاذبې، څرخیدلو سرعت، تر تاثیر لاندې زیاته تودوخه تولیدوي چې په نتیجه کې روښانه او ځلیدونکي سیارې منځته راوړي. د بیګ بنګ چاودنه د سیارو، ثوابت او هغه پورې مربوط سپوږمي د تکوین اساس جوړوي.

نه څلوېښتم لوست(لمریز نظام)

شمسي نظام ډیره اوږده مخینه لري پوهان په دې باور دي چې شمسي نظام پنځه زره کاله وړاندې جوړ شوی دی.

شمسي ـ نظام د ټولو سیارو او اجراتو څخه عبارت دي چې نهه اصلي سیارې لري لکه: عطارد، زهره، ځمکه، مشتري، زحل، اورانوس، نپتون، پلوتو او نور کوچني اسماني اجرام چې د مریخ او مشتري ترمنځ موقعیت لري.

یوازې پنځه سیارې په سترګو د لیدلو وړ دي چې عبارت دي له: عطارد، زهره، مریخ، مشتري او زحل او نورې سیارې ډیر کوچني او یا لرې دي چې پرته له تلوسکوپ نه لیدل کیږي.

شمسي نظام له نهو سیارو او 165 سپوږمیو څخه جوړ شوی دی.

د شمسي نظام د سیارو ځانګړتیاوې

د سیارې نوم	د سپوږمیو شمېر	له لمر څخه واټن	د سیارې قطر	د لمر پر مخ د څرخیدلو وخت
عطارد	نه لري	۵۸ میلیونه کیلو متر	۴۸۸۰کیلو متر	۸۸ ورځې
زهره	نه لري	۱۰۸ میلیونه کیلو متر	۱۲۱۵۵کیلو متر	۲۲۴.۴ ورځې
ځمکه	۱ سپوږمی	۱۵۰ میلیونه کیلو متر	۱۲۸۲۰کیلو متر	۳۶۵.۲۵ ورځې
مریخ	۲ سپوږمی	۲۲۸ میلیونه کیلو متر	۶۷۹۰کیلو متر	۶۸۷ ورځې
مشتري	۶۳ سپوږمی	۷۷۹ میلیونه کیلو متر	۱۴۳۰۴۲کیلو متر	۱۱.۹ کاله
زحل	۵۶ سپوږمی او یوه لویه ۵۸ میلیونه کیلو متر بهرنی حلقه	۱۴۲۸ میلیونه کیلو متر	۱۲۰۵۸۵کیلو متر	۲۹.۴ کاله
اورانوس	۲۷سپوږمی	۲۸۷۰ میلیونه کیلو متر	۵۱۱۸۴۰کیلو متر	۸۴ کاله
نپتون	۱۳ سپوږمی	۴۵۰۰ میلیونه کیلو متر	۴۹۵۵۰کیلو متر	۱۶۵ کاله
پلوتو	۳ سپوږمی	۵۹۲۰ میلیونه کیلو متر	۲۲۸۵کیلو متر	۲۴۸.۴ کاله

پنځوسم لوست(سیارې)

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

عطارد

لمر ته تر ټولو نېږدې سیاره ده او د لیدلو لپاره یې ترټولو ښه وخت د سپیده دم او غروب وختونه دي.

د مخ تودوخه یې 427 سانتي ګراد ته رسیږي او اتموسفیر نه لري. د دغه سیارې یو لور ډیر یخ او بل لور د لمر په وړاندې قرار لري د تنور په شان سوځونکی.

د عطارد د مخ تودوخه په ورځ کې د 190 څخه تر 450 سانتي ګراد او د شپې له خوا منفي 180 درجې د سانتي ګراد ته رسیږي، دغه سیاره په جامد شکل او د سپورمۍ په شان د ژورو لرونکی دی.

زهره

زهره تقریباً د ځمکې په اندازه ده کله چې له ځمکې دغه سیارې ته وکتل شو نو یو ځلانده سیاره لیدل کېږي. پرته له کومې ځانګړې نښې څخه.

د دغه سیارې سطحه په مکمل ډول پټه ده. ختیځ کومې سفینې چه دغه سیارې ته لیږل شوي دي هم نه دي توانېدلې چې د هغې سطحه وویني.

اتموسفیر یې په مکمل ډول له کاربن دای اکسایډ څخه جوړشوی دی او د سطحې تودوخه یې 456 سانتي ګراد ته رسیږي.

ځمکه

د ځمکې په کره کې د ژوند کولو لپاره شراید مساعد دي داخلي برخه یې ډیره ګرمه او جامد پوستکی چې مور پر هغه اوسیږي د ځمکې د قشر په نوم یادیږي. د سیال، سیما، منتل او د ځمکې داخلي هسته د ځمکې ښلا ښلي طبقې جوړوي.

یوازینې سیاره چې په هغه ژوند شتون لري ځمکه ده.

مریخ

له ځمکې وروسته کوچنۍ سیاره مریخ دي، مریخ له ځمکې څخه سور او سور رنګ لري. له دې امله چې له لمر څخه لري موقعیت لري د تودوخې اوسط درجه یې 55 سانتي ګراد ده.

هغه انځورونه چې د مصنوعي سپورمکی په واسطه اخیستل شوي دي په دغه سیاره کې غرونه، دښتې او اورغورځوونکي ډبرې ښیي، د اوبو د شتون نښې په دغه سیاره کې لیدل کیږي .

مشتري

مشتري د شمسي- نظام تر ټولو لویه سیاره او په اسمان کې ځلوم ځلیدونکی ستوری دی، د ځلیدو یو لامل یې د هغه لویوالی دی.

قطر یې د ځمکې 11 برابره دی. نو په دې اساس د لمر زیات نور منعکسوي. سطحه یې له ویلي مواد و څخه چې په عمده ډول له هایدروجن او هلیون څخه تشکیل شوی ده.

د مشتري په اتموسفیر کې توفانونه له 400 کیلومترو څخه زیات په ساعت کې محاسبه شوي دي. د مخ د تودوخې درجه یې منفي 150 سانتي ګراد او په مرکز کې تر 2000سانتي ګراد پورې رسیږي.

زحل

زحل د شمسي- نظام یوه خارق العاده سیاره ده چې شکلي او ژیړ رنګ لري.

د زحل لویې حلقې په حقیقت کې له زرګونو کوچنیو حلقو څخه جوړې شوې دی، د زحل حلقې له زراتو، اجرام او آسماني بې شمیره ګردونو څخه جوړې شوې دي.

د څرخیدلو پر محال د هغه جاذبه د دغو حلقو د انحراف سبب ګرځي. د دغه سیارې د مخ تودوخه منفي 180درجې د سانتي ګراد ده.

اورانوس

اورانوس د شمسي- نظام دریمه لویه سیاره ده. خو پرته له تلوسکوپ څخه د دغه سیارې لیدل ناممکن دي. د زحل او مشتري په شان د هایدروجن، هلیوم او میتان له ګازونو څخه جوړ شوی دی.

د دغه سیارې رنګ ابي دي چې د همغه هایدروجن او میتان ګازونو شتون ښیي. د دغه سیارې د مخ تودوخه 210- درجې د سانتي ګراد ده.

نپتون

نپتون د شمسي- نظام وروستي ګاز لرونکي سیاره ده. له دې امله چې نپتون ډیره لرې ده نو په سترګو نه لیدل کېږي. د اورانوس په شان د نپتون اتموسفیر هم له یوه اندازه میتان ګاز څخه جوړ شوی دی. د دغه سیارې سطحه آبي رنګ لري.

پلوټو

د دغې سیارې قطر د ځمکې د قطر $\frac{1}{5}$ برخه جوړوي. مرکزي برخه یې ډبرینه ده، او د یخ یو لویې طبقې هغه پوښلي ده او ترټولو باندینی طبقه یې د میتان یخ ګاز پوښلی ده.

یو پنځوسم لوست(د ځمکې جوړښت)

د ځمکې کره د جوړښت له پلوه د جیود Geoidشکل لري یو نامنظمه کره ده چې د لاندې طبقو څخه جوړه شوې ده:

لیتوسفیر: لیتوسفیر د ځمکې د قشر له هغه خارجي طبقې څخه عبارت ده چې د ځمکې قشر Crust او مانتل په هغه کې شامل دي، چې د سلیکان، مګنیزیم، المونیم او اکسیجن له مرکبونو څخه جوړه شوې ده.

بهرنی قشر

د 8 څخه تر 40 کیلومترو پورې یې د مګما طبقه پوښلي ده او له دو نورو کوچنیو طبقو څخه جوړه شوې ده چې د سیال او سیما څخه عبارت دي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د سیال طبقه

د سیال طبقه د سیما طبقې له پاسه قرار لري چې د سیلوسیم او المونیم له طبقو څخه جوړه شوې ده.

د سیال طبقې ډبرې د ګرانیت له ډول څخه دي چې د فرسایش عمل لپاره مساعده دي، ځکه د ګرانیت ډبرې د فلدوسپار او مایکل له منرالونو څخه جوړې شوې دي.

د ځمکې ټولې غرنۍ او لوړې سیمې د سیال طبقه لرونکې دي.

د سیما طبقه

د ځمکې د قشر دوهمه طبقه ده چې د سیلوسیم او مګنیزیم له مرکبونو څخه جوړه شوې ده.

د زلزلې د څپو سرعت په دغه طبقه کې 4 mil پر ثانیه وي.

ډبرې تیاره او تور رنګ لري چې د بزالت له ډول څخه دي،چې د لاوا اورغورځوونکې موادو د راوتلو په وخت کې ډیرې کلکې ټوټې منځ ته راځي.

دغه طبقې د مګما طبقه شاوخوا د یوې لفافې په شکل چاپیره کړې ده او د سمندر اصلی ځمکه جوړوي.

د مګما طبقه

د دغه طبقې پریږوالی 2895 کیلومترو ته رسیږي مهم مرکبونه یې عبارت دي له اوسپنه، مګنیزیم او سلسکیت.چې په ترکیب کې یې منرالونه، کلکې ډبرې او لویې ډبرې شامل دي.

د ځمکې د قشر د باندینی او داخلي طبقو یعني سیما او سیال موازینه او تعادل په حقیقت کې د مګما طبقې ساتلې ده.

د ځمکې هسته

باندینی هسته 2220 کیلومتره پریږوالی لري، او مهم مرکبونه یې نکل او اوسپنه دي.

داخلي هسته چې پریږوالی یې 1255 کیلومتره دی د دغه هستې مرکبات هم د خارجي هستې په شان د نکل او اوسپنې لرونکي دي؛ خو زیاتره مقناطیسي- ځانګړنې لري چې د ځمکې مقناطیسي ساحه منځته راوړي.

د ځمکې حجم او اندازه

ځمکه لمر ته نیږدې دریمه سیاره ده او د لویوالی له پلوه پنځمه سیاره شمیرل کیږي.

استوائي شعاع	٦٣٧٨ کیلو متر
قطبي شعاع	٦٣٥٦ کیلو متر
په منځني ډول د ځمکې د کرې شعاع	٦٣٧١ کیلو متر
د قطبونو ژوروالی نظر د استوا شعاع ته	٢١ کیلو متر

د وچې او اوبو برخه

وچې د ځمکې د مخ $\frac{1}{3}$ برخه نیولې ده.

ارام سمندر د ځمکې زیاته برخه نیولې ده، د هند سمندر د آسیا په جنوب کې او د اطلس سمندر د S په شکل اورد غزېدلې دي.

شمالی کنګل سمندر په شمالی قطب کې او جنوبي کنګل سمندر په انترکتیکا کې موقعیت لري.

سمندر 71 فیصده د ځمکې مخ نیولی دي او وچې 29 فیصده ځمکه چاپیره کړې ده.

دو پنځوسم لوست(د نړۍ مشهور سیندونه)

د اسیا لویې وچې نامتو سیندونه عبارت دي له: سند، آمو(جیحون)، سیر دریا(سیحون)، هوانګهو، دجله او فرات، اورال، اوب او لینا.

د اروپا لویې وچې نامتو سیندونه دانیوب، راین، والګا، سین، لورا، دنیپر، دنیستر، تاژ، وستولا، کوادیانا، پو رون او کارون دي.

د افریقا د لویې وچې مشهور سیندونه نیل سیند، کانګو او نایجېر دي.

د شمالي امریکا نامتو سیندونه سي پي او کلواردو مي سي دي.

د جنوبي امریکا نامتو سیندونه آمازون، مادیر او پارانا دي.

د استرالیا په لویه وچه کې د دارلینګ، جورجینا، دیمنتینا، تامسون او ویکتوریا سیندونه دي.

د نیل سیند

د نیل سیند د افریقا تر ټولو اوږد سیند دی چې د افریقا له ختیځو غرونو او ویکتوریا جهیل له شمال څخه سرچینه اخلي د سودان او مصر- له هېوادونو څخه تیریږي او 6650 کیلومتره لار طی کوي او د مدیترانې سمندرګي ته توپیږي.

په ایتوپیا کې د درنو بارانونو له امله د دغه سیند اوبه ځپانده کیږي.

دغه سیند ډیر مهم زراعتي، اقتصادي او ترانسپورتي اهمیت لري چې دوه مهم مرستیالان لري چې د سپین او آبي نیل په نوم یادیږي.

دري پنځوسم لوست (لوړې او ژورې)

لوړې ژورې طبیعي ښکارندویې دي د مثال په ډول غرونه، درې، جلګې، دښتې، صحراوې، پوچومي،تپې او نور چې د ځمکې پر مخ موقعیت لري.

1. د آلپ سیستم

الپ د سینوزییک دورې په لومړیو کې د کهڼایي Organic حرکتونو څخه دي او د ځمکې د مخ د نورو سلسلو په نسبت ځوان دي.

دغه سیستم دوه بیلا بیل ګروپونه لري چې لومړی یې د بحرالکاهل شاوخوا د غرونو سلسله ده چې اوس هم د دغه حوزې په ځینو سیمو کې د اتشفشان فعالیتونه او د زلزلې ټکانونه موجود دي او همدغه حلقه ده چې د اور حلقې یا Fire Ring په نوم یادیږي.

د دوهم ګروپ په اروپا کې د الپ او په اسیا کې د همالیا غرونه دي. نو په همدې اساس په شمالي او جنوبي امریکا کې د راکي

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

او اندیز غرونه د الپ سیستم تر عنوان لاندې قرار لري چې د امریکا له شمال څخه د جنوب په لور امتداد لري او ښاخونه یې وروسته له دې چې چلي او ارجنټاین څخه تیریږي له انترکتیکا سره وصل کیږي.

ماتي سیمې Rift Zone

د ځمکې پر مخ تر ټولو لوی ماتوالی په دغه جهیلونو کې لکه وکتوریا، نیاسا، تانګانیا، سور سمندرګی، عقبه سمندرګی او بحر المیت کې لیدل کیږي.

د اتلانتیک تر اوبو لاندې: همدارنګه د هند سمندر، د څتیځې آسیا ساحلي سیمې او د اطلس سمندر زیاتې ماتي لري.

د اورغورځوونکي ځانګړې ماتوالی: بعضې لوړې چې د میزوزئیک عصر په اخر کې منځته راغلې دي په واحد او ځانګړي ډول یې ځان نیولی دی چې تر ټولو ښه مثال یې د هاوایي او ایسلینډ جزیرې دي.

ځلور پنځوسم لوست (سپوږمۍ)

په 1906 میلادي کال کې ګالیله وښودله چې د سپوږمۍ پر مخ زیات غرونه او ژورې شتون لري او د سپوږمۍ د جاذبې قوه نظر ځمکې ته شپږ ځلي کمه ده.

سپوږمۍ نظر د نورو ستورو سپوږمیو ته د لمر زیاته رونښنایي اخلي او هغه ځمکې ته یې منعکسوي.

په شلمه میلادي پیړۍ کې شپږ امریکایي سفینې د سپوږمي پر مخ کښاستې چې لومړی یې (اوپولو 11) د شلمې پیړۍ 1969 میلادي کال د جون په میاشت کې او شپږمه یې د 1972 میلادي کال د دسمبر په 7 فضا ته ولېږل شوې.

هرې سفینې دري کارکوونکي درلودل چې دوه یې عملاً د سپوږمۍ پر مخ کوز شول او دریم تن د سپوږمۍ پر مخ د سفینې لارښونه کوله.

د امریکا متحده ایالاتو دوه تنه فضا ګرځېدونکي هر یو آرام سترانګ او ادوین الدرین د1969 میلادي کال د جولای په 21 د سپوږمۍ پر مخ وګرځیدل او د سپوږمۍ د مخ د ډبرو ټوټې او نور توکي یې راټول کړل او ځمکې ته یې راوړل.

د ځمکې واټن له سپوږمۍ څخه 382180 کیلومتره دی، او له ځمکې څخه 82.1 خله کوچنی ده او قطر یې 3472 کیلومتره دي.

د سپوږمۍ انتقالي حرکت

سپوږمۍ د ځمکې په شاوخوا څرخیږي، او له پخوا زمانو څخه قمري کلیزې د هغه له ګرځیدو څخه جوړې شوې دي.

سپوږمۍ یوازینۍ جسم دی چې ځمکې ته نیږدی واقع دي او خپل انتقالی حرکت د ځمکې پر شاوخوا په 29 ورځو 12 ساعتونو او24 دقیقو کې سرته رسوي، او له ځمکې سره یوځای د لمر په شاوخوا ګرځي.

سپوږمی په27.33 ورځو کې یو ځل د خپل محور په شاوخوا ګرځي او خپل وضعي حرکت بشپړوي.

د موقعیت بدلون یې د ځمکې په شاوخوا کې بېلا بیلې مرحلې لري چې دغه مرحلې عبارت دي له هلال، بدر او تربیع.

پنځه پنځوسم لوست (خسوف او کسوف)

هر کله چې سپوږمۍ د لمر او ځمکې ترمنځ په یو مستقیم خط کې واقع شي، نو په دغه صورت کې د سپوږمۍ سیوری په ځمکه لوېږي او کسوف(د لمر نیول) صورت نیسي. هر کله چې ځمکه د لمر او سپوږمۍ ترمنځ په یو مستقیم خط کې واقع شي نو په دغه حالت کې د ځمکې سیوری په سپوږمۍ لوېږي خسوف (د سپوږمۍ نیول) رامنځته کیږي.

د سپوږمۍ یو مکمل دور د ځمکې په شاوخوا یوه قمري میاشت شمیرل کیږي چې له یو هلال څخه تر بل هلال په برکې نیسي چې تقریباً 29.5 ورځې ده، بعضې وخت 28 ته هم تنزیل کوي.

شپږ پنځوسم لوست (د ځمکې حرکتونه)

ځمکه پنځه ډوله حرکتونه لري:

1. وضعي حرکت 2. انتقالي حرکت 3. نوساني حرکت 4. د ویګا ستوري په شاوخوا د ځمکې حرکت 5. د ځمکې حرکت په یو نامعلوم لوري.

الف) د ځمکې وضعي حرکت: وضعي حرکت د ځمکې له محوري حرکت څخه عبارت دی چې په 24 ساعتونو کې له لوېدیځ څخه د ختیځ په لور په خپل محور څرخیږي.

د وضعي حرکت پایلې

د وضعي حرکت په پایله کې شپه او ورځ منځته راځي.

د شپې او ورځې د ساعتونو وختونه نظر وضعي حرکت ته بدلون کوي. په هر ساعتکې15 درجې او په څلورو دقیقو کې یوه درجه طول البلد او په 24 ساعتونو کې 360 درجې طول البلدونه د لمر له مخې تریږي.

د ځمکې د مخ په ټولو سیمو کې د ځمکې وضعي حرکت سرعت د استوا څخه د قطبونو په لور کمیږي، د استوا پر کرښه د یو معین ټکي سرعت په ساعت کې 1674 کیلومتره، په 30 درجو عرض البلد کې 1566 کیلومتره او د قطبونو په سیمه کې صفر ته راټیټیږي.

د ځمکې د وضعي حرکت په اثر مایع عناصر او بادونه خپل مسیر ته تغیر ورکوي، په شمالي نیمه کره کې په ښي لور او په جنوبي نیمه کره کې په چپ لوري انحراف کوي.

هغه سیندونه چې د استوا له کرښې څخه د شمال په لور جریان لري نظر د ځمکې وضعي حرکت ته خپل ښي لوري ځنډي تخریب کوي، په داسې حال کې چې په جنوبي نیمه کره کې دا موضوع برعکس ده.

هغه لویې بربوکې چې په شمال نیمه کره د سایکلون په ټیټ فشار مرکز کې د حرکت لوری یې د ساعت د عقربې خلاف او په جنوبي نیمه کره کې د ساعت د عقربې سره یوشان دي. د ځمکې د وضعي حرکت په پایله کې د استوا په سیمه کې لوړې او د قطبونو په سیمه کې ژورې رامنځته شوې دي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ب) د ځمکې انتقالي حرکت

ځمکه په یو کال 365 ورځو او شپږو ساعتونو کې په خپل بیضوي مدار کې د لمر په شاوخوا حرکت کوي، د ځمکې د مدار اوږدوالی تقریباً 931 میلیونه کیلومتره دي.

د ځمکې د حرکت سرعت په مدار کې په یوه ثانیه کې 30 کیلومتره حساب شوی دی.

په 1727 میلادي کال کې برادلي منجم انګلیسي- پوه د ځمکې انتقالي حرکت د ستورو د شعاګانو د میلان له نظره وړاندې کړ.

د انتقالي حرکت پایلې

الف) له لمر څخه د ځمکې لرې والی او نیږدې والی: لمر د همغه مدار په محراق کې واقع دی نو له همدې امله د ځمکې تر ټولو لرې واټن له لمر څخه 152 میلیونه کیلومتره چې د اوج په نوم یادیږي او لمر ته تر ټولو نیږدې واټن یې 147 میلیونه کیلومتره دي چې د حضیض په نوم یادیږي، په داسې حال کې چې له لمر څخه منځنی واټن یې 149 میلیونه کیلومتره دی.

ب) د کال د موسمونو بدلون

اعتدال په دوه ډوله دی(پسرلی او منی): له اعتدال څخه موخه د شپې او ورځې مساوي کېدل دي او هغه هم په دو وختونو کې. اعتدال په پسرلی کې د وري په لومړي او په مني کې د تلې په لومړي رامنځته کیږي. په دغه دو وختونو کې 12 ساعته شپه او 12 ساعته ورځ وي.

لمریز انقلاب Solistice : کله چې ځمکه د اوج یا حضیض څخه په یو قطر کې واقع وي لمریز انقلاب رامنځته کیږي.

که چیرې په شمالي نیمه کره کې اوړی وي نو په دغه صورت کې د لمر وړانګې د سرطان په لومړي د سرطان په کرښه عمود لګیږي په دغه وخت کې په جنوبي نیمه کره کې ژمی وي.

او کله چې د بیضوي مدار په بل انجام کې د لمر وړانګې د جدي په کرښه عمود ولګیږي نو په جنوبي نیمه کره کې اوړی، او په شمالي نیمه کره کې ژمي رامنځته کیږي.

د اوړي لمریز انقلاب Summer Solistice او د ژمي لمریز انقلاب Winter Solistice دواړه د ځمکې کرې لپاره ارزښت لري.

د شمالي نیمې کرې په اوړي کې د لمر وړانګې د ارکتیک دایرې له شا څخه تیریږي. او د جنوبي نیمې کرې سره مماس تیریږي.

د ژمي لمریز انقلاب د مرغومي له لومړۍ نیټې څخه شروع کیږي، او له جدي څخه تر انتارکتیک دایرې پورې د لمر تر وړانګو لاندې واقع کیږي ، برعکس په شمالي قطب کې شپه منځته راځي.

په شمالي قطب کې 6 میاشتې شپه وي که چیرې په شمالي نیمه کره کې اوړي وي نو د پسرلي اعتدال له شروع څخه د مني تر اعتدال پورې په شمالي قطب کې 6 میاشتې ورځ وي.

اوه پنځوسم لوست(طول البلد او عرض البلد)

طول البلدLongitude

طول البلد یا نصف النهار له هغه نیمو دایرو څخه عبارت دي چې د شمال قطب څخه شروع شوې تر جنوبي قطب پورې رسیږي او د استوا پر کرښه عمود دي.

جغرافیایي اوږدوالی یې هغه قوسي واټن ته وایي چې د لندن له ګرینویچ څخه د عرض البلد په امتداد د ختیځ او لوېدیځ په لور محاسبه کیږي.

د ګرینویچ کرښه چې د لندن له ښار څخه تیریږي د طول البلدونو مبدأ ګڼل کېږي. او د ځمکې کره په دو ختیځ او لوېدیځ نیم کرو ویشي.

د ګرینویچ له نصف النهار څخه د وخت تر نړیوالی کرښې International date line 180 ختیځ طول البلد او له ګرینویچ څخه د لوېدیځ په لور 180 درجې لوېدیځ طول البلد رسم شوي دي.چې د طول البلدونو مجموعه د ځمکې په کره کې 360 درجو ته رسیږي.

د طول البلدونو د دایرو ځانګړتیاوې:

1.د طول البلدونو ټولې دایرې په قطبونو کې سره نیږدې کېږي او تر منځ واټن یې صفر ته رسیږي.

2.د شمال او جنوب لوري ښیي.

3.هر نصف النهار د دایرې نیم قوس ښیي.

4.د نصف النهار 15 درجې په یو ساعت کې د لمر له مخې تیریږي نو له دې امله په جغرافیایي نقشو کې د دوو نصف النهار دایرو ترمنځ واټن هم 15 درجې دی.

5.لومړی ختیځ طول البلد د لمر له مخې تیریږي، او وروسته لوېدیځ طول البلد ناوخت د لمر له مخې تیریږي. نو له دې امله که په 80 درجې ختیځ طول البلد کې وخت وروسته له ماسپښین وي ، په 80 درجې لوېدیځ طول البلد کې وخت مخکې له ماسپښین دي.

6.د طول البلد او عرض البلد ترمنځ د تقاطع سیمه د ځمکې پر مخ د دایرو په واسطه په واضح ډول ښودل کیږي. نو ځکه د ښارونو، هیوادونو او جزیرو موقیعت د طول البلدونو په واسطه تثبیت کیږي.

7.په عمومی توګه طول البلدونو لوېې دایرې تمثیل کوي. د طول البلدونو او عرض البلدونو دایرو شتون د کارتوګرافي له پلوه ډیر ارزښت لري، ځکه واټن او انځورول د دغه دایرو د ارتسام شکل واضح کوي.

عرض البلد Latitude

له هغه دایرو څخه عبارت دي چې د لوېدیځ او ختیځ په لور د استوا له کرښې سره موازي رسم شوي دي.

د عرض البلد دایرو ځانګړتیاوې:

د عرض البلد ټولې دایرې یو له بل سره موازي دي.

1.د ختیځ او لوېدیځ لوري ښیي.

2.د هغوي تر منځ واټن تقریباً مساوي دی. خو په جیوډیزي محاسبو کې د هغوي تر منځ واټن یو څه توپیر لري.

3.د طول البلدونو دایرې په قایمه زاویه سره پرې کوي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

4.د عرض البلدونو ټولې دایرې کوچنې دي خو د استوا کرښه لویه دایره شمیرل کیږي خو د 90 درجې عرض البلد له صفر سره معادل دي.

5.د ځمکې په سطحه په لایتناهي شمیر د عرض البلد دایرې رسم کیدلای شي.

6.د عرض البلد دایرو په واسطه د اعتدال پر محال د لمر د وړانګو میلان هم تعین کیدلای شي.

د آرکتیک دایره: د شمالي عرض البلد $66\frac{1}{2}$ درجې

د انترکتیک دایره: د جنوبي عرض البلد $66\frac{1}{2}$ درجې

د سرطان دایره: د شمالي عرض البلد $23\frac{1}{2}$ درجې چې د سرطان په لومړۍ د لمر وړانګې پرې عمود لګیږي.

د جدي دایره: د جنوبي عرض البلد $23\frac{1}{2}$ درجې چې د جدي په لومړۍ د لمر وړانګې پرې عمود لګیږي.

اتم څپرکی

اته پنځوسم لوست (اقلیم)

اقلیم لاتینی کلیمه ده چې له Klima څخه اخیستل شوې ده او د میلان معنی وړاندې کوي دغه میلان د ځمکې د محوري میلان څخه عبارت دی، چې په 23 نیمې (11.5)درجو زاویې د مدار په مستوي دي.

اقلیم د یوې سیمې د ټولو جوي ښکارندو منځنی حد دی چې په معین وخت او ځای کې بیل خواص اختیاروي.

اقلیم پوهان د ټولو جوي ښکارندو منځنی حد د 30 څخه تر 40 یا تر 50 کلونو لپاره مطالعه کوي.

د اقلیم عناصر: د اقلیمي فکتورونو له جملې څخه لاندې څلور اساسي عناصر د یوې سیمې اقلیمي ځانګړتیاوي کنترول کوي:

1.د تودوخې درجه 2. د هوا فشار 3. د بادونو جریان 4. لنده بل او اورښت

تودوخه

تودوخه او روښنایي چې د لمر له خوا ځمکې ته راځي د انرژی او ژوند زیږونکي دي په هره ثانیه کې تقریباً 126 ترلیونه هسپاوره د لمر انرژی ځمکې ته رسیږي.

دلمر د وړانګو سرعت په ثانیه کې 300000 کیلومتره دی چې د وړانګو طیف یې په بېلا بیل اوږدوالي سره ځمکې ته رسېږي.

په هغه ټکي کې چې د لمر وړانګې عمود لګیږي د ځمکې په هر سانتي متر مربع کې په یوه ثانیه کې 2 کالوري تودوخه رامنځته کوي چې د سولر کانسټانټ (Solar constant) په نوم یادیږي.

په لوړوالي سره د تودوخې بدلون: د لمر تودوخه د تروپوسفیر په طبقه او لوړو غرنیو سیمو کې له لوړوالي سره معکوسه اړیکه لري. په لنده بل لرونکی هوا کې د تودوخې درجه په هر 1000 مترو لوړوالي سره 10 درجې د سانتي ګراد کمیږي، خو دغه ارقام په استوائي، معتدله او قطبي سیمو کې توپیر لري.

د تودوخې درجې بدلون نظر وخت ته: د تودوخې درجه د شپې او ورځې او هم د کال په اوږدو کې بدلون کوي. تودوخه نظر د ځمکې انتقال حرکت ته هم بدلون کوي.

د هوا فشار: د هوا فشار د هوا د کتلې وزن پر هغه ساحې څخه عبارت ده چې په هغه تسلط لري. د بادونو جریان او د ځمکې د سطحې د بادونو د لګیدو عمومي مکانیزم له تودوخې او د ځمکې له وضعي حرکت سره مستقیمه اړیکه لري.

فشار نظر لوړوالی ته کمیږي په لس کیلومتره لوړوالي د هوا فشار یو پر لس او د اتموسفیر د 120 کیلومتره لوړوالی سره یو پر سل زره ځله کمیږي.

نه پنځوسم لوست (د بادونو لګېدل)

د بادونو جریان عموما د لوړ فشار له مرکز څخه د ټیټ فشار د مرکز په لوري وي.

په هره اندازه چې د اتموسفیر فشار د لوړ مرکز او ټیټ مرکز ترمنځ زیات وي د بادونو د لګیدو سرعت هم زیات وي.

دوهم لامل چې د بادونو د حرکت مسیر کنترول کوي د Coriolis له قوي څخه عبارت دی، نظر کاریولس ته د بادونو او د مایع عناصرو انحراف په شمالي نیمه کره کې په ښي لوري او په جنوبي کره کې په چپ لوري جریان لري چې په شمالي او جنوبي نیمه کره کې د بادونو د لګیدو لوري د ځمکې د وضعي حرکت په سبب له اصلي مسیر څخه منحرفه کیږي.

د فشار د مرکزونو په پام کې نیولو سره د بادونو جریان په درې ډلو ویشل شوی دی.

لومړي ګروپ: هغه لویدیځ بادونه دي چې په عمومي ډول په شمالي نیمه کره کې د30 او 60 درجو ترمنځ لګیږي.

جت سټریم: د تروپوسفیر په طبقه کې د 10 څخه تر 12 کیلومتره په لوړوالي او یا له هغه زیات په مارپیچي شکل حرکت کوي،سرعت یې د450 څخه تر 530 کیلومتر پر ساعت محاسبه کیږي چې د جت ستریم په نوم یادیږي چې د ځمکې د کرې د فشار له مرکزونو سره مستقیمه اړیکه لري. دغه مرکزونه په کاناډا، آیسلنډ او الوشان جزیرو او د الاسکا په امتداد شتون لري دغه بادونو د الوتکو د پرواز پر محال خنډونه او ستونزې رامنځته کوي.

دوهم ګروپ: له هغه بادونو څخه عبارت دي چې د تحت استوائي قطبي او تحت قطبي سیمو د لوړ او ټیټ فشار د مرکزونو له تشکیل سره مستقیمه اړیکه لري. دغه بادونه عبارت دي له د استوائي سیمو متقارب بادونه،تجارتي بادونه، ختیځ قطبي بادونه او موسمي بادونه.

دریم ګروپ: هغه بادونه دي چې په نسبتا لویه او کوچنۍ سیمه کې په سیمه ایز ډول رامنځته کیږي، ا صلي لامل یې د لوړ او ټیټ فشار مرکزونو ترمنځ توپیر دي چې په افغانستان کې د هغه مثال د پروان

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

باد او د هرات 120 ورځني بادونه دي. بعضـي د دغه بادونو کنګلي بادونه دي چې په لوړو سيمو کې د کال د مني په موسم کې لګېږي.

لنده بل او اورښت

له 1 څخه تر 2 فيصـده د ځمکې هوا د اوبو براسـونه تشـکيل کوي.

ګازي بخارونه: براسـونه په غازي ډول هغه وخت منځته راځي چې د اشـباع عمل او اورښـت منځته نه وي راغلی او د اوبو براسونه په فضا کې ګرد او دود ته ورته د وريځو په شـکل ليدل کيږي.

مايع بخارونه: په مايع شـکل هغه وخت بدليږي چې د هوا د سړو په اثر د اشباع عمل ته ورسيږي او د باران په شکل راښکته شي.

جامد بخارونه: هر کله چې د تروپوسفير په طبقو کې هوا زياته اندازه سړه شي او د باران څاڅکي د يو څه وخت لپاره د هوا په يخو توفانونو کې پاتې شي نو په دغه وخت کې د باران څاڅکي چلند حالت ته بدلون کوي او د ږلي په شکل ځمکې ته راښکته کيږي.

يو متر مکعب ګرمه او لنده استوائي هوا نظر يو متر مکعب قطبي سړې هوا ته 4-5 فيصده زيات لنده بل لري. نو له همدې امله په اسـتوائي سـيمو کې د باران کلنی اندازه نظر قطبي سـيمو ته زياته وي.

د اقليم پيژنـدنې او مترولوژي پوهـانو د لنـده بـل(رطوبـت) اصـطلاح په بېلا بېلو شـکلو بيان کړي دی: نسـبي لنده بل ، د شبنم تکي، مطلقه لنده بل او د هوا ځانګړی لنده بل.

اورښت

اورښت په لاندې شرايطو کې رامنځته کيږي:

1.د هوا ګرځيدل Convection چې د هغه په اثر اورښـت رامنځته کيږي.

2.غرنی اورښتونه چې د Orographic په نوم يادېږي.

3.سايکلونيک او جبهه يي اورښتونه.

د Convection په اثر د يوې سـيمې ګرمه هوا پورته ځي او په بدل کې يې د غرنيو سـړو سـيمو سـړه هوا د ګرمې هوا ځای نيسي.

د غرنيو سيمو اورښتونه: د دغه اورښـتونو تر ټولوښـه مثال افغانستان ته د سايبريا سړې څپې داخليدل تشکيلوي چې د هغه په داخليدو سره د هندوکش په غرنيو لوړو سيمو کې واروې او بارانونو اورښت منځته راځي.

جبهوی اورښتونه: دغه ډول اورښت د يوې سېمې د تيټ او لوړ فشار د بدلون په اثر منځته راځي.

شپيتم لوست(په اقليم باندې اغيزمن لاملونه)

د شلمې پېړۍ په وروستيو او د يوويشتمې پېړۍ په لومړيو کې د نړۍ په اقليم کې نسـبي بدلونونه رامنځته شـوي دي. دغه بدلونونه د اوزون طبقې د تخريب په ځمکه کې د ګلخانه يي ګازونو د توليد سبب شوی دی.

د اقليم پيژندنې پوهانو په اقليم باندې اغيزمن عوامل په لاندې ډول مطالعه کړي دي :

الف)د اقليم اساسي عنصرونه ب) د اقليم اغېزمن عوامل

د اقليم د اساسي عنصرونو په مرسته د يوې سيمې د اقليمي ځانګړتياوي په ښه ډول پيژندل کيږي.

د اقليم په بدلون کې لاندې ځلور عوامل په مسـتقيم ډول د سيمې په اوبو او هوا تاثر لري،چې دغه عوامل عبارت دي له:

1.د شپې او ورځې ، کال او ميلاشتو د تودوخې درجه.

2.د کال او ميلاشتو په اوږدو کې لنده بل او اورښت.

3.په نړيوال او سيمه ايز ډول د لوړ او تيټ فشار د مرکزونو تشکيل.

4.د بادونو لګيدل او د هغه ډولونه په وچه او سمندر کې .

نور مهم او موثر عوامل عبارت دي له:

1.د لمر د وړنګو د لګيدو زاويه	6.سيمه ايز بادونه
2.د عرض البلد درجه	7.د سړو او ګرمو څپو ډول
3.د ځمکې لوړوالی او جوړښت	8.د ګلخانه يي ګازونو پراختيا
4.د سمندری جريانونو ډول	9.د اوزون تخريب
5.له سـمندر څخه لرې والی او نيږدې والی	10.د اورغورځونکوو فعاليت

د لمر د رالوېدو زاويه: د لمر وړانګې د ځمکې په سـطحه په بېلا بېلو زاويو لګيږي لکه څرنګه چې دپسرلی او مني په موسم کې (د وري لومړی او د تلې لومړی) د لمر وړانګې مماس وي او صـفر ته رسـيږي. په 45 درجو عرض البلد په 45 درجو زاويه او د اسـتوا په کرښـه په 90 درجو زاويه عمود لګيږي چې په هر سانتي متر مربع کې 2 کالوري انرژي منځته راوړي.

د غرونو په لوړو کې په هرو سلو متو لوړوالي سره د سـانتي ګراد يوه درجه کميږي چې هغه هم د غرنيو کنګلونو د څرګندېدو لامل کيږي.

سـمندر ته په نيږدی والی په سـواحلو کې مرطوب اقليم او سمندر او د وچې نسيم منځته راځي.

ګلخانه يي ګازونه چې د اوزون د تخريب لامل کېږي عبارت دي له: CFCاوCH4,CO2,CO,N

يو شپيتم لوست(د اقليم ډولونه)

د لوړی ځل لپاره د پخوانی يونان او روم په مدنيتونو کې د دې ډولې اقليمي سـيمو څخه يادونه شـوي ده چې دغه اقليمي سيمې په لاندې ډول دي:

1.د حارې يي يا ګرمې سـيمې اقليم د اسـتوا سـيمه چې د سرطان او جدي کرښو ترمنځ موقعيت لري او دغه سيمه د مدارينو په نوم يادېږي په دغه سيمه کې هر کال دوه ځله د لمر وړانګې عمود لګيږي.

2.د معتدلو سـيمې اقليم چې د شـمالي او جنوبي نيمو کرو د 23½ او 66½ نيمو درجو ترمنځ موقعيت لري.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

3.د سړو سیمو اقلیم د جنوبي او شمالي نیمو کرو د 66½ او 90 درجو عرض البلدونو ترمنځ موقعیت لري. په دغه ډول ویش کې جوي شرایط او مهم فکتورونه په نظر کې نه دي نیول شوي.

د حاره یي یا گرمو سیمو اقلیم ډولونه:

استوائي گرم اقلیم چې د استوا سیمه تر 5 درجو عرض البلد پورې په شمالي او جنوبي نیمو کرو کې په بر کې نیسي. اما د تروپیک سیمو اقلیم بیا تر سرطان او جدي کرښې پورې رسیږي.

د دغه اقلیمي سیمې ځانګړتیاوي په لاندې ډول دي:

1.د کال په اوږدو کې د تودوخې منځنی اندازه 27 درجې سانتي ګریډ ته رسیږي، او د تودوخې د اعظمي او ا صغري حد ترمنځ توپیر ډیر کم دي.

2.د هوا فشار په عادي توګه او په منځني ډول 1009 او 1012 ملی بار(چې یو ملی بار د 1009 انچو ستون سیماب سره برابر دي) وي.

3.د بادونو لګیدل په دغه سیمه کې عموما د ختیځ څخه د لوېدیځ په لور وي.

د پیرو داکتوس سیمه د عرض البلد په 3½ درجو د استوا کرښې په جنوب کې، د امازون سیمه د استوا د کرښې په جنوب 1½ درجو عرض البلد کې، د اوشن جزیرې د پاسفیک په لوېدیځ کې، جورج ټاون، کنیا، سنګاپور او کانګو.

د معتدلو سیمې اقلیم (منځني عرض البلدونه): د معتدلو سیمې اقلیم د ځمکې د کرې په منځني عرض البلدونو کې موقعیت لري او د دواړو تروپیک او قطبي سیمو له هوا څخه متاثره کیږي. دغه اقلیم په لاندې ډولونو ویشل شوی دی:

نیمه استوائي لنده بل لرونکی اقلیم

1.د لوېدیځو غاړو وچ اقلیم

2.د وچ اوړی سره د نیمه استوائي سیمې اقلیم یا مدیترانه یي اقلیم

3.د معتدلو سیمې ستپ او صحرایي اقلیم

4.د معتدلې سیمې وچ او لنده بل لرونکي اقلیم.

نیمه استوائي لنده بل لرونکی اقلیم: دغه اقلیم د نیمه استوائي سیمو لویه برخه د 25 او 35 درجو عرض البلدونو ترمنځ په شمالي او جنوبي نیمو کرو کې نیولې ده. دغه ډول اقلیم ګرم او لنده بل لرونکی اوړی او معتدل او لنده بل لرونکی ژمی، باران یې زیات دي او نه وچیږي.

د لوېدیځو غاړو اقلیم: دغه اقلیمي سیمه له استوا څخه لرې لرې موقعیت لري چې لوېدیځې غاړې چاپیره کوي او په شمالي او جنوبي نیمو کرو کې د عرض البلدونو د 40 او 60 درجو ترمنځ موقعیت لري د سړو قطبي څپو او طوفاني سایکلونونو د تګ په اثر په لوېدیځو غاړو دې کې د لرې لندبل سبب شوی دی اوړی یې وچ او د اورښت اندازه یې کمه ده.

مدیترانه یي اقلیم: مدیترانه یي اقلیم د نیمه استوائي سیمو په اقلیم کې راځي چې په شمالي او جنوبي نیمو کرو کې د 30 او 40 درجو عرض البلدونو ترمنځ موقعیت لري چې اوړی یې وچ او ژمي یې معتدل او لنده بل لرونکی دی. دغه اقلیم نېمه بېلګه په ایټالیا کې ناپل او ترپیولي کې بنده غازي تشکیل کړي دي چې دوړاې سیمې د مدیترانې سمندرګي په سیمه کې موقعیت لري.

د معتدلو سیمو ستپ او صحرایي اقلیم: دغه اقلیمي سیمه په شمالي امریکا او اسیا لویه وچه کې د عرض البلدونو 35 او 50 درجو ترمنځ موقعیت لري په دغه سیمه کې دري عوامل مستقیم تاثیر لري.

1.په اوړی کې کله چې د هوا فشار او د بادونو لګیدل د قطب په لور پراختیا وکړي نو د لنډ وخت لپاره د وچې استوایي هوا ځانګړتیاوې اختیاروي.

2.د ژمی په موسم کې د کانادا او سایبریا د لوړ فشار مرکزونه وچه قطبي هوا هغه ته وچې هوا ځانګړتیاوي بخښي.

3.د غرونو د سلسلې شتون په دغه سیمه کې د وچ او لنده بل لرونکي هوا د کتلو سبب کیږي.

معتدل وچ او لنده بل لرونکی اقلیم: په دغه سیمه کې د وچې او لنده بل اصطلاح ځکه په کار وړل کېږي چې د وچو سیمو د بعضو عواملو په سبب صحرایي او ستپ شکل اختیاروي. هغه سیمې چې په وچه کې موقعیت لري سربیره پر دې چې وچ اقلیم لري لنده بل هم لري او اورښت یې هم زیات دي.

ج) د قطبي او لوړو غرنیو سیمو سوړ اقلیم: په دغه اقلیم کې لاندې سیمې شامل دي.

نیمه قطبي وچ اقلیم، نیمه قطبي سمندري او لنده بل لرونکي اقلیم، تندرا اقلیم، کنګلی سیمو اقلیم او د لړدوړو غرنیو سیمو اقلیم.

نیمه قطبي وچ اقلیم: د اسیا او امریکا لویو وچې چې زیاتره برخه یې د شمالي قطب په لوري غزیدلې ده او زیاته سره یې د 50 او 70 درجو عرض البلدونو ترمنځ موقعیت لري په دغه اقلیمي سیمه کې راځي. د ژمی په موسم کې په داسې حال کې چې د لمر وړانګې د قطبي دایره سره مماس تیریږي په قطبي او نیمه قطبي سیمو کې ډیره سړه هوا منځته راوړي او ځمکه په واورو پوښلی وي.

تندرا سیمه: د تندرا اقلیمي سیمه د 66½ او 70 درجو عرض البلدونو ترمنځ موقعیت لري چې د شمالي امریکا او اسیا شمالي سیمې په برکې نیسي.

کنګلي اقلیم: دري لویې کنګلي سیمې لکه کریم لند، انتارکتیکا او د شمالي کنګ سمندر کنګلونه چې لامبو وهونکي حالت دي په برکې نیسي.

د غرنیو سیمو اقلیم: د تروپوسفیر په طبقه کې تودوخه له لوړوالی سره معکوسه اړیکه لري. خو د واورې او باران اورښت له لوړوالي سره مستقیمه اړیکه لري او د هوا فشار هم له لوړوالي سره معکوسه اړیکه لري. په غرنیو سیمو کې د اورښت اندازه له 1800 څخه تر 3000 ملی مترو څخه زیات دي. د الپ او همالیا غرونو په بېلا بېلو سیمو کې د 3000 مترو څخه په لوړو سیمو کې کنګلي کتلې هم لیدل کېږي. په افغانستان کې د سپین غر سیمه د غرنیو ځنګلي سیمو یوه بېله بېلګه ده.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

اتموسفیر طبقې په لاندې توګه دي:

1. هموسفیر طبقه(متجانس)
2. هتروسفیر طبقه) نامتجانس)

د هموسفیر طبقه له لاندې طبقو څخه جوړه شوي ده:

تروپوسفیر طبقه: دغه طبقه له ځمکې څخه د 8 څخه تر 12 کیلومترو لوړوالی لري. د اکسیجن گاز تقریباً 21 فیصده دژوند د فعالیتونو لپاره زمینه برابروي د اوبو سیکل په دغه طبقه کې رامنځته کیږي چې د باران او واوري د اورښت سبب ګرځي. سربیره پر دې د تروپوسفیر طبقه د ځمکې تودوخه د یوه پوښ په ډول ساتي چې د ځمکې لپاره د ګلخاني یا ګرین هاوس حیثیت لري او ځمکې ته د ماورا بنفش وړانګو د داخلیدو مخنیوی کوي.

د تروپوسفیر په طبقه کې په هرو سلو مترو لوړوالي سره د تودوخې یوه درجه کمیږي.

د ستراتوسفیر طبقه: دغه طبقه د 12 څخه تر 45 کیلو مترو په اتموسفیر کې موجود ده. په دغه طبقه کې د هوا کثافت کم دی او وریځې او دمه په دغه طبقه کې شتون نه لري.

د جیټ الوتکو لپاره د پرواز ساحه جوړوي.

د ستراتوسفیر په طبقه کې د تودوخې درجه په تدریجي ډول زیاتیږي او له منفی90 درجو څخه تر صفر پورې رسیږي.

د ستراتوسفیر له طبقې وروسته د ستراتوپاز طبقه موقعیت لري چې د اوزون طبقه د هغه په لاندینی ساحه کې د 10 کیلومتره په پریږوالي سره موقعیت لري.

منځنی یا میزوسفیر طبقه: دغه طبقه د 45 څخه تر 80 کیلومترو په لوړوالي سره موقعیت لري چې په دغه طبقه کې رادیویي څپې درباره ځمکې ته منعکس کیږي. او میزوپاز د دغه طبقې په لاندینی برخه کې موقعیت لري چې له هغه وروسته د هتروسفیر طبقې شروع کیږي.

ترموسفیر طبقه: ګرمه او سوخونکې طبقه ده چې په پورتنی برخه کې یې تودوخه د سلو درجو سانتي ګریډ څخه اوړي وروسته د 80څخه تر 140 کیلومترو د نایتروجن ګاز په مالیکولي(N_2) ډول شتون لري، لاندینی ساحه یې د ایونوسفیر په نوم یادیږي چې د هایدروجن له ایونونو څخه تشکیل شوی ده.

د اګزوسفیر طبقه: تر 13000 کیلو مترو پریږوالی لري. په دغه سیمه کې په تدریجي ډول د ځمکې جاذبه صفر ته رسیږي. نو له همدې امله لږ لوړی مصنوعي سپوږمکی د ځمکې څخه د 500 څخه تر 1000 کیلومترو پورې خای پر خای شوی دي.

دري شپیتم لوست (د ځمکې اتموسفیر)

د کرې اتموسفیر ګاز لرونکی دی چې د ځمکې شاوخوا یې چاپیره کړې ده. د ځمکې په باندینی قشر ژوندي موجودات او نباتاتو شتون لري چې د بایوسفیر په نوم یادیږي.

د اتموسفیر شتون د انسانانو، حیواناتو او نباتاتو د پاینبت سبب شوی او د ژوند د دوام لپاره یې زمینه برابره کړې ده.

د ځمکې اتموسفیر 13000 کیلومتره پریږوالی لري چې د قطبونو په سیمه کې دغه اندازه کمیږي.

د دغه طبقې د ګازونو ترکیب د تروپوسفیر په طبقه کې

21 فیصده اکسیجن، 78 فیصده نایتروجن، 0.93 فیصده ارګن، 0.03 فیصده کاربن دای اکسایډ، ګرد او غبار او لنده بل شامل دي نور ګازونه چې په ډیره کمه اندازه شامل دي عبارت دي له: نیون، هیلیوم، کرپتون، زنون، هایدروجن، کتان او نایتروجن اکسایډ.

تروپوسفیر په اصلي کې د ماورا بنفش او د لمر د نورو مضره وړانګو په وړاندې یوه لوی پوښ تشکیل کړی دی او د ځمکې د کرې لپاره د یوې ګلخاني بنې تشکیل کړې ده. اورښت، د وریځو او لنده بل تشکیل او نورې جوي پېښې په دغه طبقه کې رامنځته کیږي.

الوتونکو، هلیکوپټر او کوچنی تفریحي الوتکې په دغه ساحه(تروپوسفیر) کې پرواز کوي او د اوبو سیکل هم په دغه طبقه کې صورت نیسي.

د ستراتوسفیر طبقه له وریځې څخه خالي ده، د جیټ الوتکې په دغه طبقه کې پرواز کوي.

د ګازونو د ترکیب فیصدي د تروپوسفیر طبقې څخه پورته کمیږي، د هوا فشار هم کمیږي. د سمندر په سطحه د هوا فشار 760 ملي مټره دی که هغه په یو واحد قبول کړو نو د تروپوسفیر طبقې په وروستي برخه کې یو پر لس او د ترموسفیر په طبقه کې یو پر بل زره کمیږي.

د تودوخې درجه د تروپوسفیر په طبقه کې لومړی کمیږي، په ستراتوسفیر طبقه کې زیاتیږي، په میزوسفیر کې بیا کمیږي خو د ترموسفیر په طبقه کې بیا سلګونو درجو ته لوړ ځي او دغه طبقه د ایونوسفیر په نوم یادیږي.

د اتموسفیر 20 څخه تر 30 کیلومتر لوړوالی سره د اوزون طبقه موقعیت لري چې د ماورا بنفش وړانګو د داخلیدو په وړاندې یوه لویه مانع ده.

ګلخانه اي ګازونه لکه نیتروس اکسایډ، CO_2، میتان او کلوروفلوروکاربون د اوزون د تخریب لپاره مضر دي.

څلور شپیتم لوست (د اتموسفیر ارزښت)

په اتموسفیر کې د اکسیجن شتون په وچه او اوبو کې د ژوند د دوام سبب شوی دي. انسانان مستقیم هغه تنفوس کوي، سمندري حیوانات خپل آکسیجن له اوبو څخه اخلي، نباتاتو اوبه د ریښې په واسطه او کاربن دای اکسایډ له هوا څخه ترلاسه کوي او د لمر په شتون کاربوهایډرټ جوړوي او له هغه څخه تغذیه کوي، چې دغه عملیې ته فوتوسنتیز وایي.

د اوزون طبقه چې د ماورا بنفش وړانګو له داخلیدو څخه مخنیوی کوي د انسانانو ژوند خوندي ساتي.

دسمندر په سطحه فشار 760 ملي مټره دی او له 4000 څخه تر 5000 مترو په لوړوالي سره فشار کمیږي چې په تنفوسي سیستم فشار راوړي او ژوند له ستونزو سره مخ کوي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه په هرو سلو مترو لوړوالي سره د تودوخې يوه درجه کميږي برعکس د ايونوسفير په طبقه کې د 1000 څخه تر 2000 سانتي ګريډ پورې رسيږي چې د انسان او نورو ژوندیو موجوداتو په ژوند مستقيم تاثير لري.

شپږ شپېتم لوست(د سنجولو اسباب)

د نولسمې پيړۍ په لومړيو کې هوايي ستېشنونه لنډ او مختصر و، په تدريجي ډول د تودوخې ميزان، اتومات او الکتريک د باد سنج، د فشار سنجش او لنده بل آلې ېېلا ېېل ډولونه په هوا پېژندنه کې ځای پر ځای شول.

مصنوعي سپوږمکي د آمريکا متحده ايالاتو د ناسا NASA، روسيې، فرانسې او هند له خوا فضا ته توغولی شوي دي. د دغه مصنوعي سپوږمکيو هدف يوازې د جوي ښکارندو مطالعه ده.

اسباب او د هغه استفاده

د هوا فشار بارومتر ښيي او باراک اف هغه ثبت کوي.

د باران سنج د باران اورښت په دقيق ډول اندازه کوي.

سايکرومتر د وچ او لنده بل ترمومتر څخه عبارت دي چې د هغه د تودوخې درجې توپير نسبتي لنده بل ښکاره کوي.

د لمر ليدلو آله چې د لمر د وړانګو لګيدو اندازه ښيي.

د وريځو د لوړوالي او د هغه د لنده بل آله.

د بادونو د سرعت د اندازه کولو آله چې انوموتر نومېږي په الکترونيکي او عادي ډول شتون لري.

راديوسانډ هغه بالون دی چې په هغه کې د جوي ځيرنو ټول وسايل ځای پر ځای شوي دي او د اتموسفير په ېېلاېېلو لوړو کې جوي حالات ثبت او په ځمکه کې خپل اړوند استېشن ته يې مخابره کوي.

د مصنوعي سپوږمکيو شبکې په ځمکه کې د ليد ډيره پراخه ساحه لري او په اتومات ډول هر هيواد ته د سيمې او نړۍ په کچه د هوا حالات معلومات ورکوي.

د مصنوعي سپوږمکيو شبکه د هوايې ډګرونو لپاره، د الوتکو پروازونه، د لويو کښتيو خط السير، د زراعت لپاره لارښونه، اوبو لګونه، په چاپېريال کې د ژوند خوندي ساتل، ځنګلونه او د سيلابونو اړوند، څرګايونه، د صحرايي کيدو خطر، طبيعي پېښې، سونامي، هريکون او تيفون په اړه مفصل معلومات ورکوي.

شپږ شپېتم لوست(د بادونو لګيدل)

په وچه او سمندر کې د بادونو ډولونه

په وچه او سمندر کې د بادونو ېېلا ېېل ډولونه شتون لري:

1. سيمه ييز بادونه
2. تجارتي بادونه
3. ېېلا ېېل استوائي بادونه
4. قطبي ختيځ بادونه
5. لويديځ مسلط بادونه

سيمه ايز بادونه: د غه ډول بادونو ا صلي لامل د لوړ او ټيټ فشار مرکزونه دي چې په ېېلا ېېلو جهتونو، ېېلا ېېلو لورو او ېېلا ېېلو شکلونو لګيږي، په ېېلا ېېلو هېوادونو کې ېېل ېېل نمونه لري.

په افغانستان د هغه مثال د پروان او هرات 120 ورځني بادونه تشکيل کوي. بعضې بادونه د دغه ډول بادونو له جملې څخه کنګلي بادونه دي چې د مني په موسم کې په لوړو غرنيو سيموکې لګيږي.

تيفون او هريکن هم د دغه بادونو له جملې څخه دي چې په کم مقياس سره رامنځته کيږي خو د باد شدت او تخريب يې زيات دی.

د هريکن بادونه عموما د فلوريډا په غاړو او تکزاس سيمو کې رامنځته کيږي چې هر کال د ودانيو او زراعتي حاصلاتو د له منځه وړلو سبب کيږي.

د تيفون بادونه د چين په ختيځ غاړو کې رامنځته کيږي او هغه هم د سيمې د يو شمير اوسيدونکو د ځوړولو سبب کيږي او همدارنګه بعضې وخت له يو سيمې څخه بلې سيمې ته يو شمير ناروغي د لېږد سبب کيږي، که چيرې له سونامی سره يوځای شي نو د زرګونو تنو د مړينې او ودانيو د تخريب سبب ګرځي.

سونامي: د سمندر جريانونو طوفان دي چې د سمندر په داخل يا غاړو کې د زلزلې په اثر رامنځته کيږي هر کله چې د تيفون له طوفانونو سره يوځای شي نو د تخريب او نفوذ سيمه يې ډيره پراختيا مومي. مثلً په 2004 م کال کې د اسيا په جنوب او جنوب ختيځ کې د سلګونو زره خلکو د مړينې سبب وګرځېده.

تجارتي بادونه Trade Winds

تجارتي بادونه د شمالي او جنوبي نيمو کرو د 5 څخه تر 30 عرض البلدونو ترمنځ منځته راځي او د شمال ختيځ څخه د جنوب لويديځ په لور حرکت کوي، خو په جنوبي نيمه کره کې د جنوب ختيځ څخه د شمال لويديځ په لور حرکت کوي.

د تجارتي بادونو د لګيدو ساحه د اطلس او بحرالکاهل سمندر کې ډيره پراخه ده،چې لومړيو مدنيتونو په وخت کې په ځانګړي ډول په 15 او 16 پېړيو کې د کښتيو چلوني کې زيات ارزښت درلود، او همدغه تجارتي بادونه و چې د هغو په کمک سره د شمال او جنوب هېوادونو تجارتي مالونه له يو بل سره تبادله کيدل. دغه سيمه د Horse Latitude يا د آس عرض البلد په نوم هم يادېږي.

د تجارتي بادونو په سمه کې کله کله آسونه له کښتيو څخه پياده کيدل ترڅو کښتی له دوبيدو څخه وژغوري او د آرامې سيمې ته يې وباسي.

استوايي متقارب بادونه I.T.C

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

دغه بادونه د شمال او جنوب 5 درجو عرض البلدونو ترمنځ منځته راځي، په دغه سیمه کې د استوائي ټیټ فشار مرکز د شتون په اساس په شمال او جنوب کې د استوا د سیمې د ځمکې وضعي حرکت سره یوځای او د لویدیځ په لور حرکت کوي.ځرنګه چې دغه بادونه د ختیځ ځخه د لویدیځ په لور جریان لري نو د لوري له پلوه د ختیځ استوایي بادونو یا Equatorial Easterleis اصطلاح په نوم هم نومول شوي دي نه علمي اصطلاح یې استوائي متقارب بادونه دي چې د استوا له کرښې سره موازي حرکت کوي Imner Tropical Cinver gema Zone(I.T.C)

قطبي ختیځ بادونه: د قطبونو په سیمه کې د 65 او 90 درجو عرض البلدونو ترمنځ په شمالي او جنوبي نیمو کرو کې لګېږي هغه بادونه چې د لوړ فشار او قطبي سیمو ځخه د 60 درجو عرض البلدونو په لور لګېږید حرکت لوری یې یوه اندازه د لویدیځ په لور انحراف کړي دي چې د قطبي ختیځ بادونو په نوم یادیږي.چې د شکته عرض البلدونو په لور حرکت کوي او د شدیدو واورو د اورښت سبب ګرځي.

لویدیځ مسلط بادونه: دغه بادونه په شمالي او جنوبي نیمو کرو کې د 35 او 60 درجو عرض البلدونو ترمنځ مسلط دي او د دغو دوو سیمو د فزیکي چاپیریال برخه جوړوي، دغه بادونه د نیمه استوائي انتي سایکلون سیمې ځخه د نیمه قطبي سایکلون سیمې په لور حرکت کوي او په دغه سیمه کې د شدیدو طوفانونو د رامنځته کیدو سبب ګرځي.

د بادونو ګټې:

1.د اوبو د جریان دوران بشپړوي.

2.د نباتاتو په ځانګړي ډول د خرما د ونې د ودې او غټیدو سبب کیږي.

3.د باد له انرژي ځخه په زیاتره سیمو کې استفاده کیږي.

4.د تجارتي بادبان لرونکو کیښتیو انتقال چې د صنعتي انقلاب ځخه وړاندې په شمالي نیمه کره کې له همدې بادونو ځخه استفاده شوي ده. همدارنګه په جنوبي نیمه کره کې لویدیځ بادونه کولای شي چې بادبان لرونکي کښتي له لویدیځ ځخه د ختیځ په لور په حرکت راولي.

اوه شپیتمه لوست(وریځې)

د اوبو براسونه چې ډیر کوچني (0.02 ځخه تر 0.02 ملي مترە)دي په هوا کې شتون لري.

د ګرد او خاوري زرات یا نور بې نهایت کوچني زرات د هایګروسکوپي هستي جوړوي.

دمه او غبار په کښته سطحه ځمکې ته نږدې لیدل کیږي او له وریځو ځخه د سټراتوس طبقه منځته راوړي.

د وریځو ډولونه: وریځې د شمېر او لوړوالي له پلوه په ځلورو طبقو ویشل شوې دي، د هرې یوې نوم په لاتین یاد شوی دی چې د هغه ځانګړتیا ښکاره کوي.

د A ګروپ: د 6 او 12 کیلومترو ترمنځ لوړوالی

سیروس cirrusبنو ته ورته.

سیرکومولوس Cirricumulusدانه لرونکي او کوچني توتي(وزر ته ورته)

سیروسټراتوس Cirrostratusبنو ته ورته

هالوVeli، Haloد مالي او کیږدي په بڼه.

د Bګروپ: د 3 ځخه تر 5 کیلومترو لوړوالی

د کومولونیمس د بدني برخه- کتلوي وریځي.

کومولوس- د ګنبد په شکل

سټراتوس(طبقه یي) د کوچنیو او لویو طبقو شکل ځانته اختیاروي.

نیمبوسټراتوس باراني وریځې دي چې له هغې ځخه باران او واره رامنځته کیږي.

د C ګروپ: له 1500 ځخه تر 3000 مترو لوړوالی لري

سټراتوس– په فضا کې د نازکي او سپینو پردو په شکل منځته راځي.

سټراتوکومولوس- لږ لوړوالی لرونکي وریځي دي.

نیمبوسټراتوس- واوره او باران سره یوځای کیږی چې د Bپه طبقه کې هم لیدل کیږي.

د Dګروپ: له 100 مترو ځخه تر 1.5 کیلومترو لوړوالی لري.

د کومولونیمبوس لاتیني برخه(نیمبوس د باران او طوفان په معنی دي)

کومولوس- د رنګ تېره والی یې کم دی او د ګنبد په شکل هرم دي.

سټراتوکومولوس-لږ لوړوالی لرونکي وریځي.

نیمبوسټراتوس- په غرنیو سړو ځورونو کې د اورښت لامل ګرځي.

د کومولوس وریځي ډیري لوېي او پراخه دي له 5 ځخه تر 6 کیلومترو لوړوالی لري شدید او طوفاني اورښت لري. قاعده یې ځمکې ته نیږدی او باراني ده، راس یې په 6 کیلومترو کې پراخه سیمه نیول ده.

اته شپیتم لوست (د اورښت ډولونه)

د لوړوالي له مخې د اورښت ډولونه

د ماهیپر او سروبي سیمو کې د غرونو سلسله د ننګرهار او پکتیا په لور کمپرې نو په دې ډول په ژمي کې د سایبریا سړې ځپې د لوړوالي د کمووالي له کبله د افغانستان په ختیځو او جنوب ختیځو سیمو کې د اورښت سبب نه ګرځي.

اورښت او د اوبو دوران: اورښت او د اوبو دوران له یو بل سره په یو په بل پسې همیشه په طبیعت کې اړیکه لري، نو په دې ډول د لمر د وړانګو د لګیدو په سبب د سمندرونو، جهیلونو، خلیجونو او سمندرګیو اوبو تبخیر کوي او د اوبو براسونه فضا ته صعود کیږي.

د اوبو د براسونو صعود عملیې په اثر، د هغه تودوخه شکته کیږي او رسیږي، او د وریځو د جوړښت سبب ګرځي.

لنده بل لرونکې هوا د اتموسفیر د هرو سلو مترو په لوړوالي سره 0.6 درجې د سانتي ګرید کمیږي.

مهم ټکي:

په غرنیو سیمو کې اوروګرافیک یا غرني اورښتونه منځته راځي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په استوائي سيمو کې دکانويکشن په اثر لنده بل لرونکې هوا صعود کوي او د بيا ځلې سړيدو له امله په همغه استوائي سيمه کې د سيمه ييزو اورښتونو سبب ګرځي.

د ځمکې په کره کې تاودې او ساړې ځپې اورښتونه هم منځته راځي.

خو په وچو سيمو کې له تبخير څخه زيات چې د هغې سطحې څخه ترسره کيږي د 46000 کيلومتر مکعب په اندازه اضافه اوبه باران رامنځته کوي.

په ژوند کې د اورښت ارزښت:

اورښت د انسانانو، حيواناتو، نباتاتو او ټولو ژوندیو موجوداتو په ژوند کې ډير ارزښت لري، ځکه پرته له اوبو څخه ژوند ناممکن دي. د اورښتونو په واسطه کرنيزې ځمکې خړوبيږي او په کنګلي غرونو کې دايمي واوره چې په تدريجي ډول اوبه کيږي ځمکې خړوبوي.

د يوولسم ټولګي جغرافيه

لومړی څپرکی

لومړی لوست (کرنه او د هغه اقتصادي ارزښت)

کرنه، د کښت او د حيواتو، سبزيجاتو او اوليه نباتي موادو لپاره د ځمکې تيارولو څخه عبارت ده چې د اقليم سره په توافق، مساعدې خاورې او اوبو، د دوديزو وسايلو او عصری تکنالوژي په واسطه په آبي اوللمی ډول ترسره کيږي.

زمور په کرنيز هيواد افغانستان کې د غلو او حبوباتو ډولونه، د ميوو ډولونه، صنعتي او روغني نباتات،د سبزيو ډولونه،وانبه(شوتله او ريشقه) بعضې طبي نباتات لکه زعفران او نور کرل کيږي .

هغه عوامل چې د کرنې په توليد او نوعيت تاثير لري عبارت دي له: فزيکي، اجتماعي، اقتصادي او سياسي عوامل. د خاورې ډول، د ځمکې شکل، د اقليم ډول او د اوبو سرچينې د فزيکي عواملو له جملې څخه دي چې د کرنيزو موادو په کميت او کيفيت مستقيم تاثير لري.

د افغانستان کرنه په دوديزه او پرمختللې بڼه ترسره کيږي.

په عمومی توګه د افغانستان کرنيزو ځمکو څخه 7.9 ميليونه هکټاره تر کرنې لاندې ده. او له هغې جملې څخه 5.3 ميليونه هکټاره د کرنې وړ ده، او د اوبو د کموالی په اساس هر کال يوازې 2.6 ميليونه هکټاره کرل کيږي .

شيدياره د حيواناتو په واسطه هوې کيږي چې تر 10 سانتی مترو پورې ځمکه نرمه او ژوره کيږي چې د نباتاتو ريښې په هغه کې ښه وده کوي.

دويم لوست (د کرنې لارې چارې)

د افغانستان کرنه په عمومي ډول په پخواني طريقه او عصرـ او پرمختللې طريقې سره ترسره کيږي.

الف- پخواني طريقه: د افغانستان د کرنې دغه طريقه په عمومي توګه سنتي ده او د بزګرانو موخه له کرنيزو فعاليتونو څخه د لګښتي ضرورتونو پوره کول و.

له 60 څخه تر 80 فيصده ځمکه د غلي توليد ته ځانګړي شوې ده.

په دوديزه کرنه کې ځمکه، د کار قوه، کرنيز وسايل او تخم په ابتدايي ډول شتون درلود او د بزګر په واسطه اماده کيږي.

بزګرانو له صفر څخه تر 50 فيصده خپل توليد شوې محصولات بازار ته وړاندې کول.

د دولت د احصايې له مخې د غنمو لګښت د هر افغان وکړي لپاره د کال 162 کيلوګرامو ته رسيږي ځکه نو د کرنيز محصولات زمور د هيواد د خلکو لګښتونه نه شي پوره کولای.

د کچالو توليد له 500 ټنه څخه تر 25000 ټنو پورې زيات شوي دي. او همدارنګه هر کال زياته غله له خارج څخه زمور هيواد ته داخليږي.

ب- د کرنې عصري او پرمختللي طريقه:

د شرايطو او اسانتياوې په جوړولو کې د دوديزې کرنې بدلون په عصرـي او پرمختللې طريقې سره لاندې امکانات اساسي رول لري: مواصلاتي کرښې او د حمل او نقل وسايل، بريښنا، د کرنې سيستم، د مارکيټ اسانتياوې، اړيکي، اصلاح شوي تخمونه،سره، د نباتي ناروغيو او افتونو دوا، کرنيز ماشينونه، د ځيرنې خدمتونه، د نباتاتو ترويج او صحت او داسی نور.

د کرنې په عصري طريقه کې ماشينونه د زيات توليد او د کار د اسانتيا سبب ګرځي.

شديارې د تراکتورپه واسطه تر 20 سانتي مترو ژوره او نرميږي چې د نباتاتو ريښه او ساقه په هغه کې قوي او حاصل خيزه کيږي.

دريم لوست(مهم کرنيز توليدات)

د 80 فيصده په شاوخوا کې دافغانستان ځمکه غرنی ، صحرايې او نيمه صحرايي ده.

زمور د هيواد 15 فيصده خاوره د کرنې لپاره مساعده ده او تقريباً د هغه نيمايي تر کرنې لاندې ده.

په عمومی ډول د افغانستان د کرنيزو ځمکو پراخوالی 28 ميليونه هکټاره ته رسيږي چې له هغې جملې څخه 7.8 ميليونه هکټاره د کرنې وړ ده او له هغه څخه هر کال يوازې 4.5 ميليونه هکټاره تر کرنې لاندې نيول کيږي.

د افغانستان له کرنيزو توليداتو څخه حبوبات، غنم، وريجې، جوار او وربشيـ د هيواد د کرنې په يوه پراخه سيمه کې کرل کيږي او د اهميت وړ دي.

تقريبا 83 فيصده کرنيزه ځمکه آبي او نوره په للمي ډول کرل کيږي .

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

نور کرنیز محصولات، لکه: میوې، سبزي او صنعتي نباتات؛ لکه: پنبه، لبلبو د حیواناتو واښه او نور 430 زره هکټاره آبي کرنیزه ځمکه نیولي ده.

غنم په عمومي ډول په منځنیو جغرافیایي عرض البلدونو کې کښت کیږي چې له دې پلوه د افغانستان ځمکه د غنمو د کښت لپاره ترټولو مناسب طبیعي شرایط رامنځته کړي دي.

غنم په افغانستان کې له 300 څخه تر 3300 مترو په لوړوالي سره کرل کیږي او له 50 څخه تر 60 فیصده کرنیزه ځمکه د غنمو لپاره ځانګړې شوي ده. او په داسې حال کې چې غلي تر کرنې لاندې ځمکې څخه 90 فیصده یې غنم تشکیل کوي.

زمور هیواد د غنمو ښې ډولونه لکه د مني یا نرم غنم، پسرلنی یا کلک غنم د لرلو له کبله په نړۍ کې لومړي مقام لري.

د روسی عالم «واویلوف» د څیړنو له مخې، د اسیا په لویه وچه کې د افغانستان شمالي سیمې د غنمو د کښت لومړی مرکز بلل کیږي، او د غنمو د 57 ښلا ښلو ډولونو په لرلو سره په ټوله نړۍ کې لومړی مقام لري د دغه ډول غنمو کرنه په آبي ځمکه کې د مني په موسم کې ترسره کیږي.

البته د غنمو تر کرنې لاندې ځمکو کې 56 فیصده یې آبي او 44 فیصده یې للمي دي.

وریجې له غنمو وروسته د هیواد د مهمو غلو څخه شمیرل کیږي او زمور د خلکو مهمه غذایي ماده جوړوي.

وریجې معمولا په هغه سیمو کې کرل کیږي چې اوبه او هوا یې ګرم او زیاتې اوبه ولري. په افغانستان کې وریجې په لږ لوړوالي لرونکي، ګرمو او زیاتې اوبو لرونکو سیمو کې کښت کیږي چې دوه ډوله دي نري وریجې او غټې وریجې.

د نرینو وریجو قیمت، د تولید اندازه او د لګښت اندازه نظر غټو وریجو ته زیاته ده. نري وریجو په ختیځو ولایتونو کې لکه لغمان، کنړ او ننګرهار او په شمالي ولایتونو کې لکه بغلان، کندز او تخار کې په پراخه پیمانه کرل کیږي او دهغه تولیدات ډیر ارزښت لري.

غټې وریجې معمولا په میدان وردګو، لوګر، بغلان او تخار ولایتونو کې کرل کیږي.

جوار هم په ګرم او لنده بل لرونکي سیمو کې کرل کیږي.چې د هیواد په زیاتره ولایتونو کې لکه پکتیا، پکتیکا، ننګرهار او لوګر او نورو ولایتونو کې کرل کیږي .

وربشې هم د افغانستان له کرنیزو محصولاتو څخه شمیرل کیږي چې په سور اقلیم کې نسبت غنمو ته زیات مقاومت لري.

وربشې په عمومي ډول د حیواناتو د تغذیې لپاره استفاده کیږي.

سبزی هم د افغانستان له مهمو غذایی موادو څخه شمېرل کیږي. د سبزیو ډولونه چې په افغانستان کې کرل کیږي عبارت دي له: کچالو، تور بانجان، رومی بانجان، ګازرې، شاغم، پالک، کدو، ګلپې، لیږې، مرچ، بامیه، کاهو او نور.

افغانستان د بیلابیلو ستروس او پانیریژ میوو د درلودلو له پلوه نړیوال شهرت لري.

صنعتي نباتات؛ لکه: پنبه، لبلبو، ګنی، هم زمور په هیواد کې کرل کیږي . چې د هغه کرل د هېواد په شمال، لویدیځ او ختیځ کې امکان لري.

لبلبو هم زمور د هېواد له پخوانې نباتاتو څخه دي. مخکې زیاتره د بغلان او کندز په ولایتونو کې کرل کیدل او د بغلان د بورې په فابریکه کې له هغو څخه استفاده کیده.

ګنی د ننګرهار، کنړ، لغمان او پکتیا په ولایتونو کې یوه محدوده ځمکه چاپیره کړي ده، زیاتره د جلال اباد ښار په شاوخوا کې کرل کیږي او د ګوري په جوړولو کې له هغه څخه استفاده کیږي.

طبي نباتات: زمور په هیواد کې ښلا ښل طبي نباتات په ښلا ښلو سیمو کې وده کوي لکه: زعفران، خوړوالي او شمکي او نور .

زمور په هیواد کې یو شمیر غور لرونکي بوټي لکه : زغر، کنځلي، شړشم او لمر ګلی هم پیدا کیږي.

څلورم لوست (د کرنې جغرافیایي ویش)

د وریجو کرنه زیاتره د هیواد په شمال او ختیځ کې ترسره کیږي.

پنبه په بعضو شمالي، لویدیځ او جنوب لویدیځو سیمو، ګنی په ختیځ او چغندر زیاتره د کندز او بغلان په ولایتونو کې کښت کیږي .

نور صنعتي نباتات؛ لکه: لمرګلی، کنځلي، او زغر په پراخه ډول په ښلا ښلو سیمو کې کرل کیږي.

کچالو او نور سبزي په شمالي، ختیځ سیمو هرات او کندهار ولایتونو کې زیات تمرکز لري.

میوې له هغې جملې څخه انګور زیاتره په کندهار، هرات، کابل، پروان، کاپیسا او ستروس (نارنج، لیمو، مالټه او نور) په ختیځو ولایتونو کې او همدارنګه خربوزه او هندوانه په شمالي سیمو کې رواج لري.

پام وکړئ!

د 600000 نفرو په شاوخوا کې په باغواني لګیا دي چې د باغباني سیمه یې 94000 هکټاره ځمکه ده.

پنځم لوست(مالداری او د هغه اقتصادي ارزښت)

په افغانستان کې د 80 فیصده په شاوخوا کې خلک په کرنه لګیا دي چې هیڅ داسې بزګر شتون نه لري چې د ځاروبو په روزنه د لګیا نه وي. سربیره پردې یو شمیر زیات خلک په ځانګړې ډول کوچیان په مکمل ډول د ځاروبو په روزنه لګیا دي، او د ژوند وسایل له همدې لارې برابروي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د هیواد د حیواني تولیداتو ارزښت له 7 څخه تر 10 پورې ملي ناخالص عاید جوړوي.

حیواني محصولات لکه وړي، د غوا او پسه پوستکي، د قره قل پوستکی او کولمې د ازښت له پلوه معمولا د هیواد له 10 څخه تر20 پورې صادرات جوړوي.

د غوښې او شیدو د لګښت زیاتره برخه چې د هر وکړي لپاره د کال په ترتیب سره 11.5 څخه تر 60 کیلوګرامه اټکل شوي ده له داخلي سرچینو څخه چمتو کیږي.

د پسونو روزنه په لږ او زیاته اندازه په ټول هیواد کې شتون لري. په داسې حال کې چې د قره قل پسونه د هیواد په شمال کې له هراته تر بدخشان پورې پراختیا کړي ده. د وزو روزنه هم په ټول هیواد کې دود لري.

د نورو حیواناتو روزنه؛ لکه غوا، خر، اس او اوښ هم په ټولو ولایتونو کې دود لري.

شپږم لوست (د مالداری لارې چارې)

مالداری په افغانستان کې په دوو لارو سره ترسره کیږي:

الف. پخوانی یا دودیزه طریقه: مالداری په سنتي ډول له پخوا وختونو څخه زمږ په هیواد کې دود لري. کوچي مالداران د زیاتو ستونزو په ګالو سره د کال په اوږدو کې د څارویو د څړولو لپاره له یو ځای څخه بل ځای ته حرکت کوي او د هیواد په ټولو ولایتونو کې د خپلو څارویو په ساتنه لګیا دي.

ب. پرمختللي او عصري طریقه

په عصري او فني ډول د حیواناتو روزنه او اکثر په 1312ه.ش کال کې پیل شوې ده.

په 1315 ه.ش کال کې د ناروغو څارویو د تداوی لپاره په کابل کې لومړي کلینیک جوړ شو. موخه یې د ټولنې حیواناتو په ځانګړې ډول د عسکري اسونو او نورو څارویو تداوي وه.

په 1323ه.ش کال کې د قطغن او بدخشان په ولایتونو کې د غواګانو یوه وژونکې ناروغي خپره شوه چې ډیر زیات زیان یې اړولی و چې له هغې وروسته د وترنرۍ خدمتونو په برخه کې زیات پرمختګ رامنځته شو.

د 1345 ه.ش کال تره اخره 9 کلینیکونه په ټولو ولایتونو کې جوړ شول او په 1353ه.ش کال کې یې شمیر 17 کلینیکونو ته ورسید.

پام وکړئ!

د یو اصلاح شوي نسل شیدو غوا په 24 ساعتونو کې 35 کیلو ګرامه یا لیتره شیدې ورکوي. په داسې حال کې چې وطني غوا د 7 څخه تر8 لیتره شیدې ورکوي.

د اصلاح شوي نسل د غوښو غوا د حلالولو په وخت کې 1200 کیلوګرامه غوښه لري په داسې حال کې چې وطني غوښي غوا د حلالولو په وخت کې د 150 څخه تر 200 کیلو ګرامو څخه زیات غوښه نه لري.

اووم لوست (وحشي ژوي)

په افغانستان کې 27 ډوله ماران پیژندل شوي دي، چې د هغه جملې څخه 5 یې افعي او دوه ډوله یې کبرا دي.

په افغانستان کې 120 ډوله الوتونکي حیوانات ثبت شوي دي؛ خو بدبختانه زیاتره یې اوس د له منځه تللو یا تښتې په حال کې دي مهم یې په لاندې ډول دي:

پرانګ د پامیر په لوړو درو او بالا مرغاب حوزه کې لیدل کیږي.

سورلنډیان چې د هیواد په مرکزي سیمو کې ژوند کوي .

لیوان، سرې ګیدړې، غرنی او کوچنی وحشي- پیشوګانې چې تقریباً د هیواد په ټولو سیمو کې لیدل کیږي.

یړه په غرنی او ځنګلي سیمو کې ژوند کوي.

همدارنګه مارکوپولو پسونه، هوسی، مارخور، غرځه هم د هیواد په ټولو سیمو کې پیدا کیږي.

یوه سروي چې زمږ په هیواد کې ترسره شوي ده 300 ډوله الوتونکي د هیواد په بیلابیلو سیمو کې پیژندل شوي دي چې د هغه له جملې څخه کولای شو د زاڼه، ډنګ، مارغه، طوطي، کارغه، بانبه، توتکي، چنچنې، او پتکې یادونه وکړو.

پام وکړئ!

ټول حیوانات په یو ډول ګټور دي مثلً ګیدړې او لیوه له پوستکي څخه پوستین جوړیږي، د الوتونکو غوښه خوړه ده او حتی د الوتونکو له ښکو څخه هم څینې شیان جوړیږي.

اتم لوست (د کرنې او مالداری څرنګوالي)

24فیصده کورنۍ هره ورځ ډیر کم غذایي لګښت لري او د افغانستان 30 فیصده نفوس له خپلې اړتیا څخه کم غذایی مواد مصرف کوي.

تقریبا 40 فیصده له دریو کلونو څخه کم ماشومان د وزن په کموالي یا سوتغذي اخته دي. 6.7 فیصده د سوتغذي له امله له منځه ځي. په عمومي ډول د هیواد 44فیصده نفوس ښه ښه غذایي ستونزې لري.

هغه عوامل چې د هیواد د کرنې او مالداری د فعالیتونو پر پراختیا، وده او محدودیت تاثیر لري عبارت دي له:

طبیعي عوامل: لکه: اقلیم، د ځمکې جوړښت، د خاورې ډول او نور.

بشري عوامل: د کار قوه، تخنیکي سویه، د بزګرانو فني پوهه او نور.

اقتصادي عوامل: سرمایه، د خرڅلاو بازار، د حمل او نقل وسایل او نور.

سیاسي عوامل یعني د حکومت سیاست.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په عمومي ډول ويلای شو چې د افغانستان کرنه او مالداری تر ډيره په دوديزه ډول ترسره کيږي او د بزګران مهم هدف د کورنی د اړتياو پوره کول دي.

دوهم څپرکی (انرژي او کانونه)

نهم لوست (انرژي او د هغه ارزښت)

انرژي، له هغه نيرو يا قوې څخه عبارت ده چې د هغه په اثر په صنايع، ماشينونو او صنعتي توليداتو کې حرکت راځي.

د انرژی مهمې سرچينې عبارت دي له : د ډبرو سکاره، نفت، ګاز، اوبه، باد، لمر او نور.

د ډبرو سکاره په افغانستان کې د انرژی د تولید له مهمو سرچينو څخه ده په ځانګړې ډول په اوس وخت کې چې د انرژي نورې سرچينې ګرانې دي.

نو په دې اساس د ډبرو سکاره د انرژی د تولید د مادې په حيث ارزانه او د اهميت وړ ده.

هغه ځيرنې چې د نفتو په اړه په 1315ه.ش کال کې د افغاني او بهرني جيولوجيستانو له خوا ترسره شوې دي معلوميږي چې د نفتو زيرمې د افغانستان په شمال، جنوب او جنوب لويديځو سيمو کې شتون لري.

لسم لوست(د انرژی د نوي کيدو او نه نوي کيدو وړ سرچينې)

په طبيعت کې د انرژی دوه ډوله منابع شتون لري چې عبارت دي له :

د انرژی نوي کيدونکي سرچينې او نه نوي کيدونکي سرچينې.

د انرژي د نوي کيدو وړ سرچينې: هغه سرچينې دي چې په طبيعت کې په پراخه کچه شتون لري او انسان له هغه څخه په دوامداره ډول استفاده کوي او د دوهم ځل لپاره د لاس رسي امکان لري، لکه اوبه، باد او لمر چې په دايمي ډول په طبيعت کې شتون لري، نه ختميدونکي دي او د نوي کيدو وړ دي.

د انرژی د نه نوي کيدو وړ سرچينې: هغه سرچينې دي چې وروسته له يوې مودې د هغه زيرمې ختميږي؛ لکه: د ډبرو سکاره، نفت او ګاز چې انسان نه شي کولای په دوامداره ډول له هغه څخه استفاده وکړي.

د اوبو برښنا د اوبو له قوې څخه توليد کيږي او نظر ډبروسکارو ، نفت او ګاز ته اقتصادي ده. د اوبو بريښنا توليد نسبتاً ارزان تمامږي.

برق درونته يوازې د جلال آباد د خلکو 30 سلنه ستونزې هواروي، او پاتې خلک په 45 څخه تر 50 درجې تودوخې کې له بريښنا بې برخې دي.

پام وکړئ!

فوسيلي انرژي: له هغه انرژی څخه عبارت ده چې د نفت، ګاز او ډبروسکرو له سوځيدو څخه بريښنا ترلاسه کيږي. او د نه نوي کيدو وړ انرژي له جملې څخه ده.

يوولسم لوست(بريښنا)

زمور په هيواد کې له بريښنا څخه استفاده د شلمې پيړۍ په دوهم نيمايي کې شروع شوې ده او په ټولنه او صنايعو کې يې لوی بدلون رامنځته کړي دي.

د لومړي ځل لپاره د امير عبدالرحمن خان د واکمنی په دوره کې يوه کوچنی د بريښنا دستګاه په کار پيل وکړ، چې يو کوچنی ډاينمو و او د څلويښتو چراغونو د روښانه کولو ظرفيت يې درلودل په 1272ه.ش کال کې د کابل په ښار کې په کار پيل وکړ او د ارګ په روښانه کولو کې له هغه څخه استفاده وشوه.

له هغې وروسته د 1275 څخه تر 1277 ه.ش کلونو ترمنځ څو کوچنی دستګاوې د بخار له انرژي څخه يو پر بل پسې په کار واچول شوې.په 1290ه.ش کال کې په ننګرهار کې د بريښنا يو ماشين له بخار څخه د 19 کيلو واټ بريښنا په ظرفيت په کار پيل وکړ. يوه بله کوچنی د بريښنا د توليد دستګاه له بخار څخه د 15 کيلو واټ بريښنا په ظرفيت په پغمان کې په کار واچول شوه.

د بريښنا بندونه چې په هيوادکې جوړ شوي دي له څلويښتو کلونو راهيسې يې هيڅ پرمختګ او وده نه ده کړې نو په دې اساس زمور د هيواد ضرورت يې نه دی پوره کړي.

د بريښنا د ماستر پلان مطابق، افغانستان د 24000ميګاواټه بريښنا ظرفيت لري چې له دې جملې څخه يې 23000 ميګاواټ د اوبو بريښنا، او پاتې حرارتی بريښنا ده چې د هغه توليد له ګاز، ډبروسکرو او نفتو څخه ترلاسه کيږي.

په 1976م کال کې په منځنی ډول په نړۍ کې په يو ساعت کې 1714 کيلو واټ بريښنا ترلاسه کيده او په همدې توګه په افغانستان کې بيا 41 کيلو واټ چې د نړۍ دمنځنۍ اندازې څخه 42 ځلي کمه ده.

دوولسم لوست (د اوبو بريښنا)

1. د جبل السراج د برښنا فابريکه

د جبل السراج د بريښنا فابريکه د سالنګ په سيند جوړه شوې ده له توربين سره يوځای يې لوړوالی 37 مترو ته رسېږي او هغه اوبه چې له توربين څخه تيريږي په ثانيه کې 10 متر مکعب محاسبه شوې دي.

د جبل سراج د بريښنا بند جوړولو چارې په 1294ه.ش کال کې شروع او په 1299 کال کې پای ته ورسيدې.

دغه فابريکه دري توربينونه لري او مجموعي ظرفيت يې 1500 کيلو واټ دی.

د جبل السراج د بريښنا له بند څخه د جبل السراج او چاريکار ښارونو په روښانه کولو او د ګلبهار فابريکې په کار اچولو کې استفاده کيږي.

2. وردګو د چک د برښنا فابريکه

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د چک د بریښنا فابریکې د جوړولو چارې د 1316ه.ش کال د ثور په میاشت کې شروع او د 15 میلیونه افغانۍ په لګښت په 1319ه.ش کال کې پای ته ورسیدې.

د چک د بریښنا بند چې د چک سیند د اوبو د زیرمه کولو لپا ه جوړ شوی دی 300 متره اوږدوالی او 13 متره سور لري او په لاندینۍ برخه کې 9متره لوړوالی لري او د 27متره په لوړوالی سره یې یو شرشره جوړه کړې ده.

د یو بل نهر په واسطه چې 4000مترو په اوږدوالي سره 17متر مکعب پر ثانیه د دریو توربینونو سره فعاله ده.

د دغه بند مجموعي ظرفیت 3300کیلوواټ ته رسیږي او د هغه بریښنا د 55 کیلومترو په واټن د یو لین 55 پایو سره کابل ته انتقال شوی دی.

3. د پلخمري د برښنا فابریکه

دغه فابریکه د کندز په سیند جوړه شوې ده او د جوړولو چارې یې په 1320 ه.ش کال کې پیل شوې دي او نهایي ظرفیت یې په ساعت کې 4800 کیلو واټ دي.

په 1336ه.ش کال کې د پخواني شوروي اتحاد د متخصصینو لخوا دوه نورې دویم او دریم د پلخمري د برښنا دستګاوې چې په ساعت کې 9000کیلو واټ د بریښنا ظرفیت درلود سروې شوې وې. چې په 1341ه.ش کال کې یې په کار پیل وکړ.

د پلخمري فابریکې له تولید شوې برښنا څخه د بغلان د نساجي فابریکې، سیلو، د موټرو د ترمیم فابریکې او د ښار د روښانه کولو لپاره استفاده کیږي.

4. د کجکي د برښنا فابریکه

د برښنا د تولید له لویو فابریکو څخه ده چې د هلمند ولایت په کجکي ولسوالي کې موقعیت لري او د کندهار ښار په 150کیلوتري شمال لویدیځ کې موقعیت لري.

په دغه سیمه کې د ترټولو لویې د بریښنا فابریکې جوړول په نظر کې نیول شوي و چې د برښنا د تولد ظرفیت یې په ساعت کې 120000کیلو واټ ته رسیږي.

د جوړولو چارې یې په 1330ه.ش کال کې پیل او په 1332 ه.ش کال کې پای ته ورسېدې.

د کجکي د برښنا اوسنۍ فابریکه د 33000 کیلو واټه برښنا د تولید ظرفیت لري.

چې له دغه برښنا څخه د کندهار، هلمند، لشکرګاه، ګرشک، سنګین، کجکي، موسی قلعه د ښارونو په روښانه کولو او صنعتي تاسیساتو کې استفاده کیږي.

5. د سروبي د بریښنا د تولید فابریکه

د سروبي د بریښنا فابریکه د کابل او پنجشېر سیندونو له یو ځای کیدو څخه 15 کیلو متره په واټن د سروبي په سیمه کې او د سمندر له سطحې څخه 1596 متره لوړوالی لري

دغه فابریکه دوه توربینونه لري چې هر یو یې په ساعت کې 11000 کیلو واټه (مجموعي 22000کیلو واټ) برښنا د تولید ظرفیت لري.

ساختماني چارې یې په 1330ه.ش کال کې پیل او په 1336ه.ش کال کې پای ته ورسیدې.

د سروبي برښنا دستګاه دوي بېګنې لري، یو دا چې د مرکز(کابل) او صنعتي مرکزونو ته نیږدې ده، بل دا چې د کابل سیند مسیر د ابریشم تنګی کې واقع دي چې زیات اوږدوالی او ځوړونه لري.

په اوسنۍ وخت کې د کابل سیند دبت د سروبي په سیمه کې د پسرلي په موسم کې په ثانیه کې 74 متر مکعب دي.

سربیره پر دې دغه سیند د کال په اوو میاشتو کې په کافی اندازه اوبه لري، او پنځه نورې میاشتي یعني له میزان څخه تر حوت میاشتې پورې د کابل سیند د اوبو اندازه کمیږي.

د سروبي د بریښنا فابریکې مجموعي ظرفیت 22000کیلوواټ پورې محدود شوی دی.

د سروبي د بریښنا تولید فابریکې د توربینونو د بیا کارول چارې له یوې کمپنۍ (زیمنس جرمنی) سره قرارداد شوې دي،چې د جوړولو چارې یې بشپړې او ګټه اخیستنې ته وسپارل شي.

د سروبي له تولید شوي برښنا څخه د کابل ښار روښانه کولو، ګلبهار فابریکې او د کابل ښار نورو صنعتي مؤسساتو کې استفاده کیږي.

6. د ماهیپر د برښنا فابریکه

د ماهیپر د برښنا فابریکه د کابل ښار څنګ 40 کیلو متری کې موقعیت لري. دغه دستګاه دري توربینونه لري چې د هر توربین د تولید ظرفیت 22000 کیلو واټ (مجموعي 66000 کیلو واټ) دي.

د دغه دستګاه ساختماني چارې په 1331ه.ش کال کې پیل او 1345 ه.ش کال کې پای ته ورسېدې.

د برښنا دغه دستګاه، یو ابګردان هم لري، د اوړي په موسم کې چې کله اوبو اندازه کمه شي. نو دغه دستګاه پرچاو شي خو د ژمي او پسرلي په موسم کې دوباره جریان پیدا کوي.

د دغه دستګاه د بیا جوړولو قرارداد هم د جرمني زیمنس کمپنۍ سره شوی دی .تولید شوي برښنا اوس محال د کابل ښار په روښان کولو کې استفاده کیږي.

7. د درونټي د برښنا فابریکه

د دغه دستګاه ساختماني چارې د ننګرهار ولایت د درونټي په سیمه کې په1339ه.ش کال کې پیل او په 1343 ه.ش کال کې پای ته ورسېدې او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو.

دغه دستګاه دري توربینونه لري چې مجموعي ظرفیت یې په ساعت کې 12000 کیلو واټ دي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

له تولید شوي برښنا څخه يې جلال اباد 10 زره کورنۍ او يو شمير مؤسسات استفاده کوي.

په اوس وخت کې چې د جلال اباد بنار نفوس د زياتېدو په حال کې دي دغه برښنا يوازې د 30 فيصده د خلکو او صنايعو ستونزې پوره کولای شي.

اما نور خلک په گرمه هوا (50-54) سانتي گراد د برښنا له نعمت څخه بې برخې دي.

د دغه دستگاه له تولید شوي برښنا څخه د جلال اباد بنار په روښانه کولو، صنعتي موسيسو او هم د 32500 جريبه ځمکې ته د اوبو پمپ کولو لپاره استفاده کيږي.

د دغه دستگاه د بيا جوړولو چارې د امريکا متحده ايالاتو د انکشافي اداري له خوا به ترسره چې ځيرنې يې روانې دي.

8. د نغلو د برښنا فابريکه

د نغلو د برښنا د توليد فابريکه د افغانستان ترټولو لويه د برښنا فابريکه بلل کېږي چې د کابل بنار څنيځ 70 کيلومتري کې موقعيت لري.

دغه دستگاه څلور توربينونه لري او په ساعت کې 100000 کيلو واټه برښنا توليدوي.

د دغه دستگاه د جوړولو ساختماني چارې په 1339ه.ش کال کې پيل او په 1346 ه.ش کال کې پای ته ورسېدې او گټې اخيستنې ته وړاندې شوه.

د دغه دستگاه سرچينه د کابل او پنجشېر سيندونه دي، د څو کلونو په تيريدو سره د نغلو دستگاه وسايل استهلاک شوي دي او د بيا جوړولو چارې يې له يوې روسي کمپنۍ سره قرارداد شوې دي.

9. د ازبکستان د برښنا شبکه

د ازبکستان د برښنا شبکې ساختماني چارې په 1386ه.ش کال کې پيل او د برښنا لينونه يې کابل او ځينو نورو ولايتونو ته وغځول شول چې دهغه فعاليت په لاندې ډول واضح کيږي:

الف: 1- له ازبکستان څخه تر حيرتان پورې د 53 کيلومتره په اوږدوالي د 220 کيلوواټ برښنا مزي غځول او د برښنا انتقال.

2- له نايب اباد څخه تر مزارشريف د 220کيلوواټ بل سرکټ مزي غځول د 23 کيلو متره په اوږدوالي سره.

3 - د 220کيلو واټ برښنا بل سرکټ مزي له نايب اباد څخه تر پلخمري پورې غځول د 164 کيلومتره په واټ سره. او په 1387 ه.ش کال کې پای ته ورسېد چې د 300ميګاواټ بريښنا انرژی لري.

د ازبکستان د برښنا شبکې مجموعي ظرفيت په يوه ساعت کې يو ميليون کيلوواته دی.

ب) د 220 کيلو واټ برښنا بل سرکټ له پلخمري څخه تر کابل د 202کيلو مترو په واټن د بريښنا مزي غځول شوي دي.

د چمتلي په دښته کې 320ميګا واټ امپير په ظرفيت د 220/110 کيلو واټ سب سټېشن وداني جوړېدل. له حيرتان څخه تر کابله 1383 اوسپنيزې پايې استفاده شوي دي.

په سالنگونو کې ځينې پايې د سمندر له سطحې څخه 3800 متره په لوړوالی سره نصب شوي دي.

پام وکړئ!

د اوبو برښنا يوه کوچنی بند پروژه د استالف په ولسوالی کې په ساعت کې 300کيلو واټ برښنا د کوريا هيواد په مرسته.

په پنجشير کې د عنابه او تاواخ د برښنا بند پروژه په ساعت کې د 50کيلو واټ په ظرفيت د اسيا د پراختيايي بانک په مرسته.

د بامیان ولايت د اوبو برښنا بند پروژه په ساعت کې د 50 کيلو واټ په ظرفيت.

ديارلسم لوست (حرارتي برښنا)

حرارتی برښنا چې د نفت، طبيعي گاز او ډبرو سکرو له سوځولو څخه ترلاسه کېږي په افغانستان کې د بريښنا د توليد نېسه سرچينه ده، له آبي برښنا وروسته په دوهم درجه استفاده کيږي.

د ډيزلي برښنا لومړنی فابريکه په 1351ه.ش کال کې په کابل کې جوړه شوه. وروسته يو بله کوچنی ډيزلي فابريکه د 300کيلو واټ په ظرفيت سره په کندهار کې د وړيو اوبدلو فابريکې لپاره په کار واچول شوه.

په 1331ه.ش کال کې د ډيزلی برښنا د توليد دوه ماشينونه چې هر يو 500کيلو واټ ظرفيت درلود په هرات کې په کار واچول شول.

د اوبو او انرژی د وزارت د راپور له مخې په 1385ه.ش کال کې د افغانستان د حرارتي برښنا د توليد مجموعي ظرفيت په ساعت کې 42.7 زره کيلو واټ ته رسيده.چې د هيواد د تولي برښنا د توليد 12.5 فيصده جوړوي.

په اوسنی وخت کې د ډيزلي برښنا کوچنی دستگاوې په ښارونو او ولايتونو کې د برښنا د توليد مهمې وسيلې دي؛ لکه: مزارشريف، شبرغان، تخار، هرات، غزنی او کابل چې د سون توکو يې گاز او يا تيل دي.

1. د مزارشريف د حرارتي برښنا دستگاه

د حرارتي برښنا تر ټولو لويه دستگاه ده چې د مزارشريف ښار په 20کيلو متري لويديځ کې موقعيت لري او په هغه کې له طبيعي گاز څخه چې له جوزجان څخه په پايپ لاين کې انتقاليږي استفاده کيږي.

دغه دستگاه په 1343ه.ش کال کې د يو روسي انستيتيوت لخوا د هغه وخت د کانونو او صنايعو وزارت په غوښتنه جوړه شوې ده.

د دغه دستگاه د توليد ظرفيت په ساعت کې 36 زره کيلو واټ ده چې دري توربينونه لري او له طبيعي گاز څخه استفاده کوي او د توليد ظرفيت يې تر 48زره کيلوواټ زياتوالي پورې هم امکان لري.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د دغه دستګاه د تولیداتو له جملې څخه، 24 زره کیلوواټ د کیمیاوي کود فابریکې لپاره او 12000 کیلوواټ د مزارشریف او بلخ د ښارونو د روښانه کولو لپاره استفاده کیږي.

2. د هرات او کندهار د حرارتي برښنا دستګاوې

د کندهار حرارتي برښنا دستګاه د کندهار په ښار کې د 3000 کیلو واټ په ظرفیت پیل کړي و چې اوس محال د دغه دستګاه د تولد ظرفیت په ساعت کې 12000 کیلو واټ ته رسیږي او په راتلونکی کې به د هغه ظرفیت نور هم زیات شي.

د هرات ښار حرارتي برښنا د تولید ظرفیت په ساعت کې 12000 کیلو واټ دی او سربېره پر ډیزل په دغه دستګاه کې له ډبروسکرو څخه هم استفاده کیږي.

3. د کابل حرارتي برښنا دستګاه

ددغه دستګاه د کابل ښار په شمال د خیر خانې کوتل د سرک سره څیرمه موقعیت لري. د دغه دستګاه ساختماني چارې د کابل حوزې د اوبو د کموالي له کبله په 1355ه.ش کال کې شروع او د 1357ه.ش کال په لومړیو کې پای ته ورسېدې.

دغه دستګاه د نړیوال بانک په مالي همکاري د 45 زره کیلو واټ په ظرفیت سره تاسیس شوې ده او د کابل ښار موجوده 40فیصده برښنا تامین کوي.

دغه دستګاه دوه توربینونه لري او د سون مواد یې ډیزل دي. په اوسنۍ وخت کې د ازبکستان څخه د بریښنا په واردولو دغه دستګاه پرچاو ده.

د حرارتي برښنا بله دستګاه د کابل ښار ختیځ هودخیل په سیمه موقعیت لري، ظرفیت یې 43.6 کیلو واټ و خو بدبختانه د جنګونو په اثر تخریب شوي ده. د دغه دستګاه د ترمیم چارې د سویزلنډ هیواد د Alston له کمپنۍ سره قرارداد شوی دی،چې د دریم او څلورم توربین د ترمیم وړاندینه شوي ده.

د شبرغان توربین د ګاز تولید پروژه د یادولو وړ ده چې د دغه پروژې قرارداد د امریکا متحده ایالاتو د انکشافي اداري په مالي مرسته د 100څخه تر 150 میګاواټ په ظرفیت په راتلونکي کې جوړه شي.

ځوارلسم لوست (په هیواد کې ډبروسکاره او د هغه کانونه)

د لومړۍ ځل لپاره د افغانستان د ډبرو سکرو د زیرمو څیړنه د هندي جیولوجستانو لخوا په کهمرد، اشپشته، درې صوف، تاله او برفک کې ترسره شوه.

په داسې حال کې چې له دغو زېرمو څخه ګټه اخیستنه دوهم نړیوال جنګ وروسته زیاته او کلنی تولیدات یې 120 څخه تر 160 زرو ټنو پورې لوړ شوي.

د ډبروسکرو زیرمې د هېواد په شمال او لویدیځ کې یوه پراخ سیمه چاپیره کړې ده چې له تخار څخه تر هرات پورې پراخوالي لري او تقریباً 35 زره کیلومتره مربع ساحه یې نیولې ده.

د افغانستان د ډبروسکرو اندازه چې په دره صوف، کرکر، آشپشته، بنګی، کرخ او د هرات په سبزک کې تثبیت شوي ده 200 میلیونه ټنه تخمین شوې ده.

د افغانستان د ډیرو سکرو تولیدات اکثره د کرکر او اشپشته له کانونو څخه دي چې 90 فیصده جوړوي.

د تولید شوو ډبرو سکرو له جملې څخه 77 فیصده په صنعتي دستګاو کې د سون لپاره او پاتې نور یې د کورونو د تودولو لپاره استفاده کیږي.

الف. دره صوف ډبروسکارو کان

د دره صوف ډبروسکاره د ځانګړتیاوې او مخینې له پلوه نظر د افغانستان د نورو سیمو ډبروسکرو ته لومړی مقام لري او په سمنګان کې د ډبرو سکرو ترټولو لویه زیرمه شمېرل کېږي او زېرمې یې 74 میلیون وټنو ته رسیږي.

د دغه سیمې د ډبرو سکاره عالي جنسیت ،زیاته حرارتي انرژی او د کاربن فیصدي یې زیاته ده.

د دغه کان ډبروسکاره یوه اندازه کابل او پاتې یې بلخ ولایت ته لیږدول کیږي.

ب. اشپشته د ډبروسکرو کانونه

دغه کان د بغلان په ولایت کې د پلخمري صنعتي ښار جنوب 110 کیلو متری کې د سیغان په دره کې موقعیت لري. له دواب او میخ زرین څخه 20کیلومتره واټن لري.

د دغه کان ډبروسکاره د کمیت او کیفیت له پلوه د ارزښت وړ نه دي، ځکه د طبیعي جوړښت له پلوه پیچلي او استخراج یې ستونزمن دی.

د ډبروسکرو زیرمې یې 500 زره ټنه اټکل شوې دي او له ډبروسکرو څخه یې په دولتی اداره، روغتونو او کابل ښار کې استفاده کیږي.

ج. د کرکر د ډبروسکرو کان

د پلخمري ښار په جنوب ختیځ کې د کرکر په غره کې موقعیت لري.

د ډبروسکرو اندازه یې چې طبقې یې له دو څخه تر دریو پورې پریږوالی لري 15میلیونه ټنو ته رسیږي.

د ډبروسکرو جنسیت یې ښه او د استفادې وړ دي.

دغه کان په 1385ه.ش کال کې د غوري سمنټو فابریکې سره یوځای یو خصوصي سکتور ته وسپارل شو، تر څو د هغه له ډبروسکرو څخه د سمنټو په تولید کې استفاده وشي.

له دغه سیمې څخه د 1387 ه.ش کال کې 3800ټنو څخه زیات سکاره ایستل شوي و.

د دغه کان د ډبرو سکاره د جغرافیایي موقعیت له پلوه چې د پلخمري د صنعتي مرکزونو او هم د کابل - کندز لویې لارې تر

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

څنګ موقعیت لري د ارزښت وړ دي. او د ورځنی تولیداتو اندازه یې له 300 څخه تر 400 ټنو پورې رسیږي.

د دغه کان له ډبروسکرو څخه د پلخمري د سمنټو فابریکې، داشونو او کابل بښار کې استفاده کیږي.

د. د هرات د سبزک مسجد چوبي د ډبروسکرو کان

دغه کان د هرات بښار په شمال خټیځ 110 کیلومتری د سبزک کوتل ترڅنګ، د کرخ سیند له پورتنۍ سیمې سره موقعیت لري، ساختماني او اکتشافي چارې یې د چک متخصیصینو له خوا ترسره شوې دي. زیرمې یې 9.5 میلیونه ټنو ته رسیږي.

دغه کان په 1386 ه.ش کال کې یو خصوصي سکتور ته وسپارل شو، کلنی تولید یې 40 زره ټنه او کلنی عاید یې 20 میلیونه افغانی دي.

د دغه کان د ډبروسکرو جنسیت ښه دی او زیاته حرارتي انرژی لري. له ډبروسکرو څخه یې د هرات په ښاروالی او فرقه کې کار اخیستل کیږي.

اوس مهال د افغانستان د کانونو وزارت په پاملرنې سره (کمپنی برادران خوشک) په مرستې سره د هرات سبزک مسجد چوبي کان له ډبروسکرو څخه اعظمي استفاده کیږي او د لسو کلونو لپاره قرارداد شوی دی.

پنځلسم لوست (نفت او ګاز)

الف. نفت

نفت، د سوځېدو وړ مایع ده چې د ځمکې په ژوروالي کې تر 1800 مترو پیداکیږي او کله کله د ځمکې د داخلي تودوخې او فشار په اثر د ځمکې سطحې ته هم راوځي.

له نن څخه میلیونونه کال وړاندې په یوه سیمه کې د ژوندیو موجوداتو او عضوي مواد له پاتې شونو څخه چې د وخت په تیریدو سره د رسوبی طبقو لاندې پاتې شي او د فشار او تودوخې په اثر یې شکل بدلون مومي او په نفت بدلیږي.

خام نفت تور رنګ لري؛ خو وروسته له تصفیې څخه د بنفش رنګ اختیاروي او په اسانی سوځي.

د نفتو زیرمې زمور د هیواد په بیلابیلو سیمو کې لکه شمال، جنوب او جنوب لویدیځ کې شتون لري چې سیمې یې عبارت دي له: قلعه نو، هرات، شبرغان، میمنه، کندز، تالقان او مزارشریف او نور او همدارنګه د هلمند په وادي او کټواز کې یې هم د زیرمو وړاندوینه شوي ده.

د هغه له فرعي مشتقاتو څخه د پلاستیک، عطر، صابون، رنګ او نورو په جوړولو او حتی د بعضو خوراکي موادو لکه د مارګین غوړیو کې استفاده کیږي.

ب. ګاز

د ګاز تشکیل هم د نفتو په شان د ژوندیو موجوداتو له پاتې شونو د عضوي موادو د ترسب په پایله کې د فشار، تودوخې په اثر او د هوا د نشتون له امله په ګاز بدلون کوي.

1. د خواجه ګوګردک د ګازو کان

د شبرغان ولایت په 23 کیلومتري شمال لویدیځ کې موقعیت لري. د کیندل شوو څاګانو مجموعي شمیر یې 52 حلقو ته رسیږي، د زیرمو مجموعي اندازه یې 46.8 میلیارد متر مکعب ته رسیږي.

تر اوسه 44 میلیارد متر مکعب ګاز یې ایستل شوی دی. همدارنګه 10 میلیارد متر مکعب ترش (سلفردار) ګاز هم په دغه سیمه کې تثبیت شوي دي.

2. د یتیم تاق د ګازو کان

دغه کان د شبرغان ولایت په خټیځ 18 کیلومتري کې موقعیت لري. تثبیت شوي زیرمې یې 20.8 میلیارد متر مکعب دي.

په 1341 ه.ش کال کې د دغه کان په څلورم نمبر څاه کې اور ولګېد چې د دریو کلونو په موده کې په میلیاردونو متر مکعب ګاز وسوځیده او ضایع شو.

3. جرقدوق د ګازو کان

دغه کان د شبرغان بښار په 15 کیلو متری جنوب لویدیځ کې موقعیت لري او د 33 په شمیر څاګانې په هغه کې کیندل شوي دي چې منځنی ژوروالی یې 2200 مترو ته رسیږي.

د دغه کان ګاز تریو دی د زیرمو مجموعي اندازه یې 26 میلیارد متر مکعب ته رسیږي، چې تر اوسه 15.362 میلیارد متر مکعب تری ایستل شوي دي.

4. خواجه بولان د ګازو کان

د شبرغان په خټیځ 30 کیلو متری کې موقعیت لري د برمه کولو چارې یې 1342 ه.ش کال کې پیل، ګاز یې تریو او د 2.5 میلیارد متر مکعب په اندازه د ګاز زیرمې لري.

په پورتنیی یاد شوو سیمو کې د ګاز مجموعي زیرمې 120 میلیارد متر مکعب تثبیت شوي دي .چې د هغه له جملې څخه 40 فیصده یې خور او پاتې یې سلفر لرونکی دی.

د پخوانۍ شوروی اتحاد تر سرحد پورې د ګاز صادرات د پایپ لین په واسطه چې 32 انچو قطر لري او د 97.5 کیلومتره په اوږدوالی غزیدلی دی. همدارنګه یو بل پایپ لین د شبرغان له بښار څخه د مزارشریف تر کود او برق فابریکې پورې د 12 انچ قطر سره د 55 کیلو مترو په واټن سره غزېدلې دي، چې په یو کال کې د 500 میلیون متر مکعب د ګاز د انتقال ظرفیت لري.

مزارشریف ته د ګاز لیږد د مزارشریف د کود او برق فابریکې پکار اچولو په موخه چې هر کال 105 زره ټنه د یوریا کود تولید کوي او همدارنګه د مزارشریف د برق فابریکې لپاره چې په ساعت کې 36 زره کیلو واټ تولید ظرفیت لري استفاده کیږي.

د یادولو وړ ده چې 1354 ه.ش کال کې په افغانستان کې درې میلیارده متر مکعب ګاز تولید شوي و چې د هغه له جملې څخه 2850 میلیونه متر مکعب خارج ته صادر شوي او پاتې 150 میلیونه متر مکعب د هیواد په داخل کې مصرف شوی دی .

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په بعضي کلونو کې د ګاز د صادراتو ترلاسه شوي عواید د هیواد د مجموعي صادراتو 40 فیصده جوړوي چې د افغانستان د تادیاتو د بیلانس په برخه د ارزښت وړ ګټل کېږي.

همدارنګه په پلان کې ده ،چې26 میلیارده متر مکعب سلفر لرونکي ګاز څخه د استفادې په موخه د جرقدوق په سیمه کې د سلفر د جلا کولو پروژه د تکمیل شوي ده چې د استفادې وړ به وګرځي.

شپارسم لوست

الف. هیواد نفت لرونکې حوزې

د افغانستان د نفتو زیرمې د څېړلو او مطالعې چارې په کوچنی پیمانه په 1314 ه.ش کال کې د افغاني او بهرنی جیولوجیستانو له خوا د هیواد په بېلابېلو سیمو کې شروع شوي دي، لکه شمال، لویدیځ، جنوب لویدیځ او جنوبي سیمو کې.

په 1315 ه.ش کال کې د لومړي ځل لپاره یوې امریکایي کمپنۍ د شیل په طبقو کې د نفتو زیرمې د افغانستان په شمال کې وموندې او وروسته نوري زیرمې د ارغنداب او کټواز په وادی د هیواد په لویدیځ او جنوب کې تثبت شوې.

په 1333ه.ش کال کې یو سویډني کمپنی د نفتو د پلټنې چارې د سرپل په ولایت کې پیل کړې او زیاتې لاسته راوړنې یې هم درلودې.

په داسې حال کې چې د 1338ه.ش کال وروسته د یوې توافقنامې له مخې چې دوه کاله مخکې په مسکو کې امضا شوې وه د نفتو د پلټنې چارې په 4600میله مربع ځمکه کې د افغانستان په شمال کې له مزارشریف څخه تر اندخوي پورې د پخوانۍ شوروی اتحاد د متخصصینو په همکاري پیل شوې.

د څېړنو پایلې ښیي چې د هیواد په شمال کې د نفتو د زېرمو پراخه امکانات د تخار له ولایت څخه د ایران تر پولو او په ادامه د هغه په لویدیځ او جنوب کې تر کټواز پورې موجود دي چې البته د قلعه نو، هرات، شبرغان، میمنه، کندز، تالقان او هرات سیمې په برکې نیسي.

د نفتو زیرمې د هلمند په وادي، کټواز او په جنوبي سیمو کې هم پیشبني شوې دي .

د انګوت د نفتو کان: دغه سیمه د سرپل ښار په ختیځ پنځه کیلومتری کې موقعیت لري. او د نفتو طبقې یې په 1100 څخه تر 1200 مترو په پورې لیدل کېږي. د جیولوجیکي زیرمو اندازه یې 7.1 میلیونه ټنه او د ایستلو وړ زېرمو اندازه یې 2.06 میلیونه ټنو ته رسیږي.

اق دریا د نفتو کان: دغه سیمه د سرپل په لس کیلومتري په ختیځ کې موقعیت لري. مجموعي زیرمې یې 12 میلیونه ټنو ته رسیږي او د ثبت او استفادې وړ زیرمې یې له څلور میلیونو ټنو څخه زیات دي.

قشقري د نفتو کان: د سرپل په 12 کیلومتری جنوب ختیځ کې موقعیت لري د جیولوجیکي زیرمو اندازه یې 19.6 میلیونه ټنو ته رسیږي او د ایستلو وړ زیرمې یې 6.381 میلیونه ټنه دي.

زمردساي د نفتو کان: د شبرغان ښار په 60 کیلومتری جنوب لویدیځ کې موقعیت لري د زیرمو اندازه یې 9.19 میلیونه ټنه او د ایستلو وړ زیرمې یې 3.4 میلیونه ټنو ته رسیږي.

په 1351ه.ش کال کې په پلان کې و چې د نفتو یو کوچنی تصفیه خانه د زرو ټنو په ظرفیت سره جوړه شي. کله چې د اق دریا د نفتو اندازه زیاته شوه، نو د دغه تصفیه خانې ظرفیت هم 200 زره ټنو ته لوړ شو.

اوولسم لوست (فلزات)

لومړي فلز چې انسان له دې سره اشنا شو مس او وروسته اوسپنه وه. زمونږ په هیواد کې د فلزاتو زیرمې او سرچینې شتون لري لکه: اوسپنه، مس، سرپ، کروم، جست او قیمتي فلزات، لکه: طلا او نقره.

د حاجیګک د اوسپنې کان

د حاجیګک د اوسپنې کان د بامیان په 45 کیلومتری جنوب ختیځ کې موقعیت لري. د کیفیت او زیرمې د اندازې له مخې په سیمه کې ډیر لوی کان شمیرل کیږي.

د زیرمو اندازه یې 1.8 میلیارد ټنو ته رسیږي، د اوسپنې فیصدی 63.5 فیصده ته رسیږي.

د کانونو وزارت د نویو ارقامو له نظره ثبت شوې زېرمې یې 110 میلیون ټنه او پیشبني شوې زیرمې یې 2070 میلیون ټنه ته رسیږي.

په پام کې ده چې په 1388ه.ش کال کې د ګټې اخیستنې لپاره خصوصي سکتور ته وسپارل شي چې د 5 څخه تر 6 کلونو په موده کې یې ساختماني چارې بشپړ او په کال کې د یو میلیون ټنه په شاوخوا کې فولاد تولید کړي او هم د یو شمیر هیوادوالو لپاره د کار زمینه برابره کړي.

پام وکړئ!

د کندهار د خاکریز د اوسپنې زیرمې چې 8.23 میلیون ټنه اټکل شوې دي.

د هرات د غوریان کان په 1388 ه.ش کال کې له یوې ایرانی کمپنی سره قرارداد شوې دي ترڅو اکتشافي چارې یې ترسره کړي.

د بدخشان د سیاه درې کان چې زیرمې یې اټکلی ډول 40 څخه تر 45 میلیونه ټنه ته رسیږي. او سربیره پردې د پغمان د اوسپنې کان چې زیرمې یې 1.38 میلیونه ټنه ته رسیږي.

د جبل السراج د اوسپنې کان چې زیرمې یې 8 میلیونه ټنه اټکل شوي ده او د اوسپنې فیصدي یې 45 ته رسیږي.

مس: د مسو 12 زیرمې د هیواد په 10 ولایتونو کې شتون لري چې د پروان ، کندهار او فراه ترمنځ یې یوه لویه سیمه نیولې ده.چې د هغه له جملې څخه د کجکی، کندهار او مقر سیمې د یادولو وړ دي.

د مسو طبقو کان په تغر، خورد کابل او ختیځ د چهلستون په غرونو لیدل کیږي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د کابل په دربندکې(د عینک مسو کان څخه د8 تر 9 کیلومترو په اندازه لري) د مسو کانونه د یو خط په شکل پراته دي چې د مسو اندازه یې په هغه کې 0.58 څخه تر 1.55 فیصده ده.

د زابل ولایت کې د مسو کان د کندلان په سیمه کې ثبت شوي دي چې د مسو اندازه یې 0.62 تر 1.2 فیصده ده. مجموعي زیرمې یې 5 څخه تر 8 میلیونه ټنه اټکل شوي دي.

د لوګر د عینک د مسو کان

د کابل ښار په جنوب ختیځ کې موقعیت لري. اټکلي زیرمې یې 4 میلیونه ټنه او د مسو اندازه په دغه کان کې 1.2 څخه تر 1.5 فیصده محاسبه شوي ده.

د عینک په کان کې د مسو اټکل شوو زیرمو اندازه له 6 میلیون ټنو څخه زیاته ده.

د کانونو وزارت د نویو شمیرو له مخې د مسو تثبت شوې زیرمې 11 څخه تر 13 میلیونه ټنه ښیي.

د دغه کان قرارداد له یوې چنایي کمپنۍ سره په 1387 ه.ش کال کې ترسره شوي دي چې د 60 میاشتو په جریان کې ګټه اخیستنې ته چمتو کېږي او په کال کې 200 زره ټنه خالص مس تولیدوي.

د مسو زیرمې د هرات په شیدایی، بادغیس، فراه، هلمند، کابل، غزنی، غوربند، اندراب، بامیان، بغلان او سرپل کې هم د اهمیت وړ دي.

طلا: د طلا زیرمې په افغانستان کې په متفرقه ډول د هندوکش په دواړو خواو کې شتون لري؛ چې دغه پراخه سیمه د فیض اباد له شمال څخه تر کندهار د هیواد په جنوب لویدیځ کې پراختیا موندلې ده. د طلا مهم کانونه د بدخشان په یفتل او د غزني په مقر کې شتون لري، د یفتل په سیمه کې د طلا او کوارتز ځلوړ رګه شتون لري چې د معدنی موادو هر ټن یې له یو څخه تر 85 ګرامه طلا لري.

د طلا نورې زیرمې د کلات په زرکشان کې موقعیت لري چې د طلا اندازه په هر ټن معدني موادو کې له 0.5 څخه تر 11 ګرامو پورې موجود ده.

همدارنګه طلا د کوکچې سیند او د هغه مرستیالان په مسیر کې یوه پراخه سیمه چاپیره کړي ده چې د طلا اندازه یې په هر متر مکعب ریګ کې په منځني ډول 394 ملی ګرامه محاسبه شوي ده.

نقره: د نقرې زیرمې د پنجشیر په سیمه کې (له عمرز تر خاواک)، د هرات سیم کوه، د بی بی ګوهر سیمه او د کندهار په خاکریز کې شتون لري چې پخواني وخت کې له هغې څخه په غیر فنی او ابتدایی ډول استفاده شوي ده، او په دې وروستیو کې له هغې څخه استفاده نه ده شوې.

د سره اوجست کانونه: زمونږ په ګران هیواد افغانستان کې د سرپو او جست کانونه هم شتون لري، چې د هغه له جملې څخه د کندهار د بی بی ګوهر د سرپو او جست کانونه چې زیرمې یې 2110ټنه جست او 5500ټنه سرپ د یادولو وړ دي.

د سرپو اوجست کانونه د هرات په چشت، یعنی د هرات او پنجشیر سیند ترمنځ پراختیا موندلې ده چې د هزاره جات تولک او د غوربند فرنجل هم د یادولو وړ دي

د کروم ډبري کان: د کروم ډبرو د شتون نښې په میدان وردګو، خوست، د لوګر په محمد آغه او کلنګار او په کندهار ولایت کې د یادولو وړ دي.

د کانونو د وزارت د نویو شمیرو له مخې د خوست د کروم ډبرو کلنی ایستل په منځنی ډول 73000 ټنه ښودل شوي دي، چې له یوې کمپنۍ سره د لسو کلونو لپاره په 1386ه.ش کال کې قرارداد شوی دی.

اتلسم لوست (د فلزاتو د کانونو اقتصادي ارزښت)

افغانستان د فلزاتو د زیرمو د درلودلو له پلوه بډایه هیواد دي.

د یو هیواد د صنایعو ستون او اساس د فلزاتو په زیرمو او د اوسپنې په ویلی کولو ولاړ دی .هغه هیوادونه چې د اوسپنې ویلی کولو فابریکه نه لري نو د ماشینونو د اخیستلو لپاره باید زیاته اندازه پیسې ولګوي.

بعضي فلزونه د زنګ ضد خاصیت لري لکه: قلعی، سره او نکل.

له طلا څخه په ګانو او د پولی واحد د پشتوانې په توګه په بانکونو کې استفاده کیږي.

له نقرې څخه د نقرې په مسکوکاتو او ګانو کې استفاده کیږي. له اوسپنې څخه د سامانونو، وسایلو او تخنیکی وسیلو په جوړولو کې استفاده کیږي.

فلزونه لکه: مس، نقره او المونیم د بریښنا او تودوخي د لیږد قدرت لري.

بعضي فلزات له نورو سره د ترکیب کیږي لکه ، د دوو فلزاتو جست او مس له ترکیب څخه برنج منځته راځي چې په برونجي لوښو په جوړښت، سماوار، کاسو او د دروازو په دستګیرونو کې استفاده کیږي.

نولسم لوست د ودانیو د ډبرو کانونه

الف) ګرانیت Granite: دغه ډول ډبره له اورغورځوونکو سره یوځای نه راوځي او له دریو منرالونو څخه جوړه شوې ده لکه فلدوسپار، مایکل او کوارتز چې تر ټولو ښه بېلګه یې د کابل د ده دانا ترځنګ غره کې او د زیاتره غرنیو سیمو لکه سالنګ څخه ترلاسه کیدای شي دغه ډبرې د تراکم او سختوالي له پلوه د ودانیو په زینو، تهدابونو او د سړکونو په فرشي ډبرو کې استفاده کیږي . سربیره پردې د ژوندي ډبرې هم له هغه څخه جوړیږي.

ب) بزالتBasalt: دا هغه پرې کوونکي او د لاوا پاتې شونې ډبرې دي ، چې د اتشفشان په پایله کې د اتشفشاني غرونو په لمنو کې لیدل کیږي. د افغانستان په غرنیو سیمو کې په زیاته

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

اندازه پیداکیږي . د دغه ډبرو مهم منرالونه پیروکسین، فلدسپار، الوین، او بعضي نور فلزات دي. دغه ډبرې د جوي اثراتو په پایله کې په کوچنیو او لویو توټو بدلیږي، د ودانیو په تهدابونوکې استفاده کیږي .

ج) متحوله ډبرې: د سمندري رسوباتو او آهکي ډبرو څخه رامنځته کیږي. آهکي ډبرې د وخت په تیریدو سره د تودوخې او فشار په اثر په مرمرو بدلون کوي، چې د دغه ډبرو زېرمې په هېواد کې په کافي اندازه شتون لري. ریګي او رسوبي ډبرې د وخت په تیریدو سره په کلکو او متروق ډبرو بدلون کوي. چه هغه په ودانیو کې په زیاته کچه استفاده کیږي.

د) د رخام او مرمر ډبره Marble: د آهکي متحوله ډبرو له بیلګې څخه دي چې په افغانستان کې په ښکلا ښکلو ډولونو او رنګونو سره پیدا کیږي.

خالص مرمر سپین رنګ لري. مرمر آهکي ډبره ده چې د فشار او تودوخې په اثر شکل بدلون کوي او د تخنیکي پالش او برش په واسطه په عالي توګه ځلا او ښکلا اختیاروي.

د مرمر له ډبرو څخه د ودانیو او کورونو په کورونو، د چای خوړلو میز، لوښو، د قبر ډبرو او حتي د مجسمې په جوړولو کې استفاده کیږي.

د مرمر ډبره په افغانستان کې په زیاته کچه پیداکیږي ،چې د هغې له جملې څخه کولای شو د ننګرهار د اچین او خوګیانو ولسوالیو، د هرات ولایت چشت، د میدان وردګو ولایت د کوټه عشرو د کانونو یادونه وکړو. د کابل په حوزه کې د بادام باغ، ریشخور، قرغه او ترخیلو د مرمر ډبرو څخه یادونه وکړو.

شلم لوست (قیمتي ډبرې)

قیمتي ډبرې د الماس، لاجورد، لعل، یاقوت او زمرد څخه عبارت دي. چې د هیواد په ښلابښلو سیمو کې شتون لري.

الف. الماس

الماس نسبت نورو قیمتي ډبرو ته لوړه سختي، زیات مقاومت او شفاف رنګ لري. نو له همدې امله د نورو شیانو په تراش او قطع کولو کې استفاده کیږي. اګر چې په افغانستان کې تر اوسه الماس نه دي پیدا شوي؛ خو بیا هم جیولوجیستان په دې باور دي چې د الماسو شتون امکانات په بدخشان، د افغانستان مرکزي سیمې، لوګر او غوربند کې موجود دي.

ب. لاجورد

لاجورد د نیمه قیمتي ډبرو څخه دي چې له ډیرو پخوانیو زمانو راهیسې یعني له 4000 څخه تر 5000 کاله پخوا د بدخشان جرم ولسوالی د حضرت سعید په کلي کې ایستل شوي دي. په داسې حال کې چې تولید یې د 1934م مال وروسته شروع شوی دی.

د افغانستان په شمال ختیځ کې د لاجوردو 27 زېرمې مطالعه شوي دي.

د لاجوردو شتون په ټولو زیرمو کې 1290 ټنو ته رسیږي،چې یوازې د سرسنګ په سیمه کې 141 ټنه لومړی درجه او 65 ټنه په دوهم درجه لاجورد شتون لري.

هغه لاجورد چې د لندن په موزیم کې ساتل کیږي دافغانستان لاجورد دی چې 3800 کاله پخوا ایستل شوي دي.

د افغانستان د لاجوردو تولید هر کال د 5 څخه تر 10 ټنو پورې رسیږي چې زیاتره اندازه یې ښلا ښلو هیوادونو ته صادریږي. او ډیر کم مقدار یې د لاسي صنایعو په مرکزونو کې استفاده کیږي.

د افغانستان لاجورد د جنسیت، د رنګونو ډولونه، تیاره آبي، روښانه آبي، تیز آبي، روښان شین رنګ، نرمی او شفافیت له پلوه نظر د نورو هیوادونو لاجوردو ته ځانګړي امتیاز لري. لاجورد د ډبرو پیژندنې او تجارت له پلوه پنځه ډوله دي، لومړي درجه، دوهم درجه، دریمه درجه، څلورمه درجه او پنځمه تقسیم شوی دي.

لاجورد تخنیکي استعمال نه لري، او یوازې په ترئینی وسایلو او زیواراتو کې استفاده کیږي. د لاجوردو ایستل په تیرو کلونو کې په دوامدار ډول جریان درلود.

ج) لعل

د لعل کانونه د بدخشان په اشکاشم، د سروبي په جګدلک ، لعل پیازي او د کندهار په خاکریز کې شتون لري. لعل د سختوالي درجه اوه ده او په سره بنفش ته مایل، شین ته مایل، آبی، ژېړ یا تور رنګونو پیداکیږي.

د) یاقوت

یاقوت د مهمو ځانګړتیاوو لرونکی دی، د لومړي درجې له جواهراتو څخه شمیرل کیږي. د تورق قابلیت نه لري او د سختی درجه لري.

و) زمرد

د زمرد کانونه د پنجشیر په خنج، بزمال، مکني او د کټر په باډیل دره کې شتون لري. د پنجشیر زمرد شین زمردي رنګ او بعضې کم آبي پردازه شکل هم لري. زیرمې یې د 440 کیلوګرامه اټکل شوي دي.

دریم څپرکی (تجارت او صنایع)

دوه ویشتم لوست

صنایع او په افغانستان کې د هغه ارزښت

صنعتي فعالیت د موادو د شکل له بدلون څخه چې موخه یې د هغه کیفیت او ارزښت لوړول دي عبارت دی.چې د بشر په تاریخ کې زیاته مخینه لري.

صنعتي انقلاب چې د اتلسمې پیړۍ په دوهمه نیمایي کې پیل شو او پایله کې د بشري ټولنې وضعیت یې په مکمل ډول بدل او د خلکو ژوند ته یې بدلون ورکړ.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

خلک له پخوا وختونو راهیسي- په کوچنیو فابریکو چې د لاسی صنایعو په جوړولو بوخت و، د فرشي او ضروري وسایل یې جوړول،چې د هغه ښه ښېلګه د قالینو اوبدلو صنایع، غالي او ټغر اوبدل او نور.

دویشتم لوست (لاسي صنایع)

د هیواد صنایع کولای شو په لاسي او ماشیني صنایعو ووېشو.

سرچینې:

1.حیواني سرچینې؛ لکه: وړي، وېښته، پت او د وریښمو چنجي تولیدی ماده.

2.نباتي سرچینې؛ لکه: پنبه، کتان او سند.

3.معدني سرچینې؛ لکه: اوسپنه، مس، طلا او نقره او حتی عادي خټه.

د لاسي صنایعو محصولات چې د حیواني وړیو څخه ترلاسه کېږي مهم یې قالینه، غالي، ټغر، برم، کرک، قاقمه او نور دي.

د قالینو اوبدلو صنعت یو له مهمو لاسي صنایعو او قالینه د افغانستان له مهمو صادراتي قلمونو څخه ده او زیاتره د هیواد په شمال، لویدیځ او شمال لویدیځ ولایتونو کې تولید کیږي.

هغه لاسي صنعتي محصولات چې له پنبې څخه ترلاسه کېږي عبارت دي له کرباس، کشیره، پټو، لونګي، ټغر او سترنجي او نور. پخوا د افغانستان په ټولو سیمو کې پنبه کرل کېده او د کلیو خلک په هغه ځایونو کې د پنبې توکر جوړول.

ب. ماشیني صنایع

نوي ماشیني صنایع او عصري فابریکې د لومړي ځل لپاره په 1887 م کال کې د امیر شیرعلی خان په وخت کې او وروسته بیا په نسبي ډول پرمختللي بڼه د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې په وروستیو کلونو کې زمونږ په هیواد کې یې اساس کېښودل شو.

لومړی عصري فابریکه د کابل ماشین خانې په نوم جوړه شوه، چې سپکه او درنه وسله لکه توپ، ټوپک او نور جنګي مهمات یې جوړول.

په 1365ه.ش کال کې د 391 په شمیر صنعتي مؤسسې په هیواد کې فعالیت درلود، چې د هغې له جملې څخه یې 274 خصوصي سکتور پورې اړه درلوده او پاتې 117 نور یې په دولتي او مختلط سکتور پورې اړه درلوده.

د یادولو وړه ده چې د وروستیو 30 کلونو جنګونو په موده کې چې په هیواد کې جریان درلود د هیواد زیاتره صنعتي تاسیسات خراب او لوي زیان ولیده.

څلورویشتم لوست

توریزم اود هغه اقتصادي ارزښت

توریزم Tourismیا نړۍ ګرځیدل یو ډول مسافرت دي چې ګرځیدنی، سیاحت، تفریح او د نړۍ د بېلا بېلو علمي سیمو د څېړنو په موخه ترسره کیږي.

توریستی سفرونه معمولا تفریحي او کاري موخې لري.

تروریستان معمول د یوې سیمې له طبیعت او فرهنګ سره مینه لري.

توریستي سیمې کلونه پخوا د وریښمو لارې د تجارتي کاروانونو نښلونکي دي. بودایانو او کوشانیانو له همدې لارې د چین له هیواد څخه د اوربا تر لویدیځ پورې سفر کولو.

د افغانستان دولت په 1337ه.ش کال کې د توریستي خدمتونو د اسانتیاوو برابرولو په موخه د ګرځندوی موسسه رامنځته کړه او په 1344ه.ش کال کې د نړیوال توریزم غړیتوب ترلاسه کړ.

په بامیانو کې د بودا مجسمه او بودا پورې اړوند نور اثار، د پخواني بلخ اثار، خیبره دره، په هرات کې پخواني آثار، کندهار، غزنی او ننګرهار کې شتون لري.

پنځه ویشتم لوست

د هیواد توریسي سیمې

د افغانستان توریستي سیمې او ساحې معمولا طبیعي ښکلي سیمې (آبشارونه، د سیندونو غاړې، جهیلونه، غرونه او نور) او همدارنګه فرهنګي اثار او سیمې(موزیم، تاریخي او مذهبي ابدات، د لاسي صنایعو بازارونه او نور) جوړوي.

د افغانستان ښارونه او مهمې توریسي- سیمې عبارت دي له: بامیان، بلخ، سمنګان، هرات ، غور، غزنی، کندهار، کابل، جلال اباد، لښکرګاه او نور.

په بامیانو کې ټوړل شوي مغاري، مجسمې او بند امیر، په بلخ کې د روضې شریف زیارت، په هرات کې تاریخي ځلي او مناروونه، د خواجه عبدالله انصاري زیات، د عیارانو ځلی، د اختاروالدین کلا، خواجه غلطان، د غور ولایت منار جام، په غزني کې تاریخي مناروونه، د سردار تپه، بالاحصار او تاریخي اثر او په ننګرهار کې د منله باغ او دې تاریخي اثار او نور د یادولو وړ دي.

تاریخي اثار په ځینو ښارونو لکه هرات کې دې حد ته رسیدلي چې یونسکو دغه ښار تر خپل پوښښ لاندې راوستی دی. غزنی د زیارتونو او تاریخي ودانیو په لرلو سره د نړیوال فرهنګي او توریستي ښار په حیث پیژندل شوی دی.

د میرویس نیکه مقبره په کندهار کې د زیارت کوونکو لپاره تاریخي او فرهنګي ارزښت لري.

ډیرې ښکلی طبیعي توریستي سیمې او تفریحي پارکونه لري چې د مثال په ډول د کوچني او لوي پامیر غرونه، د نورستان د لیدلو وړ طبیعي سیمې، د کابل ښار، جلال اباد، کندهار، هرات، مزارشریف باغونه او پارکونه، په کابل کې د قرغې بند پغمان او نورې طبیعي سیمې په ځینو ولایتونو کې د یادولو وړ دي.

پام وکړئ!

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په کابل کې د پغمان تپه، د قرغې بند، خواجه صفا، کارز میر، د پغمان تاق ظفر، استالف تخت، دارالامان، چهلستون او نور.

په بامیانو کې بندونه لکه بند امیر، هیبت، ذوالفقار، غلامان، قمبر، پودېنه، پنیر، او تاریخي اثار لکه شهر غلغله، شهر ضحاک او بودا.

په بلخ کې، هڅده نهر، چشمه شفا، مسجد نه گنبد، مقبره رابعه بلخي، مقبره زیب النسا.

په سمنگان کې د رستم تخت.

په هرات کې سنگ هفت قلم، خواجه عبدالله انصاري، بند سلما، اوبه، چشمه شفا.

شپږ ویشتم لوست

تجارت او د هغه ارزښت

تجارت د مالونو د راکړې ورکړې او یا هم د د ضرورت وړ شیانو بدلول د پولې واحد په وړاندې د اخیستونکي او پلورونکي ترمنځ.

شیان او خدمتونه هغه وخت سره تبادله او راکړه ورکړه کیږي چې لاندې شرایط برابر وي:

1.د شیان اضافي تولید شتون ولري.

2.په ځانګړي کسب کې تخصص موجود وي.

3.د چارو او شغل ویش ترسره شي.

4.د دوو سیمو د تولید د نوعیت ترمنځ توپیر شتون ولري.

5.فرهنګي، سیاسي او ګمرکي خنډ شتون ونه لري.

6.د دوو سیمو ترمنځ اړیکي، د نقل غوره لارې او وسایل شتون ولري.

7.د دوو سیمو ترمنځ د خلکو غوښتنې او میلان اجناسو او مالونو ته زیات وي.

په افغانستان (پخوانی اریانا) کې له پخوا وختونو څخه، د جغرافیایي موقعیت له پلوه، چې په دغه سیمه کې چې د هغه وخت د تمدنونو څلور لارې وه ، یعني ختیځ خوا ته د هغه وخت د هند او چین تمدنونه او لویدیځې خوا ته د فارس، یونان او روم تمدنونه شتون درلود، د تجارتي مالونو تبادله زیاته ترسره کېده او د دغو سیمو وګړي په تجارت او راکړه ورکړه بوخت و.

مخکې له دې چې سمندري لارې کشف شي د تجارتي مالونو حمل او نقل په وچه کې د کاروانونو په واسطه ترسره کیدو.

تجارت او د مالونو تجارت په هغه وخت کې د کاروانو په واسطه د ختیځ او لویدیځ ترمنځ، یعني د چین له هیواد څخه د مدیترانې سمندرګي تر ختیځو څنډو ترسره کېده چې افغانستان د یوې زیات ترانزیتي ارزښت لرونکې سیمې حیثیت درلود. وروسته دغه لاره د وریښمو د لارې په نوم ونومول شوه؛ ځکه له دغه لارې د هغه وخت د ارزښت وړ مالونو حمل او نقل لکه وریښم، د وریښمو توکر، دوا او نورو ترسره کیده.

اوه ویشتم لوست

داخلي تجارت

نن ورځ په افغانستان کې دننه داخلي تجارت په پراخه کچه ترسره کیږي،چې لامل یې د نفوس ډیروالی، د ژوند د سطحې نسبي لوړوالی او د خلکو د غوښتنو ورځ په ورځ زیاتوالی وسایلو، غذایي او صنعتي مواد.

وریجې په هغه سیمو کې چې ګرمه هوا او زیاتې اوبه ولري؛ لکه: ختیځ ولایتونه، ننګرهار، لغمان، کنړ او همدارنګه شمالي سیمې، لکه: کندز، بغلان او تخار کې زیاتره تولیدیږي او کرل کیږي. قالینې چې زیاتره تولیدات یې د هیواد په شمالي سیمو کې ترسره کیږي، نه یوازې د هیواد په داخل کې پلورل کیږي بلکې د هیواد د صادراتو یو مهم قلم هم شمیرل کیږي.

ب. خارجي تجارت

د هیواد خارجي تجارت پخوا په دریو حوزو کې ترسره کیده چې عبارت دي له:

بارتری حوزي تجارت: د جنس تبادله د جنس په مقابل کې د بارتر په نوم یادیږي، دغه تجارت د افغانستان او پخواني سوسیالیستي هیوادونو لکه: اتحاد، پولنډ، چکسلواکیا، چین، بلغاریا شوروي او نورو ترمنځ د مالونو تبادله ترسره کیده.

ازاده حوزه: چې د لوېدیځې اورپا، امریکا متحده ایالاتو او جاپان ترمنځ ترسره کیده.

د هند نیمې وچې حوزه: د افغانستان تجارت د هند نیمې وچې سره تاریخي مخینه لري چې د وخت په تیریدو سره یې پراختیا موندلې ده.

د افغانستان تر ټولو مهم صادراتي مواد عبارت له غذایي او خامو موادو څخه لکه: وچه او تازه میوه، پخته، مالوچ او حیواني محصولات لکه: وړې، پوستکي د قره قل پوستکي، کولمې او صنعتي محصولات؛ لکه: قالینه، ټغر، او نور، لاسي صنایعو محصولات او همدارنګه قیمتي ډبري دي.

د افغانستان د وارداتي مالونو ډولونه او حجم نظر صادراتو ته ډېر زیات دي چې د افغانستان د اقتصاد ضعف ښیه ده.

هغه مالونه چې د خارج څخه هیواد ته داخلیږي عبارت دي له: ترانسپورتي وسایل او ماشینونه، تیل او نفتي مواد، کیمیاوي مواد، خوراکي توکي؛ لکه: غنم، بوره، چای، نباتي غوړي، او منسوجات، جامې، دوا او نور چې زیاتره یې استهلاکي مالونه دي.

د محصول نوم	په هیواد کې د وارداتو فیصدي	په هیواد کې د صادراتو فیصدي
البسه، قالین او بوټ	33%	33%
چرم		12%
غذایی مواد	23%	40%
د سون توکي	14%	15%
ماشین الات	4%	

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ترانسپورتي وسيلې	12%	
کيمياوي مواد	14%	

اته ويشتم لوست

د هيواد د صادراتو او وارداتو ميزان

د افغانستان تجارت په 1385ه.ش کال کې له ځينو هيوادونو سره.

واردات		صادرات	
د هيواد نوم	فيصدي	د هيواد نوم	فيصدي
پاکستان	37.9%	هند	22.8%
امريکا متحده ايالات	12%	پاکستان	21.8%
جرمني	7.2%	امريکا متحده ايالات	15.2%
هند	5.1%	انګلستان	6.5%
		فنلنډ	4.4%

په 1385ه.ش کال کې ترټولو زيات واردات له پاکستان او ترټولو کم واردات له هند څخه ترسره کيدل.

په 1385ه.ش کال کې ترټولو زيات صادرات هند او ترټولو کم صادرات فنلنډ ته ترسره کيدل.

د افغانستان صادرات نسبت وارداتو ته په څو چنده کم دي.

نه ويشتم لوست (بانک)

د بانک کليمه، يوه پخواني کليمه ده چې د آلماني ژبې (Bank)څخه اخيستل شوې ده چې د يو ډول شرکت معني ورکوي.

اما بعضي پوهان په دې باور دي چې د بانک کليمه د ايتاليوي ژبې (Banco) څخه اخيستل شوې ده، چې د يو ډول کوچني څوکۍ معنی ورکوي چې پخواني صرافان به پرې کيناستل او صرافي به يې کوله.

بانک، يوه حقوقي اداره ده چې د عامو خلکو او دولتي ارګانونو څخه پيسې اخلي، ساتي يې، ګټه ورکوي او په دوران يې اچوي.

بانک په عمومي ډول په دريو ډلو ويشل کيږي چې عبارت دي له:

1. مرکزي بانکونه
2. شخصي بانکونه
3. تجارتي بانکونه

مرکزي بانکونه

مرکزي بانک چې زياتره د بانکونو د مور په نوم يادېږي، او ځينې يې د بانکونو د بانک په نوم يادوي؛ ځکه د دغه بانکونو له دندو څخه د نورو بانکونو کنترول او اداره ده.

په افغانستان کې مرکزي بانک د (افغانستان بانک) په نوم د لومړي ځل لپاره 1318 ه.ش کال کې د 120ميليونو افغانيو په بدل کې جوړ شو.

تجارتي بانکونه

تجارتي بانکونه په زياتره هيوادونو کې هغه بانکونه دي چې لنډ مهاله کړنې او امانتونه ترسره کوي .

دغه بانکونه په کرهنه، صنعت، ساختمان، پور ورکول او پانګه اچونه کې اقدام کوي خو وروسته د تخصصي بانکونو د رامنځته کيدو څخه لکه زراعتي بانکونه او نور د دغه بانکونو ساحه محدوده شوه.

تخصصي بانکونه

دغه بانکونه د تجارتي بانکونو په شان عادي کړنې نه ترسره کوي، خو په مکمل ډول د تخصص په عرصه کې ؛ لکه: صنعت، زراعت او نور فعاليت کوي او په دغه عرصه کې بانکي چارې پر مخ وړي چې نه مثالونه يې زراعتي بانکونه، صنعتي بانکونه او رهني بانکونه دي.

دېرشم لوست (د بانک د چارو پرمخ وړلو څرنګوالی)

د 1309ه.ش کال څخه وړاندې ټولې بانکي چارې صرافانو پر مخ بيولې.

د لومړي ځل لپاره په 1309ه.ش کال کې (افغان سهامي شرکت) د يو سهامي شرکت په حيث جوړ شو، چې په 1312ه.ش کال کې په لومړي پانګه اته ميليونه افغانيو د يو بانک په ډول د (ملي بانک) په نوم رامنځته شو. او د افغانستان بانک له تاسيس څخه مخکې د مرکزي بانک ټولې چارې يې پرمخ بيولې.

په 1318ه.ش کال کې د همغه وخت د ضرورتونو په اساس (د افغانستان بانک) په لومړي پانګه 120 ميليونه افغانيو په لګښت جوړ شو.

څو مشهور بانکونه

د بانک نوم	د بانک ډول	د جوړيدو کال	وضعيت
بانک ملي افغان	دولتي	1312ه.ش	فعال
د افغانستان بانک	مرکزي	1318ه.ش	فعال
بانک رهني و تجارتي	دولتي	1326ه.ش	لغوه
بانک زراعتي	دولتي	1333 ه.ش	لغوه
بانک انکشاف صنعتي	دولتي	1337ه.ش	لغوه
پښتني تجارتي بانک	دولتي	1333ه.ش	فعال
کابل بانک	نوی جوړ شوی	1383ه.ش	فعال
بانک بين المللی افغانستان	نوی جوړ شوی	1383ه.ش	فعال
عزيزی بانک	نوی جوړ شوی	1385ه.ش	فعال
افغان يونايټډ بانک	نوی جوړ شوی	1386ه.ش	فعال
ميوند بانک	نوی جوړ شوی	1387ه.ش	فعال

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

برکت بانک ان فارمشن	نوی جوړ شوي	1386ه.ش	فعال

یو دېرشم لوست

د صنایعو او سوداګري د حالت څېړل

یو شمیر ناوړه اقتصادي، سیاسي او ټولنیز شرایط چې د 18-19 پیړیو او د20 پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې په شمیر هیوادونو په ځانګړې توګه په آسیا، افریقا او لاتین امریکا کې او له هغه جملې نه په افغانستان کې واکمن و.

وروستیو دېرشو کلونو جنګونه، نه یوازې د دغه هېواد بشري قوي ته زیان اړولی بلکې د میلیونونو نفرو د له منځه تللو، معیوب کیدل او مهاجر کیدو سبب شوي دي.

زمور د هیواد د فعال اقتصادي لس فیصده د صنعت په سکتور او تقریباً لس فیصده په خدماتو کې چې د هغې له جملې څخه د سوداګرۍ په برخه کې فعالیت کوي.

زمور د هېواد واردات نسبت صادراتو ته په څو چنده زیات دي او یو ډول منفي بیلانس چې د فقیر اقتصاد نښانه ده ښیي.

زمور هیواد په 1386ه.ش کال کې د 3022 میلیونه ډالرو په ارزښت واردات او یوازې د 454 میلیونه ډالرو په ارزښت صادرات درلودل،چې 2568 میلیونه ډالره توپیر یا منفی بیلانس ښکاره کوي.

څلورم څېرکی (اوبه او کرنه)

دوه درېشم لوست

په نړۍ کې اوبه او په هغه پانګه اچونه

اوبه، د ځمکې په کره کې په متوازنه ډول نه دي ویشل شوي، له 70 فیصده څخه زیاته برخه اوبو نیولې ده، چې تقریباً 97 فیصده یې سمندرونو او سمندرګیو کې شتون لري او اوبه یې مالګیني دي چې د کرنې، څښاک او صنعت لپاره مناسب نه دي، او باید چې تصفیه شي.

3 فیصده پاتې اوبه خوړې او تازه دي کې یوازې یو فیصد یې په سیندونو، جهیلونو او تر ځمکې لاندې اوبه جوړوي چې انسانان هغې ته لاس رسی لري، دوه فیصده نورې خوړې اوبه د غرونو او قطبونو کنګلونه او دایمي واوري جوړوي چې د ګټه اخیستنې وړ نه دي.

اوس مهال د نړۍ له شپږ میلیارد نفوس څخه له یوه میلیارد زیات یې خوړو اوبو ته لاس رسي نه لري.

د مخ پر وډې هیوادونو 70 فیصده ناروغي د ککړو او ناپاکو اوبو څخه رامنځته کیږي.

د 70 فیصده په شاوخوا کې اوبه په کرنه کې لګول کېږي.

36فیصده محصولات وروسته له اوبو لګولو لاس ته راځي.

په 2050 م کال کې به تقریباً 9.3 میلیارده وکړي په ځمکه ژوند کوي چې د هغه له جملې څخه به 2.3 میلیارده د اوبو له کمښت سره مخ وي.

په وروستیو 50 کلونو کې د اوبو پر سر 507 نښتې رامنځته شوې دي چې 21 نښتې له جملې څخه مسلحانه نښتې وي.

د مکسیکو په ښار کې اوبو د پایپ لاینونو په واسطه د 125 کیلومتره په واټن سره انتقال او د 1200 متره په لوړوالي د غرونو هغې خوا ته پمپ کېږي چې حتمي د زیاتو لګښتونو سبب ګرځي.

د اوبو د ورځني لګښت تر ټولو زیاته استفاده د یو وګړي پر سر په دغه هیوادونو کې په ترتیب سره (سویس، هالنډ، کامرون او حبشه)کې شتون لري.

دري دېرشم لوست

الف. د اوبو لګولو لوبې پروژې

د نړۍ په هغه سیمو کې چې په کافی اندازه اورښت لري تقریباً د اورښت اندازه یې په کال کې له 450 ملي متر څخه زیاته ده، او د اورښت له لنده بل څخه د کرنې لپاره استفاده په ښه ډول مساعه ده.

څېړنو ښودلې ده چې د نړۍ په سطحه کرنه 70 فیصده اوبه مصرفوي او 36 فیصده محصولات وروسته له اوبه کولو څخه ترلاسه کېږي.

د اوبو لګولو په جریان کې تقریباً 60 فیصده اوبه ضایع کیږي.

له نفوسه ډکې او کرنیزې ځمکې د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره زیاته اندازه اوبو ته ضرورت لري، ځکه د یو کیلو ګرام غلې د لاس ته راوړلو لپاره زرو لیترو اوبو ته ضرورت دي.

د اسیا په ځینو سیمو کې لکه: منځنی ختیځ، د افریقا ځینې سیمې، امریکا متحده ایالات او ختیځ زمور هېواد افغانستان د کرنیزو ځمکو د خړوبولو لپاره ببلا ببلې لارې په کار اچوي.

یو شمیر هیوادونو لکه اسراییل چې د اوبو له کمښت سره مخ دی. د دې لپاره چې د اوبو د تبخیر او ضایع کیدو څخه مخنیوی وکړي اوبه د نباتاتو ریښې او بیخ ته د پایپ لاینونو په واسطه لیږدوي. دغه هیواد د ضرورت وړ اوبه د ترکیې له هیواد څخه چې زیاتې اوبه لري د پایپ لاینونو په واسطه لیږدوي.

د اوبو ککړتیا چې فزیکي ، کیمیاوي او مایکروبي بدلونونه پکې شامل دي. او په دغه حالت کې انسان نه شي کولای چې له هغې څخه استفاده وکړي.

په غربي هیوادونو کې د فاضلابو او تشنابونو اوبه ري سایکل یا دوهم ځل دوران ته اچوي او وروسته د اوبو څو مرحله یې تصفیې څخه د ښارپانو د استفادې وړ یې ګرځوي.

څلور دېرشم لوست

کرنه او دهغه نوي لارې چارې

په اوسنی وخت کې له 800 میلیونو څخه زیات خلک په سوتغذي اخته دي او تقریباً له دوو میلیونو څخه زیات خلک د غذایي موادو له کمښت سره لاس او ګریوان دي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

عنعنوي يا دوديز سيستم: په دوديز کرنيز سيستم کې له انساني قوې او لومړنيو وسايلو څخه استفاده کيږي چې نوبتي کرنه، د څارويو د رمو ساتنه او د وريجو دوديزه کرنه د جنوب ختيځ اسيا په لنده بل لرونکو سيمو کې او نور. په دغه سيستم کې معمولا د تولید اندازه او اقتصادي ګټه کمه، او کرنيز محصولات د کورنيو اړتياوې پوره کولې.

ميکانيزه سيستم: په دغه سيستم کې د کرنې له پرمختللو لارو چارو او وسايلو څخه لکه: تراکتور، کمابين، اصلاح شوي تخمونه او کيمياوي کود استفاده کيږي. کرنيزې ځمکې پراخه او د توليداتو اندازه يې زياته ده.او همدارنګه کرنيزو محصولاتو تولید د صادراتو او خرڅلاو په موخه ترسره کيږي. دغه ډول سيستم معمولا په پرمختللو او صنعتي هېوادونو کې استفاده کيږي.

پنځه دېرشم لوست

د نړۍ په پرمختللو هېوادونو کې د بېلا بېلو کرنيزو محصولاتو د تولید اندازه

1.په 2005م کال کې په نړۍ کې (628101035) ټنه غنم تولید شوي و چې له هغې جملې څخه 9.15 فيصده يې يوازې په چين پورې اړه لري او نور هېوادونه په لاندې ډول دي.

شمیره	د هیواد نوم	فیصدي	شمیره	د هیواد نوم	فیصدي
1	چین	15.9%	7	آسترالیا	3.8%
2	هند	12.5%	8	المان	3.8%
3	US	9.1%	9	پاکستان	3.4%
4	روسیه	7.5%	10	ترکیه	3.3%
5	فرانسه	5.9%	11	نور هیوادونه	2.23%
6	کاناډا	4.1%			

2.په 2005 م کال کې په نړۍ کې د وريجو تولید (618534989) ټنه ته رسيده، چې چين په هغه لومړی مقام او نور هېوادونه په ترتيب سره په لاندې ډول دي.

شماره	د هیواد نوم	فیصدي	شماره	د هیواد نوم	فیصدي
1	چین	33.0%	7	میانما(برما)	4.0%
2	هند	20.9%	8	فلیپین	2.4%
3	اندونزیا	8.7%	9	برازیل	2.1%
4	بنګله دیش	6.5%	10	جاپان	1.8%
5	ویتنام	5.9%	11	نور هیوادونه	13.3%
6	تایلند	4.4%			

3.په 2005 م کال کې په نړۍ کې د جوارو تولید (694575552) ټنه ته رسيده چې د امريکا متحده ايالاتو لومړی مقام درلود او نور هېوادونه په ترتيب سره په لاندې ډول دي.

شماره	د هیواد نوم	فیصدي	شماره	د هیواد نوم	فیصدي
1	US	40.3%	7	فرانسه	1.9%
2	چین	19.1%	8	اندونزیا	1.7%
3	برازیل	5.0%	9	جنوبي افریقا	1.7%
4	مکسیکو	3.0%	10	ایټالیا	1.5%
5	ارجنټاین	2.8%	11	نور هیوادونه	20.9%
6	هند	2.1%			

4.په 2005م کال کې په نړۍ کې د کچالو د تولید اندازه (321060852) ټنه ته رسيده چې چين لومړی مقام او نور هېوادونه په ترتيب سره په لاندې ډول دي.

شمیره	د هیواد نوم	فیصدي	شماره	د هیواد نوم	فیصدي
1	چین	22.7%	7	پولنډ	3.4%
2	روسیه	11.3%	8	سپینه روسیه	2.5%
3	هند	7.8%	9	هالنډ	2.1%
4	اوکراین	6.1%	10	فرانسه	2.0%
5	US	6.0%	11	نور هیوادونه	32.6%
6	المان	3.5%			

5.په 2005م کال کې په نړۍ کې د غوښې د تولید اندازه (265105940) ټنه ته رسيده چې چين لومړی مقام او نور هېوادونه په ترتيب سره په لاندې ډول دي.

شماره	د هیواد نوم	فیصدي	شماره	د هیواد نوم	فیصدي
1	چین	20.9%	7	هسپانیه	2.2%
2	US	14.9%	8	مکسیکو	1.9%
3	برازیل	7.5%	9	روسیه	1.8%
4	المان	2.6%	10	کاناډا	1.8%
5	هند	2.4%	11	نور هیوادونه	33.3%
6	فرانسه	2.3%			

د چين هېواد په 2005 م کال کې په نړۍ کې د غنمو، کچالو، وريجو او غوښې ترټولو زيات توليدات درلودل.

د هند هيواد چې په 2005م کال کې د غنمو او وريجو په تولید کې دوهم مقام درلود.

دوه هيوادونه چې په 2005م کال کې په يوازې ډول د نړۍ له پنځوسو فيصدو څخه زيات کچالو تولید کړي و عبارت دي له (چين او د امريکا متحده ايالات)

پنځم څېرکی
شپږ دېرشم لوست

انرژي

هر څه چې د کار او حرکت قابليت ولري د انرژي لرونکي دي.

په منځنيو پيړيو کې د انرژي له سرچينو څخه استفاده زياته شوه، ځکه انسانو د اوبو له انرژی څخه استفاده کوله ، آبي او بادي ژرندې يې په کار اچولې وي.

په اتلسمه پيړۍ کې د بخار ماشين په اختراع سره او د صنعتي انقلاب له منځته راتګ وروسته، په صنايعو کې د بشر- لپاره يو لوی بدلون رامنځته شو.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د شـلمي پېړۍ په منځنيو کلونو کې د انرژۍ د نفت او ګاز سرچينې په چټکي سره پراختيا وکړه او انرژي زياته وده وکړه.

اوه دېرشم لوست (د انرژي ډولونه)

د اوبو برېښنا

د اوبو برېښنا په توليد کې څو مهم لاملونه رول لري:

1. د سيندونو د اوبو زياتوالی، دايمي او جاري بڼه.
2. د سيندونو په مسير کې د ځوړونو شتون.
3. د سيندونو په مسير کې د لوړوالی د توپير شتون.

د نړۍ پنځه سيمې چې د اوبو برېښنا يې زياته پراختيا موندلې ده عبارت دي له:

په اوربا کې لويديځې، جنوبي او مرکزي سيمې.

په آسيا کې جاپان، په امريکا کې د امريکا متحده ايالات، نورې سيمې چې له دې پلوه ډېر ارزښت لري د روسيې اورپايي برخه او د ختيځ برازيل غرنۍ سيمې دي.

په اوربا کې، هغه غرونه چې د واورو دايمي زېرمې لري لکه: په شمال کې د سکندناوي غرونه، په مرکز کې د الپ، او په د اوربا په جنوب لويديځ کې پيرنه د آبي برېښنا د توليد لپاره مناسبې سيمې دي.

په آسيا کې جاپان د نړۍ د ابو برېښنا د توليد لوړه فيصدي لري.

د امريکا متحده ايالات د اوبو برېښنا د توليد لويه سرچينه لري چې د کلواردو او کلمبيا له سيندونو څخه يې ترلاسه کوي چې د اوبو له بريښنا څخه 13 فيصده استفاده کوي.

په شمالي امريکا کې په ځانګړي ډول کانادا د ضرورت وړ برېښنا د سيندونو له اوبو څخه ترلاسه کوي. او د دغه هيواد لومړي د اوبو برېښنا فابريکه د نياګارا په سيند جوړه شوې ده.

کانادا نن ورځ په نړۍ کې د اوبو برېښنا د لويو توليد کوونکو څخه دی. په روسيه او اوکراين کې سيندونه، اوبو بريښنا د صنايعو د استقرار سيمې دي. او د نړۍ د اوبو برېښنا د توليد دوه لوی بندونه د والګا په سيند جوړ شوي دي.

په اروپاکې هغه هيوادونه چې د اوبو زياته برېښنا توليد کوي د ناروې، سويډن او فرانسې هيوادونه دي.

په ايتاليا کې د اوسپنې تولې پټلي د پو سيند د اوبو برېښنا په واسطه د حرکت په حال کې دي.

د سويډن 90 فيصده برېښنا د دغه هيواد د اوبو په واسطه توليديږي.

بادي برېښنا

د اروپا د توليد شوی برېښنا دوه پر دريمه برخه د باد انرژی په واسطه توليديږي. وروسته له هغې شمالي امريکا په دوهم مقام کې قرار لري.

په عمومي ډول اروپا 65 فيصده، شمالي امريکا 22 فيصده، آسيا 12 فيصده او نورې وچې يو فيصد د باد برېښنا توليد کوي.

د لمر انرژي (solar Energy)

د لمر انرژي د ځانګړو هندارو او صفحو په واسطه زېرمه کېږي او له هغې څخه د برېښنا او تودوخې په توليد کې استفاده کېږي.

کله چې د لمر وړانګې لګېږي کولای شو له هغې څخه استفاده وکړو او همدارنګه لمريز سلولونه ډېر لګښت لري، نو په همدې اساس د هغه برېښنا د ګاز، ډېرو سکرو او نفت په واسطه د توليد شوې برېښنا په نسبت زياته قيمته تمامېږي.

هستوي برېښنا

اتومي برېښنا هغه قوت دي چې د نړۍ په ډېرو کوچنيو زراتو يعنی اتومونو کې نغښتې ده.

د هستوي انرژی د سون توکې چې په اتمي ريکتورنو کې استفاده کېږي زياته اندازه انرژي توليدوي.

د هستوي انرژی له لويو خطرونو څخه يو هم د راډيواکټيف موادو(هستوي وړانګو) خواره کيدل دي. دغه مواد کولای شې چې هوا، سيندونو، او سمندرونو ته لاره پيدا کړي او زرګونه مټره لري خواره شي.

د هستوي انرژي غوراوي دادی چې د سون په کمو توکو زياته انرژی توليدوي.

د هستوي انرژي د سون توکي نسبت نفت، ګاز او ډېروسکرو ته زيات دوام کوي.

راډيواکټيف دومره خطرناک دي چې په سلګونو او زرګونو کلونو دوام کوي، او په اوسني وخت کې يې ضايعات انبار کېږي.

اوس مهال د نړۍ په پرمختللو هيوادونو کې د اتومي برېښنا فابريکې په کار اچول شوي دي چې د هغې له جملې څخه امريکا لومړی مقام، فرانسه دوهم مقام، جاپان دريم مقام او روسيه څلورم مقام لري. همدارنګه يو شمير نور هيوادونه هم د اتومي برېښنا فابريکې لري، لکه: انګلستان، جنوبی کوريا، چين، هند، المان او کانادا.

حرارتي برېښنا

حرارتي برېښنا د ډېروسکرو، ډيزل، نفت او ګاز له سوځېدو څخه منځته راځي. نن ورځ د حرارتي برېښنا د توليد دستګاوې د زياتوالي په حال کې دي.

د حرارتي برېښنا د توليد تر ټولو مهمه سرچينه د ډېروسکاره دي، چې 50 فيصده توليد شوي برېښنا له هغه څخه ترلاسه کېږي.

د حرارتي برېښنا په دستګاوو کې زياتره قيري يا نرم سکاره استفاده کېږي، ځکه چې هم ارزانه دي او هم زياته تودوخه توليدوي.

که چېرې يوه کيلو او څلورسوه پنځوس ګرامه ډېروسکرو ته تر اوه زره کالوري تودوخه ورکړل شي يو کيلووات برېښنا توليدوي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د امریکا په متحده ایالاتو کې 50 فیصده حرارتي برښنا له ډبروسکرو، 14 فیصده له طبیعي گاز او 11 فیصده له نفت څخه ترلاسه کېږي.

په غربي هیوادونو کې لکه سعودي عربستان، کویټ، قطر، اردن او بحرین کې حرارتي برښنا زیاتره د نفتو له سوځولو څخه ترلاسه کېږي.

اته دېرشم لوست (په نړۍ کې نفت)

نفت: د حیواناتو او نباتاتو پاتې شوني دي چې په جیولوجیکي دورو کې د وخت په تیریدو سره تر رسوبي طبقو لاندې پاتې کیږي ، او د تودوخې، فشار ، تخمر او د وخت په تېرېدو سره په نفت بدلیږي.

د 1900 څخه تر 1910 م کال پورې چې په نړۍ کې د موټرو جوړولو صنعت پراختیا وموندله او نفت په کښتیو او د اوسپنې په پټلی کې په کار واچول شول له هغه وروسته د نفتو ارزښت زیات شو.

کښتیو وکولای شول چې تر 53 و او یا له هغه څخه زیات ورځو پورې په سمندر کې پاتې شي.

په1990 م کال کې عراق په خپل کوچنی ګاونډي هیواد کویټ باندې یرغل وکړ، او کوښښ یې وکړ چې د دغه هیواد نفتي زېرمې تر خپل کنترول لاندې راولي.

جیولوجیکي څېړنو ښودلې ده په هغه ځای کې چې نفت او ګاز شتون لري هلته ژورې څاه ګاني کیندل کیږي چې ژوروالی یې تر زرګونو مترو پورې رسیږي.

لومړي څاه چې د امریکا متحده ایالاتو په پنسلوانیا کې په 1895م کال کې کیندل شوې ده ژوروالی یې 20 متره دی او د ورځې 4 متر مکعب ګاز له هغه څخه ایستل کیږي .

د امریکا د وایومینګ په سیمه کې د څاه ژوروالی تر 6000 مترو پورې رسیږي، نفت چې له څاه څخه ایستل کېږي تور رنګ لري چې د استفادې وړ نه دي.

هغه سیمې چې نفت لري عبارت دي له:

آسیا: سعدي عربستان، کویټ، عراق، عربي متحده اماراتو، قطر، روسیه، ایران، افغانستان او اندونیزیا او نور.

په منځنۍ ختیځ کې د نفتو ډېرې لویې او شتمني حوزې شتون لري چې د نړۍ 65 فیصده نفت په برګې نیسي.

د نفت لومړۍ تولید کوونکی او په نړۍ کې د نفت لوی صادرونکی هیواد دی، اروپا لویه وچه کې د نفتو زیرمې په بیلژیک، انګلستان، المان، فرانسه، ایټالیا، ناروې او هالند کې شتون لري.

په امریکا کې، د امریکا متحده ایالات د نفتو لوی تولیدونکی او په عین حال کې د نفتو لوی مصرف کوونکی دی.

چې د نفتو زیاته برخه د مکزیک خلیج له سواحلو په تکراس، لویزیانا او الاسکا ایالاتو کې ایستل کېږي.

همدارنګه د پادولو وړ نفت د کالیفورنیا، اوهایو، اوکالاهاما، ارکانزاس،او مسي سي پي ایالتونو کې هم شتون لري.

په لاتینه امریکا کې وینزویلا او اکوادور د نفتو لویې زیرمې لري.

د افریقا په لویه وچه کې د نفتو زیرمې په لاندې سیمو کې شتون لري: لیبیا، الجزایر،نایجریه او ګابون د نړۍ د نفتو له مهمو تولید کوونکو څخه دي.

له امریکا وروسته جاپان د نفتو لوی واردوونکی دی چې روزانه د 4 څخه تر5 میلیونه بشکې نفت اخلي، د لویدیځې اوربا په هیوادونو کې المان، ایټالیا او فرانسه له نورو څخه زیات نفت واردوي.

انګلیستان هم په وروستیو کلونو کې د نفتو له مهمو وارد کوونکو څخه و؛ خو د دغه هیواد په شمالي سمندرګي کې د نفتو ایستل ، دغه هیواد خود کفا کړی دی.

نه دېرشم لوست (طبیعي ګاز)

دغه ماده د لوی بدنه حیواناتو له فسیلونو څخه چې میلیونونه کال وړاندې د رسوبي طبقو لاندې پاتې شوي، او د زیات فشار او حرارت په اثر د هوا په نشتون کې او د وخت په تېرېدو سره یې شکل بدلون کړی او په ګاز تبدیل شوی دی.

طبیعي ګاز وروسته له تصفیې د سون او حرارت د تولید د لګښت لپاره په کار وړل کیږي . او همدارنګه په پیټروشیمي فابریکو کې په بېلا بېلو موادو بدلون کوي.

په نړۍ کې د ګاز د تولید مهم مرکزونه عبارت دي له: اسیایي روسیه، قطر، عربستان سعودي، عربی متحده امارات، ایران، افغانستان، ازبکستان او ترکمنستان.

روسیه لومړی هیواد دی چې د ګاز په تولید کې لویه او مهمه برخه لري. د ګازو تر ټولو لویې حوزې یې د والګا سیند سیمې، ساراتوف او مسکو کې شتون لري. روسیه په یوازې توګه د نړۍ 33 فیصده ګاز ځان ته خانګړی کړی دی.

د امریکا په لویه وچه کې د امریکا متحده ایالات او کانادا د طبیعي ګاز زیرمې لري. د امریکا متحده ایالات په نړۍ کې د ګاز لوی تولیدونکی او مصرف کوونکی شمیرل کیږي.

د امریکا متحده ایالات د تکراس او نیویارک ترمنځ د ګاز پایپ لاین د امریکا ترټولو مهم او لوی پایپ لاین دی.

د امریکا متحده ایالاتو له نیم څخه زیات طبیعي ګازو په تولید شو سیمو کې په مصرف رسیږي او پاتې یې په نورو سیمو کې استفاده کیږي.

په کانادا کې د ګاز پایپ لاین له البرتا (لویدیځ کانادا) څخه تر هغو سیمو چې هلته استفاده تري کېږي غزیدلی دی.

د امریکا په لویه وچه کې د امریکا متحده ایالاتو او کانادا څخه وروسته وینزویلا د طبیعي ګاز تر ټولو لوی تولیدونکی دی.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په اروپا کې د ایټالیا د طبیعي ګاز تولید د پرمختګ په حال کې دی؛ د ایټالیا د ګازو کم تولید د پایپ لاین په واسطه د فرانسې تولودز او بوردو بنارونو ته لیږدول کیږي.

د فرانسې طبیعي ګاز د فرانسې په جنوب لویدیځ کې د لاک له سیمې څخه ایستل کیږي . د دغه سیمې ګاز ګوګړ، سلفر او لوړه تودوخه لري چې فولادي نل لیکې د هغه د انتقال او مقاومت توان نه لري، په دغه ډول سیمو کې باید نل لیکې له ځانګړو الیاژو څخه جوړ شي ترڅو زیات مقاومت ولري او د ګاز په لیږد کې ستونزې رامنځته نه شي.

د طبیعي ګاز تر ټولو لوی واردوونکی عبارت دی له: ایټالیا، فرانسه، جاپان او ارجنټاین. د ارزښت وړ او مهمه موضوع له منځنۍ ختیځ څخه لویدیځې اروپا ته د ګاز لیږد دی.

په وروستیو کلونو کې د ځینو اسیایي او نوي مستقل شوو هیوادونو ټرونونه؛ لکه: د ترکمنستان او لویدیځې اروپا ترمنځ چې طبیعي ګاز د پایپ لاین په واسطه دغه هیواد ته انتقال شوی دی.

څلویښتم لوست (په نړۍ کې د ډبروسکاره)

د ډبروسکره، د ونو ډبرین پاتې شونې دي چې د جیولوجیکي دورو په بدلون د رسوباتو او خاورو د طبقو ترمنځ پاتې کیږي او د وخت په تیریدو او تودوخې په اثر اصلي شکل یې بدلون کوي او په پایله کې په ډبرو سکرو بدلون کوي.

الف. وچ د ډبروسکاره یا انتراسیت Anthracite

دغه ډول د ډبرو سکاره تور خړ ته ورته رنګ لري

د 49 څخه تر 87 فیصده کاربن لري. زیاته تودوخه تولیدوي او د دود، بخار او ایرو اندازه یې کمه ده.

نو له همدې امله له دغه ډول سکرو څخه د برښنا په تولید او ماشینونو کې استفاده کیږي.

ب. قیري د ډبرو سکاره Bituminous Coal

قیري د ډبرو سکاره یا تور سکاره؛ د کوک جوړولو لپاره تر ټولو غوره سکاره دي.

کوک، یو ډول سکاره دي چې پرته له دود څخه سوځي او په زیاته اندازه تودوخه تولیدوي.

په پرمختللو هیوادونو کې، د قیري ډبرو سکاره له 50 فیصده څخه زیات د نړۍ ډبرو سکاره جوړوي.

په صنایعو کې زیات مصرف کیږي ، او د کاربن اندازه یې 84 فیصده ده.

ج. نارس ډبرو سکاره یا لګنیت Lignite

دغه ډول سکاره نسبت نورو ته کم وزن لري، چې د ونو او لرګیو پاتو شونې دي.

لنډه بل یې زیات او تودوخه یې کمه ده.

دغه ډول د ډبرو سکاره غوره او ژر سوځي.

خرمایي یا ژیړ رنګ لري نو له دې امله د قهوې ډبرو سکرو په نوم هم یادیږي.

د 15 فیصده په شاوخوا د ډبروسکاره چې په نړۍ کې ایستل کیږي د لګنیت له ډول څخه دي.

تورب د ډبرو سکاره Taurbe: دغه ډول د ډبرو سکاره نارس یا قهوې سکرو ته ورته دي تودوخه یې ډیره کمه ده او د عمر له پلوه ځوان او تازه معلومیږي.

اروپا

د اروپا د ډبروسکرو ټولې زیرمې د فرانسې په شمال، بلژیک، هالنډ، آلمان، انګلیستان او پولنډ کې دي.

روسیه په نړۍ کې تر ټولو لوی د ډبروسکرو تولید کوونکی دی، چې د ډبروسکرو زیرمې یې د روسیې له کوزنتسک یا کوزباس څخه ترلاسه کیږي.

سربیره پر دې نورې حوزې یې؛ لکه: کاراګنده(د بالکاش جهیل په شمال کې) او مسکو ته نیږدې د تولا له حوزې څخه ایستل کیږي.

په المان کې د ډبروسکرو ایستل د رو، لینت او ستر له حوزو څخه ترلاسه کیږي چې د رو حوزه په لویدیځه اروپا کې تر ټولو مهمه حوزه شمیرل کیږي.

د انګلستان د ډبروسکرو د ایستلو حوزې عبارت دي له: اسکاتلنډ، منلنډز، جنوبي ویلز او نیوکاتسل حوزې.

د امریکا متحده ایالاتو، فرانسې او المان په هیوادونو کې د ډبرو سکاره د ماشینونو په واسطه هم ترسره کیږي؛ نو له دې امله د انګلستان کانونو خپل پخوانی ارزښت له لاسه ورکړی دی.

شمالي امریکا

امریکا متحده ایالات په نړۍ کې د ډبروسکرو ترټولو لوېې زیرمې لري او د لوی صادرونکی هیواد هم بلل کیږي.

د شمالي امریکا د ډبرو سکرو د استحصال صنایع په لاندې بنارونو کې شتون لري: لویدیځه ویرجینیا، پنسلوانیا، الینایر، کنتاکي، اوهایو، انديانا، کلواردو او نور.

آسیا

د دغه وچې د ډبروسکرو زیرمې کمې کشف شوې دي. هغه څه چې کولای شو په باوري ډول تعین کړو، هغه کانونه دي چې د سایبریا د اوسپنې کرښې په اوږدو کې او د دغې سیمې په غرونو کې موقعیت لري. همدارنګه په جاپان، شمالي ویتنام، چین، هند، ایران او افغانستان هم د ډبروسکرو کانونه لري.

چین په اوسني وخت کې د ډبروسکرو د ایستلو تر ټولو لوړه حوزه لري، چې د هوانګهو او جنوبي منچوریا له سیمو څخه یې استخراج کوي.

جاپان هم یوه اندازه د ډبرو سکاره لري چې د اوسپنې ویلې کولو په فابریکه کې له هغه څخه استفاده کوي.

په جنوبي نیمه کره کې د ډبروسکرو زیرمې

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

ترټولو مهمې زېرمې په استرالیا کې شتون لري

همدارنګه د افریقا په جنوب ختیځ او جنوبي امریکا په ځانګړې ډول په چیلي هیواد کې د ډبروسکرو زېرمې کشف شوې دي.

د امریکا متحده ایالات خپل د ډبروسکاره لویدیځې اروپا او کانادا ته صادروي.

پولنډ خپل ډبرو سکاره روسیې، چکسلواکیا، سویډن او ایټالیا ته صادروي.

استرالیا د ډبروسکرو لویه اندازه جاپان او جنوبي کوریا ته صادروي.

المان خپل د ډبرو سکاره ځینو اروپایي هیوادونو ته صادروي.

فرانسه د ډبروسکرو زیاته اندازه د المان له سار او رو سیمو څخه واردوي.

د ډبروسکاره د استفادې زیات ځایونه لري اوس مهال د ډبرو سکاره نه یوازې د برښنا د تولید په فابریکو، د کورونو په ګرمولو، د ریل حرکت او په کیمیاوي صنایعو کې لکه: نیلون، پلاستیک، عطر، دوا او نورو ترکیبي شیانو کې استفاده کېږي. دوهم درجه محصولات چې له هغې څخه ترلاسه کېږي؛ لکه: قطران، رنګي مواد، سلفاید، امونیا، مصنوعي نفت، مصنوعي رابر او نور دي.

یو څلوېښتم لوست

د انرژۍ د منابعو جغرافیایي ویش

د انرژي منابع؛ لکه: ډبرو سکاره، نفت، ګاز او اوبه په پرخه توګه په نړۍ کې شتون لري.

د ډبروسکرو زیرمو په نړۍ کې په پراخه ډول او په ځینو سیمو د آسیا، اروپا، امریکا لویو وچو او جنوبي نیمه کره کې شتون لري چې د هغې له جملې څخه په اروپا کې د فرانسې، بلژیک، هالنډ، المان او پولنډ د ډبروسکرو زیرمې شتون لري.

د اسیا د لویې وچې په ځینو هیوادونو کې؛ لکه: جاپان، شمالي وتنام،چین، هند، ایران او همدارنګه د سایبریا د کرښې په اوږدو او د هغې سیمې په غرونو کې د ډبروسکرو کانونه شتون لري.

د ډبروسکرو زیرمې په جنوبي نیمه کره کې نظر شمالي نیمې کرې ته کمې دي، چې د ټولې نړۍ یوازې 5 فیصده ډبرو سکاره جوړوي.

په نړۍ کې د اوبو جغرافیایي ویش: د نړۍ په پنځو سیمو کې د اوبو برښنا ډیره پراختیا موندلې ده چې عبارت دي له:

- د اروپا لویدیځې، مرکزي او جنوبي سیمې.
- په امریکا کې د امریکا متحده ایالات.
- په آسیا کې جاپان.
- نورې سیمې چې له دغه پلوه زیات ارزښت لري ؛ د اروپایي روسیې برخې او د برازیل ختیځې غرنۍ سیمې.

شپږم څپرکی (کانونه او صنایع)

دوه څلوېښتم لوست

کانونه او په نړۍ کې د هغه ارزښت

کاني توکو له جملې څخه چې د انسانانو ژوند یې تغیر کړی دی، او د بشري ټولنې په اقتصادي او اجتماعي وډې کې زیات ارزښت لري د سون توکي دي لکه: نفت، ډبرو سکاره او ګاز .

د ډبرو سکاره په نړۍ کې د انرژي د تولید له لویو منابعو څخه شمیرل کیږي، له هغې څخه نه یوازې د برښنا د تولید په فابریکو، د کورونو په ګرمولو، د ریل حرکت او نورو کې استفاده کېږي، بلکې په کیمیاوي صنایعو؛ لکه: نیلون، پلاستیک او نورو ترکیبي شیانو کې هم استفاده کیږي.

همدارنګه له فلزاتو څخه اوسپنه او المونیم ځانګړی ارزښت لري. انسانانو له پخوا زمانو څخه د اوسپنې څخه استفاده کوله او له هغو څخه یې د خپل ضرورت وړ توکي جوړول.

په اوسنۍ وخت کې له فلزاتو په ځانګړي ډول له اوسپنې څخه زیاته استفاده کېږي. او د فلزاتو د ویلې کولو په کرو کې، د ډیر زیات تودوخې په واسطه ویلې کیږي او له هغه څخه فلزي توکې د فولاد په شمول جوړوي.

دري څلوېښتم لوست(د کانونو د ایستلو لارې چارې)

د کاني موادو ایستل او له هغو څخه استفاده د هغه په اندازه، ارزښت، زیرمو، جیولوجیکي وضعیت او جغرافیایي موقعیت پورې مستقیمه اړیکه لري.

د هیوادونو سیاسي، اجتماعي او اقتصادي عوامل هم د هغه په ایستلو کې تاثر لري.

د امریکا متحده ایالاتو د کلفورنیا په ایالت کې د 4500 مترو په ژوروالي سره څاه ګاني او په رومانیا کې د 1200 متره په ژوروالي سره کیندل شوې دي.

د امریکا په متحده ایالاتو کې هر ورځ له هرې څاه څخه په منځني ډول 13 بېرل، منځنی ختیځ 5300، په وینزویلا کې 240 او په کانادا کې 46 بیرل نفت لاس ته راځي.

په ځینو هیوادونو کې لکه امریکا متحده ایالات او چین کې د ډبروسکرو زېرمې د ځمکې په لاندینی طبقو کې موقعیت لري.

په داسې حال کې چې په سکاټلنډ کې د ډبروسکرو طبقې، پریږوالی او اوږدوالی د غوره شرایطو درلودونکي دي.

معمولا د ډبروسکرو د ایستلو لپاره ژورې څاه ګاني کیندل کېږي چې ځینې وخت یې ژوروالی تر 2000 مترو پورې رسیږي.

څلور څلوېښتم لوست

په نړۍ کې د صنایعو ډولونه او د هغه ارزښت

په عمومي توګه د یو صنعتي فعالیت د ترسره کولو لپاره باید لاندې شرایط او امکانات شتون ولري: لومړني مواد، انرژي، د حمل او نقل وسایل، مواصلاتي کرښې، ځمکه، د کار قوه، پانګه، د مصرف بازار، او مهارتونه.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د نړۍ مهمې صنعتي سيمې چې په هغه کې زيات صنايع شتون لري عبارت دي له: شمالي امريکا اروپا، د اسيا ختيځ او جنوب ختيځ.

شمالي امريکا: د شمالي امريکا صنعتي سيمې په دو هيوادونو امريکا متحده ايالات او کانادا کې شتون لري او دهغه په شمال ختيځ کې د اپلاش له غرونو څخه تر پنځه ګوني جهيلونو پورې پراختيا موندلې ده.

اروپا: د اروپا صنعتي سيمې د دغې وچې په لويديځ کې پرتې دي. د المان د رور سيمه او د انګلستان، فرانسې او شمالي ايټاليا هيوادونو صنعتي سيمې د اروپا له مهمو صنعتي سيمو څخه شميرل کيږي.

د اسيا ختيځ او جنوب ختيځ: په دغه برخه کې د جاپان هيواد صنعتي سيمه چې د توکيو کيوشو ترمنځ موقعيت لري د يادولو وړ ده.

هانکانګ، مالېزيا، تايوان، جنوبي کوريا او سنګاپور په وروسيتو دولسيزو کې د صنعت په برخه کې د پام وړ وده کړې ده او د صنعتي وسايلو په صادرولو تبديل شوې دي.

د صنايعو ډولونه: په عمومي ډول صنايع کولای شو چې په دو برخو سپک او درانه صنايعو ووېشو.

سپک صنايع: هغه ډول صنايع دي چې اساس يې په نيمه صنعتي محصولات او د هغه په اجزاو ولاړ دي. او وروستنی محصول يې چې لاس ته راځي په مستقيم ډول د خرڅلاو بازار ته وړل کيږي. د مثالونه يې د غذايی موادو صنايع، نساجي، لباس، جرم او نور دي.

درانه صنايع: په درانو صنايعو کې په زياته اندازه کاني يا معدني مواد لکه ډبروسکاره، فلزونه او خام نفت کارول کيږي. دغه ډول صنايع په نيمه صنعتي توليداتو کار کوي. مثالونه يې د فولاد فابريکه، نفتي او کيمياوي صنايع جوړوي.

پنځه څلوېښتم لوست

د صنايعو په پرمختګ کې اغيزمن عوامل

د صنايعو په پرمختګ کې اغيزمن عوامل

1. بشري عوامل (د کار قوه، پانګه، د خرڅلاو بازار او حمل او نقل)
2. طبيعي عوامل(ځمکه، انرژي، او اوليه مواد)
3. **طبيعي عوامل:** د طبيعي عواملو له جملې څخه چې د صنايعو په رامنځته کولو او ودې کې رول لوبوي لومړني مواد، انرژي او ځمکه د ارزښت وړ دي.

لومړني مواد: د صنايعو د جوړولو او د هغې د ودې لپاره اوليه مواد ځانګړې ارزښت لري.

انرژي: بل عنصر چې د صنايعو په پرمختګ کې رول لري د انرژي څخه عبارت دي.

ځمکه: د يوې فابريکې د جوړولو لپاره بايد ځمکه شتون ولري.

بشري عوامل: د کار قوه، پانګه، د خرڅلاو بازار او حمل و نقل د بشري عواملو څخه دي.

د کار قوه: دا طبيعي ده چې د کار قوه د صنايعو د جوړولو او پرمختګ لپاره يو مهم عامل دي چې له دو خواو يعني هم د کميت(د کارګرانو شمير) او هم د کيفيت (تخصص او مهارت) له پلوه د ارزښت وړ ده.

پانګه: د يوې فابريکې د جوړولو لپاره بايد په کافی اندازه پيسې او پانګه د ځمکې، ماشينونو، لومړني موادو، کارګرانو اونورو لګښتونو لپاره موجود وي.

د خرڅلاو بازار: د خرڅلاو بازار د توليد شو صنايعو د خرڅلاو لپاره له مهمو عواملو څخه د صنايعو په جوړولو او پرمختګ کې ګڼل کيږي.

حمل او نقل: د صنعتي موسيسو لپاره د لومړني موادو برابرول،او د توليد شو محصولاتو بازار ته وړاندې کول بدون له مواصلاتي لارو او حمل و نقل څخه امکان نه لري.

د امريکا متحده ايالاتو دترويت ښار د موټر جوړول: په دغه ښار کې د موټر جوړولو لويې فابريکې لکه فورد او جنرال شتون لري.

په کلفورنيا کې د سليکان وادي چې زياتره سپک صنايع لري . لکه برېښنايي صنايع.

اوم څېرکی(سوداګري او تروريزم)

شپږ څلوېښتم لوست

نړيواله سوداګری او د هغه اهميت

څلور ټکي د سوداګري او د مالونو د لېږدولو په برخه کې ډير مهم دي:

1. **د موادو ويش په نړۍ کې :** ځينې هيوادونو لکه جاپان خام مواد ډير کم لري نو اړ دی چې له بل هيواد څخه يې وارد کړي.
2. **نيږدې والی:** مثلاً د افغانستان زياتره سوداګری له نيږدې او ګاونډيو هيوادونو سره ترسره کيږي.
3. **د لاس رسي وړ:** د غوره لارو او موا صلاتو شتون يوې سيمې ته د لاسرسي زياتوالی ښيي. د مثال په توګه د فرانسې او انګلستان ترمنځ تر اوبو لاندې تونل جوړولو وروسته د دغه هيوادونو ترمنځ له 1995م کال وروسته د سوداګريزو مالونو لېږد زيات شوی دی.
4. **د پرمختګ د سطحې درجه:** د زياتره سوداګريز محصولات تبادله د پرمختللو هيوادونو ترمنځ ترسره کيږي.

هغه مالونه او محصولات چې د نړۍ په سوداګری کې رول لري په دريو برخو ويشل شوي دي:

لومړني مواد: دغه ډول محصولات صنعتي شوي نه دي او د خامو موادو په نوم هم يادېږي لکه پخته.

نيمه صنعتی مواد: لومړني مواد چې په هغه کار شوی شکل او کيفيت يې تغير شوی دی لکه هغه تکه چې د پختې څخه جوړه شوې ده.

اخري محصول: هغه مواد يا محصولات چې د توليد او صنعت ټول مراحل طی کوي لکه دستمال چې له توکر څخه جوړ شوي دي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په شلمه پیړۍ کې د موادو او محصولات لیږد مخکې له مخکې ساده او ارزانه ترسره کیږي.

د نړۍ د بېلا بېلو هېوادونو ترمنځ سوداګري هم ډېر اهمیت لاس ته راوړي دی چې دا هم یوه بڼه د نړیوال کیدلو یا (Globalization) ده.

نړیوال کیدل یا ګلوبلایزیشن د نړیوالې سوداګرۍ د پرمختګ، او همدارنګه د اسیا ځخه د اروپا په لور د ترانسپورت او حمل او نقل د جریان د زیاتوالي سبب شوی دی.

ختیځه اروپا هم د اقتصادي ودې په حال کې ده او زیاتره صادرات له اسیایي هیوادونو ځخه جلب کوي.

په هر ډول ویلای شو چې سوداګري د خلکو او ټولنې د اقتصاد په پیاوړتیا کې رول لري او د درېم سکتور یا خدماتو یو مهم رکن شمیرل کیږي.

اوه ځلوېښتم لوست

نړیواله یا بین المللي سوداګري

د نړۍ 20 فیصده بډایه هیوادونه 75 فیصده د نړۍ عایدات، 85 فیصده صادرات او 75 فیصده د تلیفون لینونه لري.

په داسی حال کې چې د نړۍ 20فیصده فقیر هېوادونه یوازې یو فیصد د نړۍ عایدات، یو فیصد صادرات او 1.5 فیصده د تلیفون لینونه په واک کې لري.

او یو زیات شمیر مخ پر ودې هېوادونو ته صنعتي محصولات؛ لکه: جامې، برښنایي وسایل او نور صادروي. همدارنګه مخ پر ودې هېوادونه کوښښ کوي چې خام مواد په خپل هېواد کې صنعتي کړي او وروسته هغه صادر کړي.

د کنف بازار په بنګلادیش کې موقعیت لري.

اته ځلوېښتم لوست

آزادې سوداګریزې سیمې او د هغه مفهوم

هغه سیمې او هیوادونه چې په هغه کې ازاده سوداګري شتون لري او د سوداګري ازاد سیاست یې په مخ کې نیولی دي د ازادو سوداګریزو سیمو مفهوم افاده کوي.

د هیوادونو داخلي سوداګري معمولا په ازاد ډول ترسره کیږي.

اما بین المللي سوداګري ځینې محدودیتونه لري لکه ګمرکي مالیات، سرحدي مقررات او نور دي.

د ازادې سوداګرۍ نظریه په دې اصل ولاړه ده چې سیاسي او غیر طبیعي مقررات باید سوداګري او راکړه ورکړه د نړۍ د بېلا بېلو سیمو ترمنځ محدود نه کړي. ازاده سیالي شتون ولري او هره سیمه د هغو په برابرولو کې مالونه او محصولات ځانګړتیاوی پیدا کړي.

د نړۍ په ځینو سیمو کې لکه اروپایي اتحادیې سوداګري د دغه اتحادیې د غړو هیوادونو ترمنځ پرته له سرحدي او ګمرکي محدودیتونو ترسره کیږي.

د سوداګري سیمو وېش

ځینې هیوادونه په سازمانونو او سوداګري اتحادیو کې په ګډه کار کوي او هغه خنډونه چې د سوداګري په وړاندې شتون لري له منځه وړي.

اما د ځینو هیوادونو برخه په بین المللي سوداګري کې زیاته ده چې د هغې له جملې ځخه د لویدیځې اروپا هېوادونه، شمالي امریکا، د اسیا ختیځ او جنوب ختیځ، د فارس خلیج هېوادونه، پخواني شوروي اتحاد او ختیځه اروپا د کارولو وړ دي. چې د نړۍ تر ټولو لویې او مهمې سوداګریزې سیمې دي.

نه ځلوېښتم لوست

نړیوال سوداګریز سازمان

نړیوال سوداګریز سازمان (World Trade Organization. WTO) د 1995 م کال د جنوري په لومړۍ کې جوړ شو او مرکزي دفتر یې په ژینو کې دی.

د نړیوال سوداګریز سازمان (WTO) له تاسیس ځخه مخکې، د ګمرکي تعرفې او سوداګري عمومي توافقنامه په نوم یو بدیل پریکړه لیک (General Aggrement on traffies and trade. GATT) شتون درلود چې په 1947م کال کې په ځینو کې د 23 غړو په واسطه امضا شو او وروسته نړیوال سوداګریز سازمان د هغه ځای ونیو.

د نړیوال سوداګریز سازمان دندې عبارت دي له: نړیوال سوداګري ته وده ورکول، د سوداګریزو ستونزو حل او د سوداګریزو خنډونو له منځه وړل.

دغه سازمان د 149 غړو او 30 افتخاري غړو په لرلو سره وتوانېد چې په 2002م کال کې د نړۍ له 95 فیصده سوداګري ځخه استازیتوب وکړي.

نړیوال سوداګریز سازمان له تاسیس ځخه 20 میاشتې وروسته دغه سازمان122 غړي او په 2007م کال کې یې د غړو شمېر 150 ته ورسید.

د دغه سازمان د مرکزي دفتر ترڅنګ چې په ژینو کې موقعیت لري، بله شورا چې د عمومي شورا (General Council) په نوم چې د غړو هیوادونو له سفیرانو او استازو ځخه جوړه شوي ده فعالیت لري.

سربیره پر دې څو نور کاري ګروپونه لکه د مالونو شورا (Good Council)د خدماتو شورا (Services Council) او د علمي ملکیتونو شورا(Intellectual property Council) چې همیشه په فعالیت او خبرو بوخت وي شتون لري.

پام وکړئ!

اکو: د اقتصادي همکاریو سازمان، د لویدیځې افریقا د هیوادونو اقتصادي ټولنه.

اوپک: د نفتو صادرونکو هیوادونو سازمان.

پنځوسم لوست

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

تروریزم او د هغه نړیوال اهمیت

توریست هغه شخص ته ویل کېږي چې یو هیواد یا ښار ته غیر د خپل اوسیدو له ځای څخه چې له یوې شپې او ورځې څخه کم او له یو کال څخه زیات نه وي سفر وکړي او موخه یې په فارغ وخت کې له سفر څخه تفریح، استراحت، ورزش، مذهبي فعالیتونه او نور وي.

نن ورځ په نړۍ کې توریزم په یو صنعت تبدیل شوي دی او تقریباً په هرو پنځلس نفرو کې یو یې په توریزم کې کار کوي.

هغه سیمې چې تروریستان هلته ورځي باید ځانګړې ښکلا او د توریستانو غوښتنې پوره کړي.

توریزم په عمومي ډول اقتصادي او فرهنګي ارزښت لري.

د عایداتو زیاتوالی: کله چې توریستانو یا سیاحین یو هیواد ته سفر کوي په هغه هیواد کې د غذا خوړلو لپاره، په هوټل یا مهمانخانه کې اوسېدل، ترانسپورت، تفریحي ځایونه؛ لکه: پارکونه، موزیمونه او نور تاریخي او د لیدلو وړ سیمې او همدارنګه د تحفو اخیستل، وسایل او سامانونه لپاره پیسې لګوي. چې پرته له شک څخه د همغه هیواد په اقتصاد کې زیات رول لري.

یو پنځوسم لوست

د نړۍ مهم توریستي سیمې او هیوادونه

هغه سیمې چې تراوسه توریستان هلته زیات سفر کوي عبارت دي: اروپا او شمالی امریکا.

توریزم د مخ پر ودې هیوادونو کې هم د ښه کیدو په حال کې دی چې لاندې عوامل په هغه تاثیر لري:

1.د حمل او نقل وده او پراختیا.

2.مخ پر ودې هیوادونه په زیاتو مواردو کې د توریستانو لپاره عجیب وي؛ ځکه چې د غوره ابو او هوا لرونکي دي.

3.مخ پر ودې هیوادونه کوښښ کوي چې د خپل اقتصاد د پیاوړتیا لپاره توریستي سیمې لا ښایسته کړي تر څو د توریستانو د توجو وړ وګرځي.

اروپا

د اروپا مرکزي، جنوبي او جنوب لوديځې سیمې د مدیترانې حوزې په شمول د نړۍ له مهمو توریستي سیمو څخه شمیرل کیږي .

په اوږي کې د مدیترانې ساحلو او په زړه پورې هوا او اوبه د ځینو لوبو او ورزشونو لکه: لمبل، د موټر چلولو مسابقه او د اس سپرلي لپاره زمینه برابروي.

لوی تاریخي ښارونه لکه پاریس، لندن، روم، مادرید، د المان ځینې ښارونه، هالنډ او نور اروپایي هیوادونه چې د سینماګانو، تیاترونو، هنري نمایشګاه، موزیمونه، تاریخي ودانې، موسیقي جشنونه، په زړه پورې پارکونه په درلودلو سره په ځانګړې ډول په اوږي کې د نړۍ له ښلا ښلو سیمو څخه توریستان جلب کوي.

د اتریش او سویس هیوادونه د الپ غرونو په سلسله کې د ژمنیو لوبو لپاره د امکاناتو د برابرولو په سبب د اروپا د ژمي موسم له هغو توریستي سیمو څخه شمیرل کیږي.

آسیا

دغه لویه وچه په حقیقت کې د تمدنونو او لویو دینونو د منځته راتلو زانګو ګڼل کیږي. چې د نړۍ له مهمو تروریستي سیمو څخه شمیرل کیږي.

منځنی ختیځ په نړۍ کې د لویو مذهبي توریستي سیمو څخه ګڼل کیږي.

مکه معظمه د حج د ادا په موسم کې د نړۍ زیات شمیر حاجیان او زیارت کونکي ځانته جلب کوي.

همدارنګه چین، هند، اندونیزیا، ترکیه او ځینې نور هیوادونه د ښلا ښلو توریستي سیمو په درلودلو سره د نړۍ د توریستانو د توجو وړ ګرځېدلي دي.

شمالی امریکا

امریکا متحده ایالات او کانادا د ښلا ښلو طبیعي منظرو، ملي پارکونو، ژوبنونو، موزیمونو او فرهنګي مرکزونو په لرلو سره د نړۍ د توریستانو لپاره د پام وړ سیمې دي.

په دې وروستیو کې د مکسیکو او ځینو نورو مرکزي او جنوبي امریکایي هیوادونو د ملی طبیعي پارکونو، ګرم لمریز ساحلو او کلتوري مرکزونو په لرلو سره د توریستانو د توجو وړ ګرځېدلي دي.

د یادولو وړ ده چې د افریقا په لویه وچه کې هم ځینې توریستي سیمې شتون لري چې د هغې له جملې څخه کولای شو د مصر هیواد چې د مهمو تاریخي اثارو لرونکی دی او نور هیوادونه لکه: کینیا، جنوبي افریقا او مراکش یادونه وکړو.

دو پنځوسم لوست

د توریزم د راښکون(جذب) سرچینې

هغه سرچینې چې په نړۍ کې د توریستانو د جذب سبب کېږي عبارت دي له: طبیعي، کلتوري او تاریخي سرچینې.

طبیعي سرچینې: د نړۍ ځینې سیمې طبیعي ښکلې سیمې لرې چې د توریستانو د جذب سبب کېږي. د سیندونو سواحل، جهیلونه، سمندرونو او سمندرګي په جنوبي اروپا، جنوب لویدیځ، مرکزي او جنوبي امریکا، جنوب ختیځ آسیا او استرالیا د اوږي په موسم کې د توریستانو د جذب وړ سیمې دي.

غرنی سیمې په ځانګړي ډول هغه غرونه چې د ژمنیو لوبو لپاره زمینه برابروي لکه د الپ غرونه چې په اتریش او سویس کې توریستي سیمې جوړوي.

همدارنګه طبیعي پارکونه په افریقا، امریکا او د نړۍ په نورو سیمو کې د توریستانو لپاره ځانګړی جذابیت لري.

تاریخي او فرهنګي سرچینې: تاریخي او فرهنګي سیمې او ښارونه چې د ودانیو، مجسمو،موزیمونو، نمایشګاه او فرهنګي مرکزونو

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

لرونکي دي د نړۍ د توريســتانو د جذب ســبب کېږي لکه: د اروپا ، امريکا او افريقا مشهور ښارونه.

د توريزم نړيوال سازمان

د تــوريــزم نــړيــوال ســـازمـان (The World Tourism Organization) چې د ملګرو ملتونو په ســازمان کې فعاليت لري، يو ځانګړی ســازمان دی چې په نړيواله کچه د توريزم مسايل حل او فصل کوي.

د توريزم نړيوال ســازمان لومړی غونډه د هســپانيا هيواد په غوښتنه په 1975م کال د می په ميا شت کې د مادريد ښار کې رامنځته شوه او روبرت لوناتي (Robert Lonatie) د دغه سازمان د لومړي ريس په حيث وټاکل شو.

په اوســنی وخت کې 161 هيوادونه او ســيمې د دغه ســازمان غړيتوب لري او د 390 په شاواخوا ساحوي مرکزونه لري.

همدارنګه دغه سازمان شپږ سيمه ييز کميسيونونه لري چې په امريکا، افريقا، ختيځ آســيا او پاســفيک، اروپا، منځنۍ ختيځ او جنوبي آسيا کې فعاليت لري.

د توريزم نړيوال سازمان عمومي غونډه هر دوه کاله وروسته دايرکېږي او ريس يې هر ځلور کاله وروســته ټاکل کيږي، د غه سازمان رسمي ژبې عبارت دي له: عربي، انګليسي، فرانسوي، روسي او هسپانوي دي.

د افغانستان په 1975م کال کې د توريزم نړيوال سازمان غړيتوب ترلاسه کړی دی.

دري پنځوسم لوست

په نړۍ کې حمل او نقل او د هغه ارزښت

د مالونو، خلکو، انرژي او معلوماتو لېږد ته حمل او نقل وايي.

د دو ســيمو ترمنځ د معلومــاتو تبــادلــه د ارتبــاطــاتو (Communication) په نوم يادېږي.

که چېرې يوازې د مالونو او انرژي لېږد موخه وي نو په دغه صورت کې ورته ترانسپورت (Transport) ويل کيږي.

هغه عوامل چې په نړۍ کې د حمل او نقل د پرمختګ ســبب شوي دي عبارت دي له:

د نفوس زياتوالي: زيات نفوس د زيات ترانسپورت سبب کيږي.

په بشري ټولنه کې پرمختګ او تغيرونه

اقتصادي وده: د عايداتو زياتوالي، د ترانسپورتي وسايطو د زياتوالي ســبب کيږي. د نړۍ په پرمختللو هيوادونو کې زياتره خلکو خپل شخصي موټر لري.

ســيمه ايز پرمختګ: په ځينو بشرــي ټولنو کې خلک د خپل کار له سيمې څخه لري ژوند کوي چې د هغو تګ راتګ د ترانسپورت د ودې سبب کيږي.

د ترانسپورتي لارو او کرښو ښه کيدل: غوره لارې حمل او نقل اسانه کوي.

زيات حمل او نقل، د زياتو ستونزو سبب هم ګرځي چې ځينې له دغو ستونزو او پرابلمونو څخه عبارت دي له:

1.د ژوند د چاپېريال ککړتيا: ترانســپورتي وســايل د دود او ککړ ګاز لکه(Nitrogen dioxide) او ګرد خاک په واســطه هوا ککړوي، او همدارنګه د ژوند د چاپېريال د بدبوي او سرصدا سبب ګرځي.

2.د زياتو ترانسپورتي وسايلو په لارو کې د مالونو او مسافرو د ناوخته رسيدلو سبب کېږي او بعضې وخت د لارې د بنديدو سبب هم کېږي.

3.بې امنيتي: حمل او نقل اوس هم د ترافيکي پيښــو سبب کېږي او په دې اساس يو شمير خلک خپل ژوند له لاسه ورکوی.

4.د ترانسپورتي لارو او کرښو په واسطه د يو شمير ميوه لرونکو ځمکو نيول.

څلور پنځوسم لوست

د حمل او نقل ډولونه

حمل او نقل په هوا کې د طيارې، د اوبو له لارې (ســيندونه، سمندر او سمندرګي) د کښتيو په واسطه او د وچې له لارې د موټر په واسطه ترسره کيږي .

د هر ډول ترانسپورتي وسائلو لپاره اساسي امکانات ضروري دي چې دغه اســاسي امکانات عبارت دي له: لويې لارې، د ريل کرښه، هوايي ډګرونه، سمندري بندرونه، مصنوعي سپوږمکی، ترمينلونه او همدارنګه پايپ لينونه او نور.

لاندينۍ جدول د حمل او نقل بېلا بېل ســيســتمونه او ډولونه ښکاره کوي.

ترانسپورتي شبکه	ترانسپورتي وسيله	هغه جنسونه چې لېږدوي يې
د برېښنا شبکه	الکترون	د برېښنا انرژي
د ريل کرښې	ريل	مالونه او وګړي
د ســړکــونــو شبکه	د سپرلی او باربری موټر	مالونه او وګړي
د اوبو لارې	د بيړيو ډولونه	مالونه او وګړي
هوايي لارې	الوتکې	مالونه او وګړي
د بــد رفــت سيستم	بد رفت	فاضلاب
د اوبو د لېږد شبکه	د اوبو نل لیکه	د ځښلو اوبه
د ګــاز د لېږد شبکه	د ګاز نل لیکه	ګاز
د تــلــيــفــون شبکه	الکترون يا(الکترونکي، نوري او غږيزي څپې	غږيز پيغامونه، ليکنې او انځوريز پيغامونه
مرکز ګرمي	د تودوخې د لېږدولو نــل لیکې	تودوخه

سيالي

د يوې ترانســپورتي وســيلې په انتخاب کې بيلا بيل عوامل تاثير لري، چې د هغې له جملې څخه څو عوامل يې لکه: د بار کولو قيمت، خالي کول، واټن، د مال اندازه د يادونې وړ دي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په دې وروستیو کې د ترانسپورتي وسیلې په انتخاب کې سیالی زیاتې شوې دي او شرکتونه له ترانسپورت څخه نورې غوښتنې لري.

د هغو په څنګ کې د مالونو او جنسونو ډول د یوې وسیلې په انتخاب کې مهم تاثیر لري.

د دوولسم ټولګي جغرافیه

لومړی څپرکی(سرحدونه)

لومړی لوست (سرحدونه او اداري تشکیلات)

د آسیا په لویه وچه کې دوولس هیوادونه په وچه پورې تړلي دي چې د هغې له جملې څخه یو هم افغانستان دی، په خپلو نښکاره طبیعي ځانګړتیاوو سره د اسیا په جنوب کې یو غرنی هیواد بلل کیږي. د زیاتې تاریخي مخینې او پنځه زره کلن تاریخ په درلودلو سره په آسیا کې یو تاریخي هیواد پیژندل شوی دی.

افغانستان په شمالي نیمه کره کې د 29 درجو 22 دقیقو53 ثانیو او 38درجو 29 دقیقو او 28 ثانیو شمالي عرض البلدونو ترمنځ او په ختیځه نیمه کره کې د 47 درجو 51 دقیقو 47 ثانیو او 74 درجو 51 دقیقو 47ثانیو ختیځ طول البلدونو ترمنځ موقعیت لري.

افغانستان د اسیا په لویه وچه کې د مساحت له پلوه دوولسم هیواد دي.

پام وکړئ!

د اسیا په لویه وچه کې هغه هیوادونه چې د افغانستان څخه لوی دي عبارت دي له: روسیه، چین، هند، عربستان سعودي، ایران، منګولیا، قزاقستان، اندونزیا، پاکستان، ترکیه او برما.

په 1388ه.ش کال کې د افغانستان نفوس 26 میلیون نفره اټکل شوی دی.

په 1397ه.ش کال کې 30 میلیونه نفره اټکل شوی دی(نوي چاپ)

د افغانستان اعظمي اوږدوالی په ختیځ کې د دیوالي له درې څخه د تر ټولو لرې لویدیځې نقطې یعني ذوالفقار پورې 1200 کیلومتره او اعظمي سور یې په شمال کې د خماب څخه په جنوب کې د چګایي تر غرونو پورې 912 کیلومتره دی.

د هند سمندر ته د افغانستان نیږدې واټن په مستقیم ډول د هلمند ولایت د کشتګان غر د مزاري کوتل له جنوب لویدیځ څخه د عرب سمندرګي تر نیږدې سواحلو پورې 390 کیلومتره ده.

د افغانستان اسلامي جمهوریت په شمال کې د منځني اسیا له، تاجکستان، ازبکستان او ترکمنستان اسلامي جمهوریتونو سره پوله لري. او په لویدیځ کې د ایران اسلامي جمهوریت سره پوله لري، په ختیځ او جنوب کې له پاکستان سره د ډیورنډ تحمیل شوې کرښې په واسطه چې د پښتنو قبیلو له زړه څخه تیریږي په نښه شوې ده.

په شمال ختیځ کې افغانستان د چین هیواد سانکیانګ ولایت سره تقریباً 92 کیلومتره سرحد لري.

د افغانستان سور د پامیر په سیمه کې تقریباً 24 کیلومترو ته رسیږي چې د پاکستان کشمیر له تاجکستان څخه جلا کوي.

افغانستان د دریو حوزو ایران، هند، پاکستان او منځنی اسیا هیوادونو د نښلیدو سیمه ده.

پام وکړئ!

د افغانستان او برتانوي هند ترمنځ طبیعي سرحد د سند سیند او د بلوچستان جنوبي سواحل و، خو د انګلستان د توتئي په اساس د ګندمک او ډیورنډ د ټرون په واسطه د افغانستان له وجود څخه یوه برخه جلا شوه، او د افغانستان سرحدونه له پامیر او واخان څخه تر بلوچستان پورې تعین شول چې په دې اساس د چمن، پشین، وزیرستان، کرمه، پاړه چنار، افریدي، باجوړ، سوات او چترال د افغانستان له خاورې جلا او د هغه وخت برتانوي هند برخه وګرځېده.چې وروسته د پاکستان له تشکیل څخه دغه سیمې د پاکستان یوه برخه وګرځېده او د افغانانو لپاره د منلو وړ نه ده.

دوهم لوست (شمالي سرحدونه)

په 19 م پیړۍ کې د انګلستان او تیزاري روسیې د مخکې تګ سیاست په اساس زیاتې مهمې سیمې د افغانستان له وجود څخه جلا شوي دي.

په افغانستان کې شمالي سرحدونه پخوا د افغانستان د سیمه ایزو حکومتونو او د مرکزي اسیا هیوادونو د حکمرانانو او یا هم د افغانستان د مرکزي حکومت او ماوراالنهر د امیرانو په واسطه تاکل کیدل. خو کله چې تزاري روسیې په 19م پیړۍ کې په منځني اسیا کې پرمختګ وکړ او سیمې یې ونیولې.

د انګلستان خارجه وزیر لارد ګرینویل او د تزاري روسیې خارجه وزیر پرنس ګورچکوف د افغانستان او روسیې ترمنځ د سرحد تاکلو لپاره تعین شول.

په 1873م کال کې چې د 1251ه.ش کال سره سمون لري د افغانستان شمالي سرحد له زرقول څخه تر خماب پورې د پنج

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

او آمو سیندونو مسیر دی، د امیر شیرعلی خان د سرحدي کرښې په نوم تثبت شوه.

دامیر شیر علی خان سرحدي کرښه 1200 کیلو متره اوږدوالي لري.

د 1325ه.ش کال د ترون په اساس چې د 1946م کال د جون له میاشتې سره سمون لري د هغه وخت شوروي اتحاد د بهرنیو چارو وزیر مولوتوف او په مسکو کې د افغانستان سفیر سلطان احمد خان شیرزي ترمنځ پریکړه وشوه چې د آمو سیند منځني کرښه د سرحد په حیث پیژندل شوي او د درقد جزیره کې د تخار ولایت په شمالي موقعیت لري او 422 کیلومتره مربع مساحت لري د افغانستان د خاورې یوه برخه وګرځېده.

په 1342ه.ش کال کې چې د 1964م کال سره سمون لري د آمو او پنج سیند څخه د ګډې ګټې اخیستنې پریکړه لیک امضا شو.

د ریجوي سرحدي کرښه

د د تزاري روسیې او برتانیې ترمنځ یو ځل بیا خبري شروع شوې او پریکړه وشوه چې په 1884م کال کې د دریو هیوادونو افغانستان، روسیې او برتانیې استازي سرخص ته حاضر شي. روسی لوري په تاکلي وخت حاضر نه شو بلکې په منځني اسیا کې یې خپلو حملو ته دوام ورکړ.

افغاني عسکرو د جنرال غوث الدین په مشرۍ له روسي لښکرو سره د علي خانوف په مشرۍ جګړه وکړه چې په پایله کې افغاني عسکرو د کم شمیر او د مجهزو جنګي وسایلو په نه شتون سره له پنجدې څخه دفاع ونه کړای شوه او په 1885م کال کې چې د 1263 ه.ش کال سره سمون خوري روسانو اق تپه او پنجده ونیول.

له هغې وروسته د هغه وخت د انګلستان ملکه ویکتوریا د دوهم الکساندر تزار روسي سره له تهدید څخه ډک تلګراف د دې سبب شو چې د روسی لښکرې له نور پرمختګ څخه صرف نظر وکړي.

یو ځل بیا د روسیې او انګلستان ترمنځ سرحدي مذاکرات په لندن کې پیل شول تر څو د افغانستان شمال لویدیځ سرحد له تزاري روسیې سره وټاکل شي.

په 1887م کال کې چې د 1265ه.ش کال سره سمون خوري یو شپږ فقره ای پروتوکول امضاء شو چې د افغانستان شمال لویدیځ سرحدي کرښه د ریجوي سرحدي کرښې په نوم ونومول شوه.s

دغه سرحدي کرښه وروسته د انګلستان د استازي چارلس پت او تزاري روسیې استازي کاپیتان کامروف په واسطه د څلورو کلونو په موده کې د 540 کیلومتره په اوږدوالي سره د ذوالفقار دري څخه تر خماب پورې د یو قوس په بڼه تثبت شوه چې 30 کیلومتره د مرغاب سیند په واسطه او پاتې یې د بیلرونو په واسطه نښانې شوه.

دریم لوست (شمال ختیځ سرحدونه)

د افغانستان په شمال ختیځ کې دوې سرحدي کرښې شتون لري یوه یې د پامیر سرحدي کرښه د افغانستان او تاجکستان ترمنځ او بله یې د شمال ختیځ سرحدي کرښه د افغانستان او چین ترمنځ.

د پامیر او واخان لوړې سطحې چې د سمندر له سطحې څخه 6000متره لوړوالی لري او د آمو او سند د سیندونو د ځینو برخو اوبه چې له دایمي کنګلونو څخه سرچینه اخلي جوړوي.

د پامیر لوړې سطحې د نړۍ د بام په نوم یادیږي.

د امیر عبدالرحمن خان د حکومت په وروستیو کې په 1895م کال کې چې د 1274 ه.ش کال سره سمون خوري د دریو هیوادونو استازو له افغانستان څخه غلام مخي الدین خان د هغه وخت د قطغن او بدخشان ولایت والي، مجرجرلو د انګلیسي هیئت مشر او فیفروشوایکوسکی د تزاري روسیې د هیئت مشر د کوچني پامیر او واخان په سیمو کې په خبرواترو شروع وکړه.

د پامیر سرحدي کرښه چې د زرقول جهیل له ختیځ څخه په ختیځ کې د دیولي تر دري پورې ادامه لري د روسیې دولت په 1986م کال کې د مارچ په میاشت کې دغه کرښه ومنله نو په دغه اساس وخان افغانستان ته د یو نړیوال ترون له مخې ورکړل شوی دی.

د چین جمهوري دولت له جوړیدو وروسته یو ځل بیا د محمد ظاهر شاه د حکومت په دوره کې د چین او افغانستان ترمنځ سرحدي مذاکرات پیل شول.

په 1336ه.ش کال کې چې د 1957م کال سره سمون خوري موافقه وشوه ترڅو د دواړو دولتونو ترمنځ سرحد تعین او د ځمکې پر مخ تثبیت شي.

شمال ختیځ سرحدی کرښه چې د دیولي له دري څخه د یو قوس په بڼه د واخجیر کوتل په جنوب ختیځ کې د کلیک کوتل پورې ادامه لري د افغاني پامیر او د چین سینکیانګ ولایت ترمنځ چې 92 کیلومتره اوږدوالد لري او 1343ه.ش کال د اسد په میاشت کې په فني ډول د بیلرونو په واسطه په نښه شوه.

څلور لوست (ختیځ او جنوبي سرحد)

د احمد شاه بابا له دورې څخه د محمدزیو د حکومت تر لومړیو پورې افغانستان په جنوب او ختیځ کې تر کشمیر، لاهور، پنجاب، پیښور، بلوچستان، دیره اسماعیل، غازي خان دیره، شکارپور، سند، ملتان او بیلاخره د عرب سمندرګي پورې پراخوالی درلود.

د شامحمود سدوزی د وروڼو او محمدزیو د داخلي اختلافونو او د محمدزیو او سدوزیو د سیالیو په سبب ځینې سیمې د وخت په تیریدو سره د انګلیسي قواو تر لاس لاندې شوې او د انګرېزانو

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د نیول شـو سـیمو ترمنځ زمور په هیواد کې کوم سرحد نه و موجود.s

په 1893 م کال کې انګرېزانو زیاتې لښکري د افغانستان په لور واسـتوي او امیر عبدالرحمن خان ته لیک ولیږه چې جنرال رابرت له یو سـیاسي هیئت سره د جلال اباد په فرقه کې قبول کړي.

انګرېزانو د مارتیمر ډیورنډ په مشر 15 کسیز سیاسی هیئت کابل ته ولیږه. ډیورنډ کابل ته راغي او د ډیورنډ تړون یې چې د مادې یې مخکې د انګریزانو له خوا ترتیب شـوي وي امیر عبدالرحمن خان ته وړاندې کړ، وروسـته له زیاتو خبرواترو یې هغه پر امیر عبدالرحمن خان د چهلستون په باغ کې امضـا کړ(1893م کال د نوامبر 12 مطابق د 1311ه.ق کال د جهادي الاول2)

د ډیورنډ سرحدي کرښـه د واخان د واخجیر کوتل په جنوب ختیځ کې د کلیک غاښـی او چترال څخه تر بلوچسـتان او ملک سیاه غره پورې چې 1920 کیلومتره اوږدوالی لري تثبت شـوه او په دې ډول چمن، پشین، وزیرسـتان، کرمه، پاړه چنار، افریدي، باجوړ، سـوات،او چترال سیمې د افغانسـتان څخه جلا او د هغه وخت برتانوي هند د خاورې یوه برخه وګرځېده.

د برتانوي هند د هیئت د رییس له خوا پریکړه وشوه چې د هغې په اساس د روسانو او شغان سیمې د پنج سیند په شمال کې او د آمو سـیند پورتنۍ برخه چې د 1873م کال د ګورچکوف او لارد ګرینویل د تړون له مخې د افغانسـتان برخه وه یو ځل بیا تزاري روسیې ته وسپارل شوې او د هغه په مقابل کې واخان او اسمار د افغانستان د خاورې برخه وګرځېده.

انګرېزانو د امیر عبدالرحمن خان سره د نښـو اړیکو لپاره د کال 12 لکه پیسې امیر ته ورکولې او د ډیورنډ له تړون وروسته د کال شپږ لکه نورې هم په هغه زیاتې شوې.

د افغانستان له خپلواکې وروسته په 1919م کال کې دغه مساله پرته له حل څخه پاتې او کله چې په 1947م کال کې د پاکستان دولت رامنځته شـو ، بیا هم دغه کرښـه پرته له حل څخه پاتې شوه.

پنځم لوست (لویدیځ سرحدونه)

الف- د مکمهان سرحدي کرښه

د سـیسـتان سـیمه چې د هیواد په جنوب لویدیځ کې موقعیت لري د تاریخ په اوږدو کې کله د افغانسـتان او کله هم د ایران لخوا اداره کېده.

د احمدشـاه بابا له وخت یعني 1747م کال چې د 1125ه.ش کال سره سمون خوري سیستان د افغانستان د خاورې یو برخه وه.

د امیر شـیرعلی خان د واکمنۍ په دوره کې د سربندي قبیلې مشرـ علي خان د خپلې قبیلې له خلکو سره د ایران تابعیت تړلاسـه کړ او خپل ځان سره له قبیلې د ایران دولت ته تسـلیم کړ.

د هند وایسرا فریدریک ګولدسمت د سیستان په سیمه کې د حاکم په حیث مقرر کړ تر څو د افغانسـتان او ایران ترمنځ د منځګړې په حیث کار وکړي او موضوع فیصله کړي.

د انګرېزانو د هیئت رئیس ګولدسمت له ایراني او افغاني هیئت سره دوه کاله د سیستان سرحدونه وڅېړل او په 1873م کال کې چې له 1252ه.ش کال سره سـمون خوري داسـې فیصـله وکړه: خاص سیسـتان په ایران او ماوراسیسـتان په افغانسـتان پورې تعلق لري.

په 1247ه.ش کال کې د هلمند سـیند له خپل اصـلی مسـیر څخه چې د نادعلي سـیند دی او د افغانسـتان او ایران ترمنځ سرحد دی منحرف شو او زیاته برخه اوبه له بلې لارې څخه چې د پریان سـیند و او د نادعلي په لویدیځ خوا کې موقعیت لري د هلمند هامون ته داخلیدي.

یو ځل بیا له انګرېزي څخه غوښتنه وشوه. د انګلستان حکومت د دغه کار لپاره مکمهان د پنځلس زره انګلسي او هندي افسران سره انتخاب کړ.

دغه سرحدي کرښه د ملک سیا څخه تر سیاکوه پورې د مکمهان سرحدي کرښې په نوم تثبت شوه.

کله چې د افغانستان حکومت د هلمند او ارغنداب په پراختیایي پروژو کار پیل کړ د ایران حکومت د اوبو د کمواليې په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ته شکایت وکړ.

د افغانسـتان حکومت په 1321ه.ش کال کې افغانسـتان د دری کسـیز کمیسـیون راپور ومانه او د مزاکراتو د پیل لپاره یې خپله تیاري د ایران دولت ته اعلان کړه.

ب- فخري سرحدي کرښه

دغه کرښه له سیا کوه څخه تر ذوالفقار درې پورې چې د هیواد په شـمال لویدیځ کې موقعیت لري، څو ځله د افغانسـتان او ایران ترمنځ دغه سرحدي کرښه وټاکل شوه خو په دې برخه کې غوڅه پریکړه ونه شوه.

دواړو دولتونو په 1313ه.ش کال کې د ترکیې له دولت څخه د منځګړیتوب غوښـتنه وکړه. د ترکیې دولت جنرال فخرالدین التایي د سرحدي ستونزو د حل لپاره وټاکه.

جنرال فخرالدین التایي وروسـته له زیاتو څېړنو او مطالعو څخه دواړو دولتونو تـه خپلـه پریکړه اعلان کړه. چې پـه دې ډول د افغانسـتان لویدیځ سرحد چې فخري سرحدي کرښـې په نوم یادیږي له سـیاکوه څخه د شـمال په لوري د ذوالفقار تر درې پورې تثبت کړه.

له سـیاه کوه څخه تر اسـلام قلعه پورې دغه سرحدي کرښـه د ځمکې پر مخ او د اسـلام قلعې څخه تر ذوالفقار درې پورې د

ketabton.com - The Digital Library

ایران او افغانستان ترمنځ د هریرود سیند په واسطه په نښه شوې ده.

شپږ لوست (اداري تشکیلات)

افغانستان د امان الله خان د حکومت په دوره کې د اداري واحدونو د تشکیلاتو په اساس په پنځو ولایتونو او څلور اعلی حکومتونو ویشل شوي و. د افغانستان ولایتونه عبارت و له: کابل، کندهار، هرات، ترکستان قطغن او بدخشان.

اعلی حکومتونه عبارت و له: د مشرقي سمت اعلی حکومت، جنوبي سمت اعلی حکومت،د میمنې اعلی حکومت او د فراه اعلی حکومت.

د 1343 ه.ش کال څخه وړاندې ولایتونه زیات پراخه او لوی و چې د هغوي اداره د طبیعي موانعو لکه غرونه، پراخه او سوځونکي دښتو تنګي درې چې د هغه وخت د وسیلو په واسطه تګ راتګ ډیر ستونزمن و.

په 1343ه.ش کال کې د لومړي ځل لپاره د اساسي قانون او د یموکراسۍ د تطبیق په موخه د هیواد په اداري تشکیلات کې بدلون رامنځته شو او افغانستان په 29 اداري واحدونو یا ولایتونو وویشل شو.

د هیواد په ملکي اداري ویش کې په 1370ه.ش کال کې 32 ولایتونه 94 ښاري ساحې 294 ولسوالي او 33500 کلي شامل و.

په 1385ه.ش کال کې دوې ولسوالۍ چې یوه یې پنجشیر او بله دایکندي وه ولایت ته لوړې شوې.

په وروسیتو کلونو کې افغانستان په 34 ولایتونو او 364 ولسوالیو ویشل شوی دی.

د افغانستان ترټولو لوي ښار د کابل ښار دی چې د هیواد پلازمینه ده.

او د مساحت له پلوه د افغانستان ترټولو لوی ښار د هلمند ښار دي.

د ولایت نوم	مرکز	د ولایت نوم	مرکز
کابل	د کابل ښار	بغلان	د پلخمري ښار
کندهار	د کندهار ښار	فاریاب	د میمنې ښار
هرات	د هرات ښار	نیمروز	د زرنج ښار
بلخ	د مزار شریف ښار	بدخشان	د فیض اباد ښار
ننګرهار	د جلال اباد ښار	جوزجان	د شبرغان ښار
پکتیا	د ګردیز ښار	بامیان	د بامیان ښار
غزني	د غزني ښار	زابل	د قلات ښار
پروان	د چاریکار ښار	غور	د چغچران ښار
هلمند	د لشکرګا ښار	بادغیس	د قلعه نو ښار
سمنګان	د ایبک ښار	کاپیسا	د محمود راقي ښار
تخار	د تالقان ښار	نورستان	د پارون ښار
کندز	د کندز ښار	خوست	د متون ښار
لغمان	د مهترلام ښار	سرپل	د سرپل ښار
فراه	د فراه ښار	ارزګان	د ترین کوټ ښار
پکتیکا	د شرنې ښار	پنجشیر	د بازارک ښار
کنړ	د اسعد اباد ښار	دایکنډي	د نیلي ښار
لوګر	د پل علم ښار	وردګ	د میدان ښار

تکی: د 8 ولایتونو او د هغه پلازمینو نومونه یو ډول دي.

دوهم څپرکی
اوم لوست (نفوس او د هغه ارزښت)

نفوس د یو هیواد د اوسیدونکو له مجموعي شمیر څخه عبارت دي چې د د بیلابیلو لاملونه په اثر په بیلابیلو سیمو کې ځانته استوګنه غوره کړې ده.

د یو سیمې د نفوس د ګنوالي لپاره د نفوس شمیر د هغه سیمې په مساحت ویشل کیږي.

د افغانستان نفوس د 26 میلیونه نفرو په شاوخوا کې اټکل شوی دی، موجود نفوس په ټولو سیمو کې یو شان نه دی بلکې اقلیمي شرایط، د ځمکې جوړښت او نور اقتصادي، سیاسي او بشري لاملونه د نفوس په ګنوالي تاثیر لري.

همدارنګه د پورتنیو لاملونو په نظر کې نیولو سره په حاصل خیزو سیمو کې لکه ننګرهار، لوکر، کاپیسا،، لغمان او پروان زیات شمیر نفوس ځای پرځای شوی دی.

په داسې حال کې چې په سوځونکو دښتو او صحرایي سیمو کې لکه مارکو او بکوا کې د نفوس شمیر حداقل ته رسیږي.

زیاتره نفوس 80 فیصده په کلیو او 20 فیصده په ښارونو کې ژوند کوي، خو د وخت په تیریدو او سیاسي بدلونو سره په دې وروستیو کې د کابل، جلال اباد، مزارشریف او هرات ښارونو نفوس زیات شوی دی.

د اقتصادي او صنعتي پلوه د هیواد زیات شمیر نفوس په صنعتي مرکزونو کې ژوند کوي لکه: د پلخمري نساجي فابریکې، د بغلان بوري فابریکه او نورو تر څنګ.

د هډې او غازي اباد فارمونه، د هلمند او نادعلي پروژه او نور د کرنیزو پروژو په حیث د زیات شمیر نفوس د میشت کیدو سبب شوي دي.

لنډه دا چې په اوارو او مناسب اقلیمي سیمو کې د نفوس کثافت زیاتیږي نه په ګرم او سوځونکی ریګستان او لوړو او غرنیو سیمو کې.

اتم لوست (جغرافیایي ویش)

د نفوس میشت د لویو مدنیتونو او تاریخي ښارونو په جوړیدو سره لکه بلخ شروع شوی دی.

د هیواد له 80 څخه تر 85 فیصده نفوس په کرهنه او هغه پورې اړوند فعالیتونو بوخت دی.

په هیواد کې د نفوس ګنوالی له 2500 مترو څخه په لوړو سیمو کې کم دی؛ خو هغه سیمې چې مناسب اقلیمي شرایط، ښه خاوره، زیاتی اوبه ولري زیات شمیر نفوس هلته استوګنه غوره کوي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

هغه سیمې چې له 1000 مترو څخه کم لوړوالی لري، په ټول هیواد کې پراخه او اواري سیمې دي، چې د نفوس د میشت کیدو زمینه یې برابره کړې ده، د صحرایي سیمو څخه پرته، د دغه سیمو زیاتره نفوس په کرهنه، مالداري او نورو سوداګریزو او صنعتي فعالیتونو بوخت دي.

صنایع او د فابریکو جوړول، عرفاني او فرهنګي ودانۍ، نظامي او اداري واحدونه او توریستي سیمې هم د نفوس د ګڼوالی سبب شوي دي. چې له دغې جملې څخه کولای شو د کابل، جلال اباد، هرات، مزارشریف، کندهار او نورو ښارونو نومونه واخلو او همدارنګه د اوبو شتون د نفوس په ګڼوالی هم زیات تاثیر لري.

نهم لوست (د نفوس وده)

د نفوس نسبي زیاتوالی د یو هیواد د اوسیدونکو زیاتوالی ته وایي، د نفوس د شمیر او نسبي ودې لپاره دارقامو برابرول او اساسي سروې د اساسي ارټیاوو څخه شمیرل کیږي، ترڅو د دیموکرافي له پلوه وده، مړینه(نارینه او ښځینه) او نور ارقام ټول وخت د څیړونکو او موسیسو په اختیار کې ورکړل شي.

په مخ پر ودې هېوادونو کې د نفوس وده د اجتماعي، مذهبي او اقتصادي قوانینو پیروي کوي. د اجتماعي او صحي نظره عادي نفوس د پام وړ دي.

نو په دې اساس په افغانستان کې د نفوس منځنی او عادی وده 2.03 فیصده محاسبه شوي ده خو بیا هم دقیقه احصایه شتون نه لري.

د افغانستان د نفوس او د هغې د ودې په اړه اټکلي شمیرې د لومړي ځل لپاره په 1315ه.ش کال کې خپرې شوي چې د افغانستان نفوس په دغه کال کې لس میلیونه او اویا زره ښودل شوی دی.

د پلان وزارت د احصایې له مخې په 1329ه.ش کال کې د هیواد نفوس دولس میلیونه اټکل شوی دي چې په دغه کلونو کې د نفوس شمیره اټکلي ښودل شوي ده.

د هیواد بشپړه نفوس شمیرنه په 1385ه‌ش کال د جوزا د میاشتې په 25 نیټه پیل او د سرطان میاشتې په 14 نیټه پای ته ورسیده، د دقیقې احصایې سربېره بیا هم ونه توانیدل چې د هیواد په ټولو سیمو کې نفوس شمیرنه وکړي.

د 1358ه.ش کال د احصایې له مخې د هیواد نفوس 15.94 میلیونه نفره و چې له دې جملې څخه یې 13.4 میلیون نفر ځایي اوسیدونکي او پاتې 2.56 میلیونه نور یې کوچیان و.

د ځایي اوسیدونکو څخه 15.4 فیصده یې په ښارونو او 84.6 فیصده نور یې په کلیو او بانډو کې اوسېدل.

په دغه کال کې د هیواد د ساکن مجموعي 2.1 میلیونه کورنۍ وي او په منځنۍ ډول د هرې کورنۍ څخه 6 نفره اټکل شوی و.

د هیواد نفوس په 1388ه.ش کال کې 260میلیونه نفره او په 1397 ه.ش کال کې 30 میلیونه نفره اټکل شوی دی.

لسم لوست (د نفوس څرنګوالی)

د افغانستان د نفوس څرنګوالی کولای شو د لاندې مطالبو په اساس تر مطالعې او څیړنو لاندې ونیسو.

1. د عمر له نظره 2. د جنس له نظره

له 1358ه.ش کال څخه وروسته د نفوس کومه سرشمیرنه چې د هیواد په سطحه وي نه ده اجرا شوي.

په 1383ه.ش کال کې د نفوس د څرنګوالی لومړیتوب د نارینه او ښځینه د ترکیب له مخې ترسره شو.

د اتیایمې لسیزې په شروع کې زیاتره پاملرنه د ښځو طبقې ته شوي ده چې د هغوي برخه په ټولو ډګرونو کې په روښانه ډول لیدل کیږي .

زمور هیواد د مخ پر ودې هیوادونو له ډلې څخه دی چې مجموعي نفوس یې له تولد څخه تر 15 کلنې پورې 44.6 فیصده، له 16 څخه تر 65 کلنې پورې 52.9 فیصده او له 60 کلو څخه پورته 2.6 فیصده جوړوي.

د هیواد فعال اقتصادي نفوس د 15-60 کلونو پورې دی او 80 فیصده یې په کرهنه او مالداري کې بوخت دي.

او له 65 کلو څخه پورته غیر فعال اقتصادي نفوس شمیرل کیږي.

قومي جوړښت

پښتانه

د تاریخي اسنادو په اساس پښتانه تر ټولو لرغوني آریایي نیژاد لرونکي دي. پښتانه په ټول افغانستان کې اوسېږي، زیاتره د هیواد په ختیځ، جنوب او جنوب لویدیځو سیمو کابل او نیږدي ولایتونو کې ژوند کوي.

تاجک

تاجک هم د پښتنو په شان د دې هیواد د پخوانیو آریایانو له جملې څخه دي، چې په ټول افغانستان کې او په ځانګړې ډول د هیوادپه شمالي سیمو کې له بدخشان څخه تر هرات او د هندوکش له جنوب پروان څخه تر کابل پورې ژوند کوي. تاجک په عمومي ډول په دري ژبه خبرې کوي.

اوزبک او ترکمن

اوزبک او ترکمن زمور د هیواد له ځایي اوسیدونکو څخه دي. چې د هیواد په شمال او شمال لویدیځ کې اوسېږي. اوزبک، ترکمن، قرغز او قزاق په اوزبکي، ترکي، قرغزي او قزاقي ژبو خبرې کوي.

هزاره

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

هزاره هم زمور د هیواد له اوسیدونکو څخه دي چې د دري ژبي په هزاره ګي لهجه خبري کوي او په بامیان او مرکزي لوړو سیمو کې ژوند کوي.

نورستانیان هم زمور د هیواد له اوسیدونکو څخه دي د اوسیدو سیمه یې نورستان او ژبه یې نورستاني ده.

بل قوم چې اریائي نیژاد لري پشه یان دي چې په کنړ، لغمان او کاپیسا کې ژوند کوي ژبه یې پشه یي ده.

بلوڅ

بلوڅ هم له آریایی قومونو څخه دي چې د کندهار په جنوب او چخانسور کې ژوند کوي ژبه یې بلوچي ده او په پښتو او دري ژبو هم خبري کوي.

یو شمیر هندوان او سیکان هم په کابل، ننکرهار، کندهار، ګردیز او غزني کې هم ژوند کوي چې د دغه ځمکې اوسېدونکي دي

یوولسم لوست (مهاجرتونه)

داخلي او خارجي مهاجرتونه او د نفوس ځای پرځای کیدل

سیاسي مهاجرتونه: سیاسي مهاجرت هغه وخت ترسره کېږي چې فکري او عقیدوي ازادي تر فشار لاندې راشي؛ د مثال په ډول د شوروي اتحاد د یرغل پر مهال 1357ه.ش کال د افغانانو مهاجرت چې بیلا بیلو هیوادونو او لویو وچو ته مهاجر شول،چې شمېر یې پنځه میلیونه نفرو ته رسیده.

اقتصادي مهاجرتونه: خلک له کوچنیو ښارونو او کلیو څخه لویو او صنعتی ښارونو ته د مناسب کار او وظیفې، د راحت او اسانه ژوند لپاره مهاجرت کوي.

تاریخي مهاجرتونه: په پخوانیو وختونو کې اریایانو له بلخ یا بخدی څخه شاوخوا سیمو تر هند او فارس پورې مهاجرت وکړ، وروسته یونانیانو، کوشانیانو او مسلمانانو یو پر بل پسې دغه سیمو ته مهاجر شول.

هغه مهاکرتونه چې د طبیعي پېښو لکه وچکالی ترسره کېږي مثلاً: په 1349ه.ش کال کې د بادغیس، اروزګان او د هزاره جاتو لوړو سیمو خلک د وچکالی له امله د خپلو کورونو پریښودو ته اړ شول.

موسمي مهاجرتونه: د ګرمو او یخو سیمو ترمنځ ترسره کیږي، یعني مهاجرین د خپلو ځاړویو د روزنې او کرهنې لپاره د اوړي په موسم کې شاوخوا سیمو ته مهاجرت کوي، چې د کوچیانو مهاجرت د دغه ډول مهاجرت یوه ښه بیلګه ده.

د مهاجرت اغیزې

منفي اغیزې

د پرېږو د فرهنګ تر تاثیر لاندې راتلل.

د مغزونو تېښته.

د فعال اقتصادي نفوس له لاسه ورکول.

بهر ته د پانګې لېږدول.

د انساني حقونو تر پښو لاندې کیدل.

منفي اغیزې لکه په HIV،د پوستکي ناروغي، نشه یي توکي او نورو اخته کیدل.

مثبتې اغیزې

د خپل فرهنګ انتقال او د نورو له فرهنګ سره بلدتیا.

له بهرنیو ژبو سره آشنایي.

له نوي تکنالوژي سره بلدتیا.

دریم څېرکی (ژبه او دین)

دوولسم لوست (دین)

زمور نیکونو آریایانو مخکې له دې چې نورو سیمو ته کوچ وکړي ساده دین یې درلود. د طبیعت هغه عناصر چې د دوي په ژوند کې موثر و مقدس ګڼل.

د افغانستان خلکو که څه هم د پخوانیو بودایي او برهمني عقیدو پاتې شونو سره چې د هېواد په ختیځ کې یې رواج درلود، زردشتی دین چې د هیوادپه لویدیځ کې یې رواج درلود هم پیروي کوله.

په 206ق.م کال کې اشوکا د بودایي دین د خپرولو لپاره خپله ملا وترله چې زر کاله وروسته دغه دین د هیواد په ختیځ او شمال کې په مکمل ډول رواج درلود، چې د فکري، هنري، حیاتي او فرهنګي پلوه یې د خلکو په ژوند کې ډېر ژور تاثیرات درلودل.

د بودایي دین نفوذ د اشوکا په مرسته د هندوکش له جنوب څخه تر کندهار پورې پراختیا وکړه.

د حضرت عثمان رضي الله عنه د خلافت په دوره کې وروسته له 25 هجري کال اسلامي فتوحاتو د افغانستان په خاوره کې پرمختګ وکړ.

احنف ابن قیس د هرات ښار په زور او جنګ سره ونیو او خلک یې د اسلام په مبارک دین مشرف کړل، دریم خلیفه حضرت عثمان رضي الله عنه، عبدالله به عامر بن کریز چې 25 کلن ځوان و د ابو موسی اشعري پر ځای وټاکه.

عبدالله به عامر د اسلام دین لمنه د اسلامي امپراتوری تر ختیځ پورې پراخه کړه، هغه سرخس، فاریاب، تالقان، کندهار او غزني فتح کړل او د اسلام دین یې په دغه سیمو کې خپور کړ. کابل یې یو کال محاصره کړ او په مشکل سره یې هغه ونیو.

په 19م پیړۍ کې د امیر عبدالرحمن خان په وخت کې نورستان(کافرستان) د اسلام په مبارک دین مشرف شو.

اوس مهال په افغانستان کې 99.6 فیصده خلک د اسلام مبارک دین پیروان دي او یو شمیر اهل هنود او سکان هم په افغانستان کې ژوند کوي.

اهل هنود او سکان په جلال اباد، کابل، کندهار، چاریکار، غزني، ګردیز او په نورو ښارونو کې ژوند کوي.

دیارلسم لوست (ژبه)

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په افغانستان کې د ژبو ارزښت د نړۍ د نورو ژبو په څیر د هغوي د ویونکو په شمیر پورې اړه لري.

د افغانستان رسمي ژبې پښتو او دري دي. په اورمړي او عربي ژبو یوازې یو څو محدودو کلیو اوسیدونکي پرې خبرې کوي.

اندو اوریایي ژبه په دوو اریائي او هندي ژبو ویشل شوي ده چې اریائي ژبه په عمومي ډول د هیواد په جنوب لویدیځ، شمال لویدیځ او شمال ختیځ کې رواج لري او مشهورې ژبې یې عبارت دي له: پښتو، دري، بلوڅي، اورمړي او پامیر (غلجی) یعنې غرنۍ ژبه.

په هندي ژبه کې ګوربتي، کلشه یي، تیراهي، سندي او پنجابي شاملیږي.

د رویدا ژبه چې د آریایي او هندي ژبو ترمنځ یو ځانګه ده او کتي، بشکلي، وایګلي، پرسني، شکوني، پشه یي او نورستاني ژبو په هغه کې شاملې دي.

پښتو

هغه خلک چې په پښتو ژبه خبرې کوي تقریباً په ټول هیواد کې ژوند کوي، خو زیاتره پښتانه د هیواد په ختیځ، جنوب او جنوب لویدیځو سیمو کې ژوند کوي. دغه ژبه زیاتې لهجې لري چې مشهورې یې مشرقي او کندهاري لهجې دي.

دري

د هیواد له ډیرو پخوانیو ژبو څخه ده د هیواد زیاتره نفوس د دغه ژبې په بیلا بیلو لهجو خبرې کوي، او تقریباً د افغانستان ټول خلک له دغه ژبې سره اشنا دي.

بلوچي

د هلمند، ګودریزه، صابري هامون او د هیواد په لویدیځ سرحد کې یو شمیر خلک په دغه ژبه خبرې کوي.

اوزبکي

د هیواد په شمالي ولایتونو کې یو شمیر خلک پرې خبرې کوي.

ترکمني

یو شمیر خلک د هیواد په شمال او شمال لویدیځو سیمو کې تر هرات په دغه ژبه خبرې کوي.

پراچي

د نجراب په یو دره کې د تګاب له اله سای سره نیږدې یو شمیر خلک په دغه ژبه خبرې کوي.

منجي

منجي ژبه د بدخشان په منجان، واخي ژبه په واخان، سریګی ژبه د واخان په شمال کې، سنګلیچي ژبه د منجان په ختیځ او د بدخشان د زیباک په جنوب کې، اشکاشمي د بدخشان په اشکاشم کې، شغني ژبه د بدخشان په اشکاشم او شغنان کې، روشاني او اشري د بدخشان په لویدیځ او د پنج سیند ترڅنګ او قرغزي ژبه په کوچني پامیر کې رواج لري.

پامیري ژبه د پامیر په سیمه کې خلک پرې خبرې کوي.

کټه وایګلي، شکوني، پاروني په نورستان، ګوربتي ژبه په ختیځ نورستان، پشه یي ژبه په نورستان، لغمان په درو، تګاب، نجراب، کوهستان، کاپیسا او پغمان، تراهي ژبه په ډکه او د خیبر په لویدیځ کې او په جټي ژبه یو شمیر جټان خبرې کوي.

په سندي، لهندا او پنجابي ژبو اهل هند هیوادوال خبرې کوي.

اورمړي ژبه په لوګر، براهوي ژبه په شورابک او چخانسور کې رواج لري.

مغلي او ازري ژبې اوس له منځه تللي دي، خو قزاقي ژبه د بلخ په خینو سیمو کې رواج لري.

څلورم څپرکی

څوارلسم لوست (مواصلاتي ارزښت)

مواصلاتي لارې په یو هیواد کې د اقتصادي، اجتماعي، سیاسي، فرهنګي او د ټولنې اداري پرمختګ د زیربنا حیثیت لري.

د یو ټولنې د اقتصاد او صنعت پرمختګ د هغه ټولنې د مواصلاتي لارو او حمل او نقل وسایلو په پرمختګ پورې اړه لري.

د منظمو ترانسپورتي لارو څخه په ګټه اخیستنې سره په بازار کې د شیانو قیمتونه کمیږي.

د سون توکو په لګښت کې کموالی او سوداګریز مالونه پرته د وخت له ضایع څخه بازار ته رسیږي.

بیلا بیل قومونه د یو بل له فرهنګ څخه خبریږي او د هیواد ملي یوالی تامین کیږي.

په ستونزو اخته سیمو ته په چټکی سره مرسته رسول کیږي. د ترانسپورتي لارو د نشتون په صورت کې پورتني هدفونه نه ترلاسه کیږي.

په افغانستان د موقت حکومت له جوړیدو وروسته د توکیو-جاپان د همکاری په کنفرانس کې د هیواد د اقتصاد زیربنا په حیث د هیواد د لویو لارو د بیا جوړولو او پراخولو ته اولویت ورکړل شو، چې اوس مهال 80 حلقوي سړکونه بشپړ او له بندرونو سره نښلول شوي دي. همدارنګه د ولایتونو نښلول او د ولسوالیو نښلول له مرکز سره ادامه لري.

پنځلسم لوست (حمل او نقل)

افغانستان د جغرافیایي موقعیت له پلوه د پخوا وختونو راهیسې د ختیځ او لویدیځ او همدارنګه د شمال او جنوب ترمنځ د سوداګریزو اړیکو په ټینګولو د ډیر اهمیت وړ دی.

په 4 ق.م پیړۍ کې د مقدوني سکندر د یرغلونو په پایله کې د هند او یونان ترمنځ د افغانستان له لارې سوداګریزې اړیکې تامین شوې وې، په لومړي ملادي پیړۍ د یونان باختری دورې په وخت کې افغانستان په سوداګری او اړیکو کې مهم مقام درلود، بلخ د دغه لارو د نښلیدو سیمه وه.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه د وړینېمو او درملو لار چې(د کوشانیانو د امپراتورۍ په دوره) کې له دغه هیواد څخه تریدله. نو په دې اساس بلخ د غربي هیوادونو (اروپایي)، چین او هند د مالونو د تبادلې مرکز و. دغه لویه لار د کاروان سرایونو په واسطه له یو بل سره نښلول شوې وه.

د امیر عبدالرحمن خان د حکومت په وخت کې یو ځل بیا کاروان سرایونو جوړول شول او د هیواد په دننه کې د سوداګرۍ د محصول لغوه کیدل د داخلي سوداګري او اقتصاد لپاره زمینه برابره کړه، له کراچۍ څخه تر کویټه (چمن) پورې د اوسپنې پټلۍ د انګرېزانو په واسطه وغزول شوه خو د هیواد د بهرني تجارت لپاره توجو ونه شوه.

تر 1930م کال پورې چې له 1308ه.ش کال سره سمون خوري ټول مسافرتونه پلي یا د حیواناتو په واسطه ترسره کیدل.

په 1909م کال د امیر حبیب الله خان د حکومت په وخت کې د لومړي ځل لپاره د دمار له کمپنۍ څخه په بمبي کې موټرونه وپیرل شول او په کابل کې په کار واچول شول، 57 نفره کارګران هم بمبي ته واستول شول تر څو د موټرو تخنیک زده کړي.

زیاتره کوتلونه(د افغانستان غرونه) چې له 300 څخه زیات لوړوالی لري، او د ژمي په موسم کې په واورو پوښلي وي د تګ راتګ خنډ ګرځي.

د هیواد په داخل کې لومړنۍ د اوسپنې پټلۍ د حیرتان له بندر څخه د مزارشریف تر هوایي ډګر پورې د 75 کیلومترو په اوږدوالي سره د اوزبکستان د یو ننۍ په واسطه په یو کال کې بشپړ شوه.

همدارنګه د اسلام قلعه- هرات د اوسپنې پټلۍ د ایران هیواد په همکاري سره جوړه شوه، په پام کې ده چې د همسایه هیواد په مرسته د (ایکو او سارک) د اوسپنې نورې پټلۍ هم وغزوي.

شپاړسم لوست(د وسایلو ډولونه)

څو ډوله ځمکنۍ د حمل او نقل وسایل پیژنئ؟

بایسکل یوه ګټوره ترانسپورتي وسیله ده چې هره ورځ په نړۍ کې میلیونونه انسانان هغه استفاده کوي او حتي په ځینو هیوادونو کې د بایسکل لپاره ځانګړي سړکونه هم جوړ شوي دي.

په لومړي ځل بایسکل په 1970م کال کې یو انګلیسي عالم چې کنت دوسواک نومیده اختراع کړ او دوه څرخه یې درلودل.

د چین د خلکو زیاتره ترانسپورت بایسکل جوړوي.

بایسکل زمور هیواد ته د امیر حبیب الله خان په وخت مخکې له موټر څخه وارد شوی دی او اوس په زرګونو خلک له هغه څخه استفاده کوي.

بله وسیله چې د یو کوچني ماشین په واسطه د نفتو په مصرف فعالیت کوي موټرسایکل دي، د نفتو د کم لګښت له پلوه زیات استفاده کیږي. زمور په هیواد وروسته له بایسکل څخه استفاده کیږي.

د 18م پیړۍ په دوهم نیمایي کې د بخار ماشین په کشف سره، سمنګتن یو کوچنۍ نقلیه وسیله جوړه کړه، چې د بخار په واسطه یې حرکت کاوه چې لمړنۍ موټر بلل کیږي.

د 19م پیړۍ په دوهمه نیمایي کې موټر اختراع شو چې د نفت په واسطه یې حرکت کاوه.

زمور په هیواد کې چې کله مستردین د برتانوي هند د بهرنیو چارو وزارت سکرتر په 1904م کال کې کابل ته سفر وکړ نو امیر حبیب الله خان ته یې د نورو تحفو ترڅنګ یو موټر هم ورکړ. چې 700 سترانګ پونډ ارزښت یې درلود. په دغه موټر کې د دیزل پرځای د سون لپاره لرګي استفاده کیدل او حرکت یې کاوه.

د اوسپنې کرښه او ریل یوه ډیره پخواني نقلیه وسیله ده. چې د بخار ماشین په واسطه په کار اچول شوي ده او د اوسپنې کرښې ورته غزولو شوي دي، چې نن ورځ په نړۍ کې د ځمکني حمل او نقل تر ټولو لویه وسیله ده.

په 1305ه.ش کال کې د امان الله خان د حکومت په وخت کې چې کله د دارالامان ښار جوړیدل پیل شول نو د خلکو او ودانیزو توکو د لیږد لپاره یو کوچنۍ ریل او د هغه پټلۍ هیواد ته وارد شوه، چې د شاه دوشمشیره زیارت څخه تر دارالامان پورې وغزول شوه.

دغه پټلۍ 7-8 کیلومترو اوږدوالی درلود او تر 1307ه.ش کال پورې فعال وه، وروسته د امان الله خان له مړینې د وخت حکومت د اوسپنې کرښې جوړولو سره علاقه ښکاره نه کړه.

اولسم لوست (لوي لارې)

د هیواد د لویو لارو په اړه څه پوهیږي؟

لویې لارې په یو هیواد کې د ویني د شریانونو حیثیت لري، هغه هیوادونه چې په هغه کې لویو لارو کمه وده کړې ده، په حقیقت کې له اجتماعي او اقتصادي وروسته پاتې سره مخ دي.

د امان الله خان او اعلي حضرت ظاهر شاه د حکومت په وخت کې او په ځانګړي ډول د محمد داود خان د صدارت په دوره کې زیاته هڅه وشوه ترڅو هیواد له اجتماعي او اقتصادي ګوښه والي څخه وژغوري.

د پنځه کلن پراختیایي پلانونو په اوږدو کې د لویو لارو جوړښت ته د افغانستان د اقتصادي زیربنا په حیث توجو وشوه، په پنځه کلنو پلانونو کې اول(1330-1335ه.ش) ، دوهم (1335- 1340) او دریم (1341- 1345) پلان 50 فیصده پراختیایي بودیجه د لویو لارو لګښت ته ځانګړي شوي وه او له 2500 کیلومترو څخه زیات قیر او کانکریټي سړک جوړول شول.

د هیواد لویې لارې په دوو برخو ویشل شوي دي:

1.حلقوي لویه لار چې له یوې نقطې څخه شروع او د یوې نامنظمې دایرې یا بیضوي په شکل دوهم ځل د پیل له نقطې سره ونښلي؛ لکه:

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د کابل- مزارشریف- شبرغان -میمنه- بادغیس- هرات- کندهار- غزني او کابل لویه لار.

2.بیلې او پریکړل شوې لارې چې له حلقوي لارو څخه جلا شوي وي لکه کابل- خوست او نور.

د هیواد شمالي لویه لار

د سالنګ تونل په جوړولو سره د مرکزي ولایتونو لویه لار په مستقیم ډول شمالي ولایتونو سره ونښلول شوه.

د شکاري دره چې تقریباً 40کاله یې د هیواد شمالي سیمې له مرکزي او جنوبي سیمو سره نښلولې اوس 200 کیلومتره لاره لنډه شوه، چې په پایله کې ترانسپورتي لګښتونه او د موټر استهلاک کم شوی دی او په کم وخت کې محصولات سوداګریزو بازارونو ته وړاندې کیږي.

د هیواد د شمالي سیمو تولیدي محصولات د هیواد جنوبي استهلاکي مرکزونو ته او صادراتي مالونه د هیواد شمالي بندرونو ته په کم وخت لیږدول کیږي.

فابریکې لکه د بغلان بوري، غوري سمنت، ګلبهار نساجي، پلخمري، جبل السراج او نوري د دغه لارې په سر موقعیت لري، تولیدات یې پرته د وخت له ضایع څخه د خرڅلاو بازار ته او همدارنګه خان مواد او نور اړین شیان له همدغه لارې څخه لیږدول کیږي.

د کابل- ترخه لویه لار

دغه لار د ترانزیتي لارو له جملې څخه ځانګړی ارزښت لري، دغه لار د ترخم له لارې پیښور ته نښلول شوي ده له هغې وروسته د اوسپنې پټلی او آسفالت سړکونو په واسطه د کراچی بندر سره او له هغې لارې د هند سمندر له نړیوالو لارو سره نښلول شوي ده.

د دغه لارې په واسطه زمونږ د هیواد ټول سوداګریز مالونه د هند هیواد او نورو آسیایي، اروپایي او امریکایي هیوادونو ته لیږدول کیږي، او له هغې خوا څخه ترانزیتي مالونه زمونږ هیواد ته واردیږي.

دغه لویه لار د نورو فرعي آسفالت سړکونو په واسطه د کنړ، لغمان او نورستان له ولایتونو او د ننګرهار له ولسوالیو سره نښلول شوي ده.

د کابل-کندهار لویه لار

دغه لاره د ترانزیتي فعالیت له پلوه د هیواد په لویو لارو کې لومړي مقام لري، ځکه دغه لار د کندهار- سپین بولدک له لارې د چمن اوسپنې پټلی او د کراچي او ګوادر (د عرب سمندرګي په ساحل کې) له بندر سره نښلول شوي ده.

د کندهار- هرات له لارې د ترکمنستان له تورغوندي بندر، په هرات کې د اسلام قلعه له بندر، ابو نصر- فراهي په فراه ولایت کې او د نیمروز ولایت د دلارام- زرنج لویې لارې د ایران له هیواد سره او له هغه لارې د اوسپنې پټلی په واسطه د ایران چاه بهار له بندر او وروسته د عرب سمندرګي له نړیوالو اوبو سره نښلول شوي ده.

د کابل کندهار لویه لار څو مهم او تاریخي ولایتونه سره نښلوي.

د کندهار هرات- تورغوندي (پخواني قره تپه) لویه لار

دغه لار د جوړښت له پلوه ډیره عصري جوړه شوي ده استحکام او مقاومت له پلوه لومړی مواصلاتي لار شمیرل کیږي، چې زمونږ په هیواد کې کانکریټي جوړه شوي وه او اوس د بیا رغوني په واسطه قیر شوي ده.

زمونږ هیواد له ترکمنستان او ایران هیوادونو سره او همدارنګه د لویدیځ ولایتونو له مرکزونو سره نښلول د ارزښت وړ دي. چې په دې ډول کندهار او هرات په مستقیم ډول او فراه، نیمروز او هلمند په غیر مستقیم ډول نښلوي.

د هرات- اسلام قلعه لویه لار

د دغه لویې لارې اوږدوالی 124 کیلو متره دی او د هرات ښار د اسلام قلعه له بندر سره چې د ایران په سرحد کې دی نښلوي.

دغه لار د ایران، ترکیې او نورو اروپایي هیوادونو سره د سوداګرۍ له پلوه د اهمیت وړ ده.

د پلخمري- شبرغان- فاریاب لویه لار

دغه لار د سوداګرۍ او اقتصاد له پلوه د ځانګړې اهمیت لرونکي ده او د حلقوي لارې یو برخه بلل کیږي، چې د هیواد شمالي ولایتونه لکه: بغلان، سمنګان، بلخ، جوزجان او فاریاب له یو بل سره نښلوي او همدارنګه د بادغیس له لارې له هرات سره نښلول شوي ده.

له هغې څخه په جلا شو لارو د حیرتان، کلفت او اندخوي اقتپه هم نښلوي.

د کابل خوست لویه لار

د زیاتو کلونو راهیسې- دوهمه درجه لویه لار شمیرل کیږي خو د هغه وصل کیدل د غلام خان بندر سره او له هغې لارې د کرم ایجنسۍ سره ځانګړی اقتصادي او سوداګریز ارزښت لري، د هیواد جنوبي ولایتونه لکه لوګر، پکتیا او خوست له کابل سره نښلوي.

د کابل- کندز لویه لار

چې د هیواد مهم حاصلخیز او کرنیزو ولایتونه لکه کندز، تخار او بدخشان سره نښلوي او همدارنګه د شمالي لویې لارې له لارې د هیواد له حلقوي لارې سره هم نښلول شوي ده.

د کندز- شیرخان بندر لویې لارې د تاجکستان له هیواد سره نښلول شوي ده.

لویه لار	اوږدوالی
سرخکان - مهترلام	18 km
کندز - شیرخان بندر	63 km
جلال اباد - اسعد اباد	90 km
کابل - جلال اباد	147 km
کابل - ترخم	232 km

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

کابل - کندز	337 km
پلخمري - شبرغان	360 km
کابل - کندهار	483 km
شبرغان - میمنه	179 km
کندز - تالقان	70 km
کندهار - هرات - تورغوندي	679 km
گردیز - خوست	114 km
کابل - گردیز	122 km
کندهار - هرات	567 km
کندهار - سپین بولدک	101 km
هرات - اسلام قلعه	124 km
تالقان - بدخشان	169 km

اتلسم لوست (حمل او نقل)

د هوایي حمل او نقل په اړه څه پوهیږي؟

د هوانوردی د فعالیت پیل په 1306ه.ش کال کې د امان الله خان د حکومت په وخت کې بولي.

په دغه کال کې یوه کوچني روسي الوتکه د لومړي ځل لپاره، په میاشت کې دوه ځله د کابل او د هغه وخت شوروي اتحاد ترمز ترمنځ په فعالیت پیل وکړ.

په 1317ه.ش کال کې د جرمني لوفت هنزا یوه دري ماشینه الوتکه د برلین- هرات- کابل او له هغه ځای څخه جاپان ته خپل پرواز ته ادامه ورکوله.

په 1335ه.ش کال کې د ملکي هوانوردی ریاست جوړ شو. چې د دغه ریاست په جوړیدو سره د افغانستان په هوانوردی کې زیات پرمختګ رامنځته شو.

هوایي ترانسپورت زیاتره د مسافرو او د کم وزن او زیات ارزښت لرونکو مالونو د انتقال لپاره استفاده کیږي.

نولسم لوست (هوایي ډګرونه)

د ملکي هوانوردی ریاست په 1335ه.ش کال کې رامنځته شو چې په هغه وخت کې دوي د هوا پیژندنې او هوا نوردي مؤسسې شتون درلود او د نړیوالې ملکي هوانوردی مؤسسې غړیتوب یې هم درلود.

د کابل د نړیوال هوایي ډګر جوړیدل: ساختماني چارې یې په 1339ه.ش کال کې پیل او په 1341ه.ش کال کې پای ته ورسید او د داخلي او خارجي الوتکو د استفادې وړ وګرځید.

په 1388ه.ش کال کې د جاپان هیواد په مرسته یو نوي او په وسایلو مجهز ترمینل په هغه اضافه شو.

د کندهار هوایي ډګر د کندهار ښار په جنوب ختیځ 8 کیلومتري کې د سپین بولدک په لاره په یو پراخه سیمه کې موقعیت لري.

د کندهار هوایي ډګر په 1330ه.ش کال کې په ابتدایي او سیمه ایزو ډول د استفادې وړ ګرځیدلی و.

په 1388ه.ش کال کې په هیواد کې 37 ملکي هوایي ډګرونه شتون درلود چې له دې جملې څخه د کابل او کندهار نړیوال هوایي ډګرونه په لومړي درجه کې چې د پرمختللو وسایلو او د الوتکې د منډې وهلو قیر شوي سړک لري.

د هرات، مزارشریف، جلال اباد او کندز هوایي ډګرونه د کم ظرفیت په لرلو سره په دوهمه درجه کې قرار لري چې د ترمینل او د الوتکې د منډې وهلو قیر شوي سړک لري.

14 نور هوایي ډګرونه په دریمه درجه کې چې خامه ترمینل او د الوتکې د منډې وهلو لار لري، 7 نور هوایي ډګرونه په ځلورمه درجه کې چې پرته له ترمینل او د الوتکې د منډې وهلو لار هم نه لري.

د یادولو وړ ده چې په 1388ه.ش کال کې د قوانینو مطابق هغه عواید چې له هوایي ډګرونو څخه د خارجي پروازونو څخه د دولت خزاني ته تحویل شوي دي په لاندې ډول دي:

1.د هري خارجي الوتکې د وزن له یو تن څخه 500 افغانی د دولت خزاني ته تحویل شوي دي.

2. خارجي الوتکې له هر پرواز څخه 7500 افغاني د ترافیکي خدمتونو اخیستل کېږي.

3.له خارجي الوتکو څخه چې له څلور ساعتونو څخه زیات په هوایي ډګر کې پاتې کېږي د پارکینګ پیسې اخیستل کېږي.

4.د خارجي الوتکې له هر پرواز څخه چې د هیواد له ترانزیتي فضا څخه تیریږي 20000 افغاني یا 400 ډالره اخیستل کېږي.

د هیواد هوایي شرکتونه

د اریانا افغان هوایي شرکت په هیواد کې لومړنی دولتي هوایي شرکت دی چې په 1333ه.ش کال کې یې د مسافرو او سوداګریز مالونو د حمل په موخه په رسمي ډول په فعالیت شروع وکړه. لګښت یې دري سوه زره امریکایي ډالر و چې په هغه کې 51 فیصده د دولت برخه او 49 فیصده د اندیمار شرکت برخه وه.

لومړي پرواز د دغه شرکت د یوې DC -3 الوتکه وه چې د 28 نفرو ظرفیت یې درلود چې کابل څخه کندهار، هرات او مزارشریف ته ترسره شو.

له دوو کلو وروسته د اندیمار لوی شرکت له پان امریکن شرکت سره ادغام شو او دوې الوتکې DC-4او DC-6 وپیرل شوي چې په دې سره آریانا افغان هوایي شرکت نړیوالو هوایي ډګرونو ته لاره پیدا کړه.

د اریانا افغان هوایي شرکت لومړنی پرواز له کابل څخه بحرین ته په 1334 ه.ش کال کې د 28 مسافرو په وړلو سره ترسره شو.

د اریانا افغان هوایي شرکت په دیرش کلنې جګړې کې زیات مالي او اقتصادي زیانونه وزغمل.

دغه شرکت یو AN-24-الوتکه، څلور B-727الوتکې، یوه Airbus- 300الوتکه او دوې نوي ماډل Airbusالوتکې لري.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د اریانا افغان هوایي شرکت د نړۍ 17 لوي ښـارونه د خپلو پروازونو تر پوښـښ لاندې لري اوس هم د پرمختګ په حال کې دی.

هوایي خصوصي شرکتونه عبارت دي له: صافي ایرویز، پامیر او کام ایر چې فعالیت جواز یې د افغانستان د پانګې اچونې ملاتړ اداري څخه ترلاسه کړي دي.

د عوایدو د قوانینو مطابق هر کال 10فیصده داخلي او 2 فیصده خارجي عواید سربیره د هوانوردۍ وزارت او اریانا هوایي شرکت له ټکس څخه د دولت خزانې ته تحویل کوي.

شلم لوست (اړیکې)

اړیکې د مخابراتو(د افکارو د راکړې ورکړې ټینګول، د پیغامونو استول او اخیستل) او ترانسپورتیشن څخه عبارت دي.

په بل عبارت مخابرات د معلوماتو وړاندې کول ، د خبر رسـول، پوښتنه، سوداګریز، صنعتي ، رسمي، شخصي پیغامونو د یوې سیمې څخه بلې سیمې ته رسولو وسیله ده.

په اوسـنۍ نړۍ کې انځور او صـوت د سـیم په واسـطه د الکترونیکي جریـان پـه ډول، رادیویي او تلویزوني څپو بـدلون کوي ، د فضـا او نوري څپو له لارې د نوري فایبر په واسـطه نښلول کېږي.

رادیویي او نوري څپې 300000 کیلومتر په ثانیه سرعت سره حرکت کوي په داسـې حال کې چې الکترونیکي نښـې هم په دغه ډول دی.

لومړي مخابراتي وسـیله د تلګراف اختراع وه چې د اختراع په اسـاس د نوروس نښـې د برښـنا د جریان په واسـطه د سـیم په اوږدو کې لیږدول کیږي.

اوس زمونږ د مخابراتو وزارت ملي او نړیواله ګټې وي د مهتاب کلا په سـیمه کې جوړه کړې ده چې د خپلې ځمکني تم ځای او مصنوعي سپوږمکۍ په واسطه فعالیت کوي.

364ولسـوالی او دولتي اداري د همدغه ګټې وي له لارې له خارجي نړۍ سره وصل دي.

یوویشتم لوست (په افغانستان کې پست)

په افغانستان کې پستي چارې د لومړي ځل لپاره امیر شېر علي خان د حکومت په دوره کې رواج پیدا کړ چې په هغه وخت کې یوه مرکزي پست خانه په مرکز کې د بالاحصار په سیمه کې د (چاپارخانه) په نوم او د هیواد په لویو ولایتونو کې جوړې شـوې وي چې دولتي او شـخصي- مکتوبونه د راجسـتر په ډول د یو او دوو مثقالو په مقابل کې منل.

په هغه وخت کې تر ټولو مشـهور ټکټ د زمري د سر په نوم یادیده چې له نصبولو وروسته به یې یو کنج غوڅیده.

د مکتبونو ویش د ویشـونکو مسـتخدمینو له خوا ویشـل کیدل چې لیک رسونکي به یادیدل.

دغه ډول کړنې تر 1878م کال پورې دوام درلود. په 1892م کال کې د امیر عبدالرحمن خان د حکومت په دوره کې پوسـتي چارې منظمې شـوې او په 1907م کال کې د امیر حبیب الله خان په وخت کې پوستي چارو پرمختګ وکړ.

د دولتي مکتوبونه لپاره ځانګړې ټکټونه چاپ شـول. په دغه وخت کې پست خانې د ډاکخانې په نوم یادیدل.

په 1925م کال کې د کابل او مشرـقي ترمنځ د لومړي ځل لپاره د پست د انتقال لپاره له موټر څخه کار واخیستل شو.

د تبـادلې یو دفتر پـه تورخم نور پـه اسـلام قلعـه، د ایران په طیبات،د مزارشریف تاشـګزر، سـپین بولدک او تورغوندي(قره تپه) کې جوړ شول.

په 1344ه.ش کال کې د مخابراتو ریاسـت د مخابراتو وزارت ته لوړ شـو د پستې سرویس موټرونه د پست د انتقال لپاره د کابل څخه تر ترخم او کندهار پورې په کار واچول شول.

افغانستان د نړیوالې پستې اتحادیې غړیتوب په 1928م کال کې ترلاسـه کړ د پسـت اداره د دیپلوماتیکو لارو د نړۍ د پسـتي کنوانسیون د حکمونو د سرته رسولو ژمنه وه.

دوه ویشتم لوست (تلیفون او موبایل)

په 10م پیړۍ (دري ژبـه: 19م پیړۍ) کې زیـاتره اختراعـات د اړیکو او رسـنۍ په برخه کې رامنځته شـوي دي لکه: د عکاسي کمره، سـینما، چاپ ... اونور چې د خلکو ژوند ته یې پراختیا ورکړه.

ترټولو مهم اختراع د تلیفون او تلګراف په برخه کې وه چې ډیرو لرې سیمو ته یې د چټکو اړیکو زمینه برابره کړه.

تلیفون له دوو کلیمو څخه جوړ شـوی دی، چې Teleیعنی ویل او phone یعني صدا معنی لري.

د هیواد لومړنی تلیفونی دستګاه د میسي سیم په واسطه د امیر حبیب الله خان د اوسـیدو له ځای څخه د هغه د ورور سردار نصرـالله خان تر کوره تقریباً د یو کیلو متر په اوږدوالي فعالیت درلود.

دوهم لین یې د امیر حبیب الله له اسـتوګنځي او د هغه وخت قوماندانی ترمنځ او دریم لین یې د ارګ له دروازې او باغ بابر ترمنځ غزیدلی و.

زمور په هیواد کې د تلیفون لومړي بطری لرونکی سـیوچبورد چې د 25 لینو ظرفیت یې درلود د امیر حبیب الله خـان د حکومت په وخت کې په 1287غ.ش کال د ارګ په شـمالي برج کې په کار واچول شول.

د امان الله خان د حکومت په دوره کې په 1298ه.ش کال کې یو 50 لیکنه سیوچبورد د شاه دوشمشېره د پست په ودانې نصب شـو چې د مرکز او نورو لوي ښـارونو ترمنځ اړیکې ټینګې شـوې. او همدارنګه پلازمېنه د لویو نړیوالو مرکزونو سره ونښلول شو.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په 1322ه.ش کال کې د لومړي ځل لپاره 5000 لیکنه اتومات دستګاه د المان له زیمنس کمپنۍ څخه وپیرل شوه او د کابل په بنار کې په کار واچول شوه او لومړي تلیفوني مخابره د کابل او پاریس ترمنځ ټینګه شوه.

په 1340ه.ش کال کې اړیکې د مخابرې له نورو ترانزیټ مرکزونو سره لکه دهلي، لندن، مسکو سره ترسره شوې.

وروسته تلیفون په پرمختللي بڼه انالوګ او دیجیتال سره بدلون وموند چې ولایتي او نړیوالې اړیکې د دغه تلیفوني مرکزونو سټلایټ له لارې تامین شوي.

همراه تلیفون یا موبایل

دغه ډول تلیفون په 1980م کال کې د اړیکو د وسیلې په توګه وپیژندل شو او په 1983م کال کې د امریکا متحده ایالاتو د شیکاګو په ایالت کې د ټولو خلکو د استفادې لپاره وړاندې شو، همرا موبایل په لنډو څپو او کم قدرت سره کار کوي، پیغام د اړونده انتن په واسطه مخابره یا ترلاسه کوي.

د اړیکو لوبې خصوصي کمپني لکه افغان بهسیم او روشن په 1382ه.ش کال او MTNپه 1384ه.ش کال اتصالات او افغان تلي کام په 1385ه.ش کال کې په فعالیت پیل وکړ.

زمونږ د هیواد تلیفوني کود(0093) دي چې د دغه کود په دایرولو سره له بهر څخه د هیواد داخل ته تلیفوني اړیکه ټینګیږي.

درویشتم لوست (انټرنیټ)

انټرنیټ، ایمیل او فکس

انټرنیټ په 1983م کال کې جوړ شو. د انټرنیټ د جوړولو فکر د امریکا متحده ایالاتو له دفاع وزارت څخه پیل شو.

په 1990م کال کې چې له 1369ه.ش کال سره سمون خوري د انټرنیټ له نړیوالې شبکې سره په میلیونونو خبري رسنې په ټوله نړۍ کې ونښلول شوي. انټرنیټ هغه وسیله ده چ د نوي علمي او فني پرمختګونو اندازه کولو وړتیا لري او د هغو په بشپړولو کې مرسته کوي.

انټرنیټ له دوو کلیمو څخه اخیستل شوې دي Inter له International یا نړیوال او net له Network یا شبکې څخه چې د نړیوالې شبکې معنی ورکوي.

د انټرنیټ تر ټولو غوره ګټه د بېلا بېلو موضوعات پلټنه ده. هر کس کولای شي چې د خپل هدف وړ جغرافیایي اصطلاح لکه سمندر، نقشه، مهاجرت او نور ولیکي او د خپلې خوښې معلومات ترلاسه کړي.

د فکس دستګاه د فوتوکاپي دستګاه ته زیات ورتوالی لري خو په تلیفون سمبال ده، دغه دستګاه د پیغام، کلیمو او کرښو د لیږلو په وخت هغه په الکترونیکي نښو چې د انتقال وړ وي بدلوي، اخیستونکي دستګاه دغه نښې ترلاسه او په لیکلو حروفو یې بدلوي او د اصلي نسخې په ډول یې بیرون ته راوباسي.

د مخابراتو وزارت په پام کې لري چې د ولایتونو ټول مرکزونه او ولسوالي د انټرنیټ او فکس تر پوښښ لاندې راولي.

څلورم څپرکی

څلورویشتم لوست (د نفوس ګنوالی)

د نفوس ګنوالی د ځمکې د سطحې پر واحد (یو کیلومتر مربع) د اوسیدونکو کسانو شمیر څخه عبارت دي. د نفوس د ګنوالی د محاسبه کولو لپاره د یوې سیمې نفوس د هغه په مساحت ویشل کیږي.

په 2010م کال کې د نړۍ د نفوس شمیر 6.8 ملیارد تنو ته رسېده.

په 2018م کال کې د نړۍ نفوس چې پر ځمکه اوسیدل 7.4 ملیارد تنو ته رسېده (نوي چاپ)

اقلیمي شرایط، د ځمکې جوړښت او نور اقتصادي، سیاسي او بشري عوامل د نفوس پر ګنوالي تاثیر لري.

په ځینو سیمو کې په یو کیلومتر مربع سیمه کې له زرو څخه زیات خلک ژوند کوي چې د نفوس دغه ګنوالی د سیاسي، فزیکي، اقتصادي او بشري لاملونو سبب دي.

فزیکي عوامل؛ لکه جغرافیایي موقعیت (عرض البلدونو)، لوړي سطحې، اقلیمي شرایط، اوبه او نور په دایمي ډول د ځمکې پر مخ لیدلای شو چې په مستقیم او غیرمستقیم ډول د ځمکې له سرچینو څخه په استفادې تاثیر لري. دغه عوامل د یوې سیمې د نفوس د ګنوالي او یا کموالي سبب کیږي .

د **اقتصادي لاملونو اغېزې**: پر طبیعي سرچینو او بشري فعالیتونو متکي دي هغه عبارت دي له کانونه، اوبه، د خاورې ډول، نباتات، حیوانات، د پانګې او نوي تکنالوژي شتون، د کار د شرایطو رامنځته کول، صنایع او نور د نفوس په ګنوالی تاثیر لري.

تر 18م پیړۍ پورې کرنه او په هغه پورې اړوند عوامل (اوبه، خاوره او اقلیم) تعین کوونکي رول درلود.

د سیاسي عواملو په برخه کې کولای شو حکومتي پریکړو او د اداري مرکزونو او بنارونو ته اشاره وکړو.

بشري عوامل: پورتنیو ذکر شوو موضوعات سربیره لري پرتې سیمې، چې د حمل او نقل لارې او د اړیکو وسایل په اختیار کې لري.

د نړۍ له نفوس څخه ډکې سیمې(Densely populated regions) کوای شو په دریو حوزو وویشو.

لومړي حوزه: عبارت ده د آسیا لویې وچې جنوب (پاکستان، هند او بنګلادیش) جنوب ختیځې سیمې(اندونیزیا) او د اسیا ختیځ (د چین هیواد ختیځ،کوریا او جاپان) . په دغه سیمو کې د نفوس ګنوالی په هر یو کیلومتر مربع کې له سلو نفرو څخه زیات دي او په ځینو برخو کې په یو کیلو متر مربع کې تر 1500

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

پورې رسـیږي. چې لامل یې موسـمي اوبه او هوا، ښـه کرنیز شرایط(وریجې) او د نفوس طبیعي زیاتوالی.

دوهمه حوزه: د اروپا په لویه وچه کې د پانګونې په وخت کې منځته راغلې ده د نفوس ګڼوالي د دغه سیمې په ځینو هېوادونو کې په یو کیلومتر مربع کې له 200 څخه تر 400 نفرو پورې رسیږي؛ همدارنګه په صنعتي سیمو کې د نفوس ګڼوالی په یو کیلو متر مربع کې له 500څخه تر 100 پورې رسـیږي چې زیاتره یې د سیندونو په سواحلو، بندرونو، د صنعتي مرکزونو په شاوخوا او د کرنیزو مساعدو سیمو کې ژوند کوي.

دریمه حوزه: د امریکا متحده ایالاتو شـمال ختیځې برخې (نیوانګلینډ، نیویارک، پنسـلوانیا او د پنځه ګوني جهیلونو په شاوخوا) او د کانادا په جنوب ختیځ سیمې له نفوس څخه ګڼې سیمې دي چې لامل یې سوداګریز او صنعتي فعالیتونه دي.

پنځه ویشتم لوست (په نړۍ کې د نفوس د زیاتوالي ستونزې)

د نړۍ نفوس په سرعت سره د زیاتوالي په حال کې دي؛ ځکه د هغو کسـانو شـمیر چې دنیا ته راځي (تولیدات Birth Rate) نسبت هغو کسانو ته چې له دنیا څخه ځي(Death Rate) زیات دی.

د شـلمې پېړۍ په لومړیو کې دغه زیاتوالی په کال کې لس میلیونه و، او د دغه پېړۍ په مینځ کې په کال کې له 35-40 میلیونه نفرو پورې او اوس له 60-65 پورې په کال کې زیاتیږي.

د ملګرو ملتونو د احصایې له مخې د نړۍ نفوس په 2010م کال کې په پرمختللو هېوادونو کې یو میلیارد او دوه سوه میلیونه نفره او د مخ پر ودې هیوادونو نفوس پنځه میلیارد او شـپږ سـوه میلیونه نفره اټکل شوی دی.

د نفوس زیاتوالي په دوو سببونو پورې اړه لري

1.د نفوس طبیعي زیاتوالی 2. د نفوس مخانیکي زیاتوالی

د نفوس طبیعي زیاتوالی (Netural increase) د نفوس دغه زیاتوالي د زېږېدنې په زیاتوالي او مړینې په کموالي پورې اړه لري؛ د مثال په ډول که چیرې په یو هیواد کې په هرو زرو نفرو کې زېږېدنه 40 نفره او مړینه 20 نفره وي نو د نفوس ډیروالی به ډیر زیات وي.

د نفوس زیاتوالی په ډیرو عواملو پورې اړه لري، چې ترټولو مهم یې په یو هیواد کې اجتماعي، اقتصـادي، فرهنګي او صـحي دي.

کولای شو چې د نفوس زیاتوالی په دوو برخو ووېشو.

لومړي ډول زیاتوالی پرمختللي او شـتمن هیوادونه لکه شـمالي امریکا، اروپایي هیوادونه، چین او روسـیه دي د هغو ځانګړتیا حداقل زېږېدنه ده او نور هم د کمیدو په حال کې ده، عوامل یې په لاندې ډول دي:

1.په پرمختللو هیوادونو کې ښـاري نفوس زیات دي، او دا ځرګنده ده چې په ښاري کورنیو کې زېږېدنه نسبت کلیوالي کورنیو ته کمه ده.

2.په پرمختللو هیوادونو کې ښـځې اجتماعي کارونو ته جذب کېږي او هغه ښـځې چې له کور ځخه دباندې کار کوي معمولا کم ماشـومان لري.

په پرمختللو هیوادونو کې د زېږېدنې او مړینې شـمیر کم دي. د نفوس طبیعي زیاتوالی په هرو سـلو نفرو کې (0.5-1) یا په هرو زرو نفرو کې له 5 څخه تر 10 پورې دي کله له دغه شـمیرې څخه هم کم وي.

دوهم ډول د نفوس زیـاتوالی پـه ځـانګړي ډول مخ پر ودې هېوادونه لکه آسیایی هیوادونه، افریقایي او لاتین امریکا شتون لري یا په بل عبارت د زېږېدنې سریع زیاتوالی دی چې په لاندې عواملو پورې اړه لري.

په اسـیایی، افریقایي او لاتین امریکا هیوادونو کې د صـحي خدمتونو ښـه کیدل او د مړینې کموالی په نفوس کې زیاتوالی رامنځته کړی دی.

د زېږېدنې زیاتوالی د نفوس د سریع زیاتوالي سبب کېږي چې د نفوس دغه زیاتوالی د 2% او3% ترمنځ د بدلون په حال کې دی.

ماشـومان او نوي ځوانان(له صـفر څخه تر 18 کلنې) او د زیات عمر لرونکي (لـه 65 کلونو څخـه زیـات) معمولا غیر فعـال اقتصادي نفوس ګڼل کېږي.

د ټولنې وګړي (له 18 څخه تر 65 کلنې پورې) فعال اقتصـادي نفوس شمیرل کیږي.

کله چې زېږېدنه پر مړینه زیاته شي د نفوس طبیعي وده بلل کېږي.

د سـن په هرم کې افقی محور د نفوس د فیصـدي شـمیر او په عمودي محور د ښـځو او نارینه وو شـمیر په ښلا ښلو سـنې ګروپونو کې ښودل شوي دي.

د نفوس طبیعي وده= د ټول نفوس مجموعه/ د زېږیدنې شمیر- د مړینې شمیر

ب. د نفوس مخانیکي زیاتوالی (Mechanical increase)

که چیرې له خارج څخه داخل ته د مهاجرتونو شـمیر له داخل څخه خارج ته د مهاجرتونو له شـمیر څخه زیات شي نو د نفوس میخانیکي زیاتوالی رامنځته کیږي.

د نفوس مطلقه وده= د زېږېدنې شـمیر- مړینه+ د هیواد داخل ته د مهاجرتونو شمیر

د نفوس مطلقه وده= د زېږېدنې شـمیر- مړینه د هیواد څخه د باندې د مهاجرتونو شمیر

د نفوس د زیاتوالي سرعت او د زېږېدنې زیاتوالی شـاته پاتې هیوادونو ځانګړتیا ده.

ټولنه پیژندونکي د نفوس دغه ډول زیاتوالی د نفوس انفجار یادوي او د ټولنې لپاره یې زیان بولي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په مجموع کې د نړۍ د نفوس شمیر 6.5 میلیارده دي، په 2050م کال کې 9 میلیارد او په 2150م کالی یوولس میلیارد تنو وړاندوینه شوي ده چې د نه کنترول په صورت کې نړۍ ته یوه لوپه فاجعه بلل کیږي.

شپږ ویشتم لوست(د نفوس د کموالي ستونزې)

هغه هیوادونه چې د فعال اقتصادي نفوس له 18- 65 کلنې له کموالي (Depopulation) سره مخ دي، لیدل کیږي چې د صنایعو د پرمختګ او د سرچینو په کار اچولو لپاره فعال اقتصادي نفوس ته اړتیا لري.

یو انګلیسي- تولنپوه د مالتوس په نوم په دې باور و چې د ځمکې سرچینې نسبت د نفوس اړتیاوو ته چې په هره لحظه کې مخ پر زیاتېدو دي محدود کیږي. باید زېرېدنه د کورنیو لخوا محدود او کنترول شي.

د دوهم نړیوال جنګ وروسته د نفوس دغه بې ساري زیاتوالی د نړۍ د اقتصادي ستونزو $\frac{2}{3}$ جوړوله.

په 1950م کال کې پرمختللو هیوادونو مخ پر ودې هیوادونو ته د هغو د اقتصادي او فرهنګي ودې لپاره د کورنۍ د محدود کولو وړاندیز وکړ.

هند لومړي هیواد و چې په 1952م کال کې د کورنۍ محدود کولو له پالیسي سره موافقه وکړه.

له هند وروسته دغه پالیسي په چین او مصر کې هم عملي شوه. چین په دغه پالیسي کې زیات بریالیتوب ترلاسه کړ.

د نفوسد ودې ضریب یې په 1955م کال کې 4% و او په 1996م کال کې 1.7% ته راکښته شو چې په هغه کې هرې چینایي کورنۍ ته له یو څخه د زیات ماشوم لرلو منعه شوي و.

د هند په هیواد کې تر اوسه هم د ودې ضریب 2.6%-3.9 % دي.

په المان کې له نفوس څخه ډکې کورنۍ تشویق کړای شوي چې دغه پالیسي- په 1930م کال کې په نازي المان کې هم عملي شي. او همدارنګه په بیلا بیلو هیوادونو کې لکه بلجیم، سویډن، انګلستان او فرانسې په بیلا بیلو وختونو کې پلویان درلودل.

اوه ویشتم لوست (مهاجرت)

مهاجر(immigrant) هغه شخص ته ویل کیږي چې خپل د اوسېدو ځای ته بدلون ورکړي او د یو اداري واحد څخه بل اداري واحد ته نقل مکان وکړي.

دغه مهارتونه په بېلا بېلو هیوادونو په جلا ډولونو رامنځته شوي دي. او زیاتره یې اختیاري مهاجرتونه و چې په خپله خوښه سره د زیاتې اجرې او غوره ژوند د ترلاسه کولو لپاره ترسره شوي دي.

مګر اجباري مهاجرتونه هم ترسره شوي دي، چې د سیاسي او نظامي حالاتو په اثر یې خلک مهاجرت ته اړ کړي دي.

هغه چې د یو هیواد په داخل کې نقل مکان کوي د داخلي بې ځایه شویو (internally displaced person) په نوم یادیږي.

چې د ملګرو ملتونو د شمیر له مخې په 1387ه.ش کال کې یې شمیر 24 میلیونه نفره و.

هغوي چې له نړیوالو پولو اوړي د پناه اخیستونکو په نوم یادیږي؛ لکه: فلسطیني پناه اخیستونکي غربي هیوادونو ته او افغانان پناه اخیستونکي نړۍ او ګاونډیو هېوادونو ته چې د خارجي مهاجرینو شمیر په نړۍ کې 16 میلیونه نفرو ته رسیږي.

طبیعي عوامل: چې د مهاجرت لامل کیږي؛ لکه: په سیمه کې د اوبو کموالی، د اوبو او هوا نامناسب شرایط د خاورې فقر او طبیعي پېښې؛ لکه: زلزله، سیل، سمندري طوفانونه او وچکالی.

اقتصادي عوامل: د مهاجرت اساسي لامل ګڼل کیږي؛ لکه: د خلکو مهاجرت لکه کلیو څخه ښار ته چې په تاریخ کې ترسره شوي دي چې اوس دغه ډول مهاجرت د مخ پر ودې هیوادونو یوه ځانګړتیا ده.

سیاسي عوامل: دغه اصطلاح زیاتره د سیاسي پناه اخیستونکو لپاره کارول کیږي. د پناه اخیستونکي ا صطلاح هغه کس ته کارول کیږي چې د بېلا بېلو لاملونه له امله لکه جنګ، ویره، سیاسي تعقیب، مذهبي عقیده، له اجتماعي ګروپونو سره اړیکه او قومي لړه کې چې خپل ا صلي هیواد پریږدي او له بل هیواد څخه د پناه اخیستلو غوښتنه کوي.

افغاني پنا اخیستونکي چې په 1357ه.ش کال کې ګاونډیو هېوادونو او نړۍ ته مهاجر شول یا د بوسنې (پخوانې یوګسلاویا)پنا اخیستونکي د روندا کمپ پنا اخیستونکي او په افریقا کې د سوډان داد فور او نور.

د 1951م کال د جینوا د کنوانسیون پریکړه د پناه اخیستونکو د حالت په اړه د پناه غوښتونکو د حقونو څخه دفاع په اړه د مهم سند په ډول تبدیل شو.

مذهبي مهاجرتونه: دغه ډول مهاجرتونه پر مذهبي مراسمو، او نورو فرهنګي او اجتماعي مسایلو باندې د قیوداتو او محدودیتونو له امله ترسره کیږي. تر ټولو ښه مثال یې د هند د نیمې وچې ویش پر دوو هیوادونو پاکستان او هند سره چې په 1947م کال کې د هندو دین پیروان له پاکستان څخه هند ته او په میلیونونو مسلمانانو له هند څخه پاکستان ته په خپله خوښه مهاجر شول.

اته ویشتم لوست (نړیوال مهاجرتونه او د هغه اغېزې)

مهاجرت (immigration) په عمومي ډول د دوو لاملونو په پایله کې رامنځته کیږي:

نامساعد لاملونه: لکه طبیعي، اجتماعي، اقتصادي، سیاسي او مذهبي لاملونه.

جذبونکي لاملونه: لکه د یوې سیمې د نفوس کموالی، راښکونکي سیمې، تر ځمکې لاندې منابع، د کار ډیروالی او ډیره اجره.

په 15 م پېړۍ کې د مهاجرو د منلو له امله اروپایان د نړۍ بېلا بېلو سیمو ته مهاجر شول.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د یوې نیمې پیړۍ په اوږدو کې 70 میلیونه اروپایان مهاجر شول، تر څو له خپلې پانګې څخه په نوي نړۍ کې استفاده او سوداګري پیل کړي.

د شمالي امریکا 95% نفوس اروپایي مهاجر او 2% افریقایي تور پوستکي تشکیلوي.

د 19 پیړۍ په اوږدو کې په اروپا کې د نفوس ډیروالي او اقتصادي بحران د مهاجرتونو سبب شو، چې له امله یې د اروپا اضافي نفوس کم شو، یوازې د انګلستان په هیواد کې له 1815م کال څخه تر 1920م کال پورې 17 میلیونه نفره مهاجر شول.

د امریکا متحده ایالاتو کانګرس په 1924م کال کې د مهاجرو د مخنیوي لپاره د مهاجرو په نوم قانون رامنځته کړ.

په لویدیځه اروپا کې یوازې 11 میلیونه مهاجر کارګران کار کوي، د مهاجرو کارګرانو د منلو له مخې المان لومړی مقام او وروسته انګلستان، فرانسه، سویس او اسکاندناوي هیوادونه قرار لري.

المان معمول د ترکي او یونانی مهاجرو کارګرانو، فرانسه د شمالي افریقا او انګلستان د ګډو ګټو هېوادونو له مهاجرو کارګرانو څخه استفاده کوي د امریکا متحده ایالاتو د مکسیکو له موسمي کارګرانو څخه استفاده کوي.

د دغو مهاجرو شمیر په کال کې تقریباً له 200 څخه تر 300 زرو اروپایانو پورې رسیږي چې د غوره ژوند او کار په لټه کې خپل هیواد پریږدي او د وچو ترمنځ په مهاجرت لاس پورې کوي.

نه ویشتم لوست (نژاد)

الف- نژاد (RACE)

نژاد د ټولنې د غړو یو ډله ده چې د ظاهري ځیري، د پوستکي رنګ، ویښتانو رنګ، بیلونکي نښې او ارثي ځانګړتیا له مخې سره ورتوالی لري.

د ټولې نړۍ خلک په دریو اصلی نژادونو ویشل شوي دي. چې عبارت دي له سپین یا اروپایي نژاد، مغلي یا ترکي ژیړ نژاد او تور یا استوائي نژاد.

سپین نژاد لوړ قد، سپین پوستکی، لوړه پزه،خرمایي ویښتان او ځانګړې ډول پرانستي سترګی لري.

ژیړ نژاد ژیړ رنګه پوستکی، تور او صاف ویښتان، کمه ږیره، ګرد سر، بادامي سترکي، لنډه پزه، ټیټ قد،او لږ چاغ.

تور نژاد یا نصواري ته ورته ،پلنه پزه، ګړګوټي وښتان او ډبلو شونډې.

ګډ یا دوه رګه نژاد چې د پورتنیو نژادونو د ودونو او مهاجرتونو په پایله کې منځته راغلې دی لکه مولات او سامبو نژادونه.

سره پوستکي په اصل کې له ژیړ پوستکي څخه دي؛ مګر د مذهبي مراسمو په اساس په خپل مخ او ویښتانو په نکریزي وهي. نو په همدې اساس په سور پوستکو شهرت لري.

نژاد د طبیعي چاپیریال د بېلا بېلو شرایطو، اقلیمي او غذایي موادو سره د توافق او مطابقت په پایله کې چې د بشر په ژوند اغیزه لري رامنځته شوي دي.

په هغو سیمو کې چې تور پوستکي ژوند کوي د لمر وړانګې عمود او هوا ډیره ګرمه ده. چې لمر د هغه سیمې اوسیدونکو په پوستکي مستقیم تاثیر کوي او له حد څخه زیاته تودوخه انسانانو ته زیان رسوي.

ماده(میلانین) د پوستکي اپیدرمس طبقه یو ډول حجرات لري چې د پوستکي رنګ جوړوي او ژیړ، نصواري، سور او حتي تور رنګ لري. هغه خلک چې پوستکی یې زیات میلانین ولري د پوستکي رنګ یې تیاره وي. دغه ماده د لمر د وړانګو له نفوذ څخه مخنیوي کوي او پوستکی د لمر له ضرر یا سوځیدنې څخه ساتي.

د سپین پوستکي نژاد زیاتره په شمالی معتدله سیمه کې ژوند کوي په معتدلو سیمو کې چې اورښت او لنده بل زیات وي او خلک یې له لمر څخه زیاته استفاده نه کوي یوازې د هغو په وجود کې یوازې د اوړي په موسم کې د میلانین ماده زیاتیږي.

په هغه سیمو کې چې ژیړ پوستکي ژوند کوي معمولا باد او طوفانونه لګیږي چې له ځان سره خاورې او ریګ لیږدوي او د له دغه بادونو او طوفانونو سره د کالو په اوږدو کې توافق کوي او د ژیړ پوستکي سترګې کوچنۍ کیږي نو په دې سبب باید د خاورو او ریګ په وړاندې وساتل شي.

په 1965م کال کې د ملګروملتونو سازمان د هر ډول تبعیض د له منځ وړلو نړیواله معاهده تصویب کړه.

دغه موضوع زمور د هیواد د اساسي قانون د دوهم فصل په 22 مه ماده کې لیکل شوې ده او د افغانستان د وګړو ترمنځ امتیاز منعه دي، د افغانستان وګړي ښځې او نارینه د اساسي قانون په وړاندې مساوي حقونه او دندې لري.

دېرشم لوست (د نژادونو ویش)

د نژادونو جغرافیایي ویش

د اسیا د لوی وچې نفوس زیاتره برخه ژیړ پوستکي جوړوي او پاتې نور سپین پوستکي او تور پوستکي دي.

د اسیا لویې وچې نژادي ګروپونه

الف- ژیړ نژاد

دغه نژاد نسبت نورو نژادونو ته د اسیا د لویې وچې زیاتره نفوس جوړوي چې مغل، تبت سیمې وګړي، سامودي، ترکمن، قرغزي، شمالي چین او کوریا په لږ توپیر سره د دغه نژاد له ډلې څخه دي.

د اسیا د جنوب ختیځ خلک (جنوبي چین، کامبوج، لاوس، تایلنډ، میانمار او ویتنام) او حتي جاپاني چې د روښانه پوستکي لري له دغه نژاد څخه ګڼل کېږي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د دغه نژاد نوري فرعي ډلې د تندرا په سیمه او تایګا په ځنګلونو(ستن پاینو) شمالي سایبریا کې د یوي څو زره کسیز ډلې په ډول ژوند کوي.

ب- سپین نژاد

په هند او چین کې له سپین نژاد څخه ډیر کم خلک اوسیږي چې په ابتدایي ډول ژوند کوي د سپین پوستکو د اوسیدو اصلي سیمه د همالیا د غرونو په لویدیځ کې ده.

افغانان، ایرانیان، قفقاز او روسان د دغه نژاد غوره ښلګې دي؛ همدارنګه سامي وګړي په عربستان، سوریه، اردن، اسراییل، د ترکیې او کوردستان د یوې سیمې اوسیدونکي هم د غنم رنګه سپین پوستکي نژاد څخه دي.

ج- تور پوستکي نژاد

په استوائي سیمو کې اوسیږي چې نژاد پیژندونکي هغه نګریتو (Negritos) یادوي، دغه تور پوستکي تیاره رنګه او ګړګوټي ویښتان لري، ځانګړي ښلګې یې په سیلون، د همالیا د غره جنوب په هندوستان، مالاکا تاپووزمه، اندیمار او نیکوبار تاپوګانو کې خواره دي او دغه خلک په نیمه ابتدایي ډول ژوند کوي او زیاتره په ځنګلونو کې اوسیږي.

د اروپا لویې وچې نژادي ګروپونه

د اروپا اوسیدونکي تقریباً ټول سپین پوستکي دي او په شمالي، ختیځ، الپي، ډینمارکي او مدیترانه یې ګروپونو ویشل شوي دي.

شمالي او ختیځ سپین پوستکي په اسکاندناوي، انګلستان، شمالي فرانسه، المان، لهستان(پولنډ) هیوادونو او د روسیې په اروپایي برخه، الپي ډول یې د اروپا په مرکزي او لویدیځ سیمو کې ژوند کوي.

په داسې حال کې چې مدیترانه یي ډله یې غنم رنګه څیره لري او د مدیترانې سمندرګي په شاوخوا کې اوسیږي. ډینمارکي ډله په البانیا او د ختیځې اروپا په هیوادونو کې اوسیږي.

لاپین د اروپا په تر ټولو لرې شمالي سیمه کې اوسیږي.

د افریقا لویې وچې نژادي ګروپونه

د افریقا لویې وچې نژادي ګروپونه له تورپوستو، عربو، بربرۍ، آسیایانو او اروپایانو څخه جوړ شوي دي.

تورپوستي د افریقا لویې وچې 70 فیصده نفوس جوړوي چې ټول د لویې صحرا په لویدیځ کې اوسیږي.

تورپوستي په څلورو ډلو ویشل شوي دي چې عبارت دي له: بانتو، نیلوټ ، پیګمي، بوشمن او هوتن تت.

بانتو د افریقا لویې وچې د تورپوستو زیاتره نفوس جوړوي چې د افریقا په لویدیځ کې په ځانګړي ډول د دغه سیمې په سواحلو کې، مرکزي افریقا، په ختیځ او جنوب ختیځ او د مدغاسکر په تاپو کې ژوند کوي، د پوستکي رنګ یې قهوه یي دی پزه یي همواره،شونډي ډبلې او ویښتان یې ګړګوټي دي.

نیلوټ لوړ قد لري (183 سانتی متر) چې په سوډان، اوګندا او کینیا کې اوسیږي. پیګمي په استوائي ځنګلونو کې ژوند کوي او قد یې ټیټ (147 سانتی متر) دی.

بوشمن او هوتن تت هم ټیټ قد لري او د کالاهاري صحرا په شاوخوا کې ژوند کوي.

عرب او بربریان هم د لوي صحرا په شمال کې ژوند کوي، عربي وګړي غنم رنګه څیره او ګړګوټي ویښتان لري.

د افریقا په شمال لویدیځ کې سپین پوستي بربریان چې د اسپانیا او ایټالیا نسل ته ورته والي لري ژوند کوي نو په همدې اساس د الجزایر، تونس او مراکش هیواد د بربر هیوادونو په نوم یادوي.

اروپایي سپین پوستي د افریقا له استعمار وروسته هلته مهاجرتونه وکړل او د اوسیدو اصلي سیمې یې په شمال لویدیځ (المغرب) او په جنوب کې (جنوبي افریقا او زمبابوی) دي.

همدارنګه کینیا او زایر کې هم اوسیږي. اسیایي مهاجرین نسبت اروپایي مهاجرینو ته زیات دي، هندوان په جنوبي افریقا، کینیا او یوګندا کې ژوند کوي. د مورشب ټاپو زیاتره نفوس هندوان جوړوي د مدغاسکر زیاتره نفوس د مالایی او پولینزیایي خلک جوړوي.

د امریکا لویې وچې نژادي ګروپونه

د امریکا د اوسنی نفوس زیاتره برخه سپین پوستي یا دوه رګه دي.

د امریکا لویې وچې اصلي اوسیدونکي تورپوستي جوړوي چې په اصل کې د ژیړ پوستو له ډلې څخه دي.

په شمالي امریکا کې یې شمیر ډیر کم دی. خو د مکسیکو او السوادور هیوادونو زیاتره نفوس جوړوي.

د بولیویا، ګواتیمالا، اکوادور، پیرو او پارګوای لوړو سیمو نیم نفوس تور پوستکي جوړوي.

په امریکا کې د سپین پوستو د زیاتوالي لامل دغه وچې ته د نړۍ له بېلا بېلو سیمو څخه د سپین پوستو دوامداره مهاجرتونه دي.

غیر سپین پوستي (ژیړ پوستکي) له چین او جاپان څخه دغه وچې ته مهاجرت کړی دی.

د تورپوستو نژاد د مریبتوب او مریبو اخیستنې فرهنګ په واسطه دغه وچې ته لیږدول شوي دي. او زیاتره برخه یې د امریکا متحده ایالاتو په جنوب ختیځ کې اوسیږي.

له پورتوریکو، کیوبا او دومنیکن پرته نور ټول تاپوګان د تورپوستو د اوسیدو سیمې دي او د وینزویلا، سورینام، فرانسوي ګیانا او پاناما په کوچنیو برخو کې تور پوستکي ژوند کوي.

مختلط(دوه رګه) نژاد د سپین پوستو او تور پوستو (مولات) او تور پوستو او سور پوستو(زانبوس) د دوونو په پایله کې د څلور

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

نیمو پیړیو په اوږدو کې منځته راغلې دي،چې دغه نژاد زیاتره د مرکزي او جنوبي امریکا په هیوادونو کې ژوند کوي.

په اقیانوسیه کې زیاتره نفوس اروپایي سپین پوستي مهاجرین، کمه اندازه تور پوستکي، ژیړ پوستکي او دوه رګه نژاد جوړوي.

د استرالیا نژادي ګروپونه

استرالیا ته د اروپاییانو له مهاجرت څخه وړاندې د تور پوستو 500 قبیلو هلته ژوند درلود او اوس د هغو شمیر تقریباً 60 زره تنو ته رسیږي.

د استرالیا اروپایي کیدل وروسته د 1830م کال د اروپاییانو له مهاجرت څخه پیل شو او لومړني مهاجرین له هیواد څخه د وتلو په جزا محکومین و.

اوس مهال مختلط نفوس په دغه وچه کې زیاتره دی. او سبب یې دا و چې هیڅ سپین پوستي ښځه دې ته حاضر نه وه چې دغې وچې ته سفر وکړي چې بالاخره د بومي ښځو سره ودونه وشول او مختلط نژاد رامنځته شو.

پنځم څپرکی
یو دېرشم لوست (دینونه)

د نړۍ د مهمو دینونو په اړه څه پوهیږي؟

1. انیمیزم (Animism) یا د طبیعي پدیدو د عقایدو پیروان:

انیمیزم د لومړنیو انسانانو دین و چې جامدات او شیان یې د روح خاوندان ګڼل چې د هغه پیروان په تیرو دورو کې په ځانګړې ډول له تاریخ څخه وړاندې دور کې طبیعي شیانو او په ځانګړې ډول حیرانوونکو شیانو ته د خدایي په صفت قایل و.

تالنده او برښنا، روښنایی، توفانونه، باران او نورو یې د لویو قدرتونو په صفت پیژندل. دغه دین اوس مهال زیاتره په قطبي سیمو، بیاباني او لرې ځنګلي سیمو په تور پوستو او زېړ پوستو کې لیدل کېږي.

2. د ارباب النوع عقیدې پیروان

د دغه عقیدې پیروان په دې باور درلود چې هر پېښه او واقعه یو خدای لري.

دغه دین د یونان له مدنیت څخه پیل شوی دی، او د پخواني روم په مدنیت کې لوړو پوړیو ته ورسېد لکه: د اتشفشان خدای، د تالنده او برښنا خدای، د سمندرونو خدای، د ستورو خدای، د باران خدای او نور.

3. د آسماني دینونو پیروان

دغه دینونه زیاتره اخلاقي او خدای ج ته د عبادت کولو جنبه لري چې د هغوي د لارښونې لپاره یې ېلا ېلا پیغمبران رالیږلي دي، لکه یهودیت، مسیحیت او اسلام چې تر ټولو کامل دین یې د اسلام مبارک دین دي.

هندوان چې د هغوي لپاره د غوا غوښه حرامه ده د هغوي د شاوخوا سیمو په بازارونو کې د غوا غوښه نه لیدل کیږي ، ځرنګه چې د مسلمانان او عیسویان خپل نړۍ په قبرونو کې دفن کوي نو د هغوي د اوسیدو په سیمه کې قبرستان لیدل کیږي ، خو په هغه سیمه کې چې هندوان اوسیږي هغوي مړي سوځوي او هلته د مړو د سوځولو سیمې لیدل کیږي.

د روخصتي ورځې هم په ېلابېلو دینونو کې توپیر لري چې په اقتصادي او نورو چارو تاثیر لري؛ د مثال په ډول په اسلام کې د جمعې او په عسویت کې د یکشنبې ورځ روخصت ده.

په اسلامي سیمو کې د معماري ډول ځانګړي دي او هر کور ځانګړی شخصي حریم لري، جوماتونه، مناړې، ګنبدې، رواقونه، ګلدستې او نور په اسلامي هیوادونو کې ځانګړی سبک لري، چې په عیسویت کې دغه ډول سبک نه لیدل کیږي .

دوه دېرشم لوست (د اسلام مبارک دین)

په اوسنۍ نړۍ کې مسلمانان د ځمکې پر مخ په پراخه برخو کې اوسېږي چې تقریباً د نړۍ د نفوس $\frac{1}{5}$ برخه جوړوي.

د اسیا لویه وچه د نړۍ د مسلمانانو لومړنی مرکز دي. د دغه وچې اسلامي هیوادونه په منځني ختیځ، مرکزي آسیا، جنوبي او جنوب ختیځ آسیا کې موقعیت لري.

د هغوي د خاورې پراخوالی له 15 کیلو مترو مربع څخه زیات او نفوس یې د اسیا لویې وچې $\frac{1}{3}$ برخه جوړوي.

د اسیا په لویه وچه کې داسلامي هیوادونو شمیر 27 دي چې له هغې جملې څخه د 18 هیوادونو رسمي دین اسلام دي.

د یادولو وړ ده چې د اسیا په جنوب ختیځ (اندونیزیا) کې د اسلام مبارک دین د ایراني او هندي ګوجراتي سوداګرو په واسطه په 13م پیړۍ کې د سوداګرۍ ترڅنګ د اسلام مبارک دین هم خپور کړ.

د اسلام نړۍ دوهم مرکز د افریقا لویه وچه بلل کېږي چې د مسلمانانو سیمې د دغه لویې وچې په شمال کې موقعیت لري. دغه سیمه په شمال کې د مدیترانې تر سمندرګي، په جنوب کې د تر تحت استوائي سوانا، په ختیځ کې تر سور سمندرګی او په لویدیځ کې د اطلس سمندر پورې پراختیا لري.

د مسلمانانو د پاملرنې وړ شمیر د امریکا او اروپا لویو وچو کې هم شتون لري داروپا په لوړه وچه کې ازربایجان، البانیا، بوسنیا هرزګوني او په جنوبی امریکا کې د سورینام د 19.6% مسلمانانو په درلودلو سره د دغه دوو وچو اسلامي هیوادونه ګڼل کېږي.

د 2000م کال د احصایې له مخې د نړۍ په 63 نورو هیوادونو کې هم له یو څخه تر 38 فیصده مسلمانان ژوند کوي.

د 65.5% د نړۍ د نفتو ذخیرې د فارس په خلیج (عرب خلیج) کې شتون لري.

دري دېرشم لوست (د عیسویت دین)

عیسویت د اسماني دینونو له جملې څخه دی چې په نړۍ کې زیات پیروان لري او په لومړي ملادي پیړۍ کې خپور شو.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

دغه دین په لومړیو کې د حضرت عیسی ع بن مریم په واسطه په فلسطین کې خلکو ته وړاندې شو څرنګه چې حضرت عیسی ع پلار نه درلود نو د عیسی بند مریم نوم یادیږی. عیسویان په تثلیث سره عقیده لري یعنې په دریو خدایانو باور لري : خداي ج، د خداي زوي(عیسی بن مریم) او روح القدوس.

حضرت عیسی د بني اسرائیلو په پیغمبرانو کی وروستی پیغمبر و، د حضرت عیسی ع او حضرت محمد ص تر منځ بل پیغمبر نه دی رالیږل شوي. حضرت عیسی ع په ژوند کې نکاح نه ده کړې او نه یې د اوسیدو لپاره کور جوړ کړی دی.

د مسیحیت دین د لومړي کنستاتین په دوره کې د 306 څخه تر 337 م کال پورې د روم په امپراطوری کې رسمی دین او کلیسا په مستقیم ډول د حکومت تر نظارت لاندې راوستل شوه.

د سان پارو کلیسا په واتیکان کې جوړه شوي ده. عیسویت مذهب 250 فرقې لري چې د هغې له جملې څخه دري لویې فرقې یې په لاندې ډول دي:

1. کاتولیک

د کلي او عمومي په معنې دی. دغه اصطلاح د پخواني او نه ویشل شوې کلیسا د رومیانو د کاتولیک په نوم استفاده کیږي.

د دغه کلیسا په راس کې پاپ قرار لري په لاتیني اصطلاح کې پاپ د پلار په معنی دي.

د روم اسقف د دغه غوره والي په نسبت په مستقیم ډول د ټول مسیحیت دین په کنترول مدعي دي.

په 756م کال کې په ایټالیا کې د پاپ دولت رامنځته شو چې مرکز یې په واتیکان کې و.

د کاتولیک له نظره پاپ له ټولو ګناهونو، خطاوو او غلطیو څخه مصون دي. د کلیسا وګړي باید نکاح ونه کړي دغه مذهب په لومړي درجه په اټالیا، بلجیم، فرانسه،اسپانیا، پرتګال او په ځانګړي ډول په لاتین قوم کې او په دوهمه درجه په اتریش، پولنډ، مجارستان، چک، سلواکیا، کرواتي او سلواني(پخواني یوګسلاویا) او لږه کې یې د برتانوي اتحاد او نورو هیوادونو کې پیدا کیږي.

2. ارتودوکس

د صحیح او مکمل په معنی دی.

د روم امپراتوري په 476م کال کې په دوو برخو ختیځ او لویدیځ وویشل شو نو په همدې اساس کلیسا هم په لویدیځ روم(کاتولیک) او ختیځ روم یونانی (ارتودوکس) وویشل شوه.

د لویدیځ روم کلیسا کوښښ وکړ چې په سلاویان(بلغارستان) خپل نفوذ پراخه کړي چې دغه کار د ختیځ روم د کلیسا د ناخوښي سبب شو.

مسلمانان د یرموک په جنګ کې په 626م کال کې د حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د خلافت په دوره کې ختیځ روم ته ماته ورکړه او د سوریې او فلسطین سیمې یې ازادې کړې.

د امویانو د خلافت په دوره کې ترکیه هم د مسلمانانو لاس ته ولویده. د روم امپراطور دریم لیوي د مسلمانانو د نفوذ د مخنیوي لپاره ځینې مذهبي اصلاحات عملي کړل.

په 766م کال کې یې فرمان صادر کړ چې په کلیسا کې د انځورونو او مثالو نصب کول منعه دي او دغه عمل یې یو ډول بت پرستي وبلله.

په ختیځ روم کې د نظامي قوې په واسطه عملي شوه. خو د روم په ښار کې دریم ګورس مذهبي شورا جوړه کړه او فتوا یې ورکړه هر څوک چې په کلیسا کې د انځورونو ته درناوی نه کوي له ایمان څخه بهر دي.

د دغه دوو مذهبي فرقو ترمنځ لوی اختلافات په لاندې ډول دي:

1.د ارتودوکس پلویان په قطعی ډول د دغه ا صل مخالف دي چې د روم پاپ به د کلیسا پر ټوله ځمکه عمومي ریاست لري.

2.د روم پاپ مع صوم نه دی ممکن په ایماني او اخلاقي چارو کې اشتباه وکړي، د کلیسا وکړي د نکاح په کولو کې اختیار لري.

د روسیې زیاتره اوسیدونکي، صربستان، رومانې، یونان او په عمومي ډول د سلاوي نژاد وګړي زیاتره د ارتودوکس مذهب پیروان دي.

1. پروټستانت

د اعتراض کوونکي په معنی دی.

د کاتولیک کلیسا چې په شکوه او جلال پسې ګرځیده د خپلو ارتیاوو د پوره کولو لپاره یې د ګناهونو د بخښنې لوحې پلورلې او خپل روحاني مقام یې د پیسو په مقابل کې پلورلو.

په المان کې په له 1483-1546م کلونو ترمنځ د مارتین لوتر روحاني په واسطه د اعتراض سره مخ شو.

د 1517 م کال د اکتوبر په 13 یو اعتراض خط چې 95 مادې یې درلودې ولیک، په 1534م کال کې انجیل له لاتیني ژبې څخه چې مذهبی ژبه وه په المانې ژبه وژباړه چې د خلکو لپاره اسانه شو او زیاتره خلک د لوتري کلیسا پیروان شول ځکه شرایط یې اسانه و او شعایر او رواجونه یې کم و. دغه مذهب د لوتریسم په نوم هم یادیږي.

په اروپا کې د پروټستانټ مذهب زیاتره د په جرمني قومونو کې زیات پیروان لري. دغه مذهب په فنلند، سویډن، ډنمارک، ناروي، انګلستان، هالنډ، المان، اتریش او همدارنګه د سویس، چک، سلواک په یوه برخه او په کمه اندازه په نورو اروپایي هیوادونو کې شتون لري.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

وروسته له لویو جغرافیایي کشفیاتو څخه په 16م پیړۍ او د اروپایي لویو استعماري امپراطوري جوړیدلو څخه دغه مذهب او فرهنګ د نړۍ په ټولو لویو وچو کې خپور شو.

عیسویت په آسیا او اقیانوسیه کې هم په بېلابېلو فیصدو سره پیروان لري. په هغه سربېره عیسویت دین د جنوبي امریکا په درېو هیوادونو لکه (ارجنټاین، بولیوي او پیرو) او یو افریقایي هیواد (لیسوتو) او په درېو اروپایي هیوادونوکې (مالتا، ناروي او واتیکان) رسمي دین ګڼل کیږي.

څلور دېرشم لوست (دتائویزم او شنتوئیزم آئین)

د تاییویزم او شنتوئیزم آئین په اړه څه پوهیږي؟

په چینایي ژبه کې تائو د لارې او طریقې په معنی دی. دغه مکتب د چین لوی فیلسوف لائوتزو یا لائوتان ته منسوب دی. یو افسانوي شخص دی چې د مطالعې او څېړنې مقام لري، خو د هغه د ژوند په اړه معلومات نشته.

د ځینو روایتونو له مخې چې دغه شخص د چو په ایالت کې په 604ق.م کې زیږېدلی دی او ځینې دغه د زیږېدنې نیټه 507ق.م ښودلې ده.

د تائویزم فلسفه په چین کې د کنفوسیوس له دورې څخه مخکې وه، د تائوییزم مبدأ د عقیدو، اعمالو، او مناسکو مجموعه ده چې یوه سلسله عامیانه عقیدې، خرافات او وهمونه په برکې نیسي او همدارنګه یو شمیر عرفانی او فلسفي افکار هم په هغه کې شامل دي.

د تائوییزم ایین په 165م کال کې د لومړي ځل لپاره د هوان خاقان حکومت په وخت کې چې د هان له سلسلې څخه و رسمي دین شو او د هغه په نوم معبد هم جوړ شو.

د تانک سلسلې بنسټ ایښودونکی په 618م کال کې په هغه ایمان راوړ، چې وروسته تائوییزم په رسمي او سازماني ډول په یو دین بدل شو.

شنتوئیزم په لغت کې د (د خدایانو لار) په معنی دی، او د جاپان د خلکو دین دی.

دغه دین د جاپان د خلکو د تاریخ څخه وړاندې دین بلل شوی دی، د جاپان اوسېدونکي په دې باور لري چې په دغه ځمکه پرته له جاپانیانو څخه نور وکړي ژوند ونه کړي او جاپانیان هم باید په بله ځمکه مړ نه شي.

د شنتو آئین د جاپان د خلکو پخواني دین دی چې وروسته د کنفوسیوس او بودایي تر اغېز لاندې یې بدلون وکړ.

په دغه آئین کې زیات شمېر خدایان شتون لري چې امپراتور هم د خدایانو له ډلې څخه بلل کېږي.

پنځه دېرشم لوست (بودایي دین)

د هندوییزم او بودایي ایین په اړه څه پوهیږي؟

بودایي ایین په 5 ق.م پیړۍ کې خپور شو، موسس یې د سدراتا په نوم یو شهزاده و چې په دېرش کلنې کې یې په دغه لاره م کې بریالیتوب ترلاسه کړ، د ګوتاما لقب ورکړل شو. د بودایانو په نظر څرنګه چې پوهې او حقیقت ته ورسېد نو بودا (فیلسوف او عقل) ونومول شو.

بودا په دې عقیده لري چې انسان باید خپل نفساني میل، شهوت او غضب ووژني او هغه کنترول کړي. زیات پیروان او کتابونه لري. مقدس کتاب یې د نړۍ پتیکا (درې ټوکرې ګل) دی.

نن ورځ د دغه ایین پیروان په هند، جاپان، چین، مغلستان، تبت، برما، کامبوج، بوتان، تایلنډ او د نړۍ په نورو سیمو کې اوسېږي.

مقدس ښارونه یې په هند کې د بنارس او په تبت کې د لهاسا دي، دغه دین په کامبوج، بوتان او تایلنډ کې رسمیت لري. د یادولو وړ ده چې د بودا مجسمه لومړی ځل په ګندهارا (هده جلال اباد) کې د کنشیکا په وخت کې په افغانستان کې جوړه شوې ده.

وروسته په بامیان کې لویې مجسمې په غره کې تورل شوې دي چې د بودیزم د زیارت کوونکو لویې سیمې جوړوي.

هندوییزم یو اجتماعي مذهبي سیستم دی چې 1500ق.م کې په هند کې رواج درلود.

د هندوانو دین دري خدایان لري، برهما (د موجوداتو پیدا کوونکی) ویشنو (د موجوداتو ساتونکی) شیوا (د موجوداتو پنا کوونکی خدای).

د بودا ایین مقدس کتاب (وداها برهمن) دی دغه کتاب د هند د آریایانو لپاره هم مقدس دی چې په سانسکریت لیکل شوی دی. د هند د دغه پخواني دین اصول مذهبي سرودونه او دستورونه جوړوي چې مخینه یې 7 پیړۍ مخکې له میلاده ته رسېږي.

هندوییزم په کاسټ (مذهبي طبقې دي چې عبارت دي له برهمن، ویشیا، کشتریا او شودرا) باور لري چې د هرې طبقې مقام په ټولنه کې څانګړي دی.

شپږ دېرشم لوست (د نړۍ ژبې)

ژبه د صوتي سمبالونو د قراردادي کسب کوونکی سیستم څخه عبارت ده چې انسانان نه یوازې خپلې تجربې له نورو سره بلکې له راتلونکې نسل ته لېږدوي. په بل عبارت ژبه د انسانانو ترمنځ د افهام او تفهیم وسیله ده.

الف: اندو اروپایي ژبې: دغه ګروپ د نړۍ د ژبو یو پراخه او لوی ګروپ دی، چې په ټبلا ټبلو اندو اروپایي (لاتین، هلنیک، بالتیک، سلاویک، جرمانیک او ارمني) او اندو آریایي ښاخونو ویشل شوی دی.

ب: نیګرویي ژبه: چې دوی ژبې په کې شامل دي:

1. سوداني ژبه: چې د سودان جنوبي، چاد جمهوریت، نایجریا او د افریقا د استوائي هیوادونو وکړي پرې خبرې کوي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

2.بانتو ژبه: د کانګو، زامبیا او انګولا حوزو خلک په دغه ژبه خبرې کوي.

ج. سامي او حامي ژبې: په غربي هیوادونو او د افریقا په شمال کې رواج لري.

سامي ژبه: د عربستان په ټاپووزمه، مصر، لیبیا، الجزایر، مالي او مراکش کې مروجه ده.

حامي ژبه: په حبشیه، الجزایر، نیجیر، او د سنګال یوه برخه خلک پرې خبرې کوي.

د. التایي او اورالي ژبې: په هغه کې پنځه لاندې ژبې شامل دي:

1.فن:چې د فنلنډ، الپ، اویستاک او د اروپایي روسیې شمالي خلک پرې خبرې کوي.

2.ترکي: په ترکیه، اوزبکستان، قرغیزستان، اویغورستان ، ایران، چین او افغانستان کې او یوه برخه خلک په عراق او ترکمنستان کې هم په دغه ژبه خبرې کوي.

3.منګولیایي: د منګولیا په حوزه(مغلستان) او د چین شمال خلک پرې خبرې کوي.

4.توګوس ژبه: د سایبریا په شمال کې په ځانګړې ډول د تایګا او تندرا په سیمو کې پرې خلک خبرې کوي.

1. جاپاني او کوریایي ژبې: د جاپان په ټاپوګانو او کوریا په ټاپووزمه کې پرې خلک خبرې کوي.

مالیزیایي او پولینزیایي ژبې: د چاوا په ټاپو، سوماترا، د کمبودیا په یوه برخه او د بورنیو په ټاپوګانو کې رواج لري.

د امریکا اصلي او قومي ژبه په امازون کې رواج لري.

دراویدي ژبه د هند په جنوب او د سریلانکا په یوه برخه کې رواج لري.

چیني ژبه د ژبو د یو لوي ګروپ په ډول په چین کې رواج لري.

ماندرین ژبه د ختیځې آسیا له مشهورو ژبو څخه ده چې د نړۍ یو پر پنځمه برخه یا 853 میلیونه چینایان او په مجموع کې په نړۍ کې 1213 میلیونه تنه ژوند کوي.

انګلسي-ژبه چې د اندو اروپایي یوه څانګه ده او په میلیونونو انسانان پرې خبرې کوي او په 50 هیوادونو کې رسمي ژبه ده.

عربي ژبه چې د سامي ژبو یوه څانګه ده، او په نړۍ کې د 22 هیوادونو رسمي ژبه ده او پرې خبرې کوي.

په افغانستان کې له 30 زیاتې ژبې او لهجې شتون لري خو ټول د افغان په نوم ځان یادوي.

برعکس په نړۍ کې داسې هیوادونه هم شتون لري چې ببل سیاسي واحدونه لري خو په یوه ژبه خبرې کوي لکه عربي ژبه چې په عربستان، سوریه، عراق، مصر، لیبیا... او نورو هیوادونو کې مروجه او رسمي ژبه ده.

نړیوالې ژبې چې د ملګرو ملتونو په سازمان کې پرې خبرې کیږي ؛ عبارت دي له: انګلیسي، فرانسوي، المانې، عربي، روسي، چنایي او هسپانوي.

اوه دېرشم لوست (عربي ژبه)

د عربي ژبې زده کول دوې موخې لري:

1.د قرآن کریم، احادیثو او نورو شرعي احکامو د زده کړې د اسانتیا لپاره.

2.د عربي ژبې ساتنه د پردیو له تصرف او لاس غزونې څخه.

عربي ژبه د خپل وخت له علمي او نړیواله ژبه وه او اوس هم د نړیوالو ژبو له جملې څخه ده.

عربي ژبه د اسیا او افریقا لویو وچو سربېره د مسلمانانو د نفوذ په اثر د اروپا په جنوب کې تر پرتګال پورې پراختیا کړې ده، اوس هم د عربي ژبې له کلیمو او اصطلاحات څخه په ادبي، نظامي، سوداګري، سمندري کرځیدنه، نجونو او علوم (د کیمیا، ریاضي، بیولوژي، طب او دوا جوړونه) برخو کې استفاده کیږي.

د نړۍ 22 هیوادونو رسمي ژبه عربي ده، چې 10 هیوادونه یې افریقایي او 12 نور یې اسیایي دي.

اته دېرشم لوست (انګلسي ژبه)

د انګلوساکسون له استعمار څخه د فرانسې د نورماندي تر فتحې پورې یعنې له500-1066م کال پورې په انګلینډ کې مروجه ژبه انګلیسي وه.

دغه خالص توتاني ژبه (انګلیسي) ډیره ستونزمنه او له څو لهجو څخه ترکیب شوې ده. د نورماندي په واسطه د انګلینډ له فتحې وروسته فرانسوي ژبه هم رواج شوه او تر 1250م کال پورې دواړې ژبې انګلیسي او فرانسوي په انګلینډ کې استفاده کیدې.

انګلسي-ژبه د توتاني ژبې(پخوا انګلیسي)، لاتین او فرانسوي (نورماندي) ژبو څخه ترکیب شوې ده. بیا هم انګلسي-ژبه د عمومي خصوصیاتو او صرف او نحوي له مخې ټوله توتاني ژبه شمیرل کیږي.

په 19 م پیړۍ کې په انګلستان کې یوه پراخه استعماري امپراطوري رامنځته شوه، چې لمر په کې نه ډوب کیده. په دغو مستعمرو کې د اقتصادي ښکیلاک سربېره، د خپلو فرهنګ خپرولو لپاره یې هم اقدام وکړ چې له هغه جملې څخه یو هم د انګلسي ژبه وه.

هغه خلک چې مورني ژبه یې انګلسي-ده په نړۍ کې یې شمیر 330میلیون نفرو ته رسیږي او د نړۍ 157میلیونه نفوس لپاره دوهم ژبه شمیرل کیږي.

همدارنګه انګلسي-ژبه د برتانیې پخوانۍ 49 مستعمره هیوادونو کې چې اوس یې ازادي هم اخیستې ده مروجه ده.

نه دېرشم لوست (لاتیني ژبه)

لاتیني ژبه(فرانسوي، اسپانوي او پرتګالي)

رومي ژبه (پخوانۍ اټالیا) د اندو اروپایي ژبو یوه څانګه ده چې وروسته په لاتین ونومول شوه.

د اروپا په لویدیځو سیمو کې یې بدلون وکړ او په تدریجي ډول یې سیمه ایزو لهجو ته بدلون وکړ؛ لکه: د اسپانیا د خلکو ژبه،

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

پرتګال، فرانسه او په خټیځ کې د رومانیا او البانیا د خلکو ژبه د یادولو وړ ده.

د رومیانو تر ټولو پخوانی اثار تر شپږمې ق م پیړۍ پورې رسیږي، خو د لاتین ژبې ادبیات په دریمه میلادي پیړۍ کې پیل شوي دي.

فرانسوي، پرتګالي او اسپانوي ژبې د ژوندیو ژبو له جملې څخه دي چې د استعمار او نورو لاملونو په اثر له خپلې اصلي حوزې څخه بهرنیو حوزو ته ولېږدول شوه، چې پراخه ګرامر لري.

اسپانیه، فرانسه او پرتګال هغه هیوادونه دي چې وروسته له لویو جغرافیایي کشفیاتو په آسیا، امریکا، افریقا او اقیانوسیه کې لویې مستعمرې ترلاسه کړې.

هغه هیوادونه چې اوس یې ازادي هم اخیستې ده د ژبې د بهرني استعمار له امله یې د خپلې رسمي ژبې په حیث ټاکلي ده؛ لکه: فرانسوی ژبه د نړۍ په 26 هیوادونو، اسپانوي ژبه په 19 هیوادونو او پرتګالي د نړۍ په 6 هیوادونو کې لومړي رسمي ژبې او په ځینو کې دوهمې رسمي ژبې شمېرل کیږي.

څلوېښتم لوست (جرمني ژبه)

یوې قبیلې له میلاد څخه مخکې د لومړي زر کلنې دورې په منځنیو کې د المان په شمال او د سکندناوي ټاپو وزمې په جنوب کې ژوند کاوه، او په دوهمه میلادي پیړۍ کې یې نورو سیمو ته چې اوس هم په هغه کې اوسېږي مهاجرت وکړ.

جرمنیک ژبه د اندو اروپایي ژبو له جملې څخه ده چې انګلوساکسون ژبې (المانې، هالنډي او انګلیسي)، د ایسلینډ د خلکو ژبه، سکندیوناوي (ناروي، سویډن او ډنمارک) او ګوتیک ژبې په کې شامل دي.

د ګوتیک ژبې اثار د څلورمې میلادي پیړۍ څخه را پدې خوا موجود دي.

المانې ژبه په دوو سیمه ییز لهجو ویشل شوي ده.

1.د لوړو سیمو المانې ژبه چې په جنوب کې پرې خلک خبرې کوي او د المان د ادبیاتو رسمي ژبه جوړوي.

2.د اورارو او لړ لوړو سیمو المانې ژبه چې په شمالي جلګو کې پرې خلک خبرې کوي.چې له همدغه شمالي ژبې څخه فلامندي او هالنډي ژبې جوړې شوې دي.

المانې ژبه د المان هیواد سربېره په د اطریش په هیواد، لختین شتین، او سویس (المانې، فرانسوي او ایټالیا)کېهم رسمي ژبه ده. د لوکزامبورګ هیواد، 70 فیصده خلک او د هالنډ هیواد یو شمیر خلک په المانې ژبه خبرې کوي.

د یادولو وړ ده چې انګلیسي- ژبه هم د اوارو او لړ لوړو سیمو د ژبو له جملې څخه ده چې د انګلوساکسون قبیلو لخوا په شپږمه میلادي پیړۍ کې انګلستان ته وړل شوې ده.

یو څلوېښتم لوست (چینایي ژبه)

د چینایي، اندونیزیایي او جاپاني ژبو په اړه څه پوهیږي؟

د چین ماندرین ژبه د ویتنامي (انامي)، تبتي، تایلنډي او میانمای (برمایي) ژبو په شان د ژبو پیژندلو د اصطلاح له مخې یو سیلابه (هجا) ده. د دغه ژبې کلیمې د جلا سیلابونو لرونکي دي. یوازې کلیمې په کم شکل بدلون منځته راوړي.

چینایي ژبه ډیره پخوانی او د پراخه ادبیاتو لرونکي ده. د دغه ژبې الفبا څلور سوه حروفو ته رسیږي او څو سوه فرعي نښې هم لري. نو په همدې اساس د هغې زده کړه ستونزمنه ده او هر څوک نه شي کولای چې هغه زده کړي، او د عامه وګړو د بې سواده کیدلو سبب شوې ده.

د څو سیلابو ژبو ډله د کوریایي، جاپاني،د سایبریا د زیاترو خلکو ژبه، مرکزي آسیا، دراویدي او هندي په شان ده چې د ژبو په دغه ډله کې پیچلي کلیمې، ستونزمن مختاړي او وروستاړي لري.

یو سیلابه ژبې: ویتنامي، تبتي، میانماري، تایلندي او چینایي.

د انعطاف وړ ژبې: سامي او اندو آریایي

اندونېزیایي ژبه چې له مالایي ژبې(د مالیزیا هیواد د جنوبي خلکو ژبه) څخه مشتق شوې ده د مالیزیا هیواد رسمي ژبه ده، په 1928م کال کې د ملي ژبې په حیث وټاکل شوه د وخت په تیریدو سره په هغه کې د عربي، چیني، هالنډي، پرتګالي، سانسکرتي، تامیلي، فرانسوي او انګلیسي- ژبو کلیمې په هغه کې ګډې شوي دي، د مثال په ډول د هالنډي ژبې 7000کلیمې په دغه ژبه کې شتون لري.

دوه څلوېښتم لوست (بالتیک ژبه)

بالتیک، لیتواني او سلاوي ژبې

سلاوي ژبه هم د اندو اروپایي ژبو له جملې څخه ده. چې د اروپا په خټیځ او د بالکان په نورو سلاوي هیوادونو کې مروجه ده.

په لومړي ملادي پیړۍ کې د بالتکي او سلاوي قبیلو د خټیځي اروپا پراخه سیمه نیولې وه چې د هغوي په لویدیځ کې د جرمني او په جنوب کې د اریائي قبیلې شتون درلود. له پنځمې میلادي پیړۍ وروسته سلاوي قبیلې خپله د نفوذ سیمه په بیلابیلو لورو پراخه کړه او نن ورځ سلاوي ژبه د خټیځي اروپا په پراخه برخه کې مروجه ده.

سلاوي ژبه زیاتې سیمه ایزې لهجې لري چې تر ټولو مهمه یې روسي ژبه ده، چې د سایبریا په تایګا، د ترانس سایبریا د اوسپنې کرښې دواړو لورو ته، اذربایجان او اوکراین کې مروجه ده.

سلاوي ژبه په نورو سیمه ایزو لهجو هم ویشل شوي ده، چې د هنګري او بالکان خلک او همدارنګه د چک، سلواک، پولینډ، سربي،بوسینی، کرواتي، بلغاري او مقدونیا وګړي پرې خبرې کوي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د بالنیک سواحلو د خلکو ژبه د سلاوي ژبې سره زیات ورتوالی لري او لیتواني ژبه هم د سلاوي ژبو د کورنۍ څخه شمیرل کیږي.

دري څلوېښتم لوست (هندي او اوردو ژبې)

د هندي ژبه د هندوستان رسمي او اصلي ژبه ده، په داسې حال کې چې اوردو د پاکستان اصلي او رسمي ژبه ده او بنګالي د بنګلادیش رسمي ژبه ده.

اردو ژبه له تاریخي اړخه له سانسکریت څخه مشتق شوې ده له فارسي ژبې سره یوځای شوې او د هغو له یوځای کیدو څخه یوه نوې ژبه لاس ته راغلې ده چې اردو په نوم یادیږي او په پایله کې د پاکستان، د بنګلادیش د خلکو یو برخه او هندوستان ګډه ژبه ده.

دغه ژبه د شاه جهان د حکومت (1627-1685م) په دوره کې (چې په هند تیموري سلسلې بنسټ اینبودونکی ظهرالدین بابر لمسي و او د هند د مغولانو په نوم هم یادیږي) په اردو ژبې سره ونومول شوه.

اردو ژبه د فارسي، ترکي او هندي ژبو څخه ترکیب شوې ده.

د سلطان محمود غزنوي او دهغه زوي سلطان مسعود د حکومت په دوره کې هندوان ته د غزنویانو په دربار کې لویې څوکي ورکړل شوې وي. په هند کې د غزنویانو د دربار ژبه هم دري وه او د هند مسلمانانو امیرانو هم په دغه ژبه خبرې کولې.

د اردو اصلاح ترکي ده چې معنی یې عسکر او د عسکرو قرارګاه ده. ځکه چې ترک، فارس او هندي عسکر په یوه عسکري قرارګاه سره یوځای و نو له همدې امله دغه ژبه له دریو ژبو ترکي، هندي او دري څخه جوړه شوې ده.

شپږم څپرکی
څلور څلوېښتم لوست(اړیکې)

اړیکې او نړیوال کیدل(Globalization)

له لرې څخه معلومات (Remote sending) د سوداګرۍ، صنعت، فرهنګ او په برخه کې له یو هیواد څخه بل هیواد ته له یوې سیمې څخه بلې سیمې ته د مالونو لیږد اسانه کړی دی.

د اړیکو پراختیا یا (Telecommunication) لکه: پرمختللي رادارونه، تلیفون، موبایل، انټرنیټ، فکس او د نړۍ د مهوارې یې سیستمونه په ښلا ښلو سیمو کې له یو بل سره نښلوي.

د لیږد پروسه د نوري فایبر یا الکترونیکي اسانتیاوو په واسطه اسانه شوې ده، چې په یوه دقیقه کې په زرګونه کیلومتره لرې واټن کې معاملې تنظیم کوي.

پنځه څلوېښتم لوست (د اړیکو ډولونه)

د اړیکو د وسایلو ډولونه یا (Telecommunication)

د تیلوکمیونیکشن په برخه کې اختراعات د نړۍ خیره بدله کړې ده او د اړیکو سیستم پراختیا په هوانوردی، سمندر ګرځیدني، او ډیرو ترانسپورتي موضوعاتو کې بنسټیز بدلون منځته راوړی دی.

د اړیکو د وسیلې په حیث د راډیو په منځته راتګ سره انسانان یو بل ته نیږدې شوي دي او د لرې واټنونو اوږدې څپې (منځنۍ، لنډې ، اوږدې او FM) د غږیزو خپرونو په واسطه نیږدې کړي دي.

د خبرونو خپرول، سوداګریز مالونه، د تولیداتو، صنایعو او تخنیکي وسایلو اعلانونه، ورځپاڼې، تلویزیون، انټرنیټ ماهواره د اړیکو له لویو وسایلو څخه دي.

د اړیکو وسایل د انسانانو په ژوند کې د پرمختګ سیر لري چې لاندې برخې لري:

1.لومړني وسایل: لکه: الوتونکي،(هدهد او کوتره) او اهلي حیوانات لکه« اس، اوښ، خر او کچر.

2.عصري وسایل: لکه : media د اړیکو وسیله (راډیو منځنۍ،لنډې او FMڅپې)، تلویزیون، مبایل، کمپیوټر انټرنیټ او م صنوعي سپوږمکي.

شپږ څلوېښتم لوست(په نړۍ کې پست)

له پخوانیو وختو څخه د پست سیستم په نړۍ کې شتون لري د نړۍ په یو شمېر هیوادونو لکه چین، مصر، یونان او د روم پخواني امپراتورۍ کې د حیواناتو او الوتونکو څخه په استفادې سره پیغام او لیک لیږدول.

همدارنګه د امویانو او عباسیانو په امپراتورۍ کې هم پستي سیستم استفاده کیده چې د ښارونو او هیوادونو د غوره امنیت وسیله ګڼل کیده چې د هارون الرشید په دوره کې خالد برمک د امپراطورۍ د پستي متصدي په حیث چې البرید نومیده مقرر شوي و.

په شپاړسمه میلادي پیړۍ کې پست د هیوادونو له پولو څخه پراختیا وکړه او د (فرانسواتاکسی) په همت د لومړۍ ځل لپاره پوستي خدمتونه رامنځته شول او څو اروپایي هیوادونو په خپل منځ کې پوستي قلمونه چې یوازې له مکتبونو څخه عبارت و تبادله کول.

د بخار د کښتیو په اختراع او د اوسپنې کرښې منځته راتګ پستي خدمتونو ته چټکه پراختیا ورکړه. نړیواله پوستي راکړه ورکړه د هغه وخت د حمل او نقل له وسایلو څخه ګټه اخیستنه، د پستي تشریفاتو ساده کول او د اجرتونو په باره کې یو ټول توب د رامنځته کیدو پرته ممکنه نه وه.

راولانډ هل انګلسي په 1840م کال کې نرخنامه او د هیواد د ننه یوپني پستي ټکټونه رواج کړل.

نړیواله پستي اتحادیه د لومړۍ ځل لپاره د ټولو متمدنو هیوادونو ترمنځ په 1868م کال کې د المان هیواد د پست کارکوونکي هانري په واسطه مطرح شوه.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

په 1874م کال د سپتمبر په 15 د برن په ښار کې د 21 غړو هیوادونو د استازو ترمنځ غونډه ترسره شوه چې د دغې غونډې په پای کې یوه معاهده امضاء شوه چې د برن معاهدو په نوم ونومول شوه چې په حقیقت کې د پستې اتحادیې اساس جوړوي.

دري کال وروسته د برن له معاهدو سره زیات شمیر هیوادونو یو ځای شول چې د پست عمومي اتحادیه د نړیوالې پستې اتحادیې په نوم ونومول شوه او په 1996م کال کې یې د غړو هیوادونو شمیر 189 ته ورسیده.

اوه څلوېښتم لوست (تلیفون او موبایل)

د لومړي ځل لپاره ګراهام بل لومړنی تلیفون اختراع کړ، چې د بشر په ژوند کې یو لوی ګام و او وروسته بې سیمه تلیفون اختراع شو او په 1897م کال کې لومړنی پیغام د ګګلیمو مارکوني له خوا له اروپا څخه د اطلس سمندر هغې خوا ته مخابره شو.

19م پیړۍ د اړیکو او ټولنیزو رسنیو په برخه کې د زیاتو اختراعات شاهده ده چې د هوایي چلند سیستم او جوي څیړنو په برخه کې د بې سیم اړیکو مهم بدلون رامنځته کړ.

له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته ډیر چټک اختراعات ترسره شول. عصري تلیفونونه، د پخوانیو تلیفونونو پر ځای رامنځته شول، ملګرو ملتونو په 1970م کال کې د بې پري مخابراتي مرکز جوړ کړ، د ملګرو ملتونو د استازي لومړنی پیغام د (مک براید) په نوم د پاریس له یونسکو څخه د ټولې نړۍ هیوادونو ته خپور شو.

په 1974م کال کې د ترانزستور اختراع د مخابراتو په برخه کې ډیرې اسانتیاوې رامنځته کړې.

د انفرادي مخابرو له تخنیک څخه (Personal P.C.S (Communication Service په 1960م کال کې 62% د استفادې او په 1970م کال کې 72% ته لوړ شو.

بې سیمه تلیفون چې لاتین نوم یې سیلولر (Cellular) دی د پرمختللي تلیفون یو ډول دی، چې د دوو نفرو ترمنځ اړیکه ټینګوي.

د Cellular کیلمه د Cell یا حجرې له کلیمې څخه اخیستل شوې ده چې نظر ځانګړو موخو ته کوچنۍ یا لویه ساحه د موبایل تر پوښښ لاندې راولي.

اته څلوېښتم لوست (فکس)

فکس (FaX) له نوي تکنالوژي څخه عبارت دي چې په 1924م کال کې د ریچارد رنجر په واسطه اختراع شو او لومړنی پیغام له نیویارک څخه لندن ته ولېږدول شو.

په 1970م کال کې د ماشین په جوړښت او برخو کې غوره بدلونونه رامنځته شول .

فکس د لیکلو پیغامونو د لیږد وسیله ده، چې پیغامونه او خبرونه د کاغذ پر مخ ماشین ته داخلیږي او په څو ثانیو کې د هدف ځای ته رسیږي.

فکس یوه تخنیکي وسیله ده چې د هغه په واسطه اطلاعات او اسناد (Documents) په لیکلي بڼه د یو سند په ډول لیږدول کیږي.

فکس نه یوازې په سوداګرۍ او صنعت کې استفاده کیږي، بلکې په مصنوعي سپوږمکیو کې هم استفاده کیږي، په دې ډول چې محرم اسناد او نوي کشفیات له ځمکې څخه فضا او برعکس له فضا څخه ځمکې ته لیږدول کیږي.

فکس د جمعي اړیکو له رسنیو څخه عبارت ده چې شخصي- او رسمي پیغامونه، سوداګري، حقوقي، صنعتي معاملې او نور په فوري او ضروري ډول لرې او نیږدې واټن ته په لنډ ډول لیږدوي.

نه څلوېښتم لوست (انټرنیټ)

د نړۍ په سطحه انټرنټ او ایمیل

په اوسنۍ وخت کې تر ټولو نوي مخابراتي وسیله انټرنټ او ایمیل دي.

کمپیوټر د 19 پیړۍ په نیمایي کې د استفادې وړ وګرځید. له 1944-1951م کلونو پورې یې زیات پرمختګ وکړ چې په پایله کې د ویلیم شاکلي په واسطه د ډي جي ټل ماشین په اختراع سره کمپیوټر زیات پرمختګ وکړ.

له 1990م کال څخه مخکې د انټرنټ په واسطه هیڅ ډول اسانتیا شتون نه درلود.

لومړي دیپارټمنټ چې د کمپیوټر د ماشین په واسطه یې مخابراتي اړیکې رامنځته کړې د امریکا متحده ایالاتو نظامي څیړنو (DOD) مرکز و.

په 1967م کال کې د امریکا متحده ایالاتو د کمپیوټر ماشیني مؤسسې (ACM) یا د (ARPA) دفتر کوچنۍ ماشین جوړ کړ چې له یو کمپیوټر څخه بل کمپیوټر ته یې معلومات لیږدول.

له یو کمپیوټر څخه بل کمپیوټر ته د پیغام لیږدول د پیغام د داخل کولو (IMP) په واسطه ترسره کیږي .

په 1969م کال کې د کلفورنیا او لاس انجلس پوهنتونو وکولای شول چې د انټرنټ په واسطه د یوتا پوهنتون سره اړیکه ټینګه کړي. د انټرنیټ پروګرام په 1980م کال کې د سوداګرۍ او فرهنګي برخه کې په فعالیت پیل وکړ او په 1990م کال کې په نړیواله سطحه پراختیا وکړه او نني فضایي پروګرامونه د انټرنټ په مرسته د کائناتو د اسرارو د څیړنو په موخه په اسانه ډول له یو ځای څخه بل ځای ته لیږدول کیږي.

ایمیل یا Electronic Mail هم د نوي تکنالوژي له جملې څخه دی، چې د سوداګرۍ، صنعت، اقتصاد، سیاست، فرهنګ په برخه کې مهمې دندې ترسره کوي.

پنځوسم لوست (د سپوږمکیو شبکه)

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

د سپوږمکیو شبکه (Satellite Network)

مصنوعي سپوږمکی او ریموټ سنسنګ (Remote Sensig) د نوي ټکنالوژی یو ډول دی، چې جغرافیه پوهانو ته یې دا توانایي ورکړي ده، ترڅو د ځمکې د کرې او فضا جغرافیایي مسایل چې نه دي کشف شوي لاس رسی ولري.

د سپوږمکی مخابراتي سیستم د کمپیوټر او موبایل په واسطه کار کوي چې د سلولر تلیفون یا Cellular phone یا Cell په نوم سره مشهور دي.

په پیغامونه چې له ځمکې ځخه فضا ته لیږدول کیږي د (Up Link) او هغه پیغامونه چې له فضا ځخه ځمکې ته لیږدول کیږي د(Down Link) په نوم یادیږي.

ځینې مصنوعي سپوږمکی له ځمکې ځخه په یوه ثابته نقطه کې ځای پرځای شوي دي، چې د (Geo Stationary) اصطلاح په نوم یادیږي.

سوږمکي په فضا کې د استوا له کرښې سره په مایل، عمود یا موازي ډول په ځانګړو بیضوي مدارونو کې د ځمکې پر شاوخوا موقعیت لري.

هغه هیوادونه چې سپوږمکی لري عبارت دي له: امریکا متحده ایالات، روسیه، چین، هند...

یو پنځوسم لوست(لوګي او غازونه)

اتموسفیر د انسانانو، حیواناتو او نباتاتو د ژوند لپاره یوه مهمه پدیده ده نو په دې اساس باید دغه حیاتي سرچینه ته بشپړه پاملرنه او دقت وشي او له دغه سرچینې ځخه په سم ډول استفاده وکړو.

لوګي او غازونه چې د سون له توکو ځخه منځته ته راځي د ټولې نړۍ فضا یې ککړه کړي ده چې د انسانانو او نورو ژوندیو موجوداتو په تنفوسي سیستم په مستقیم ډول ناوړه اغیزې کوي. چې د کاربن دای اکسایډ، مونو اکسایډ، میتان، کلوروفلوروکاربون او نایتروجن اکسایډ غازونو تعاملونه د ویني دوران سیستم، تنفوسي سیستم او نورو غیري صحي اغیزې کوي.

د ځمکې پر مخ د لوګي او غازونو سرچینې د ډبروسکرو، نفتو سوځیدنه، اورلګیدنې او صنعتي فابریکو ځخه عبارت دي.

د کابل ښار فضا د نقلیه وسایلو زیاتوالی، زیات نفوس او غیر صحي ښاري ککړتیا له امله ککړه شوې ده چې زمور په ښاریانو یې ناوړه اغیزې کړې دي.

په مجموعی ډول هغه مواد چې د هوا د ککړتیا سبب کیږي په لاندې ډول دي:

1.زهري مواد 2. کیمیاوی مواد 3. د غړ ځپریدل 4. د غیر صحي او اضافي موادو راټولیدل 5. د صنعتي او اتومي موادو پاتې شوني 6. د مضرې موادو راټولیدل 7. اور لګیدنه 8. د مناسب کانالیزاسیون نه شتون او نور.

دوه پنځوسم لوست (د حمل او نقل وسایل)

د حمل او نقل وسایل په ځمکه هوا او سمندر کې د مالونو د لیږد لپاره په کار وړل کیږي ، د لیږد رالیږد شبکې په ټوله نړۍ کې د حمل او نقل ستونزې حل کوي.

د ځیرنو له مخې نن ورځ د حمل او نقل وسایلو هوا ککړه کړي ده، د هوا د ککړتیا(Pollution) لاملونه عبا ت دي له: لوګی، کاربن مونو اکسایډ، نایتروجن اکسایډ، سلفر، سرب او نور.

هر لامل چې د چاپیریال د ککړتیا سبب ګرځي د Pollutionپه نوم یادیږي.

د حمل او نقل وسایلو ککړتیا کولای شو د هوایي، سمندر او ځمکني ګروپونو لاندې مطالعه کړو چې هر یو یې په نوبت سره فضا، سمندر او ځمکه ککړوي.

په طبیعي ډول صافه او طبیعي فضا نه ککړیږي. بلکې انسانانو د نوې ټکنالوژی په واسطه د چاپیریال ځینې برخې ککړې کړي دي.

دري پنځوسم لوست (د کارخانو اغیزه)

صنعتي انقلاب له اروپا ځخه پیل شوی دی، د چې اصلي زانګو یې د انګلستان هیواد او له هغه ځای ځخه د اروپا نورو هیوادونو ته خپور شوی دی.

په شمالي امریکا کې په ځانګړې ډول امریکا متحده ایالاتو کې یې زیاته پراختیا وکړه، د موټر جوړونې کارخانې، بیړی جوړول، الوتکې جوړونې او په سلګونو نورو کارخانو په فعالیت پیل وکړ.

آسیایی هیوادونه؛ لکه: جاپان، چین، هند او نورو د بهلا بهلو کارخانو په جوړولو پیل وکړ او په زیاتره نورو هیوادونو کې لکه: افریقا او استرالیا کې هم ځینې کارخانې په ځانګړو برخو کې جوړې شوي.

ټولو تاسیساتو د چاپیریال په ککړتیا کې زیاتې ستونزې رامنځته کړې دي. لکه د کاربن دای اکسایډ زهرجن غازونه، د میتان ګاز، کلوروفلوروکاربون، نایتروجن دای اکسایډ، د اوبو بخارونه او د اتومي زراتو ایونونه هوا ته داخلیږي او په پایله کې د هوا فزیکي او کیمیاوي خواص بدلوي.

د کلوروفلوروکاربون ګاز له کارخانو او سړونکو سرچینو ځخه راوځي او د هوا په لوړو طبقو د اوزون په قشر کې له مرکبونو سره تعامل کوي او د اوزون د طبقې د تخریب لامل کیږي او په پایله کې د ځمکې د ګرم کیدلو سبب کیږي.

همدارنګه اتومي کارخانې (Radio Active Waster) د لاندې ستونزو سبب ګرځي:

- اتومي وړانګي د خپل شاوخوا یو کیلو متر مربع سیمه تخریب کوي.
- په کښت، کرنه او کار ناوړه اغیزې کوي.
- فضا ته داخلیږي.
- حیوان، انسان او نبات په مرګ سره ګوابي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

- د چرنوبل اتومي چاودنه چې زیانه سیمه یې تخریب کړه، د دغه مطلب یو غوره بیلګه ده.
- د پوستکي سرطان رامنځته کوي.
- تاسیسات او غذایي مواد اغېزمن کوي.

اتومي اضافي مواد سمندر اوبه ککړوي، د نفتو له بیړیو څخه په سمندر کې د نفتو توییدل د سمندر په اوبو او سمندري حیوانات ناوړه اغېزه کوي.

څلور پنځوسم لوست (د صنعتي موادو پاتې شوني)

1. فزیکي پاتې شوني یا (Physical State): چې لاندې اجزاوي په کې شمال دي: کورنۍ پاتې شوني، بڼاري پاتې شوني، ککړي اوبه او نور.
2. حیاتي عضوي پاتې شوني یا (Biochemical) لکه: کاربن، د کاربن اکسایډونه، نایتروجن اوکساید، عضوي کلورایدونه او نور.
1. خدماتي سکتور: عبارت دي له هوایي، سمندر او ځمکني د حمل او نقل وسایل.
2. د غذایي موادو پاتې شوني: د ډوډۍ او پخلنځي پاتې شوني.
3. بڼاري پاتې شوني: چې معمولا د هغو له ککړو موادو څخه د میتان ګاز تولیدیږي.
4. د اتومي تولیداتو سرچینې: چې د اتومي ترکیباتو ایونونه هوا ککړوي.
5. صنعتي تولیدات: چې د کلوروفلوروکاربون ګاز له هغه څخه تولیدیږي.

معمولا پاتې شوني د کیمیاوي او فزیکي تعمولونو په اثر د چاپیریال اصلي خواص بدلوي او دغه بدلونونه په وچه، سمندر او هوا کې ناوړه اغېزې لري.

له بلې خوا څخه صنعتي پاتې شوني سمندرونه ککړوي او هغه حیوانات چې په سمندر کې ژوند کوي د هغوي ژوند ګواښي؛ لکه: په اروپا کې د تایمیز او راین سیند.

د راین سیند له سرچینې څخه تر پای پورې 1300 کیلومتره واټن وهي دغه سیند د سویس له هیواد څخه سرچینه اخلي د هالنډ، فرانسې او المان له هیوادونو څخه تیریږي او په شمالي سمندرګي کې تویږي. او په زیاته اندازه د فلزي او کیمیاوي صنایعو پاتې شوني سمندر ته لیږدوي.

سمندرونو د اتومي او نفتي پاتې شونو په واسطه ککړیږي چې د سمندري حیواناتو د له منځه تللو سبب ګرځي.

بشر په سمندر کې د زیاتو نفتي ککړتیا شاهد دی. چې یوازې د امریکا په متحده ایالاتو کې یې 7000 پیښې ثبت شوې دي.

د ځمکې پر مخ صنعتي پراختیا که له یوه پلوه د بشر په ګټه ده، په همغه اندازه د سمندر، هوا او ځمکې د ککړتیا سبب ګرځي.

پنځه پنځوسم لوست (د اوزون د طبقې د نري کېدو خطرونه)

د اوزون طبقه د تروپوسفیر طبقې له پاسه د سمندر له سطحې څخه د 15 کیلومتره په لوړوالی سره د ماورای بنفش وړانګو په وړاندې د یوې مانع په ډول عمل کوي. دغه وړانګې کېدای شي چې د پوستکي سرطان او د سترګو رونده والي سبب وګرځي او همدارنګه د کرنیزو محصولاتو د کمیدو، د سمندر د کبانو او د لمر د فوتو سنتیز عملیه چې د نباتاتو د ژوند لپاره ضروري ده د له منځه تللو سبب وګرځي.

د ماورای بنفش وړانګه په دري ډوله ده.

1- د (UV-C) ماورای بنفش وړانګه

چې د څپو اوږدوالی یې (200-280) نانو متر دی (چې یو مایکرون له 1000 نانو متر سره او یو میلیون نانو متر له یو ملي متر سره مساوي دی).

د دغه وړانګې اغېز پر ځمکه او دهغه په اوسېدونکو ډېر ښه دي چې ځمکه د ماورای بنفش وړانګو له خطرونو څخه ژغوري، په ځانګړي ډول هغه ژوندي موجودات چې د انسان هغه ته ضرورت لري او د انسانانو لپاره غذا په تولید کې ګټور دي.

هر کله چې د اوزون طبقه په مکمل ډول تخریب شي د UV-C وړانګې بیا هم خپله دنده په ښه ډول ترسره کوي یعني د اوزون د طبقې تخریب په UV-C وړانګو او د هغه پر دندو هیڅ ډول تغیر نه لري.

2- د (UV-A) ماورای بنفش وړانګه

د دغه وړانګې د څپو اوږدوالی (280-230) نانو متره دی او د فعاله وړانګې په نوم یادیږي چې همیشه ژوند د وخت په تیریدو سره تخریب کوي یعني د ځمکې د اوسېدونکو لپاره خطرناک ده، او د هغه اغېزې فوري نه دي او د وخت په تیریدو سره د هغه منفي اغېزې خطرناکه دي.

3- د (UV-B) ماورای بنفش وړانګه

د څپو اوږدوالی یې (230-400) نانو متر پورې دی او دغه وړانګه د ځمکې پر مخ د ټولو اوسیدونکو لپاره خطرناکه ده او د انسانانو او نورو ژوندیو موجوداتو ژوند په مرګ سره ګواښي. او د پوستکي سرطان او د سترګو رونده والي سبب کیږي.

د اوزون ګټور ګاروند د تروپوسفیر په طبقه کې د 11 کیلومتره په پریږوالي سره ځای پر ځای شوي دي او د ځمکې کره چاپیره کوي.

د نایتروجن او اکسیجن غازونه په مستقیم ډول په ژوند باندې اغېزه لري، پر دې سربېره د هغوي جمعي ترکیب د تروپوسفیر طبقه د ماورای بنفش او له سرو څخه لاندې وړانګو څخه ساتي.

د اوزون طبقه یوه پرده د لمر د وړانګو او د تروپوسفیر طبقې ترمنځ، چې د انسانانو، حیواناتو او نباتاتو د ژوند د هر ډول فعالیتونه لپاره زمینه برابروي.

شپږ پنځوسم لوست (د اوزون د طبقې زیانمن کیدل)

جغرافیه پوهانو وموندله چې د ځمکې د مخ د ساتنې قشر د ګلخانه یې غازونو په واسطه په جنوبي قطب کې زیانمن شوی

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

دی. د اوزون طبقه چې د انسانانو ژوند ماوراي بنفش له خطرناکه وړانګو څخه ژغوري د هغه شتون لازم او ضروري دي.

په 1947م کال کې ځینو پوهانو وموندله چې ګلخانه یي غازونه لکه(کاربن دای اکسایډ، میتان، کلوروفلوروکاربون، نایتروجن اکسایډ) د اوزون د طبقې د تخریب لامل ګرځي.

همدارنګه پوهانو په 1987م کال وموندله چې په جنوبي قطب کې 50% د اوزون طبقه تخریب شوي ده او پریږوالی یې کم شوی دی.

په 1995م کال کې پوهانو د کاناډا هیواد په مونتریال ښار کې سره راغونډ شول تر څو د اوزون طبقې له تخریب څخه مخنیوي وکړي او د نړیوالو غورونو ته یې ورسوي.

د نړۍ د 124 هیوادونو استازو د لندن په ښار کې راټول شول او د (C.F.C) غازونو د خطرونو او د هغه د تولید په اړه یې بحث وکړ او په قطعي ډول یې تصمیم ونیو ترڅو د مونتریال ښار د غونډو په پیروي سره یو ځل بیا د لندن په غونډه کې ګلخانه یي غازونو له تولید څخه په حتمي او جدي ډول مخنیوي وکړي.

په 1998م کال کې وموندل شوه چې په جنوبي قطب په فضا کې د 26 میلیونه کیلومتر مربع په مساحت سره چې د شمالي امریکا له مساحت سره معادل دیو لوی سوری رامنځته شوی دی، Van Alan یو چینایي پوه د دغه په کشف سره بریالی شو.

په (1999-2001)م کال کې امریکایي پوهانو د NOAA انجمن او ناسا NASA د امریکا متحده ایالاتو د فضایي څېړنو په مرکز کې وموندله چې د Van Alan کشفیات په حقیقي ډول سم و په 2003م کال کې د اوزون طبقې تخریب 28 میلیونه کیلومتره مربع ته پراختیا وکړه .

د اوزون د طبقې تخریب په ځمکه کې د لاندې لاملونو سبب ګرځي:

1.د مخکینیو کلونو په پرتله د ځمکې ګرمیدل.

2.د سمندر د سطحې پورته راتلل.

3.د وچکالی رامنځته کیدل او په ځمکه کې د کرنیزو محصولاتو کموالی.

اوه پنځوسم لوست (د ځنګلونو پریکول)

ځنګلونه د فوتوسنتیز عملیې په مرسته اوبه او مالګه د ریښې په واسطه جذبوي او پاڼې ته یې لیږدوي او پاڼې له هوا څخه کاربن دای اکسایډ اخلي او د لمر د رڼا په واسطه یې په کاربوهایډریټ تولیدوي او د ورځې له خوا اوکسیجن ازادوي چې د ژوندیو موجوداتو په ژوند کې حیاتي ارزښت لري.

د ځنګلونو ګټې د بشر په ژوند کې نورې ګټې هم لري:

1.د ځینو ونو میوه چې د زیاتو انسانانو غذا جوړوي.

2.د ونو لرګي په ودانیو، د ودانیو لوازمو او کاغذ په جوړولو کې استفاده کیږي.

3.د ونو سیوری انسان له زیاتې تودوخې څخه ساتي.

4.ځنګلونه د سیلاوونو له راوتلو څخه مخنیوی کوي، ځکه د باران اوربشت په ونو او پاڼو د باران سرعت کموي او ریښې د خاورې له منځه تللو څخه مخنیوی کوي.

5.د ځنګل له حاصلاتو څخه د دوا په جوړولو کې استفاده کیږي.

6.د ځنګل له حاصلاتو څخه په صنعت کې استفاده کیږي.

7.ځنګلونه د تفریح او سیاحت لپاره مناسب ځایونه دي.

8.ځنګلونه د مټرونو، کارخانو او الوتکو غږ کموي.

9.د وحشي ژوو لپاره د ژوند چاپیریال جوړوي.


د 1980م کال په لسیزه کې د نړۍ په ډیلا ډیلو سیمو کې د ځنګلونو د پریکولو او له منځه وړلو شاهد یو. د احصایې له مخې یوازې په استوائي سیمو کې هر کال 105میلیونه هکتاره ځمکه د ځنګلونو له مساحت څخه پاکیږي.

CamScanner

ketabton.com - The Digital Library

GEOGRAPHY

For Konkur



Author
Habib wardak

CamScanner

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English